# اِصلاحي
# مُدلّل تَقريرُونَه

اول جلد

دَقرآن کریم. نبوی احادیثو او دامت داسلافو دقیمتي اقوالو اصلاحي نصیحتونو، علمي لطائِفو او دعِبرت نه ډک زړه راښکونکو معتمدو واقعاتو ... د عاصري ... خوف خدا، حقوق الله او حقوق العبادو اهمیت او د دارینو دسعادت او نیک بختئ په باره کی .دعلماو. طلباو. مقررینو او عامو مسلمانانو دپاره یوه مفصله معتمده علمي او تحقیقي ذَخِیره :


تالیف أبُو الشَّمس مؤلانا نوُر الهُدیٰ عفی عنه

مدرس دارالعلوم فیض القرآن اکاخیل کالونی کاټلنګ روډ مردان



زیر اهتمام
کفایت الله آرمانی
0344-9995990

مکتبه اعزازیه محله جنګی پښاور

جاده میوند پخته فروشی کابل: 0764857797



Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



(c) ketabton.com: The Digital Library

📚 کفایت دینی کتب خانه 📚
په دی چینل کی دټلیگرام کتابونه نشرکیږی
دحنفی مذهب په رڼاکی
لکه تفاسیر شریف
اوفقه شریفه
اوفتاوی؟
د درجوں کتابونه
اوداسی نور کتابونه لکه.
صرف اونحو
اومنطق
اوعقائد
نوهیله لرم چی دالینک دثواب په خاطر نشر کړی
https://t.me/kafayat2395

کفایت اللہ واٹس ایپ نمبر 03052488551

د دا کتاب pdf کول خاص د اللہ تعالیٰ د رضا د پاره دی

د ټولو لوستونکو او فایده اخستونکو
د دعا په هیله

(c) ketabton.com: The Digital Library

أ

دَ قرآن كريم، نبوي احاديثو او د امت د اَسلافو د قيمتي اقوالو، اصلاحي نصيحتونو، عِلمي لطائِفو او د عِبرت نه ډَك زړه راښكونكو مُعتمدو واقعاتو په رڼا كې. د معاشرې د اِصلاح، خَوفِ خُدا، د حقوق الله او حقوق العبادو اَهميت او د دارينو د سَعادت او نيك بختئ په باره كې. د علماو، طلباو، مُقرِرينو او عامو مسلمانانو د پاره يوه مفصّله مُعتَمَده عِلمي او تحقيقي ذَخِيره:

# اِصْلَاحِيْ مُدَلَّلْ تَقْرِيْرُوْنَه

جلد ۱

تاليف

آبُوالشَّمْس مولانا نُورُالهُدیٰ عُفِيَ عَنْهُ

مُدَرِّس دَارُالعلوم فيضُ القُرآن اكاخيل كالونى، مردان

مكتبه اعزازيه ام محله جنگى پشاور
0344:9985990

(c) ketabton.com: The Digital Library

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

د کتاب نوم: اِصْلَاحِيْ مُدَلَّلْ تَقْرِيْرُوْنه


مؤلف: اَبُو الشَّمْس مولانا نُوْرُالْهُدٰی عُفِيَ عَنْهُ

مُدَرِّس دَارُالعلوم فیضُ القُرآن اکاخیل کالونی مردان


کمپوزر: مؤلف پخپله

د کتاب ټول حقوق په حق د ناشر کې محفوظ دي۔


ناشر: مکتبه اعزازیه

زیراهتمام: کفایت الله (ارمانی)

موبائیل نمبر: 0344-9995990

پته: قصه خوانی بازار محله جنګی پشاور۔

(c) ketabton.com: The Digital Library



بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

# اجمالي فهرست



| نمبرشمار | موضوع | صفحه |
|---|---|---|
| ۱. | سريزه | ۱ |
| ۲. | د تقرير مؤثر کرځولو د پاره ضروري اصول او آداب | ۵ |
| ۳. | **۱ . د توبې اهميت ، فضيلت او احکام** | ۸ |
| ۴. | فقهي مسائل | ۴۶ |
| ۵. | د توبې په باره کې نور معتَمَد واقعات | ۵۱ |
| ۶. | **۲ . د الله جل جلاله رحمت او مهرباني** | ٦۵ |
| ۷. | د الله ﷻ د رحمت په باره کې نور زړه پورې معتمد واقعات : | ۱۰۳ |
| ۸. | **۳ . د ګناهونو نقصانات :** | ۱۱۱ |
| ۹. | په ګناهګارانو باندې د نزولِ عذاب نور معتمد او زړه پورې واقعات: | ۱٦۷ |
| ۱۰. | **٤ . د علم فضيلت او اهميت** | ۱۸۰ |
| ۱۱. | فقهي مسائل | ۲۱۵ |
| ۱۲. | د علم د اهميت متعلق نور معتَمَد واقعات | ۲۱۹ |
| ۱۳. | **۵ . د علماو او طلباو مقام** | ۲۴۰ |
| | فقهي مسائل | ۲۸۷ |
| ۱۴. | د اهلِ علمو دپاره د عبرت نه ډک نور معتَمَد واقعات: | ۲۸۹ |
| ۱۵. | **٦ . د درود شريف فضيلت او اهميت** | ۳۱۴ |
| ۱٦. | د درودِ شريف متعلق فقهي مسائل : | ۳۳۹ |
| ۱۷. | د درودِ شريف متعلق نور بهترين واقعات: | ۳۴۳ |

(c) ketabton.com: The Digital Library



بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

# تفصيلي فهرست



| نمبرشمار | موضوع | صفحه |
|---|---|---|
| ۱. | سريزه | ۱ |
| ۲. | د تقرير مؤثر كرځولو د پاره ضروري اصول او آداب | ۵ |
| ۳. | ۱ . د توبې اهميت ، فضيلت او احكام | ۸ |
| ۴. | د توبې تعريف | ۱۰ |
| ۵. | د علامه طيبي رحمه الله تحقيق | ۱۰ |
| ۶. | دعلامه قرطبي رحمه الله تحقيق | ۱۱ |
| ۷. | د علامه تقي عثماني دامت بركاته تحقيق | ۱۱ |
| ۸. | د توبې حكم : | ۱۲ |
| ۹. | دامام قرطبي رحمه الله وينا | ۱۲ |
| ۱۰. | د امام نووي رحمه الله وينا | ۱۲ |
| ۱۱. | د امام غزالي رحمه الله وينا | ۱۲ |
| ۱۲. | د آيت تشريح | ۱۳ |
| ۱۳. | د حافظ جلال الدين سيوطي رحمه الله تحقيق | ۱۳ |
| ۱۴. | د علامه قرطبي رحمه الله تحقيق | ۱۴ |
| ۱۵. | د قاضي ثناء الله پاني پتي او علامه آلوسي رحمهما الله تحقيق | ۱۴ |
| | د توبې فضايل او فوائد: | |
| ۱۶. | ۱. په توبې سره د انسان مخكيني ټول گناهونه معاف كيږي | ۱۵ |
| ۱۷. | حديث قدسي | ۱۵ |
| ۱۸. | د بني اسرائيلو د سلو (۱۰۰) كسانو د قاتل تُوبه | ۱۶ |
| ۱۹. | د اسلام راوړو په وجه كافر ته بخښنه | ۱۶ |
| | | ۱۹ |

(c) ketabton.com: The Digital Library




| نمبرشمار | موضوع | صفحه |
| --- | --- | --- |
| ۲۰. | الله جل جلاله توبه قبلوونکې دی | ۱۹ |
| ۲۱. | د عرش چاپيره کلمات | ۲۰ |
| ۲۲. | د حضرت موسی علیه السلام د يو ګناهګار امتي د توبې واقعه : | ۲۰ |
| ۲۳. | د ګناهګارانو د پاره د اُميد آيت | ۲۲ |
| ۲۴. | د حضرت علي رضی الله عنه وينا | ۲۲ |
| ۲۵. | د حافظ ابن کثير رحمه الله وينا | ۲۲ |
| ۲۶. | د آيت شانِ نزول | ۲۳ |
| ۲۷. | د بنده په نافرمانۍ د زمکې او آسمان الله جل جلاله ته عرض | ۲۴ |
| ۲۸, | ۲. توبه کوونکي سره الله جل جلاله محبت کوي | ۲۵ |
| ۲۹. | د حضرت عمر رضی الله عنه په دورِ خلافت کې ديو بودا سندرغاړي د توبې واقعه | ۲۶ |
| ۳۰ | ۳. په توبې سره الله جل جلاله ډير خوشحاليږي | ۲۸ |
| ۳۱. | ۴. توبه د انسان د فلاح او کاميابۍ ذريعه ده | ۲۹ |
| ۳۲. | ۵. انسان ته ښکلي ژوند او ددنيا نعمتونه نصيبه کيږي | ۲۹ |
| ۳۳. | د حضرت هود علیه السلام خپل قوم ته نصيحت | ۳۰ |
| ۳۴. | ۶. د انسان زړه د ګناه د خيري نه صفا کيږي | ۳۰ |
| ۳۵. | د الله جل جلاله رحم او مهرباني په خپلو بندګانو باندې | ۳۰ |
| ۳۶. | د توبې دروازه هر وخت انسان ته خلاصه وي | ۳۱ |
| ۳۷. | د ابليس قسم او د الله جل جلاله جواب | ۳۱ |
| ۳۸. | د بني اسرائيلو د يو ځوان د توبې واقعه | ۳۲ |
| ۳۹. | حديثِ قدسي | ۳۳ |
| ۴۰. | د ګرد قبيلې د يو ډاکو واقعه | ۳۳ |
| ۴۱. | حضرت داوُد علیه السلام ته د الله جل جلاله وحي | ۳۵ |
| ۴۲. | د هندوستان د يو بُت پرست د توبې واقعه | ۳۶ |
| ۴۳ | د زنکدن په حالت کې توبه نه قبليږي | ۳۷ |

(c) ketabton.com: The Digital Library




| نمبرشمار | موضوع | صفحه |
| --- | --- | --- |
| ۴۴. | د توبې نه روستو الله ﷻ دانسان ګناه د حفظه فرښتو او اندامونو نه هم هيره کړي | ۳۷ |
| ۴۵. | د دنيا او د الله تعالى په عدالت کې فرق | ۳۸ |
| ۴۶. | الله جل جلاله بار بار ګناه معاف کوي | ۳۹ |
| ۴۷. | حديثِ قدسي | ۴۰ |
| ۴۸. | د حبيب ابن الحارث رضى الله عنه واقعه | ۴۰ |
| ۴۹. | نبي عليه الصلوة والسلام هم توبه ويسته | ۴۲ |
| ۵۰. | بار بار توبه ويستونکې مُصِر ندی | ۴۲ |
| ۵۱. | د علامه آلوسي رحمه الله تحقيق | ۴۳ |
| ۵۲. | د ملا علي قاري رحمه الله تحقيق | ۴۳ |
| ۵۳. | وعيد | ۴۴ |
| ۵۴. | **د توبې طريقه** | ۴۴ |
| ۵۵. | د امام قرطبي رحمه الله تحقيق | ۴۴ |
| ۵۶. | د حضرت علي رضى الله عنه نه پوښتنه | ۴۵ |
| ۵۷. | **فقهي مسائل** | ۴۶ |
| ۵۷. | اوله مسئله: حقوق العباد تَش په توبه نه معاف کيږي | ۴۶ |
| ۵۸. | د ملا علي قاري رحمه الله تحقيق | ۴۶ |
| ۵۹. | ذ امام نووي رحمه الله تحقيق | ۴۷ |
| ۶۰. | دويمه مسئله: د هرې ګناه نه توبه د همغې ګناه موافق وي | ۴۷ |
| ۶۱. | د صاحب د هدايې وينا | ۴۷ |
| ۶۲. | دريمه مسئله: که حقدار ته خپل حق واپس نکړي نو قيامت کې به دده نه نيکۍ اخيستلې شي. | ۴۷ |
| ۶۳. | څلورمه مسئله: که صاحب دحق وفات يا معلوم نوي د هغې نه د توبې طريقه | ۴۸ |
| ۶۴. | د امام غزالي رحمهُ الله وينا | ۴۹ |

(c) ketabton.com: The Digital Library




| نمبرشمار | موضوع | صفحه |
|---|---|---|
| ۶۵. | پنځمه مسئله : په توبې سره حرام مال نه حلالیږي . | ۴۹ |
| ۶۶. | شپږمه مسئله : په کوچني والي کې د شوې ګناه حکم | ۴۹ |
| ۶۷. | خلاصه | ۵۰ |
| ۶۸. | **د توبې په باره کې نور معتمد واقعات** | ۵۱ |
| ۶۹. | د کفل د توبې واقعه | ۵۱ |
| ۷۰. | ځلوېښت کاله د الله ﷻ د نافرماني کوونکي کس د توبې واقعه | ۵۲ |
| ۷۱. | د شرابو په سرکه باندې بدلیدلو واقعه | ۵۴ |
| ۷۲. | د یو کفن کش د توبې قبلیدلو واقعه | ۵۵ |
| ۷۳. | په توبه کوونکي ځوان باندې د وریځې د سُوري واقعه | ۵۸ |
| ۷۴. | د قارون په واقعه کې عبرت | ۵۹ |
| ۷۵. | د یو شرابي د توبې واقعه | ۶۱ |
| ۷۶. | واقعه : په معافي غوښتلو سره په هماغه ځای ګناه معاف کیدل | ۶۲ |
| ۷۷. | د زاذان سندرغاړي د توبې واقعه | ۶۳ |
| ۷۸. | **۲ . د الله جل جلاله رحمت او مهرباني** | ۶۵ |
| ۷۹. | د الله ﷻ سل رحمتونه دي | ۶۸ |
| ۸۰. | د الله ﷻ رحمت په دنیا کې هر شي ته عام دی | ۶۹ |
| ۸۱. | د بني اسرائیلو د یو کفن کش واقعه | ۷۰ |
| ۸۲. | د الله ﷻ رحمت په غضب غالب دی | ۷۱ |
| ۸۳. | الله ﷻ په خپلو بندګانو باندې د مورنه ډیر مهربانه دی | ۷۲ |
| ۸۴. | واقعه | ۷۳ |
| ۸۵. | د مور د شفقت واقعه | ۷۴ |
| ۸۶. | د یو مجوسي د اسلام قبلولو واقعه | ۷۵ |

(c) ketabton.com: The Digital Library




| نمبرشمار | موضوع | صفحه |
|---|---|---|
| ۸۷. | د الله ﷻ مهرباني | ۷٦ |
| ۸۸. | د پیغمبر علیه السلام نه د يوې ښځې پوښتنه | ۷۷ |
| ۸۹. | يواځې د توحيد په ګواهۍ ورکولو سره د الله ﷻ بې شمار نعمتونه | ۷۹ |
| ۹۰. | حديثِ قُدسي | ۸۲ |
| ۹۱. | حضرت داؤد علیه السلام ته د الله جل جلاله وحي | ۸۲ |
| ۹۲. | د يو ځوان شرابي د حفاظت واقعه | ۸۳ |
| ۹۳. | د بني اسرائيلو د يو بزرګ واقعه | ۸۵ |
| ۹۴. | الله ﷻ ډير صبر كوونكې ذات دى | ۸٦ |
| ۹۵. | حديثِ قدسي | ۸٦ |
| ۹٦. | د الله ﷻ نه د يَرې او اُميد فضيلت | ۸۷ |
| ۹۷. | د قيامت په ورځ مومنانو ته د الله ﷻ اوله خبره | ۸۷ |
| ۹۸. | الله ﷻ نه د ښه اميد لرلو په وجه جنت ته داخيدل | ۸۸ |
| ۹۹. | د قيامت په ورځ د الله ﷻ رحم | ۹۰ |
| ۱۰۰ | د الله ﷻ د رحمت نه مايوسه كيدل نه دي پكار | ۹۱ |
| ۱۰۱ | د حضرت موسى عليه السلام د الله ﷻ نه سوال | ۹۲ |
| ۱۰۲ | نور خلق د الله ﷻ د رحمت نه مايوسه كول نه دي پكار | ۹۳ |
| ۱۰۳ | د يو شاعر وينا | ۹۵ |
| ۱۰۴ | الله جل جلاله په خپل بنده ډير مهربانه دى | ۹۵ |
| ۱۰۵ | د ازغي داري څانګې په لرې كولو سره مغفرت | ۹٦ |
| ۱۰٦ | په تږي سپي باندې اُوبو څكلو سره مغفرت | ۹٦ |
| ۱۰۷ | د زبيده خاتون د مغفرت واقعه | ۹۷ |
| ۱۰۸ | د امام ابوداؤد رحمه الله د مغفرت واقعه | ۹۹ |

(c) ketabton.com: The Digital Library




| نمبرشمار | موضوع | صفحه |
|---|---|---|
| ۱۰۹ | ضروري تنبيه | ۱۰۰ |
| ۱۱۰ | سپين ږيري سړي ته هم د الله ﷻ نه حياء په کار ده | ۱۰۱ |
| ۱۱۱ | **د الله ﷻ د رحمت په باره کې نور زړه پورې معتمد واقعات :** | ۱۰۳ |
| ۱۱۲ | د قيامت په ورځ د ګناهونو نهه نوي (۹۹) دفترونه معاف کيدل | ۱۰۳ |
| ۱۱۳ | د الله ﷻ په نزد د سپين ږيري مسلمان قدر | ۱۰۵ |
| ۱۱۴ | د يو بانړه د شفاعت په وجه مغفرت | ۱۰۶ |
| ۱۱۵ | د قيامت په ورځ د الله رب العزت د يو بنده سره مکالمه | ۱۰۷ |
| ۱۱۶ | د يو مَچ سره د احسان کولو په وجه مغفرت | ۱۰۹ |
| ۱۱۷ | **۳ . د ګناهونو نقصانات :** | ۱۱۱ |
| ۱۱۸ | د ګناهونو ضرر او نقصان زيات دی | ۱۱۳ |
| ۱۱۹ | د مخکيني قومونو د هلاکت وجه ګناهونه وو | ۱۱۴ |
| ۱۲۰ | د بعضو هلاک شوو قومونو اِجمالي تذکره | ۱۱۴ |
| ۱۲۱ | عبرت | ۱۱۶ |
| ۱۲۲ | ګناه ته ګناه نه ويل خطرناک دي | ۱۱۶ |
| ۱۲۳ | د حضرت آدم عليه السلام د توبې قبليدو وجه | ۱۱۶ |
| ۱۲۴ | د ابليس د لعنتي کيدو وجه | ۱۱۷ |
| ۱۲۵ | د مريض مثال | ۱۱۹ |
| ۱۲۶ | حضرت عزير عليه السلام ته وحي | ۱۱۹ |
| ۱۲۷ | د اصحاب السبت د هلاکت واقعه | ۱۲۰ |
| ۱۲۸ | د ګناه کولو سبب | ۱۲۲ |
| ۱۲۹ | اول مثال | ۱۲۲ |
| ۱۳۰ | دويم مثال | ۱۲۲ |

| نمبرشمار | موضوع | صفحه |
| --- | --- | --- |
| ۱۳۱ | د يو ځوان واقعه | ۱۲۳ |
| ۱۳۲ | د صحابه کرامو د نظرونو ښکته ساتلو واقعه | ۱۲۴ |
| ۱۳۳ | د سليمان بن يسار رحمه الله د ګناه نه د بچ کيدلو واقعه | ۱۲۵ |
| ۱۳۴ | د امام غزالي رحمه الله وينا | ۱۲۷ |
| ۱۳۵ | **د ګناهونو دنيوي نقصانات :** | ۱۲۷ |
| ۱۳۶ | ۱. د الله ﷻ په نزد بې قدره کيدل | ۱۲۷ |
| ۱۳۷ | حضرت جبريل عليه السلام ته د الله ﷻ فرمان | ۱۲۸ |
| ۱۳۸ | د حضرت ابو الدرداء رضی الله عنه وينا | ۱۲۸ |
| ۱۳۹ | د حضرت عائشې رضی الله عنها وينا | ۱۲۹ |
| ۱۴۰ | د مجاهد بن عوض رحمه الله وينا | ۱۲۹ |
| ۱۴۱ | د يو شاعر وينا | ۱۲۹ |
| ۱۴۲ | ۲. په زمکه کې فساد خوريدل | ۱۳۰ |
| ۱۴۳ | دا معلومول، چې دا مصيبت عذاب دی او که امتحان؟ | ۱۳۱ |
| ۱۴۴ | د شاه ولي الله رحمه الله تحقيق | ۱۳۱ |
| ۱۴۵ | د مولانا اشرف علي تهانوي رحمه الله تحقيق | ۱۳۱ |
| ۱۴۶ | ۳. د زړه اطمينان ختميدل، او ژوند تنګيدل | ۱۳۲ |
| ۱۴۷ | ۴. د عبادت نورانيت ختميدل | ۱۳۳ |
| ۱۴۸ | اول مثال | ۱۳۳ |
| ۱۴۹ | دويم مثال | ۱۳۴ |
| ۱۵۰ | د امام مالک رحمه الله وصيت | ۱۳۴ |
| ۱۵۱ | ۵. د الله ﷻ او د هغه د رسول ﷺ د لعنت مستحق کيدل | ۱۳۵ |
| ۱۵۲ | په کافرانو او ظالمانو لعنت | ۱۳۵ |
| ۱۵۳ | په شرابي لعنت | ۱۳۵ |
| ۱۵۴ | په سود اخيستونکي او ورکوونکي لعنت | ۱۳۶ |

(c) ketabton.com: The Digital Library




| نمبرشمار | موضوع | صفحه |
|---|---|---|
| ۱۵۵ | په رشوت اخيستونكي او وركوونكي لعنت | ۱۳٦ |
| ۱۵٦ | د بعضو ګناهونو په وجه په ښځو لعنت | ۱۳۷ |
| ۱۵۷ | د ښځو سره مشابهت كوونكو سړو ، او د سړو سره مشابهت كوونكو ښځو باندې لعنت | ۱۳۸ |
| ۱۵۸ | په مړي ژړا كوونكو ښځو باندې لعنت | ۱۳۸ |
| ۱۵۹ | په لوطي او عاق الوالدين لعنت | ۱۳۸ |
| ۱٦۰ | نور د لعنت واله ګناهونه | ۱۳۹ |
| ۱٦۱ | عبرت | ۱۴۰ |
| ۱٦۲ | په ګناهګار باندې نور مخلوقات هم لعنت وايي | ۱۴۰ |
| ۱٦۳ | ٦ . د دشمنانِ خدا وارث جوړيدل | ۱۴۰ |
| ۱٦۴ | ۷. معيتِ الهي ( د الله ﷻ امداد ) ختميدل | ۱۴۱ |
| ۱٦۵ | د نيكانو سره د الله ﷻ د امداد مثالونه | ۱۴۱ |
| ۱٦٦ | اول مثال : په غارِ ثور كې د الله ﷻ معيت | ۱۴۱ |
| ۱٦۷ | دويم مثال : د حضرت موسى عليه السلام سره د الله ﷻ معيت | ۱۴۲ |
| ۱٦۸ | ۸ . د فرښتو د دُعاګانو نه محرومه كيدل | ۱۴۳ |
| ۱٦۹ | ۱۰. د مخ رونق ختميدل ، او عقل كمزورې كيدل | ۱۴۴ |
| ۱۷۰ | د امام شافعي رحمه الله خپل استاذ ته د حافظې د كمزورتيا شكايت | ۱۴۵ |
| ۱۷۱ | ۱۱ . بار بار ګناه كولو سره د توبې توفيق نه ملاويږي | ۱۴٦ |
| ۱۷۲ | ۱۲ . د الله ﷻ حفاظت نه وتل ، او شيطان پرې مسلط كيدل | ۱۴۷ |
| ۱۷۳ | ۱۳ . اندامونه باطني نجس او بدبويه كيدل | ۱۴۷ |
| ۱۷۴ | ۱۴ . د بعضو ګناهونو اثر واپس په ده او دده په كور واله راځي | ۱۴۹ |
| ۱۷۵ | د زَركر د ښځې واقعه | ۱۴۹ |

(c) ketabton.com: The Digital Library




| نمبرشمار | موضوع | صفحه |
|---|---|---|
| ۱۷۶ | **د ګناهونو اُخرَوي نقصانات :** | ۱۵۱ |
| ۱۷۷ | د هرې ګناه نقصان شته | ۱۵۲ |
| ۱۷۸ | واقعه : د ګناه نه د بچ کیدو په وجه د بدن نه د مُشکو خُوشبوئي تلل | ۱۵۳ |
| ۱۷۹ | د الله ﷻ د نافرمانۍ نه د یو ځوان توبه | ۱۵۴ |
| ۱۸۰ | واقعه : د جهنم د ویرې نه د یو غر ژړا | ۱۵۷ |
| ۱۸۱ | **د بعضو شُبهو جوابونه:** | ۱۵۸ |
| ۱۸۲ | ۱. الله ﷻ غفور رحیم دی ، توبه به او باسم | ۱۵۹ |
| ۱۸۳ | ۲. اوس لا ځوان یم ، چې بوډا شم بیا به توبه او باسم | ۱۵۹ |
| ۱۸۴ | ۳. دا ګناه زما په تقدیر کې لیکلې وه | ۱۶۰ |
| ۱۸۵ | ۴. که په قِسمت کې مې جنت وي نو جنت ته به لاړشم ، او که جهنم وي نو جهنم ته به ځم | ۱۶۱ |
| ۱۸۶ | ۵. الله ﷻ مستغني ذات دی ، هغه ته زمونږ د اعمالو هیڅ ضرورت نشته | ۱۶۱ |
| ۱۸۷ | ٦. مونږ د فلاني بزرګ اولاد یو ، یا د هغه مریدان یو | ۱۶۲ |
| ۱۸۸ | ۷. مونږ نورو ته نصیحت کوو ، یا مونږ ته ګناه ختمونکي اعمال معلوم دي | ۱۶۳ |
| ۱۸۹ | ۸. د ډیرو چلو او مجاهَدو په وجه اوس مونږ ته د اعمالو هیڅ ضرورت نشته | ۱۶۴ |
| ۱۹۰ | **په ګناهګارانو باندې د نزولِ عذاب نور معتمد او زړه پورې واقعات:** | ۱۶۷ |
| ۱۹۱ | په مخکیني امتونو د عذاب بیان | ۱۶۹ |
| ۱۹۲ | د حضرت نوح عليه السلام د قوم انجام | ۱۶۹ |
| ۱۹۳ | د حضرت صالح عليه السلام د قوم (ثمودیانو) انجام | ۱۷۰ |

(c) ketabton.com: The Digital Library




| نمبرشمار | موضوع | صفحه |
|---|---|---|
| ۱۹۴ | د حضرت هود عليه السلام د قوم (عاديانو) انجام | ۱۷۱ |
| ۱۹۵ | د حضرت لوط عليه السلام د قوم انجام | ۱۷۲ |
| ۱۹۶ | د حضرت شعيب عليه السلام د قوم انجام | ۱۷۴ |
| ۱۹۷ | د فرعون او دده د ملګرو انجام | ۱۷۵ |
| ۱۹۸ | د اَبرهه او دده د ملګرو انجام | ۱۷۷ |
| ۱۹۹ | د قومِ سبا د هلاکت واقعه | ۱۷۸ |
| | ٤. د علم فضيلت او اهميت | ۱۸۰ |
| ۲۰۰ | د حضرت آدم عليه السلام د خلافت او تعظيم وجه علم وُ | ۱۸۲ |
| ۲۰۱ | د امام رازي رحمه الله وينا | ۱۸۳ |
| ۲۰۲ | اولنۍ وحي | ۱۸۴ |
| ۲۰۳ | نبي عليه السلام ته هم د عِلم د زياتوالي طلب کولو حکم شوې وُ | ۱۸۵ |
| ۲۰۴ | د علم د اهمت په باره کې واقعه | ۱۸۵ |
| ۲۰۵ | نبي عليه السلام د تعليم او تدريس مجلس غوره کړو | ۱۸۶ |
| ۲۰۶ | د عِلمي مجلس فضيلت | ۱۸۷ |
| ۲۰۷ | د حضرت لقمان عليه السلام خپل ځوي ته نصيحت | ۱۸۸ |
| ۲۰۸ | علم د انبياو ميراث دې | ۱۸۸ |
| ۲۰۹ | د علم يو باب زده کول د زرو (۱۰۰۰) رکعتو قبول شوو نفلو نه ډير بهتر دی | ۱۹۰ |
| ۲۱۰ | د مولانا اشرف علي تهانوي رحمه الله تحقيق | ۱۹۱ |
| ۲۱۱ | لږ علم د ډير عمل نه بهتر دې | ۱۹۱ |
| ۲۱۲ | ضروري علم په هر مسلمان باندې فرضِ عين دی | ۱۹۱ |
| ۲۱۳ | ضروري تنبيه | ۱۹۲ |

| نمبرشمار | موضوع | صفحه |
| --- | --- | --- |
| ۲۱۴ | د علم حقیقت | ۱۹۲ |
| ۲۱۵ | په علم او معلوماتو کې فرق دی | ۱۹۳ |
| ۲۱۶ | علم لوي نعمت دی | ۱۹۴ |
| ۲۱۷ | د الله ﷻ په نزد د علم مقام | ۱۹۵ |
| ۲۱۸ | د یو طالب العلم واقعه | ۱۹۶ |
| ۲۱۹ | د عِلم باوجود په اِحساسِ کمترَی کې مبتلاء کیدل نه دي په کار | ۱۹۸ |
| ۲۲۰ | علم د الله صفت دی | ۱۹۸ |
| ۲۲۱ | د عِلم په برکت زړه وَر کیدل | ۱۹۹ |
| ۲۲۲ | عِلم یو قوت دی | ۲۰۰ |
| ۲۲۳ | د علم زده کوونکي د پاره د جنت بشارت او زیرې | ۲۰۱ |
| ۲۲۴ | د علم زده کړه د نفلي عباداتو نه بهتره ده | ۲۰۲ |
| ۲۲۵ | د علم زده کړه او بل ته خودل بهترینه صدقه ده | ۲۰۳ |
| ۲۲۶ | علمي مجالس د جنت باغیچې دي | ۲۰۴ |
| ۲۲۷ | د عِلم خَوَرولو فائده انسان ته د مرگ نه پس هم رسي | ۲۰۴ |
| ۲۲۸ | د علم په طلب کولو سره گناه معاف کیدل | ۲۰۵ |
| ۲۲۹ | د علم زده کړه بهترین عمل دی | ۲۰۶ |
| ۲۳۰ | علم د مال نه په اووه (۷) وجوهاتو سره بهتر دی | ۲۰۷ |
| ۲۳۱ | عِلم الله ﷻ خپلو خاصو بندگانو ته ورکوي | ۲۰۸ |
| ۲۳۲ | د علم د حصول جذبه فطري ده | ۲۰۹ |
| ۲۳۳ | د علم د حصول دپاره کوشش په کار دی | ۲۰۹ |
| ۲۳۴ | **د علم د حصول د پاره تکلیفونه برداشت کول** | ۲۱۱ |
| ۲۳۵ | د امام بخاري رحمه الله تکلیفونه برداشت کول | ۲۱۲ |
| ۲۳۶ | د امام شافعي رحمه الله د دین د پاره مشقت برداشت کول | ۲۱۳ |
| ۲۳۷ | د شاه عبدالقادر رائي پوري رحمه الله واقعه | ۲۱۳ |


(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library




| نمبرشمار | موضوع | صفحه |
|---|---|---|
| ۲۳۸ | د تقرير خلاصه | ۲۱۴ |
| ۲۳۹ | **فقهي مسائل** | ۲۱۵ |
| ۲۴۰ | اوله مسئله : د فرضِ عين عِلم تعين | ۲۱۵ |
| ۲۴۱ | دويمه مسئله : كه والدين بچې د عِلم نه منع كوي د هغې حكم | ۲۱٦ |
| ۲۴۲ | دريمه مسئله : د دين تبليغ فرضِ كفايه دى | ۲۱۷ |
| ۲۴۳ | څلورمه مسئله : دُنياوي فنون عِلم نه دى | ۲۱۷ |
| ۲۴۴ | **د علم د اهميت متعلق نور معتمد واقعات** | ۲۱۹ |
| ۲۴۵ | **د علم د حصول شوق** | ۲۱۹ |
| ۲۴٦ | د امام ابويوسف رحمه الله د علم سره شوق | ۲۱۹ |
| ۲۴۷ | د زنكدن په حالت كې علمي مشغله | ۲۱۹ |
| ۲۴۸ | د امام محمد رحمه الله د علم د حصول شوق | ۲۲۰ |
| ۲۴۹ | د بقيع بن مخلد رحمه الله د علم شوق | ۲۲۱ |
| ۲۵۰ | د امام مسلم رحمه الله د مطالعې شوق | ۲۲۲ |
| ۲۵۱ | د علامه ابن جوزي رحمه الله د مطالعې شوق | ۲۲۲ |
| ۲۵۲ | د علامه جاحظ بصري رحمه الله علمي شوق | ۲۲۳ |
| ۲۵۳ | د يو طالب العلم د مطالعې سره سخته مينه | ۲۲۳ |
| ۲۵۴ | د شاه عبدالعزيز رحمه الله عِلمي شوق | ۲۲۴ |
| ۲۵۵ | د علامه ابن تيميه رحمه الله د سبق سره مينه | ۲۲۵ |
| ۲۵٦ | د مولانا انورشاه كشميري رحمه الله عِلمي حرص | ۲۲۵ |
| ۲۵۷ | د علامه منذري رحمه الله د احاديثو سره مينه | ۲۲٦ |
| ۲۵۸ | **د علم د زده كړې د پاره عِلمي سفرونه كول** | ۲۲۷ |
| ۲۵۹ | د حضرت ابو ايوب انصاري ﷺ د يو حديث د پاره څلويښت ورځې سفر كول | ۲۲۷ |
| ۲٦۰ | صرف د حديث سَند اوچتولو د پاره نهه سوه ميله لرې سفر كول | ۲۲۷ |
| ۲٦۱ | د امام ابوحاتم رازي رحمه الله علمي سفرونه كول | ۲۲۸ |

| نمبرشمار | موضوع | صفحه |
|---|---|---|
| ٢٦٢ | **د علم په زده کړه کې خواري او محنت کول** | ٢٢٩ |
| ٢٦٣ | د حضرت ابو هريرة رضي الله عنه ولږه برداشت کول | ٢٣٠ |
| ٢٦۴ | د امام بخاري رحمه الله مشقت برداشت کول | ٢٣٠ |
| ٢٦٥ | د امام طبري رحمه الله محنت | ٢٣١ |
| ٢٦٦ | د امام ابو حاتم رازي رحمه الله مشقت برداشت کول | ٢٣١ |
| ٢٦٧ | د شيخ عبدالقادر جيلاني رحمه الله مشقت برداشت کول | ٢٣٢ |
| ٢٦٨ | د امام ابن جوزي رحمه الله محنت | ٢٣۴ |
| ٢٦٩ | په درې ديرش (٣٣) کاله کې صرف اته (٨) مسئلې زده کول | ٢٣۴ |
| ٢٧٠ | د طالب عِلمۍ په دوران کې اکثر تکليفونه وي | ٢٣٨ |
| ٢٧١ | د نابينا کسانو علمي کارنامې | ٢٣٩ |
| | **٥. د علماؤ او طلباؤ مقام** | ٢۴٠ |
| ٢٧٢ | **د علماو مقام** | ٢۴٢ |
| ٢٧٣ | الله جل جلاله د علماؤ درجې اوچتوي | ٢۴٢ |
| ٢٧۴ | د عالم درجه په عامو مومنانو باندې اووه سوه (٧٠٠) درجې زياته ده | ٢۴٢ |
| ٢٧٥ | د عالِم فضيلت په عابِد باندې زيات دی | ٢۴٣ |
| ٢٧٦ | واقعه: | ٢۴۴ |
| ٢٧٧ | عالم او غير عالم سره برابر نه دي | ٢۴۴ |
| ٢٧٨ | الله جل جلاله د خپلې او د فرښتو د گواهۍ سره د علماؤ گواهي هم يو ځای ذکر کړې | ٢۴٥ |
| ٢٧٩ | د حافظ ابن کثير رحمه الله وينا | ٢۴٦ |
| ٢٨٠ | د عالم ذکر په دويمه مرتبه کې | ٢۴٦ |
| ٢٨١ | د علماؤ مغفرت | ٢۴٦ |
| ٢٨٢ | د امام محمد رحمه الله د مغفرت واقعه | ٢۴٧ |

(c) ketabton.com: The Digital Library




| نمبرشمار | موضوع | صفحه |
|---|---|---|
| ۲۸۳ | د سيبويه د مغفرت واقعه | ۲۴۷ |
| ۲۸۴ | علماء د الله ﷻ نه ويريږي | ۲۴۸ |
| ۲۸۵ | اهلِ علمو ته دُعا | ۲۴۹ |
| ۲۸۶ | رسول الله ﷺ هم اهلِ علمو ته دُعا کړې | ۲۵۰ |
| ۲۸۷ | د قيامت په ورځ به د علماو سياهي د شهيدانو په وينې دَرَنه وي | ۲۵۱ |
| ۲۸۸ | په معاشره کې د علماؤ مقام | ۲۵۱ |
| ۲۸۹ | دعلماو ضرورت | ۲۵۲ |
| ۲۹۰ | عالم به د قيامت په ورځ شفاعت کوونکې وي | ۲۵۳ |
| ۲۹۱ | د فقيه درجه | ۲۵۳ |
| ۲۹۲ | په مخ د زمکه فقهاء او علماء اولياء الله دي | ۲۵۵ |
| ۲۹۳ | انسان صرف هغه دي چې علم ورسره وي | ۲۵۵ |
| ۲۹۴ | د علماؤ تعظيم په کار دی | ۲۵۶ |
| ۲۹۵ | صحابه کرام او د استاذ ادب | ۲۵۸ |
| ۲۹۶ | په خبرو کې هم د ادب لحاظ په کار دی | ۲۵۹ |
| ۲۹۷ | حضرت موسی عليه السلام ته تنبيه | ۲٦۰ |
| ۲۹۸ | د علمي اختلاف باوجود د يو بل ډير ادب کول | ۲٦۱ |
| ۲۹۹ | د حضرت علي رضي الله عنه وينا | ۲٦۱ |
| ۳۰۰ | حديث د حضرت جبرائيل عليه السلام | ۲٦۲ |
| ۳۰۱ | امام اعظم ابوحنيفه رحمه الله او د استاذ ادب | ۲٦۲ |
| ۳۰۲ | مولانا عبدالقدوس گنگوهي رحمه الله او د استاذ ادب | ۲٦۲ |
| ۳۰۳ | د استاذ د ځوي ادب کول | ۲٦۵ |
| ۳۰۴ | د عالم سره د ناستې فضيلت | ۲٦۵ |
| ۳۰۵ | د عالم مخ ته کتل عبادت دی | ۲٦٦ |
| ۳۰٦ | د علماؤ سره د محبت فائده | ۲٦۷ |

| نمبرشمار | موضوع | صفحه |
|---|---|---|
| ۳۰۷ | د عالم وفات كيدل لويه حادثه ده | ۲٦۸ |
| ۳۰۸ | د علماو پورې تو قې كوونكې كس منافق دى | ۲٦۹ |
| ۳۰۹ | علماؤ ته د تكليف رسوونكو خلقو سزا | ۲۷۰ |
| ۳۱۰ | د مرزا مظهر جانِ جانان د قاتل بدترين انجام | ۲۷۱ |
| ۳۱۱ | امام اعظم ابو حنيفه رحمه الله پسې د بد رَد ويلو سزا | ۲۷۱ |
| ۳۱۲ | د عالم د توهين سخته سزا | ۲۷۲ |
| ۳۱۳ | د بزرګانو او نيكانو نه د مخ اړوونكي كس انجام | ۲۷۴ |
| ۳۱۴ | د اهلِ علمو سره د احسان كولو فائده | ۲۷۵ |
| ۳۱۵ | **د طالبُ العلم مقام** | ۲۷٦ |
| ۳۱٦ | فرښتې طالب العلم ته خپلې وزرې غوړوي | ۲۷٦ |
| ۳۱۷ | د امام قرطبي رحمه الله تحقيق | ۲۷٦ |
| ۳۱۸ | په حديث پورې د مسخره كوونكي سرې سزا | ۲۷۸ |
| ۳۱۹ | په حديث كې د شک كوونكي كس انجام | ۲۷۸ |
| ۳۲۰ | ظالب العلم ته د حج ثواب حاصليدل | ۲۸۰ |
| ۳۲۱ | د علم د زده كړې په وخت د وفات كيدونكي كس مرتبه | ۲۸۰ |
| ۳۲۲ | د علم حاصلولو شوق | ۲۸۱ |
| ۳۲۴ | د طالب العلم مقام. | ۲۸۲ |
| ۳۲۵ | د طالب العلم د دُعا قبليدو واقعه: | ۲۸۳ |
| ۳۲٦ | د خواجه باقي بالله رحمه الله د دين د طالبانو نه د دُعا درخواست | ۲۸۵ |
| ۳۲۷ | د احاديثو په طالبانو د انواراتو راوريدل | ۲۸٦ |
| ۳۲۸ | د تقرير خلاصه | ۲۸٦ |
| ۳۲۹ | **فقهي مسائل** | ۲۸۷ |
| ۳۳۰ | اوله مسئله: علماؤ سره د بُغض لرونكي او دوى ته د كنځل كوونكي كس حكم | ۲۸۷ |
| ۳۳۱ | دويمه مسئله: ديني كتابونو ته بې اودسه د لاس وروړلو حكم | ۲۸۸ |

(c) ketabton.com: The Digital Library




| نمبرشمار | موضوع | صفحه |
|---|---|---|
| ۳۳۲ | **داهلِ علمو دپاره دعبرت نه ډک نور معتمَد واقعات:** | ۲۸۹ |
| ۳۳۳ | **۱. د اهلِ علمو د پاره استقامت په کار دې:** | ۲۸۹ |
| ۳۳۴ | د شيخ الهند حضرت مولانا محمود الحسن ديوبندي رحمه الله قرباني | ۲۸۹ |
| ۳۳۵ | د حضرت مولانا غلام غوث هزاروي رحمه الله د دين د حفاظت دپاره قرباني | ۲۹۱ |
| ۳۳۶ | د مولانا اشرف علي تهانوي رحمه الله استقامت | ۲۹۳ |
| ۳۳۷ | **۲. د اهلِ علمو د پاره احتياط په کار دی:** | ۲۹۵ |
| ۳۳۸ | حسن بصري رحمه الله ته د يو ماشوم نصيحت | ۲۹۵ |
| ۳۳۹ | د امام بخاري رحمه الله احتياط | ۲۹۵ |
| ۳۴۰ | **۳. د اهلِ علمو دپاره تواضع او عاجزي په کار ده:** | ۲۹۷ |
| ۳۴۱ | د مولانا اشرف علي تهانوي رحمه الله تواضع | ۲۹۷ |
| ۳۴۲ | د مولانا رشيد احمد گنگوهي رحمه الله تواضع | ۲۹۸ |
| ۳۴۳ | د بايزيد بسطامي رحمه الله تواضع | ۲۹۸ |
| ۳۴۴ | د حاجي امداد الله مهاجر مکي رحمه الله تواضع | ۲۹۹ |
| ۳۴۵ | د امام اعظم ابوحنيفه رحمه الله تواضع | ۲۹۹ |
| ۳۴۶ | **۴. د علم سره ادب په کار دې:** | ۳۰۱ |
| ۳۴۷ | د علامه انورشاه کشميري رحمه الله ادب | ۳۰۱ |
| ۳۴۸ | د شيخ الاسلام مولانا حسين احمد مدني رحمه الله ادب | ۳۰۲ |
| ۳۴۹ | د شيخ الهند مولانا محمود الحسن ديوبندي رحمه الله ادب | ۳۰۳ |
| ۲۵۰ | د استاذ ادب داسې په کار دی | ۳۰۴ |
| ۲۵۱ | د استاذ څپلی په سَر اېښودل | ۳۰۴ |
| ۲۵۲ | د مولانا اشرف علي تهانوي رحمه الله ادب | ۳۰۵ |
| ۲۵۳ | هراستاذ ته د قدر په نظر کتل په کار دي | ۳۰۶ |
| ۲۵۴ | امام مالک رحمه الله او د احاديثو ادب | ۳۰۷ |
| ۲۵۵ | د احاديثو د ادب په وجه مقبوليت | ۳۰۷ |

(c) ketabton.com: The Digital Library




| نمبرشمار | موضوع | صفحه |
|---|---|---|
| ۲۵۶ | د بې ادبۍ په وجه انسان د علمي فيض نه محرومه کيږي | ۳۰۸ |
| ۲۵۷ | د استاذ د بې ادبۍ په وجه د علم نه محرومه کيدل | ۳۰۸ |
| ۲۵۸ | علماء د انبياو وارثان دي | ۳۰۹ |
| ۲۵۹ | **۵. د عِلم سره اِستغناء په کار ده :** | ۳۱۱ |
| ۲۶۰ | د حضرت سالم رحمه الله اِستغناء | ۳۱۲ |
| ۲۶۱ | د مولانا قاسم نانوتوي رحمه الله اِستغناء | ۳۱۳ |
| ۲۶۲ | **۶. د درود شريف فضيلت او اهميت** | ۳۱۴ |
| ۲۶۳ | د علامه اسماعيل حقي رحمه الله تحقيق | ۳۱۶ |
| ۲۶۴ | د علامه آلوسي رحمه الله تحقيق | ۳۱۷ |
| ۲۶۵ | **د درودِ شريف فضائل** | ۳۱۸ |
| ۲۶۶ | ۱. د الله ﷻ د رحمت ذريعه ده | ۳۱۸ |
| ۲۶۷ | حضرت موسى عليه السلام ته وحي | ۳۲۰ |
| ۲۶۸ | ۲. د نبي عليه السلام د شفاعت ذريعه ده | ۳۲۰ |
| ۲۶۹ | د فقيه ابو الليث ثمرقندي رحمه الله وينا | ۳۲۱ |
| ۲۷۰ | ۳. د نيکيو د زياتوالي د گناهونو د مغفرت او د مرتبې د اوچتوالي ذريعه ده | ۳۲۱ |
| ۲۷۱ | د درود شريف په وجه د امام شافعي رحمه الله مغفرت | ۳۲۲ |
| ۲۷۲ | د درود شريف په وجه د يو کاتِب مغفرت | ۳۲۲ |
| ۲۷۳ | د درود شريف په وجه د يو گناهگار مغفرت | ۳۲۳ |
| ۲۷۴ | ۴. د نبي کريم ﷺ سره د نزديکت ذريعه ده | ۳۲۳ |
| ۲۷۵ | ۵. د مصيبتونو او غمونو د اِزالې ذريعه ده | ۳۲۴ |
| ۲۷۶ | د درود شريف په برکت د مصيبت نه د نجات واقعه | ۳۲۵ |
| ۲۷۷ | ۶. د دُعا تبليدو ذريعه ده | ۳۲۷ |
| ۲۷۸ | اهمه نُکته | ۳۲۹ |

(c) ketabton.com: The Digital Library




| نمبرشمار | موضوع | صفحه |
|---|---|---|
| ۲۷۹ | د درود شریف نه بغیر دُعا نه قبلیږي | ۳۲۹ |
| ۲۸۰ | ۷. د درود شریف په وجه اعزاز | ۳۳۰ |
| ۲۸۱ | نبي کریم ﷺ د درود ویونکې خُله چَپ (ښُکل) کړي | ۳۳۰ |
| ۲۸۲ | د یو درود شریف د ثواب په وجه د غونډ ي مقبرې واله نه عذاب پورته کیدل | ۳۳۱ |
| ۲۸۳ | **د درودِ شریف نه ویلو نقصانات** | ۳۳۳ |
| ۲۸۳ | ۱. د نبي کریم ﷺ د خیرو سبب دی | ۳۳۳ |
| ۲۸۴ | ۲. د حضرت جبرائیل علیه السلام د بَد دُعایی ذریعه ده | ۳۳۳ |
| ۲۸۵ | ۳. د رسول الله ﷺ نوم مبارک اوریدو نه روستو درود نه ویل بُخل دي | ۳۳۵ |
| ۲۸۶ | د نبي علیه السلام نوم مبارک سره درود نه لیکونکي ته وعید | ۳۳۶ |
| ۲۸۷ | ۴. د جنت نه د محرومتیا سبب دی | ۳۳۷ |
| ۲۸۸ | ۵. په قیامت کې د پښیمانتیا سبب دی | ۳۳۷ |
| ۲۸۹ | **د درودِ شریف متعلق فقهي مسائل :** | ۳۳۹ |
| ۲۹۰ | مسئله ۱ : | ۳۳۹ |
| ۲۹۱ | مسئله ۲ : | ۳۴۰ |
| ۲۹۲ | مسئله ۳ : | ۳۴۰ |
| ۲۹۳ | مسئله ۴ : | ۳۴۰ |
| ۲۹۴ | مسئله ۵ : | ۳۴۲ |
| ۲۹۵ | مسئله ٦ : | ۳۴۲ |
| ۲۹٦ | مسئله ۷ : | ۳۴۲ |
| ۲۹۷ | **د درودِ شریف متعلق نور بهترین واقعات:** | ۳۴۳ |
| ۲۹۸ | د درود ویونکي د قبرا و کورنه د مُشکو خوشبوي تلل | ۳۴۳ |
| ۲۹۹ | حضرت موسی علیه السلام ته وحي | ۳۴۳ |

(c) ketabton.com: The Digital Library




| نمبرشمار | موضوع | صفحه |
| --- | --- | --- |
| ۳۰۰ | د درود شریف په وجه حاجتونه پوره کړي | ۳۴۴ |
| ۳۰۱ | د حضرت حواء رضی الله عنها په مَهر کې درود شریف مقررول | ۳۴۵ |
| ۳۰۲ | د درود شریف په برکت د یوې فرښتې معاف کیدل | ۳۴۵ |
| ۳۲۳ | خوشخبري | ۳۴۷ |

(c) ketabton.com: The Digital Library



بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

# سريزه

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِيْ خَلَقَ الْإِنْسَانَ وَعَلَّمَهُ الْبَيَان . أَرْسَلَ الرُّسُلَ وَالْأَنْبِيَاءَ لِهِدَايَتِهِ وَسَعَادَتِهِ فِيْ كُلِّ حِيْنٍ وَّ زَمَان .

وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى مَنْ قَالَ : " أَنَا خَاتَمُ الْأَنْبِيَاءِ وَلَانَبِيَّ بَعْدِيْ ، وَعُلَمَاءُ أُمَّتِيْ كَأَنْبِيَاءِ بَنِيْ إِسْرَائِيْلَ ، وَإِنَّ مِنَ الْبَيَانِ لَسِحْرًا " هِدَايَةً وَرَحْمَةً لِلْإِنْسِ وَالْجَان ، وَشَرَّفَ الْعُلَمَاءَ بِوِرَاثَةِ الرُّسُلِ وَالْأَنْبِيَاءِ لِتَبْلِيْغِ مَا أُنْزِلَ إِلَيْهِ بِالْقَوْلِ وَاللِّسَان .

وَعَلٰى آلِهِ وَأَصْحَابِهِ الَّذِيْنَ هُمْ مَعَايِيْرُ الْحَقِّ فِي الْعِلْمِ وَالْإِيْمَان ، وَعَلٰى مَنْ تَبِعَهُ وَتَبِعَهُمْ إِلٰى يَوْمِ الْجَزَآءِ وَالْإِحْسَان . وَبَعْدُ !

الله تعالى په مخ د زمکه انسانان پيداکړل ، د دوي د رُشد او هدايت لپاره يې دوي ته پيغمبران راوليږل ، چې دا سلسله د حضرت آدم عليه السلام نه شروع او په حضرت محمد صلى الله عليه وسلم باندې ختمه شوې ، ددې نه وروسته د امت عالمان به تر قيامته پورې دا دين خلکو ته رسوي او همدوي د دين په رسَولو کې د پيغمبرانو عليهم السلام وارثان هم دي .

پيغمبرانو عليهم السلام به د وعظ او نصيحت د لارې خلک دين ته رابلل ، او الهي پيغامونه به يې خلکو ته رسول ، الله تعالى فرمايي :

﴿ يَتْلُوْ عَلَيْهِمْ آيَاتِهِ وَيُزَكِّيْهِمْ وَيُعَلِّمُهُمُ الْكِتَابَ وَالْحِكْمَةَ ﴾ (۱)

البته د اُمت د علماو د دعوت او تبليغ د پاره نور مختلف ذرايع هم شته ، کله په خُولې سره وعظ او نصيحت وي ، کله په قلم سره د کتابونو او جرائدو وغيره په شکل کې وي ، خو په دې ذرائعو کې عامه او مؤثره ذريعه کومه چې د پيغمبرانو عليهم السلام معمول هم وو هغه وعظ ، تقرير او خطابت دی چې په مختلفو مواقعو کې علماء خلکو ته وعظ او نصيحت کوي ، الهي او نبوي پيغامونه خلکو ته رسوي .

په وعظ او نصيحت سره د خلکو آفکار بدليږي ، صورت او سيرت بدليږي ، جامعه او ټولنه بدليږي ، نظام بدليږي او د خلکو شقاوت په سعادت بدليږي .

---

(۱) آل عمران ۱۶۴

(c) ketabton.com: The Digital Library



لهذا دا ضروري ده چې واعِظ او خطيب بايد داسې وعظ وکړي چې د خلکو فکرونه د بې دينۍ نه دينداري طرف ته راواړوي ، د خلکو په صورت او سيرت کې نيک بدلون راشي ، جامعه د نيکو خلکو نه عبارت وګرځي ، د ټولنې شقاوت په سعادت بدل شي ، د علاقې ، وطن او مُلک نظام بدل شي .

او دا هغه وخت کيدې شي چې د علماؤ سره د وعظ او نصيحت لپاره داسې علمي آثار موجود وي چې په هره موضوع کې د علماو علمي ضرورتونه پوره کړي .

په هر وخت کې ديني عالمانو د وعظ او نصيحت په هکله مؤثرې ليکنې کړي ، خصوصًا په عربۍ او اُردو کې ډير مفصّل او تحقيقي کتابونه موجود دي . البته په پښتو ژبه کې زما د علم مطابق داسې جامع او تحقيقي آثر وجود نه لري چې په ليدو يې علمي تنده ماته شي .

نو دا ضروري ده چې داسې يو کتاب ترتيب شي چې د مساجدو امامانو او خطيبانو ته په آسانه د علمي او مؤثِر تقرير مواد برابر شي ، تر څو مسلمانان د ديني احکاماتو او معلوماتو نه مستفيد شي او عمل پرې وکړي .

که يو طرفته په عِلمي دُنيا کې نظر وکړو نو د عِلم د زَوال او اِنحطاط دوَر دی ، د اهلِ علمو همتونه ، استعدادونه او شوقونه دومره ضعيفه شوي چې د مساجدو زيات امامان او خطيبان د فن معتمَد او علمي کتابونه ، نه مطالعه کوي ، بلکه په رسالو او سَرسري معلوماتو اکتفاء کوي او وخت پرې تيروي ، بلکه ډير علماء خو تقليدي بيانونه کوي ، د يو عالم انداز خپل کړي او د هماغه نه اوريدلي معلومات د هماغه په انداز کې بيانوي .

بل طرفته که وګورو نو د اِفراط او تفريط دوَر دی ، بعضې علماء يوا ځې فضائل بيانوي چې په نتيجه کې خلکو ته په ګناهونو جرأت حاصل شو ، يوا ځې په مستحباتو تکيه کوي ،

او بعضې علماء په وعظ و تقرير کې دومره سختي کوي چې په اوريدو يې خلک د الله تعالی د رحمت نه مايوسه شي ، د الله تعالی سره تعلق پريږدي ، او د خپل خالق نه پرَدي شي ، په وعظ کې هغه مناسب توازن ختم شوې کوم چې د دين د اسلافو او اکابرو په وعظ کې ؤ ، نتيجه يې دا شوه چې د وعظ په اوريدو سره په خلکو کې هغه بدلون نه راځي کوم چې مناسب وي .

زما عاجز بنده په زړه کې دا داعِيه او تمنّا د ډير وخت نه موجوده وه چې زه په دې موضوع يوه داسې علمي او تحقيقي ليکنه وکړم چې د ذکر شوو ټولو مشکلاتو حل او جواب په کې موجود وي ، د قرآن کريم په آيتونو ، نبوي احاديثو او د امت د اَسلافو او اکابرو علماو په قيمتي

(c) ketabton.com: The Digital Library



ارشاداتو مشتمل وي . که يو طرف ته دد اسې ليکنې ضرورت او اهميت ډير وُ خو بل طرف ته زما عِلمي استعداد د دارنګې ګران پيچيده علمي خدمت ايجاب نه کولو .

البته ددې نه وړاندې چې کله زما يوه رساله د " اَلْاَسْئِلَةُ وَالْاَجْوِبَةُ الْفَاضِلَة لِتَشْحِيْذِ الْاَذْهَانِ الْكَامِلَة " په نامه په علمي مَحضَر کې وجود ته راغله ، نو په علمي حلقو کې په ډير کم وخت کې د ډيرې استفادې سبب وګرځيده ، او په خواصو او عوامو کې يې د توقع نه زيات مقبوليت حاصل کړ ، اَن تر دې چې اُردو او فارسي ته تَرجمه او چاپ شوه ، چې دې سره زما حوصله او چته شوه او په دې پيچيده موضوع د ليکنې جُرأت راته حاصل شو .

نو په دې خاطر چې په عِلمي ميدان کې موجوده کمې پوره شي ، په عِلمي حلقو کې علماو ، امامانو او خطيبانو ته فائده وشي ، د هرې موضوع په هکله عام مسلمانان د قرآني آيتونو ، نبوي تعليماتو ، او د اکابرو د اِرشاداتو نه خبر شي ، په وعظ او نصيحت کې توازن پيدا شي ، اِفراط او تفريط ختم شي ، د وعظ نه مطلوبه نتيجه تر لاسه شي ، دې او ديته وَرته نورو وجوهاتو له مخې مو په مهربان ذات توکل وکړ او د يوې داسې علمي او تحقيقي مُسَوّدې په تيارولو مو شروع وکړه چې د اهلِ علمو علمي تنده پرې ماتيږي او ددې د پاره مو نوم کيښود " اِصْلَاحِيْ مُدَلَّلْ تَقْرِيْرُوْنَه " .

الله تعالی دې اِسم او مُسمّی سره مطابق وګرځوي ، او الله تعالی دې زما دا علمي خدمت په خپل دربار کې قبول او منظور کړي، زما او زما د والدينو ، استاذانو ، مشرانو او د ټول امت مسلمه لپاره دې د مغفرت ذريعه او د فلاح و نجات سبب وګرځوي ، او الله تعالی دې د علماو ، طلباو ، امامانو ، خطيبانو ، مقررينو او عامو مسلمانانو لپاره د ډيرې فائدې او اِصلاح ذريعه وګرځوي. وَمَا ذٰلِكَ عَلَى اللهِ بِعَزِيْز .

رَبَّنَا تَقَبَّلْ مِنَّا إِنَّكَ أَنْتَ السَّمِيْعُ الْعَلِيْمُ .

إِنْ أُرِيْدُ إِلَّا الْإِصْلَاحَ مَا اسْتَطَعْتُ وَمَا تَوْفِيْقِيْ إِلَّا بِاللهِ عَلَيْهِ تَوَكَّلْتُ وَإِلَيْهِ أُنِيْبُ

وَصَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى خَيْرِ خَلْقِهٖ مُحَمَّدٍ وَّآلِهٖ وَأَصْحَابِهٖ أَجْمَعِيْن

ابو الشمس نور الهدیٰ عفي عنه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د کتاب ځانګړ تیاوې

ددې کتاب په ليکنه کې مې د لانديني خبرو لحاظ ساتلې :

۱ . په هره موضوع کې مې د قرآن کريم آيتونه او د هغې تفسير او تشريح د مختلفو تفاسيرو نه ، سره د حوالې نقل کړي .

۲ . د هرې موضوع سره مناسب احاديث مې د عربي عبارت ، ترجمې او تشريح سره ، د احاديثو د معتمدو کتابونو نه نقل کړي .

۳ . د هرې موضوع متعلق مسائل مې د مُعتمدو بَاوَري کتابونو او نورو شروحاتو نه نقل کړي ، او فقهي مسائلو کې مې د فقهاو کتابونو او فتاوو ته رجوع کړې .

۴ . د سامعينو په ذهنونو کې د مضمون په ښه طريقې سره اچولو ، او د خلقو د دِلچسپۍ دپاره مې د موقع مناسب د هرې موضوع سره مُستَنَد او د عبرت نه ډک واقعات را نقل کړي . ځکه د عمل جذبه راپيدا کولو د پاره چې واقعاتو ته کوم اهميت حاصل دی هغه هر عاقل ته د رُوښانه ورځې په شان ښکاره دی .

بل دا چې معتمد واقعات يو قسم رُوحاني غذا هم ده ، او د انسان په فطرت کې هم داخبره داخله ده چې په مثال يا واقعې سره کومه خبره بيان شي هغه دده په پوهه کې زر راځي .

دغه وجه ده چې د قرآن کريم ډ، حصه په واقعاتو او امثالو هم مشتمله ده ، ځکه په تيرو واقعاتو کې د انسان دپاره غټ سب ،او عبرت پروت دی .

۵ . هرې غټې خبرې ته يو عنو .ورکړې شوې دی .

**۶ . د هرې موضوع په آخر کې د همدې موضو متعلق نور سبق آموز واقعات هم سره د حوالې ذکر شوي چې هر واعظ او مقرريې د خپل وعظ او تقرير مؤثر کرځولو د پاره د خپلې خوښې مطابق ځانته يکې انتخاب کولې شي .**

په آخر کې زه دا خبره واضح کول غواړم چې زه خو نه څه خاص مقرر يم ، او نه په دې خپل کتاب کې بلافائده د مُقَفّٰی او مُسَجّع الفاظو راوړلو شوقي يم ، بلکه په عام فهمه او مؤثر انداز کې مې داسې قيمتي عِلمي ملغلرې د تاليف په تار کې پائللي چې په لوستو او اوريدو سره يې د انسان عِلمي تنده ماتيږي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



بسم الله الرحمن الرحيم

# د تقرير مؤثر كرځولو د پاره ضروري اصول او آداب

د تقرير او خطابت دا فن چونكه ډير اهميت لري ، او بيا خاصكر په دې موجوده دَور كې خو د علماو او طلباو دپاره ډير زيات ضروري دی ، ځكه چې په موجوده وخت كې د علماو ذمه داري نوره هم زياته شوې ، هرطرفته فتنې او فسادونه خواره دي . غيرمسلمه د مسلمانانو په ذهنونو كې د اسلام متعلق ډير شكوك او شبهات اچوي او مسلمانان گمراه كوي .

نو د تقرير په ذريعه په ډيره آسانه طريقې سره د مسلمانانو اصلاح كيږي ، دباطلو عقيدو نه يي نفرت پيدا كيږي او په مسلمان قوم كې د باطل سره د مقابلې قوت هم پيدا كيږي .

لهذا د علماو او طلباو دا ذمه داري بلكه فريضه ده چې دا فن ياد كړي ، او په دې كې پوره مهارت حاصل كړي.

اوس به لاندې څه ضروري اصول او آداب ليكلې شي چې دتقرير په دوران كې كه مقرر ددې اصولو لحاظ اوساتي نو تقرير به يي ډير مؤثر او جاذب او گرځي:

۱. د ټولو نه اول د مُقرر دپاره حوصله ، استقامت ، خُود اعتمادي او مستقل مزاجي پكار ده ځكه په ابتداء كې اكثر هر مقرر څه نا څه ويره محسوسوي، او دا خيال كوي چې گني دا خلق دده احتساب كوي ، نو بې اختياره يې په خُوله كې الفاظ اونخلي او تقرير يې گډوډ شي . لهذا حوصله مضبوطه پكار ده .

بل دا چې كه دې حوصله او نه بائلي نو د يوڅوجملو ويلو نه روستو دې دا مرحله يقيني طريقې سره په آسانۍ پاس كولې شي .

او كه يوه پيره ، دوه پيرې دې ناكام هم شي نو بيا هم همت د لاسه وركول نه دي پكار ، بلكه د دوباره تياري نه پس دې بيا ميدان ته راشي ، آخر خو به كله هم كامياب شي ، او ددې د پاره په خارج كې څه مثالونه هم شته :

**اول مثال** : ماشوم چې كله اول د اودريدو يا تللو كوشش كوي نو دې بار بار راغورځيږي خو دې بيا هم همت نه بائلي او بار بار كوشش كوي ، آخر داچې روان شي . اوس كه چيرته دا ماشوم خپله حوصله د لاسه وركړي ، يا يې مور او پلار منع كړي نو هيڅكله به دا هلك روان نه شي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



**دويم مثال**: د لامبو زده کولو نه مخکې اوبو ته کوزيدل خو ضروري دي بغير د دينه نه خو لامبو نشي زده کيدې. نو دغه شان د تقرير زده کولو دپاره هم دې ميدان ته وَردانګل ضروري دي.

۲. مُقرر به د موضوع متعلق پوره عِلمي معلومات لري، او موضوع به مُدَلّلــه برابروي، ځکه د دلائلو بيانولو سره د مقرر رُعب نورهم زياتيږي.

۳. مُقرر ته پکار دي چې د مجلس د خلقو د ذهني سطحې مطابق بيان وکړي او د تقرير الفاظ د سامعينو داستعداد موافق استعمال کړي. دې دپاره چې اوريدونکي ورباندې په آسانه پوهه شي. حديث شريف کې دي:

كَلِّمِ النَّاسَ عَلَى قَدْرِ عُقُوْلِهِمْ.

خلکو سره د دوی د عقلونو او پوهې په اندازه خبرې کوئ.

۴. خطيب له د موقع مناسب لاسونو ته حرکت ورکول هم پکار دي. ځکه که لاسونه يې صرف په سينه باندې ايښي وي، اوسَر يې ښکته کړې وي نو دا تقرير دومره مؤثِر او جالِب نه ګرځي.

البته د ډيرو ټوپونو او چغو سُورو نه به هم ځان ساتي، ځکه چې په دې سره د مُقرِر شخصيت مَجرُوحه کيږي او عزت يې ختميږي.

۵. تقرير په صفا او واضحه طريقې سره کول پکار دی. ځکه ډير زيات مَواد جَمع کول او زَر زَر ويل، د دينه هغه لږ تقرير ښه دی چې په صفا او واضحه طريقې سره او کړې شي.

۶. د تقرير په دوران کې د سامعينو توجه پيدا کولو او بيدارولو دپاره خونده وَر د عبرت نه ډک اشعار، مثالونه او معتمد دِلچسپ واقعات بيانول هم ضروري دي.

ځکه د معتمدو واقعاتو په بيانولو سره مضمون د سامِع په ذهن کې په آسانې طريقې سره کيني او په زړونو باندې ښه اثر هم کوي.

۷. تقرير لفظ په لفظ يادول ندي پکار ځکه که د تقرير په مينځ کې يوه جمله هيره شي نو په دې سره په مقرر ويره راځي او بې اعتمادي راپيدا کيږي، چې په نتيجه کې ټول تقرير ګډوډ او خراب شي. البته که اشارتي نوټس او اهمې نکتې د ځان دپاره اوليکلې شي نو دا خير دی.

۸. مُقرِر له د بل چا طرز اختيارل هم نه دې پکار.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۹. کوم آیت یا حدیث چې مُقرر ته ښه یاد وي نو هغه دې اول ووایي . ځکه په ابتداء کې بعضې خطیبان څه نا څه ویره محسوسوي. لهذا اول هغه آیت یا حدیث ویل پکار دي کوم چې ورته ښه یاد وي .

۱۰ . مُقرر له د خپلو جامو او خپل بدن لحاظ ساتل هم پکار دي ځکه په ښه او صفا لباس سره د عامو خلقو په نظر کې د مقرر عزت او وَقار نور هم زیاتیږي .

۱۱ . خطیب چې کله قرآني آیت وایي نو داسې به نه وایي : " قال الله تعالی اَعُوذُ بالله من الشیطن الرجیم " ځکه دلته د " قَالَ " مقوله " اَعُوذُ بالله ... " راځي، نو د پناه غوښتلو نسبت الله تعالی ته کیږي ، چې دا نسبت جائز ندی .

۱۲ . د تقریر نه مخکې د بُوج واله خوراک پکار ندی ځکه په دې سره په مُقرر بُوج راځي او تقریر کې یې فرق راځي . البته که شُوده (پَی) یا بل سپَک خوراک او کړي نو خیر دی .

۱۳ . د تقریر شروع په قلاره او په ښکته آواز پکار ده البته که بیا روستو آواز تیز شي نو خیر دی

۱۴. لکه څرنګ چې د تقریر شروع یو خاص اهمیت لري دغه شان د تقریر اِختتام هم د یو خاص اهمیت حامِل وي ، لهذا د تقریر په آخر کې که د ټول تقریر خلاصه او خاص خاص نُکتې یو ځل بیا بیان شي ، یا د سامعینو نه د عمل درخواست اوکړې شي ، یا د یو شاعر په خونده وَر شعر خپل تقریر ختم کړې شي نو په دې سره په اوریدونکو ډیر ښه اثر غورځیږي.

۱۵. د ښه مُقرر یو ښه صفت دا هم دی چې کله هم دې یوه اهمه خبره یا یوه علمي نُکته وګوري، یا یې واوري نو هغه دې د ځان سره نوټ کړي چې بیا د تقریر په دوران کې ورنه استفاده کولې شي .

خلاصه دا چې په هر انسان کې الله جل جلاله د تقریر کولو اِستعداد او مَلکه پیدا کړې ، خو که چیرته دې خواري او محنت او کړي او هِمت د لاسه ورنه کړي . ځکه الله تعالی کریم ذات دی د کوشش کوونکي کوشش نه ضائع کوي ، خیر دی که یو ځل ، دوه ځل دې ناکام شي خو دا څه عیب ندی :

لانّ الجَواد قد یکبو ، وانّ الصارم قد ینبو ، وانّ النار قد یخبو ، وانّ الانسان محل النسیان.

خو آخر به هم الله جل جلاله ده ته کامیابي نصیبه کوي .

فَمَا عَلَى التِّبْرِ عَارٌ فِي النَّارِ حِيْنَ يُقَلَّب .

(c) ketabton.com: The Digital Library



بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ .

﴿ يَا أَيُّهَا الَّذِيْنَ آمَنُوْا تُوْبُوْا إِلَى اللّٰهِ تَوْبَةً نَّصُوْحًا ﴾ . التحريم آيت ۸ .

﴿ اِسْتَغْفِرُوْا رَبَّكُمْ إِنَّهُ كَانَ غَفَّارًا . يُرْسِلِ السَّمَاءَ عَلَيْكُمْ مِّدْرَارًا ،
وَيُمْدِدْكُمْ بِأَمْوَالٍ وَّبَنِيْنَ وَيَجْعَلْ لَّكُمْ جَنَّاتٍ وَّيَجْعَلْ لَّكُمْ أَنْهَارًا ﴾ .
نوح آيت ۱۰ تا ۱۲ .

# د توبې اهميت ، فوائد او احکام

تاليف :

ابُوالشَّمْس مولانا نُوْرُالْهُدىٰ عُفِيَ عَنْهُ
مُدَرِّس دَارُالعلوم فيضُ القرآن اکاخيل کالونی مردان

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دتوبې اهميت ،فضيلت او احکام

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ نَحْمَدُهُ وَنَسْتَعِيْنُهُ وَنَسْتَغْفِرُهُ وَنُؤْمِنُ بِهِ وَنَتَوَكَّلُ عَلَيْهِ، وَنَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنْ شُرُوْرِ اَنْفُسِنَا وَمِنْ سَيِّئَاتِ اَعْمَالِنَا مَن يَّهْدِهِ اللّٰهُ فَلَا مُضِلَّ لَهُ وَمَن يُّضْلِلْهُ فَلَا هَادِيَ لَه، وَنَشْهَدُ اَنْ لَّآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيْکَ لَهُ وَنَشْهَدُ اَنَّ سَيِّدَنَا وَنَبِيَّنَا وَمَوْلَانَا مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُوْلُه .

اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

﴿ يَا أَيُّهَا الَّذِيْنَ آمَنُوْا تُوْبُوْا إِلَى اللّٰهِ تَوْبَةً نَّصُوْحًا عَسَى رَبُّكُمْ أَنْ يُّكَفِّرَ عَنْكُمْ سَيِّئَاتِكُمْ وَيُدْخِلَكُمْ جَنَّاتٍ تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا الأَنْهَارُ ﴾. (۱)

وَقَالَ اللّٰهُ تَعَالَى: ﴿ اِسْتَغْفِرُوْا رَبَّكُمْ إِنَّهُ كَانَ غَفَّارًا ﴾. (۲)

(( وَقَالَ النَّبِيُّ ﷺ اَلتَّائِبُ مِنَ الذَّنْبِ كَمَنْ لَا ذَنْبَ لَهُ )). (۳)

صَدَقَ اللّٰهُ الْعَظِيْمُ .

زما خوږو قدرمنو او عزت مندو مسلمانانو ورونو! الله رب العزت په خپل بنده باندې دومره زيات مهربانه دی چې که يو انسان هر څومره ګناهګار وي او د الله جل جلاله په نافرمانۍ کې د سَر نه تر خپو پورې ډوب وي ، بلکه که دده د ګناهونو په وجه د زمکې او آسمان دا مينځنۍ حصه هم ډکه شي ، ليکن بيا هم الله جل جلاله د توبې دروازه ده ته خلاصه ساتلې ، چې که کله هم دې په اخلاص باندې تو به اوباسي نو الله جل جلاله دده مخکيني ټول ګناهونه معاف کوي ، او د ده خطاګانې د مغفرت په صابون وينځي .

او دا د دين اسلام حُسن هم دی چې په دې کې يې انسان ته داسې يو عمل خودلې چې که دې هر څومره د مايوسۍ او نااميدۍ په تياره کې پروت وي او د خپل رب نه يې بغاوت او سرکشي اختيار کړي وي ليکن بيا هم رحيم و کريم رب په خپل آخري کتاب کې د ده ته دا خوشخبري

(۱) التحريم آيت ۸ .

(۲) نوح آيت ۱۰ .

(۳) رواه ابن ماجه کتاب الزهد باب ۳۰ والطبراني ورواه ابن ابي الدنيا والبيهقي مرفوعًا ، الترغيب والترهيب ج۴ ص ۴۸ کتاب التوبة والزهد ، مشکوة ج۱ ص۲۲۳ باب الاستغفار والتوبة ، کنزالعمال .

(c) ketabton.com: The Digital Library



او زيرې اَوروي چې، كه په اخلاص دې توبه وباسي نو الله جل جلاله به دده مخكيني ټول ګناهونه معاف كړي بلكه په نيكيو به يې ورته بدل كړي .

بل دا چې د انسان د زندګۍ مقصد هم الله ﷻ ته رسيدل ، د الله ﷻ رضا او خوشحالي ده .
اوس كه د دې مقصد د وړاندې د انسان خراب عمل مانع اوګرځي ، نو د دې مانع ختمولو او خپل هدَف ته د رسيدلو لويه ذريعه اِنابَت الى الله (الله ﷻ ته رجوع كول) او توبه ويستل دي .

## د توبې تعريف

اوس توبه څه ته وايي ؟ نو توبه لغت كې " رجوع " راګرځيدل او واپس كيدلو ته وايي ، يعنى د ګناهونو نه بيرته ګرځيدل او منع كيدل (۱)

د قرآن وسنت په اصطلاح كې توبه ديته وايي چې انسان په ژبه استغفار ووايي ، په تيرو ګناهونو باندې پښيمانه شي ، او په آينده كې د دې ګناه د نه كولو پخه اراده وكړي .(۲)

### د علامه طيبي رحمه الله تحقيق:

علامه طيبي رحمه الله د توبې تعريف داسې كوي :

تَرْكُ الذَّنْبِ لِقُبْحِهِ وَالنَّدَمُ عَلَى مَا فَرَطَ مِنْهُ وَالْعَزِيْمَةُ عَلَى تَرْكِ الْمُعَاوَدَةِ وَتَدَارُكِ مَا اَمْكَنَهُ اَنْ يَتَدَارَكَ مِنَ الْاَعْمَالِ بِالْاِعَادَةِ .

وزَادَ النَّوَوِيُ : اِنْ كَانَتِ الذَّنْبُ مُتَعَلِّقًا بِبَنِيْ آدَمَ ........ (۳)

د ګناه د قباحت د وجې ګناه پريښودل ، په تيرو ګناهونو پښيمانه كيدل ، او د بيا نه كولو پخه اراده كول ، چې كوم فرائض يا واجبات ورنه پاتې وي حتى الوسع د هغې راګرځول.

امام نووي رحمه الله ورسره يو بل شرط هم زياتي كړې چې كه د دې ګناه تعلق د حقوق العبادو سره وُ ، نو صاحبِ حق ته خپل حق سپارل ، يا د هغه نه معافي غوښتل هم ضروري دي .

بعضې علماو دې ندامت او پښيمانتيا ته هم توبه وايي لكه حديث شريف كې راځي :

(۱) تكملة فتح الملهم ج ٦ ص ٥ . ملاعلي قاري په مرقات شرح مشكوة كې فرمائي : هي الرجوع عن المعصية الى الطاعة...
(مرقاة شرح مشكوة ج٥ ص ۱۲۲ باب الاستغفار والتوبة ، القاموس الوحيد ص ۲۰۵ ، معارف القرآن سورة التحريم آيت نمبر ۸

(۲) معارف القرآن سورة التحريم آيت ۸ .

(۳) مرقاة شرح مشكوة ج٥ ص ۱۲۲ باب الاستغفار والتوبة.

(c) ketabton.com: The Digital Library



(( اَلنَّدَمُ تَوْبَةٌ )) (۱) پښيمانتيا توبه ده .

## د علامه قرطبي رحمه الله تحقيق :

علامه قرطبي رحمه الله په خپل تفسير ''تفسير قرطبي'' کې د آيت : ﴿ إِنَّمَا التَّوْبَةُ عَلَى اللهِ لِلَّذِينَ يَعْمَلُونَ السُّوْءَ بِجَهَالَةٍ....﴾ (۲) په تفسير کې ليکي :

چې کله څلور شرائط موجود شي نو الله جل جلاله د هغه انسان توبه قبلوي :

اَلنَّدَمُ بِالْقَلْبِ ، وَتَرْکُ الْمَعْصِيَةِ فِي الْحَالِ ، وَالْعَزْمُ عَلَى اَلَّا يَعُوْدَ اِلٰى مِثْلِهَا ، وَاَنْ يَکُوْنَ ذٰلِکَ حَيَاءً مِنَ اللهِ تَعَالٰى لَا مِنْ غَيْرِهٖ . (۳)

۱. په زړه کې په تيره ګناه پښيمانه کيدل ، ۲. ګناه فی الحال پريښودل ، ۳. او دا پخه اراده کول چې بيا به يې نه کوي ، ۴. او دا ګناه پريښودل به دالله نه د حياء په وجه وي ، د بل څه غرض په وجه به نه وي .

بعضو علماو ورسره دا هم زياتي کړې چې په ژبه باندې به استغفار هم وايي .

## د علامه تقي عثماني دامت برکاتهم العالية تحقيق:

علامه محمد تقي عثماني دامت برکاتهم العالية په تکمله د فتح الملهم کې د توبې تعريف داسې کوي :

اَلتَّوْبَةُ : تَرْکُ الذَّنْبِ وَالنَّدَمُ عَلٰى فِعْلِهٖ وَالْعَزْمُ عَلٰى عَدَمِ الْعَوْدِ وَرَدُّ الْمَظْلِمَةِ اِنْ کَانَتْ ، اَوْ طَلَبُ الْبَرَاءَةِ مِنْ صَاحِبِهَا ، وَاَدَاءُ مَا ضَيَّعَ مِنَ الْفَرَائِضِ . (۴)

ترجمه : د ګناه پريښودل ، په کړې ګناه پښيمانه کيدل ، د بيا نه کولو پخه اراده کول ، چې په ظلم د چا نه څه شي اخيستل شوې وي هغه ورته واپس کول ، يا ورنه د هغې معافي غوښتل ، او کوم فرائض او واجبات يې چې ضائع کړي وي هغه اداء کول .

---

(۱) رواه الحاکم وقال صحيح الاسناد ، ورواه ابن ماجه وابن حبان ، مشکوة باب الاستغفار والتوبة .

نوټ : امام غزالي رحمه الله په احياء العلوم ج ۴ ص۵ کې د توبې نور تعريفونه هم ذکر کړي .

(۲) النساء آيت ۱۷ .

(۳) تفسير قرطبي ج۵ ص ۸۸ .

(۴) تکملة فتح الملهم ج۵ ص ۵.

# د توبې حکم

## د امام قرطبي رحمه الله وينا :

د هر انسان دپاره د ګناهونو نه توبه ويستل ډيره ضروري ده بلکه علامه قرطبي رحمه الله خو ترديې ليکلي دي چې

وَاتَّفَقَتِ الْاَئِمَّةُ عَلٰى اَنَّ التَّوْبَةَ فَرْضٌ عَلَى الْمُؤْمِنِيْنَ لِقَوْلِهِ تَعَالٰى : ﴿ وَتُوْبُوْا اِلَى اللهِ جَمِيْعًا اَيُّهَا الْمُؤْمِنُوْنَ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُوْنَ ﴾. (۱)، (۲)

آيمهٔ په دې باندې اتفاق کړې چې په مومنانو باندې (د ګناهونو نه) توبه ويستل فرض دي او دليل يې د قرآن مجيد دا آيتِ مبارکه پيش کړې چې الله رب العزت فرمايي :

او تاسو ټول الله ته توبه وباسئ اې مؤمنانو، د پاره ددې چې تاسو کامياب شئ.

## د امام نووي رحمه الله وينا:

امام نووي رحمه الله په خپل کتاب (رياض الصالحين) کې دا خبره واضح کړې چې د هرې ګناه نه توبه ويستل فرض ذي (۳)

## دامام غزالي رحمه الله وينا :

همدا رنګې امام غزالي رحمه الله هم فرمايي :

اِعْلَمْ اَنَّ وَجُوْبَ التَّوْبَةِ ظَاهِرٌ بِالْاَخْبَارِ (۴)

د توبې وُجوب په اخبارو سره ظاهر دی. (يعنی د قرآن کريم او احاديثو مبارکهؤ نه د توبې وجوب په دلائلو سره معلوميږي).

---

(۱) النور آيت ۳۱.

(۲) قرطبي ج۵ ص ۸۷، بل ځاي علامه قرطبي رحمه الله د آيت ﴿ يَآ اَيُّهَا الَّذِيْنَ آمَنُوْا تُوْبُوْا اِلَى اللهِ تَوْبَةً نَّصُوْحًا ﴾ لاندی ليکي : وهي فرض على الاعيان في كل الاحوال وكل الازمان. قرطبي ج۱۸ التحريم آيت ۸.

(۳) كتاب التوابين لابن قدامه المقدسي ص ۲۸۳.

(۴) احياء العلوم ج۴ ص ۵.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د آیت تشریح:

کوم آیتِ مبارکه چې ما په خطبه کې تلاوت کړې، په هغې کې هم الله جل جلاله مؤمنانو ته د توبې اَمر کوي. الله رب العزت فرمايي:

﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا تُوبُوا إِلَى اللهِ تَوْبَةً نَّصُوحًا﴾.(١)

ترجمه: اې د ايمان خاوندانو! تاسو توبه اوباسئ الله ته رېښتيني او خالصه توبه.

نَصُوح که د "نصح" او "نصحيت" نه واخيستل شي نو معنى يې ده "خالصه" يعنى داسې توبه وباسئ چې د ريا او نمائش نه پاکه وي او خالصه د الله ﷻ د رضا دپاره وي، او د ګناه پرېښودل هم خاص د الله جل جلاله د عذاب نه د وېرې په خاطر وي. (٢)

### د حافظ جلال الدين سيوطي رحمه الله تحقيق:

حافظ جلال الدين سيوطي رحمه الله په خپل تفسير [الدرالمنثور فى التفسير بالماثور] کې د دې آيت په تفسير کې ليکلي چې حضرت معاذ بن جبل رضى الله عنه د نبي کريم صلى الله عليه وسلم نه پوښتنه وکړه:

يَارَسُوْلَ اللهِ مَاالتَّوْبَةُ النَّصُوْحُ؟

اې د الله رسوله! توبه نصوح څه شي دی؟ نو نبي کريم صلى الله عليه وسلم ورته او فرمايل:

(( أَنْ يَنْدِمَ الْعَبْدُ عَلَى الذَّنْبِ الَّذِي أَصَابَ فَيَعْتَذِرَ إِلَى اللهِ ثُمَّ لَايَعُوْدُ إِلَيْهِ كَمَا لَايَعُوْدُ اللَّبَنُ إِلَى الضَّرْعِ )). (٣)

ترجمه: چې بنده په کړې ګناه باندې پښېمانه شي او د الله د وړاندې خپل عذر پيش کړي، او بيا د دې ګناه نه داسې ځان بچ کړي او رجوع ورته ونکړي لکه څرنګ چې شوده (پۍ) غولانځې ته نه راواپس کېږي (يعنى بيا هيڅ کله دا عمل اونکړي).

---

(١) التحريم آيت ٨.

(٢) معارف القرآن التحريم آيت ٨.

(٣) الدرالمنثور في التفسير بالماثور ج٨ ص ٢١٢. ترت، حافظ جلال الدين سيوطي رحمه الله نوراقوال هم د توبة نصوحا په تشريح کې نقل کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د علامه قرطبي رحمه الله تحقيق :

همدارنګې علامه قرطبي رحمه الله هم په خپل تفسير کې د دې آيت په تفسير کې د توبة نصوح په باره کې درويشت (۲۳) اقوال رانقل کړي دي .

امام کلبي رحمه الله فرمائي :

اَلتَّوْبَةُ النَّصُوْحُ : اَلنَّدَمُ بِالْقَلْبِ وَالْاِسْتِغْفَارُ بِاللِّسَانِ وَالْاِقْلَاعُ عَنِ الذَّنْبِ وَالْاِطْمِيْنَانُ عَلَى اَنَّهُ لَايَعُوْدُ . (۱)

توبة نصوح داده چې په زړه کې (په تيره ګناه) پښيمانه وي په ژبه استغفار غواړي ، (فى الحال) ګناه پرېږدي ، او دا پوخ عزم او پخه اراده وکړي چې دوباره به دا کار نکوي.

## د قاضي ثناء الله پاني پتي او علامه آلوسي رحمهما الله تحقيق :

قاضي ثناء الله پاني پتي رحمه الله په خپل تفسير (تفسير مظهري) کې ، او علامه آلوسي رحمه الله په خپل تفسير (روح المعاني) کې ليکي :

چې د حضرت علي رضى الله عنه نه د توبې باره کې تپوس اوشو چې توبه څه شي دی ؟

نو حضرت علي رضى الله عنه جواب ورکړو چې توبه هغه ده چې شپږ (٦) شيان پکې جمع وي :

۱ . عَلَى الْمَاضِيْ مِنَ الذُّنُوْبِ النَّدَامَةُ، ۲. وَلِلْفَرَائِضِ الْاِعَادَةُ ، ۳. وَرَدُّ الْمَظَالِمِ ، ۴ . وَاسْتِحْلَالُ الْخُصُوْمِ ، ۵ . وَاَنْ تَعْزِمَ عَلَى اَنْ لَاتَعُوْدَ، ٦. وَاَنْ تُرَبِّيَ نَفْسَكَ فِيْ طَاعَةِ اللهِ تَعَالٰى كَمَا رَبَّيْتَهَا فِي الْمَعْصِيَةِ . (۲)

۱ . په خپلو تيرو ګناهونو پښيمانه کيدل ، ۲. کوم فرائض او واجبات چې درنه پاتې وي د هغې قضاء راوړل ، ۳ . په ظلم چې کوم مال د بل چانه اخيستې شوې وي هغه واپس کول ، ۴ . په ژبه ، لاس يا خپو باندې چې دې بل مسلمان ته تکليف رسولې وي د هغه نه معافي غوښتل

(۱) قرطبي ج۱۸ التحريم آيت ۸ ، ومعارف القرآن .

(۲) تفسير مظهري ج۹ ص ۳۲۵ ، تفسير روح المعاني ج ۲۸ ص۰ ۴۹ التحريم آيت ۸ ، بيضاوي مع حاشية القونوي ج۱۹ ص ۱٦۵ التحريم آيت ۸ .

(c) ketabton.com: The Digital Library



۵. په آئنده کې د يې ګناه ته د نه ورتللو پوخ قصد او اراده کول، ٦. لکه څرنګې چې د يې مخکې خپل ځان د الله جل جلاله په نافرمانۍ کې ليدلې ؤ اوس خپل ځان د الله جل جلاله په فرمانبر دارۍ کې اووينې.

## د توبې فضايل او فوائد:

په قرآن کريم او احاديثو مبارکه ؤ کې د توبې ډير زيات فضيلتونه راغلي دي خو زه به د رته صرف يو څو فضيلتونه بيان کړم:

### ۱. په توبې سره د انسان مخکيني ټول ګناهونه معاف کيږي

الله رب العزت فرمائي:

﴿ وَهُوَ الَّذِيْ يَقْبَلُ التَّوْبَةَ عَنْ عِبَادِهٖ وَيَعْفُوْ عَنِ السَّيِّئَاتِ ﴾ (۱)

ترجمه: الله هغه ذات دی چې قبلوي توبه د خپلو بندګانو او ګناهونه ورته معاف کوي.

رب کريم په خپلو بندګانو دومره مهربانه دی چې يو انسان په اخلاص ورته توبه اوباسي نو يو خو دده ګناه معاف کړي، بل که دا سړې په تيرو ګناهونو پښيمانتيا ښکاره کوي او استغفار وايي نو الله جل جلاله به دده بدياني په نيکيو بدلې کړي. الله ﷻ فرمائي:

﴿ إِلَّا مَنْ تَابَ وَآمَنَ وَعَمِلَ عَمَلًا صَالِحًا فَأُوْلَئِكَ يُبَدِّلُ اللهُ سَيِّئَاتِهِمْ حَسَنَاتٍ وَكَانَ اللهُ غَفُوْرًا رَّحِيْمًا ﴾ (۲)

مګر څوک چې توبه اوباسي او ايمان راوړي او د نيکۍ کارونه کوي نو الله به د داسې خلکو بَدياني په نيکيو بدلې کړي او (دا ځکه چې) الله بخښونکې او مهربان دی.

نبي کريم صلی الله عليه وسلم فرمائي:

(( اَلتَّائِبُ مِنَ الذَّنْبِ كَمَنْ لَا ذَنْبَ لَهُ )). (۳)

---

(۱) الشوری آيت ۲۵.

(۲) الفرقان آيت ۷۰. نوټ: د بديانو په نيکيو سره د بدليدلو تشريح علامه آلوسي رحمه الله په خپل تفسير روح المعاني ج۱۹ ص ٦۷ کې د همدی آيت د لاندې کړې.

(۳) رواه ابن ماجه کتاب الزهد باب ۳۰، والطبراني، ورواه ابن ابي الدنيا والبيهقي مرفوعا، مشکوة ج۱ ص ۲۲۳، الترغيب والترهيب ج۴ ص ۴۸ کتاب التوبة والزهد، کنز العمال ۱۰۲۲۲.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ترجمه : د ګناه نه توبه کوونکې داسې دی لکه د سره يې چې ګناه نوي کړې .

همدارنګې نبي عليه الصلوة والسلام فرمايي :

(( لَوْ اَخْطَأْتُمْ حَتّٰى تَبْلُغَ السَّمَآءَ ثُمَّ تُبْتُمْ لَتَابَ اللّٰهُ عَلَيْكُمْ )) . (١)

ترجمه : که چيرته تاسو ګناهونه اوکړی. تردې چې دا ګناهونه د آسمان غاړو ته اورسي (يعنی د زمکې او آسمان مينځنی حصه مکمل ډکه شي او آسمان ته اورسي) او بيا تاسو توبه اوباسئ نو الله جل جلاله به ستاسو توبه قبوله کړي (او ګناهونه به درته معاف کړي) .

## حديث قدسي :

حديث قدسي دی ، الله تبارک وتعالی فرمائي :

(( يَاابْنَ آدَمَ لَوْبَلَغَتْ ذُنُوْبُكَ عَنَانَ السَّمَآءِ ثُمَّ اسْتَغْفَرْتَنِيْ غَفَرْتُ لَكَ وَلَااُبَالِيْ )) (٢)

اې د آدم ځويه ! که چيرته ستا ګناهونه (دومره ډير شي چې) د آسمان غاړو ته ورسيږي (يعنی د زمکې او آسمان دا مينځنی غونډه حصه د ګناهونو نه ډکه شي تردې چې آسمان ته ورسي) او بيا ته د مانه بخښنه وغواړې (او توبه وباسې) نو زه به ستا ټول ګناهونه معاف کړم ، اوزه د هيچا پرواه هم نه ساتم (يعنی د مانه څوک تپوس کونکې هم نشته چې دا ګناهونه دې ورته ولې معاف کړه) .

# د بني اسرائيلو د سلو(١٠٠) کسانو د قاتل توبه

امام بخاري او امام مسلم رحمهما الله د نبي کريم صلی الله عليه وسلم يو حديث رانقل کړې چې په هغې کې رسول الله صلی الله عليه وسلم د بني اسرائيلو د يو کس د توبې ذکر کړې :

اِنَّ نَبِيَّ اللّٰهِ ﷺ قَالَ : كَانَ فِيْمَنْ كَانَ قَبْلَكُمْ رَجُلٌ قَتَلَ تِسْعَةً وَّ تِسْعِيْنَ نَفْسًا فَسَاَلَ عَنْ اَعْلَمِ اَهْلِ الْاَرْضِ فَدُلَّ عَلٰى رَاهِبٍ فَاَتَاهُ فَقَالَ : اِنَّهٗ قَتَلَ تِسْعَةً وَّتِسْعِيْنَ نَفْسًا فَهَلْ لَهٗ مِنْ تَوْبَةٍ ؟ فَقَالَ : لَا . فَقَتَلَهٗ . فَكَمَّلَ بِهٖ مِئَةً . ثُمَّ سَاَلَ عَنْ اَعْلَمِ اَهْلِ الْاَرْضِ فَدُلَّ عَلٰى رَجُلٍ عَالِمٍ فَقَالَ اِنَّهٗ

---

(١) ابن ماجه كتاب الدعوات باب ١١٢ ، الترغيب والترهيب ج٤ ص ٣٦ كتاب التوبة والزهد .

(٢) ترمذي باب الدعوات ج٢ ص ١٩٢ ، مشكوة باب الاستغفار والتوبة ص٢٠٤ ، رواه احمد والدارمي عن ابي ذر رضی الله عنه .

(c) ketabton.com: The Digital Library



قَتَلَ مِئَةَ نَفْسٍ فَهَلْ لَهُ مِنْ تَوْبَةٍ ؟ فَقَالَ : نَعَمْ ، وَمَنْ يَحُوْلُ بَيْنَهُ وَبَيْنَ التَّوْبَةِ ؟ اِنْطَلِقْ اِلَى اَرْضِ كَذَا وَكَذَا فَاِنَّ بِهَا اُنَاسًا يَعْبُدُوْنَ اللهَ فَاعْبُدِ اللهَ مَعَهُمْ وَلاتَرْجِعْ اِلى اَرْضِكَ فَاِنَّهَا اَرْضُ سُوْءٍ ، فَانْطَلَقَ حَتَّى اِذَا نَصَفَ الطَّرِيْقَ اَتَاهُ الْمَوْتُ ، فَاخْتَصَمَتْ فِيْهِ مَلَائِكَةُ الرَّحْمَةِ وَمَلَائِكَةُ الْعَذَابِ فَقَالَتْ مَلَائِكَةُ الرَّحْمَةِ : جَاءَ تَائِبًا مُقْبِلًا بِقَلْبِهِ اِلَى اللهِ ، وَقَالَتْ مَلَائِكَةُ الْعَذَابِ : اِنَّهُ لَمْ يَعْمَلْ خَيْرًا قَطُّ ، فَاَتَاهُمْ مَلَكٌ فِيْ صُوْرَةِ آدَمِيٍّ فَجَعَلُوْهُ بَيْنَهُمْ فَقَالَ : قِيْسُوْا مَا بَيْنَ الْاَرْضَيْنِ فَاِلَى اَيَّتِهِمَا كَانَ اَدْنَى فَهُوَ لَهُ ، فَقَاسُوْهُ فَوَجَدُوْهُ اَدْنَى اِلَى الْاَرْضِ الَّتِيْ اَرَادَ ، فَقَبَضَتْهُ مَلَائِكَةُ الرَّحْمَةِ . (۱)

وَفِيْ رِوَايَةٍ : فَكَانَ اِلَى الْقَرْيَةِ الصَّالِحَةِ اَقْرَبَ بِشِبْرٍ فَجُعِلَ مِنْ اَهْلِهَا .

وَفِيْ رِوَايَةٍ : فَاَوْحَى اللهُ اِلَى هٰذِهٖ اَنْ تَبَاعَدِيْ وَاِلَى هٰذِهٖ اَنْ تَقَرَّبِيْ ، وَقَالَ : قِيْسُوْا بَيْنَهُمَا فَوَجَدُوْهُ اِلَى هٰذِهٖ اَقْرَبَ بِشِبْرٍ فَغُفِرَ لَهُ . (۲)

وَفِيْ رِوَايَةٍ قَالَ قَتَادَةُ قَالَ الْحَسَنُ : ذُكِرَ لَنَا اَنَّهُ لَمَّا اَتَاهُ مَلَكُ الْمَوْتِ نَأَى بِصَدْرِهٖ نَحْوَهَا . رواه البخاري ومسلم وابن ماجه بنحوه . (۳)

نبي عليه الصلوة والسلام فرمائي چې د تاسونه وړاندې په بني اسرائيلو کې يو کس وُ ، هغه يو کم سل (۹۹) قتلونه کړي وو ، نو د ه د خلقو نه د يو ښه عالم او پوهه کس متعلق تپوس وکړو نو خلقو ورته يو راهب وخود ، دې راهب ته راغې او ورته وې ويل چې ما خو يو کم سل (۹۹) قتلونه کړي دي نو آيا اوس زما د پاره توبه شته او که نه ؟ هغه ورته وويل چې : نه ، نو ده هغه راهب هم قتل کړو ، نو سل کسان يې پوره کړل .

بيا يې د خلقو نه د يو ښه عالم په باره کې پوښتنه وکړه نو خلقو ورته يو بل عالم وخودو ، نو دا کس دې عالم ته راغې او ده ته يې هم هغه خپله خبره وکړه چې ما خو سل (۱۰۰) کسان وژلي دي نو آيا زما د پاره اوس توبه شته او که نه ؟

(۱) اخرجه البخاري في الانبياء باب ما ذکر عن بني اسرائيل ۳۴۷۰ ، ومسلم باب قبول توبة القاتل وان کثر قتله حديث ۴۶ ، ۴۷ وابن ماجه في الديات باب هل لقاتل مؤمن توبة ؟ ۲۶۵۱ .

(۲) مسلم شريف ج۲ ص ۳۵۹ .

(۳) الترغيب والترهيب ج۴ کتاب التوبة والزهد .

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه عالم ورته وویل چې : آو ستا د پاره توبه شته ، ستا او دتوبې په مینځ کې څوک حائل کیدې شي ؟ ( یعنی ستا د توبې نه څه مانع نشته ) .

خو ته فلاني فلاني ښار ته لاړ شه ځکه هلته داسې خلق دي چې د الله جل جلاله عبادت کوي نو ته هم د هغوی سره د الله رب العزت عبادت کوه ، اوخپل ځای ته مه راځه ،ځکه دا د ګناهونو زمکه ده ( یعنی دلته خلق ګناهونه کوي ) ، نو دا قاتل روان شو کله چې نیمايي لارې ته ورسیده،نو مرګ ورته راغې ( یعنی وخت یې پوره شو ) نو دده باره کې د رحمت او عذاب فرښتو په خپل مینځ کې سره اختلاف راغې ، د رحمت ملائکو ویل چې : روح یې مونږ اخلو ځکه ده الله ته توبه ویستې وه ، او د عذاب فرښتو ویل چې : ده خو د سره د خیر کار تر اوسه نه دې کړې ( لهذا روح یې مونږ اخلو) ، نو په انساني شکل کې یوه فرښته ورته راغله هغې ورته وویل: چې تاسو دواړه طرفته زمکې اندازه کړئ ، نو چې کوم طرفته دې نزدې وي نو په همغې خلقو کې یې حساب کړئ ، نو چې کله یې اندازه اولګوله نو هغه کلي طرفته چې دې ورته روان ؤ د یو لویشت په اندازه نزدې اوموندې شو ، نو د رحمت ملائکو یې روح قبض کړو (او مغفرت یې نصیب شو ) .

په بعضو روایاتو کې راځي چې الله جل جلاله دې یو طرف زمکې ته ( د کومې نه چې راغلې ؤ ) حکم وکړو چې لرې شه ، او دې بل طرف زمکې ته ( کومې ته چې روان ؤ ) یې حکم وکړو چې نزدې شه . بیا الله جل جلاله فرښتو ته حکم وکړو چې اوس یې اندازه کړئ نو چې اندازه یې ولګوله نو کومې زمکې طرفته چې دې روان ؤ هغې ته د یو لویشت په اندازه نژدې وو فَغُفِرَ لَهُ نو دده بخښنه اوشوه .

**فائده** : سبحان الله ، الله رب العزت په خپل بنده باندې څومره مهربان دی چې هغه کس چې د سره یې چیرته د خیر کار نه ؤ کړې خو چې په اخلاص یې توبه اوویسته ، او الله ﷻ طرفته متوجه شو نو الله جل جلاله یې څومره قدرداني وکړه ، ګناهونه یې ورته ټول معاف کړه او بخښنه یې ورته وکړه .

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د اسلام راوړو په وجه کافرته بخښنه

محترمو مسلمانانو ! د کفرنه بله غټه ګناه نشته خو الله تعالی د کافر په باره کې نبي عليه الصلوة والسلام ته فرمائي :

﴿ قُلْ لِلَّذِينَ كَفَرُوا إِنْ يَنْتَهُوا يُغْفَرْ لَهُمْ مَا قَدْ سَلَفَ ﴾ (١)

ترجمه : اې پيغمبره ! ته دې کافرانو ته وواېه که چيرته دوی د کفرنه منع شي (د خپل کفرنه توبه وباسي ، او اسلام قبول کړي ) نو تير شوي ګناهونه به ورته وبخښلې شي .

نو اوس چې د کفرنه کومه کمه ګناه ده هغه خو به الله جل جلاله په توبې سره په طريقِ اولی معاف کوي .

## الله جل جلاله توبه قبلوونکې دی

په بل ځای کې الله تعالی فرمائي :

﴿ وَمَنْ يَعْمَلْ سُوءًا أَوْ يَظْلِمْ نَفْسَهُ ثُمَّ يَسْتَغْفِرِ اللَّهَ يَجِدِ اللَّهَ غَفُورًا رَحِيمًا ﴾ (٢)

ترجمه : او څوک چې بَد کار وکړي يا په خپل ځان باندې ظلم وکړي ، بيا د الله تعالی نه بخښنه وغواړي نو الله تعالی به ډير بخښونکې او زيات مهربان بيا مومي .

بل ځای الله جل جلاله فرمائي :

﴿ وَهُوَ الَّذِي يَقْبَلُ التَّوْبَةَ عَنْ عِبَادِهِ وَيَعْفُو عَنِ السَّيِّئَاتِ ﴾ (٣)

ترجمه : او الله هغه ذات دی چې د خپلو بندګانو توبه قبلوي او ګناهونه ورته معاف کوي .

بل ځای الله ﷻ فرمائي :

﴿ وَإِنِّي لَغَفَّارٌ لِمَنْ تَابَ وَآمَنَ وَعَمِلَ صَالِحًا ثُمَّ اهْتَدَى ﴾ (٤)

ترجمه : بيشکه زه ډير بخښونکې يم هغه چالره چې څوک توبه اوباسي او ايمان راوړي او نيک عمل وکړي ، بيا په سمه لاره قائم پاتې شي .

(١) الانفال آيت ٣٨.

(٢) النساء آيت ١١٠ .

(٣) الشوریٰ آيت ٢٥ .

(٤) طه آيت ٨٢.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د عرش چاپیره کلمات:

نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمائي:

(( مَكْتُوبٌ حَوْلَ الْعَرْشِ قَبْلَ خَلْقِ آدَمَ ﷺ بِأَرْبَعَةِ آلَافِ سَنَةٍ ﴿وَإِنِّي لَغَفَّارٌ لِمَنْ تَابَ وَآمَنَ وَعَمِلَ صَالِحًا ثُمَّ اهْتَدَى﴾ (۱) )). (۲)

د حضرت آدم علیه السلام د پیدائش نه څلور زره (۴۰۰۰) کاله مخکې د عرش چاپیره دا کلمات لیکل شوي و چې بیشکه زه ډیر بخښونکې یم هغه چالره چې څوک توبه وباسي او ایمان راوړي او نیک عمل وکړي، او بیا په سمه لاره قائم پاتې شي.

## د حضرت موسیٰ علیه السلام د یو ګناهګار امتي د توبې واقعه:

علامه ابن قدامه مقدسي رحمه الله په خپل کتاب ''کتاب التّوابین'' کې یوه واقعه رانقل کړې چې وهب بن منبه رحمه الله فرمائي:

د حضرت موسی علیه السلام په زمانه کې یو کس وُ چې ډیر سرکش او نافرمان وُ، خلق د ده د ورانۍ نه ډیر په تنګ وو، آخر خلقو دې د خپل کلي نه وویسته، کله چې دې د کلي نه ووتو، نو د ښار دروازې سره نزدې په یو شاړ ځای کې وفات شو، الله جل جلاله حضرت موسی علیه السلام ته وحی وکړه:

إِنَّ وَلِيًّا مِنْ أَوْلِيَاءِيْ حَضَرَهُ الْمَوْتُ فَاحْضِرْهُ وَاغْسِلْهُ وَصَلِّ عَلَيْهِ وَقُلْ لِمَنْ كَثُرَ عِصْيَانُهُ يَحْضُر جَنَازَتَهُ لِأَغْفِرَلَهُمْ.

زما د اولیاو نه یو ولي وفات شوې دی، ته ورشه غُسل ورته ورکړه او جنازه وربانديې وکړه، او په خلقو کې دا اعلان هم وکړه چې د کوم سړي ګناهونه زیات وي هغه دې هم ددې ولي په جنازه کې شریک شي چې دده په برکت سره د هغه ګناهونه هم معاف کړم.

حضرت موسیٰ علیه السلام په خلقو کې دا اعلان وکړو، ډیر زیات خلق جمع شو (ځکه هر سړي دا غوښتل چې زما ګناهونه معاف شي)، چې کله خلق هلته ورغلل نو وې پیژندو چې دا خو هغه فاسق کس دی چې د ډیرو ګناهونو په وجه مونږ د خپل کلي نه ویستلې وُ،

(۱) طه آیت ۸۲.

(۲) مکاشفة القلوب ص ۷۸، تنبیه الغافلین.

(c) ketabton.com: The Digital Library



حضرت موسٰی علیه السلام هم ډیر حیران پاتې شو ، الله جل جلاله ورته وحی وکړه چې اې موسی ! ستا د قوم خبره صحیح ده دا هم هغه کس دی ، خو چې کله دده د مرګ وخت نزدې شو نو ده خي او ګس طرفته او کتل نو په دې دشته کې یې خپل څه دوست یا خپلوان په نظر رانغې او خپل ځان یې ځانله په ذِلت کې ولیده ، نو آسمان ته یې سر او چت کړو اودا دُعا یې وغوښته :

اِلٰهي عَبۡدٌ مِّنۡ عِبَادِکَ غَرِيۡبٌ فِيۡ بِلَادِکَ لَوۡعَلِمۡتُ اَنَّ عَذَابِيۡ يَزِيۡدُ فِيۡ مُلۡكِكَ . وَعَفۡوُکَ عَنِّيۡ يَنۡقُصُ مِنۡ مُلۡکِکَ لَمَا سَاَلۡتُکَ الۡمَغۡفِرَةَ ، وَلَيۡسَ لِيۡ مَلۡجَاءٌ وَلَا رَجَاءٌ اِلَّا اَنۡتَ وَقَدۡ سَمِعۡتُ فِيۡمَا اَنۡزَلۡتَ اَنَّکَ قُلۡتَ ﴿ اَنِّيۡ اَنَا الۡغَفُوۡرُ الرَّحِيۡمُ ﴾ فَلَا تُخَيِّبۡ رَجَائِيۡ .

اې الله ! زه ستا د بندګانو نه یو بنده یم ، ستا په کائناتو کې مسافر یم ( خلقو د کلي نه راشړلې یم ) ، اې الله که چیرته ماته په عذاب راکولو سره ستا بادشاهي مضبوطیدې ، او زما په معاف کولو سره ستا بادشاهي کمزورې کیدې نو ما به هیڅکله د تا نه د مغفرت او بخښنې سوال نه وُ کړې ، خو یا الله زما د پاره ستا نه علاوه بل ځای د پناه او امید نشته ، او ما اوریدلي چې تا دا آیت نازل کړې :" چې زه ډیر غفور ورحیم ذات یم " نو اې الله ته ما ...... سه کوه ( زما ګناهونه معاف کړه ) . بیا الله جل جلاله اوفرمایل :

يَا مُوۡسٰی اَفَکَانَ يُحۡسِنُ بِيۡ اَنۡ اَرُدَّهٗ......

اې موسی ! آیا د ماسره دا مناسب وه چې ما دده سوال رَد کړې وې ؟ حالانکه دې مسافر وُ ، زما د وړاندې یې عاجزي ښکاره کړه ( توبه یې اوویسته ) او ماته یې زما د رحمت واسطه راکړه، بیا الله جل جلاله اوفرمایل :

وَعِزَّتِيۡ لَوۡ سَاَلَنِيۡ فِي الۡمُذۡنِبِيۡنَ مِنۡ اَهۡلِ الۡاَرۡضِ جَمِيۡعًا لَوَهَبۡتُهُمۡ لَهٗ .

زما دې په خپل عزت قسم وي که چیرته دده د مانه د ټولې دنیا د ګناهګارانو متعلق د بخښنې سوال کړې وې نو ما به دده د عاجزۍ د وجې نه ټولو ته معافي کړې وې ، ځکه زه د عاجزي کوونکو او مسافرو دپاره ځاي د پناه یم ، ددوی دوست یم او په دوی رحم کوونکې یم . (۱)

**فائده :** محترمو مسلمانانو تاسو ! واوریده چې الله جل جلاله ددې کس توبه هم قبوله کړه او دایې هم اوفرمایل: که چیرته ده د مانه د ټولې دنیا د ګناهګارانو متعلق د مغفرت سوال کړې وې نو ما به ټولو ته بخښنه کړې وې . سبحان الله ، الله رب العزة څومره غفور رحیم ذات دی .

(۱) کتاب التوّابين ص ۷۴ .

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د ګناهګارانو دپاره د اُميد آيت :

الله رب العزت فرمائي :

﴿ قُلْ يَا عِبَادِيَ الَّذِينَ أَسْرَفُوا عَلَى أَنْفُسِهِمْ لاَ تَقْنَطُوا مِنْ رَحْمَةِ اللهِ إِنَّ اللهَ يَغْفِرُ الذُّنُوبَ جَمِيعًا إِنَّهُ هُوَ الْغَفُورُ الرَّحِيمُ ﴾ (۱)

ترجمه : اې پيغمبره زما د طرف نه دې خلقو ته ووايه چې اې زما هغه بندګانو چاچې زياتې کړې په خپلو ځانونو باندې (يعنى کفر ،شرک او کبيره ګناهونه يې کړي (۲)) تاسو د الله د رحمت نه مه نا اُميده کيږئ ، بيشکه الله ټول ګناهونه بخښي ، بيشکه هم دې بخښونکې او مهربانه دى.

## د حضرت علي ﷺ وينا :

د دې آيت په باره کې حضرت علي رضى الله عنه فرمائي :

مَا فِي الْقُرْآنِ اَوْسَعُ آيَةً مِنْ ﴿ يَا عِبَادِيَ الَّذِينَ أَسْرَفُوا عَلَى أَنْفُسِهِمْ ﴾ (۳)

په قرآن کې د ټولو نه زيات د اميد آيت ( د ګناهګارانو د پاره ) د دينه علاوه بل نشته (يعنى په دې کې د ګناهګارانو د پاره غټ ترغيب دى تو بې ته ) .

## د حافظ ابن کثير رحمه الله وينا :

حافظ ابن کثير رحمه الله هم په خپل تفسير کې د همدې آيت د لاندې ليکي :

هٰذِهِ الآيَةُ الْكَرِيمَةُ دَعْوَةٌ لِجَمِيعِ الْعُصَاةِ مِنَ الْكَفَرَةِ وَغَيْرِهِمْ إِلَى التَّوْبَةِ وَالإِنَابَةِ ، وَإِخْبَارٌ بِأَنَّ اللهَ يَغْفِرُ الذُّنُوبَ جَمِيعًا لِمَنْ تَابَ مِنْهَا وَرَجَعَ عَنْهَا وَإِنْ كَانَتْ مَهْمَا كَانَتْ وَإِنْ كَثُرَتْ مِثْلَ زَبَدِ الْبَحْرِ . (۴)

په دې آيت کې د ټولو نافرمانو کافرانو او نورو ګناهګارانو ته د توبې دعوت دى ، او دا خبر

(۱) الزمر آيت ۵۳ .

(۲) اسرفوا على انفسهم : اي ارتکبوا الکبائر . زادالمسير )

(۳) الدرالمنثور فى التفسير بالماثور ج۷ ص ۲۰۵ ، تفسير روح المعاني ص ۳۷۰ ، تفسير الطبري ج۹ ص ۷۰۸۶ الزمر آيت۵۳، قرطبى ۱۵\۲۶۹ .

(۴) تفسير ابن کثير ج۵ ص ۴۱۵ .

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورکول دي چې الله جل جلاله د توبې په ذريعه د انسان ټول ګناهونه بخښي اګر چې د سمندر د زګ په مقدار وي.

## د آيت شانِ نزول :

ددې آيت په شانِ نزول کې امام بخاري او امام مسلم رحمهما الله د حضرت ابن عباس رضى الله عنه نه نقل کوي چې

انَّ نَاسًا مِن اَهْلِ الشِرْكِ كَانُوا قَدْ قَتَلُوا فَاَكْثَرُوا، وَزَنَوا فَاَكْثَرُوا فَاَتَوا مُحَمَّدًا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالُوا: اِنَّ الَّذِيْ تَقُوْلُ وَتَدْعُوْا اِلَيْهِ لَحَسَنٌ لَو تُخْبِرنَا اَنَّ لِمَا عَمِلْنَا كَفَّارَةً، فَنَزَلَ:

﴿ وَالَّذِيْنَ لاَ يَدْعُوْنَ مَعَ اللهِ اِلَهًا آخَرَ وَلاَ يَقْتُلُوْنَ النَّفْسَ الَّتِيْ حَرَّمَ اللهُ اِلاَّ بِالْحَقِّ ........

الى قوله : وَكَانَ اللهُ غَفُوْرًا رَّحِيْمًا ﴾

وَنَزَلَ " ﴿ قُلْ يَا عِبَادِيَ الَّذِيْنَ اَسْرَفُوْا عَلَى اَنْفُسِهِمْ لاَ تَقْنَطُوْا مِن رَّحْمَةِ اللهِ اِنَّ اللهَ يَغْفِرُ الذُّنُوْبَ جَمِيْعًا اِنَّهُ هُوَ الْغَفُوْرُ الرَّحِيْمُ ﴾ .(۱)، (۲)

څه خلق د مشرکينو نه کومو چې ډير قتلونه او ډيره زِنا يې کړې وه، د نبي کريم صلى الله عليه وسلم دَربار ته راغلل او عرض يې وکړو چې بيشکه تاسو چې کومې خبرې کوئ او کوم دين طرفته خلق رابلئ دا خو ډير ښه دي، خو که مونږ ته دا اووايئ: چې مونږ دا کوم ګناهونه کړي دي آيا ددې څه کفاره شته او که نه؟ (يعنى دا په توبه معاف کيدې شي او که نه؟) نو په دې هکله الله جل جلاله دا آيتونه نازل کړل:

﴿ وَالَّذِيْنَ لاَ يَدْعُونَ مَعَ اللهِ اِلَهًا آخَرَ.... ﴿ قُلْ يَا عِبَادِيَ الَّذِيْنَ اَسْرَفُوا عَلَى اَنْفُسِهِمْ... ﴾

خلاصه دا چې د الله رب العزت د رحمت نه نااُميده کيدل ندي پکار، بلکه که هر څومره غټه ګناه وي خو چې په اخلاص سره سړې ورنه توبه اوباسي نو الله جل جلاله دده ګناه معاف کوي.

يو شاعر وايي:

۱. فَرْضٌ عَلَى النَّاسِ اَنْ يَتُوْبُوْا + وَلَكِنَّ تَرْكَ الذُّنُوْبِ اَوْجَبُ

(۱) الزمر آيت ۵۳ . (۲) اخرجه البخاري ، ۴۸۱۰ ، ومسلم ۱۲۲\۱۹۳ ، وابوداود ۴۲۷۴ ، والنسائي في التفسير ۴۶۹ ، ابن كثير ج۵ ص ۴۱۶ الزمر آيت ۵۳ ، زاد المسير ج۴ ص ۲۲ الزمر آيت ۵۳ .

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲. وَالدَّهْرُ فِيْ صَرْفِهِ عَجِيْبٌ + وَلٰكِنَّ غَفْلَةَ النَّاسِ اَعْجَبُ (۱)

۱. په خلقو باندې فرض دي چې توبه اوباسي ليکن د گناه پريخودل زيات واجب دي،

۲. زمانه په خپل گردش کې عجيبه ده خو ليکن د خلقو غفلت د دينه هم ډير عجيبه دی.

الله رب العزت فرمائي:

﴿ كَتَبَ رَبُّكُمْ عَلَىٰ نَفْسِهِ الرَّحْمَةَ أَنَّهُ مَنْ عَمِلَ مِنكُمْ سُوءًا بِجَهَالَةٍ ثُمَّ تَابَ مِن بَعْدِهِ وَأَصْلَحَ فَأَنَّهُ غَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴾ (۲)

ترجمه: ستاسو رب په خپل ځان مهرباني لازمه کړې (هغه مهرباني داده) چې څوک د جهالت په وجه څه بدي (گناه) وکړي بيا روستو توبه اوباسي او خپل عمل درست کړي نو بيشکه الله ﷻ ډير بخښونکې دی (دده گناه به معاف کړي)، او ډير رحم کوونکې دی (نور انعامات به هم ورباندې وکړي).

## د بنده په نافرمانۍ د زمکې او آسمان الله جل جلاله ته عرض

امام غزالي رحمه الله ويلي: چې کله يو بنده د الله نافرماني کوي نو د زمکې هغه حصه په کومه چې گناه کيږي الله ته عرض وکړي: اې الله! ماته اجازت راکړه چې زه دا سړې په زمکه کې ننباسم، د آسمان هغه حصه د کومې لاندې چې گناه کيږي هغه الله جل جلاله ته عرض وکړي: اې الله! ماته اجازت راکړه چې زه په دې سړي ورأولويږم (او ختم يې کړم)، نو الله رب العزت دوی ته او فرمائي:

اِنْ كَانَ عَبْدُكُمْ فَشَانُكُمْ بِهٖ وَاِنْ كَانَ عَبْدِيْ فَبِيْ وَاِلَيَّ عَبْدِيْ اِنْ اَتَانِيْ نَهَارًا قَبِلْتُهٗ وَاِنْ اَتَانِيْ لَيْلًا قَبِلْتُهٗ لَوَجَدَ اللهَ تَوَّابًا رَّحِيْمًا. (۳)

که چيرته دې ستاسو بنده وي او تاسو پيدا کړې وي نو بيا ستاسو خوښه ده، وې نيسئ، او که دا زما بنده وي نو بيا زه پوهه شه او زما بنده پوهه شه (زمونږ په مينځ کې دَخَل اندازي مکوئ) څکه که چيرته دې ماته د ورځې راشي (او په خپلو گناهونو پښيمانه شي، توبه اوباسي) نو زه به

(۱) منبهات ابن حجر عسقلاني باب الرباعي.

(۲) الانعام آيت ۵۴.

(۳) فرشتو کې عجيب وغريب حالات، وجوهات محبت ص ۱۷.

(c) ketabton.com: The Digital Library



يې قبوله کړم ، او که دې د شپې راشي او په خپل ګناهونو پښيمانه شي نو زه به يې توبه قبوله کړم ، او دې به وګوري چې الله ﷻ څومره زيات توبه قبلونکې او مهربانه ذات دی .

الله جل جلاله فرمائي :

﴿ نَبِّئْ عِبَادِيْ أَنِّيْ أَنَا الْغَفُوْرُ الرَّحِيْمُ ﴾ (۱)

ترجمه : اې پيغمبره ته زما بندګانو ته دا خبر ورکړه چې زه ډير بخښونکې او زيات مهربانه يم، او زما عذاب هم ډير دردناک عذاب دی .

بل ځای الله تعالی فرمائي :

﴿ وَرَبُّكَ الْغَفُوْرُ ذُو الرَّحْمَةِ ﴾ . (۲)

ترجمه : او ستا رب بخښونکې او خاوند د رحمت دی .

## ۲. توبه کوونکي سره الله جل جلاله محبت کوي :

د توبې دويمه فائده دا ده چې توبه کونکي سره الله جل جلاله محبت کوي، الله جل جلاله فرمائي:

﴿ إِنَّ اللهَ يُحِبُّ التَّوَّابِيْنَ وَيُحِبُّ الْمُتَطَهِّرِيْنَ ﴾ (۳)

ترجمه : بيشکه الله ﷻ توبه کوونکي او ځان پاک لرونکي خلق خوښوي .

بل ځایْ الله جل جلاله فرمائي :

﴿ وَهُوَ الْغَفُوْرُ الْوَدُوْدُ ﴾ (۴)

ترجمه :او همدا الله بخښوُنکې ( د ګناهونو ) دی او محبت کوونکې دی .

نبي کريم صلی الله عليه وسلم فرمائي :

((اَلتَّائِبُ حَبِيْبُ اللهِ )) . (۵)

توبه کوونکې د الله محبوب دی .

---

(۱) الحجر آيت ۴۹ .

(۲) الکهف آيت ۵۸ .

(۳) البقرة آيت ۲۲۲ .

(۴) البروج آيت ۱۴ .

(۵) ابن ابی الدنيا فی التوبة .

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د حضرت عمر رضی الله عنه په دورِ خلافت کې د يو بوډا سندر غاړي د توبې واقعه:

مولانائي روم رحمه الله يو واقعه ليکلې چې د حضرت عمر رضی الله عنه په دورِ خلافت کې يو بوډا سړي اسلام قبول کړو، خو ددينه مخکې به هغه سندرې ويلې، ځکه ډير ښکلې غږيې ؤ، په سوونو خلق به ورته جمع وو ، او د آمدن ذريعه يې هم زياته وه.

کله چې دې بوډا شو ، غاښونه يې اوغورځيده ، نو بيا خو يې سندرې نه شوې ويلې نو د آمدن هغه ذريعه يې ختمه شوه ، بچي يې هم نه وو ، صرف يوه ښځه يې وه هغه هم وفات شوه ، نو دې به خپلو دوستانو او واقف خلقو ته ورتلو ، هغوئې به چې څه ورکړه هغه به يې خواړه.

څه وخت دا سلسله جاري وه ، آخر داچې خپل دوستان هم ورنه تنګ شو ، بيا به يې څه نه ورکول ، داسې وخت ورباندې راغې چې څو څو وخته به ورته د خوراک څه نه پيدا کيده ، يوه ورځ يې د ځان سره دا سوچ وکړو چې کله زه ځوان وم او سندرې مې ويلې نو په سوونو خلق به راته جمع ؤ ، قدر و عزت به مې هم زيات ؤ ، اوس چې زه سندرې نشم ويلې نو خلق راله د يو وخت دوډی راکولو ته هم تيار ندي ، نوزړه يې ډير خفه شو او افسوس يې وکړو چې کاش ما خو دا ځواني د الله ﷻ په عبادت او اطاعت کې تيره کړې وې ، نو دومره به ذليله نه ووم ، اوس خو بوډا شوې يم نو څه به دا الله جل جلاله عبادت اوکړم.

دې په دې سوچ کې ډوب ؤ او جنت البقيع طرفته روان شو ، او هلته د قبرونو په مينځ کې په يو ځای کې کيناست ، توبه يې اوويسته ، او په ژړا ژړا کې يې دا دعا او غوښته :

اې الله ! ما خو خپله ځواني ضائع کړې ده ، اوس خود ماسره هيڅ شي نشته چې ستا په حضور کې يې پيش کړم ، بوډا يم ، په همسا ګرځم ، د سترګو نظر مې هم ختم دی ، خو اې الله ! زه په خپلو تيرو ګناهونو ډير شرمنده او پښيمانه يم ، اوس راغلې يم ته مې تو به قبوله کړې.

کله يې چې دا دعا اوغوښته ، د غرمې وخت ؤ ، نو خوب ورغې ، اُوده شو ، څه وخت پس چې راپاڅيده ، نو ګوري چې مخامخ يو کس را روان دی او په سَر باندې يې څه اېښې دي ، ده چې اوکته نو خليفهٔ وخت امير المؤمنين حضرت عمر رضی الله عنه ؤ ، دې اوېريده چې زه خو ډير ګناهګار يم ، حضرت عمر رضی الله عنه خو زما غوندې کس په دُورُو وهي ، هسې نه چې ما هم په دُورُو اووهي ، چې کله حضرت عمر رضی الله عنه را اورسيده نو دده نه تير شو مخکې لاړ ،

(c) ketabton.com: The Digital Library



څه وخت پس بيا حضرت عمر رضی الله عنه راواپس شو او ده طرفته را روان شو نو دې نور هم زيات اوېريده ، خو چې کله حضرت عمر رضی الله عنه ده ته راغې نو د سَر نه يې هغه لوخې رابنکته کړو او ده ته وايې چې ورورہ ! روټۍ اوخوره ، دا بوډا حيران شو چې امير المؤمنين د مسلمانانو خليفه ماته خوراک پيش کوي ( دا څه عجيبه ده ؟ ) ډير زيات حيران شو ، تپوس يې ورنه وکړو چې اې امير المؤمنين ! تاسو ماته دا خوراک څنګه راوړو ؟ چادرته ووېل ؟

حضرت عمر رضی الله عنه ورته اوفرمايل :

اوس لږ وخت مخکې د غرمې په وخت ما د غرمې خُوب (قيلوله ) کول ، نو خوب مې اُوليد ،او په خُوب کې راته د الله جل جلاله د طرفه دا پيغام ملاؤ شو چې اې عمره ! پاڅه ، لاړشه اوپه جنت البقيع قبرستان کې زما يو دوست ( محبوب ) خفه او اوږې ناست دی هغه ته خوراک ويسه ـ نو چې راپاڅيدم، کور واله ته مې ووېل چې : شابه جلتې وکړه چې څه تيار وي هغه راله راکړه چې د الله محبوب ته يې ويسم ، نو هغې راله دا خوراک اوتړلو ، نو په ځای ددې چې زه يې په لاس کې راوړم ، ما وې چې د الله محبوب له يې وړم نو راشه په دې خپل سر يې کيده، ددې دپاره چې د الله جل جلاله د محبوب اکرام او عزت اوشي (نو ځکه مې په خپل سر راخيستې ؤ ) اې د الله محبوبه ! اوس يې په ډير شوق اوخوره .

کله چې دې بوډا دا خبرې واورېدې نو وې ويل: سبحان الله زما پروردګار څومره کريم او مهربانه دی ما خو لږ ساعت مخکې هغه ته توبه اوويسته ، هغه ددې دومره ګناهونو باوجود زما توبه قبوله کړه او د وخت اميرالمؤمنين ته يې حکم وکړو چې لاړشه او زما يو دوست اوږې دی ، هغه ته خوراک ويسه .

چې کله بوډا دا خبره وکړه نو په ژړا شو ، او دومره يې اوژړل چې په هماغه ځای د حضرت عمر رضی الله عنه د وړاندې وفات شو .

محترمو تاسو واورېده چې الله جل جلاله د انسان د توبې څومره قدرداني کوونکې دی خو کاش چې انسان خو هم الله ﷻ طرفته متوجه شي .(۱)

(۱) خطبات فقير ج۱۲ ص ٦٧ .

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۳. په توبې سره الله جل جلاله ډير خوشحاليږي

کله چې يو بنده د الله د وړاندې توبه اوباسي او په خپلو ګناهونو باندې پښيمانه شي نو الله رب العزت په دې باندې ډير زيات خوشحاليږي.

امام بخاري او امام مسلم رحمهما الله او نورو محدثينو د نبي کريم صلى الله عليه وسلم دا حديث مبارک رانقل کړې چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمائي:

(( لَلّٰهُ اَشَدُّ فَرَحًا بِتَوْبَةِ عَبْدِهِ الْمُؤْمِنِ مِنْ رَجُلٍ فِيْ اَرْضٍ دَوِيَّةٍ مُهْلِكَةٍ مَعَهُ رَاحِلَتُهُ، عَلَيْهَا طَعَامُهُ وَشَرَابُهُ. فَنَامَ فَاسْتَيْقَظَ وَقَدْ ذَهَبَتْ فَطَلَبَهَا حَتّٰى اَدْرَكَهُ الْعَطَشُ ثُمَّ قَالَ اَرْجِعُ إِلٰى مَكَانِيَ الَّذِيْ كُنْتُ فِيْهِ فَأَنَامُ حَتّٰى اَمُوْتَ فَوَضَعَ رَأْسَهُ عَلٰى سَاعِدِهِ لِيَمُوْتَ فَاسْتَيْقَظَ وَعِنْدَهُ رَاحِلَتُهُ وَعَلَيْهَا زَادُهُ وَطَعَامُهُ وَشَرَابُهُ. فَاللّٰهُ اَشَدُّ فَرَحًا بِتَوْبَةِ الْعَبْدِ الْمُؤْمِنِ مِنْ هٰذَا بِرَاحِلَتِهِ وَزَادِهِ )). (۱)

وَفِيْ رِوَايَةٍ ثُمَّ قَالَ مِنْ شِدَّةِ الْفَرَحِ: " اَللّٰهُمَّ اَنْتَ عَبْدِيْ وَاَنَا رَبُّكَ " اَخْطَأَ مِنْ شِدَّةِ الْفَرَحِ. (۲)

الله جل جلاله د يو مؤمن بنده په توبه باندې د هغه سړي نه هم زيات خوشحاليږي کوم چې په بې آب و ګياه دَشته کې روان وي، او د ده سره يوه سورلي وي چې په هغې باندې د ده خوراک او څښاک ترلې وي، نو دې د اِستراحت دپاره څملي او اُوده شي، کله چې راپاڅي نو د ده هغه سورلي تللې وي، دې يې ډيره اُولټوي خو پيدا نشي.

آخر دې (سخت) تږې شي (خو پدې دشته کې اُوبه چيرته نه پيدا کيږي) نو د ځان سره فيصله وکړي چې واپس همغه خپل د خُوب ځاي ته ځم، هلته به اُوده شم، تردې چې هم هلته مړهم شم، نو راشي او د مرګ په انتظار سَر په خپل مټ (ليچي) کيدي او اُوده شي، کله چې (څه وخت پس) راويخ شي نو ګوري چې هغه سورلي يې په همغه زوړ ځاي ولاړه وي، او په هغې باندې دده توښه، خوراک او څکاک هم موجود وي (نو دې ډير زيات خوشحاله شي)

(۱) اخرجه البخاري في الدعوات باب التوبة ۶۳۰۸، ومسلم في التوبة، والترمذي في صفة القيامة باب المؤمن يرىٰ ذنبه كالجبل ۲۴۹۹، ۲۵۰۰، الترغيب والترهيب ج۴ ص ۵۳.

(۲) مسلم كتاب التوبة حديث نمبر ۷.

(c) ketabton.com: The Digital Library



نبي کريم صلی الله عليه وسلم او فرمايل چې الله جل جلاله د يو مؤمن بنده په توبه باندې ددې نه هم زيات خوشحاليږي څومره چې داسړې په دې سَوَرلی او په دې توبنه ( خوراک او څکاک ) خوشحال شو .

په يو روايت کې دا هم ذکر دي چې دا سړې د سورلی په پيداکيدو دومره خوشحاله شي چې د ډيری خوشحالی نه دا وايي :

اَللّٰهُمَّ اَنْتَ عَبْدِيْ وَاَنَا رَبُّکَ .

اې الله ! ته زما بنده يې او زه ستا رب يم . يعنی د ډيرې خوشحالی نه خطاء شي ( په ځای ددې چې دې داسې ووايي :

اَللّٰهُمَّ اَنْتَ رَبِّيْ وَاَنَا عَبْدُکَ . اې الله ! ته زما رب يې او زه ستا بنده يم . خو د ډيرې خوشحالی نه : اَللّٰهُمَّ اَنْتَ عَبْدِيْ وَاَنَا رَبُّکَ ووايي ) .

## ۴ . د انسان د فلاح او کاميابی ذريعه ده :

د توبې څلورمه فائده داده چې کوم کس په اخلاص باندې توبه اوباسي نو الله جل جلاله د داسې کس سره د فلاح او کاميابی وعده کړې ، الله تعالی فرمائي :

﴿ وَتُوْبُوْا إِلَى اللهِ جَمِيْعًا أَيُّهَا الْمُؤْمِنُوْنَ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُوْنَ ﴾ (۱)

اې مومنانو ! تاسو ټول الله جل جلاله ته توبه وباسئ د پاره ددې چې تاسو کامياب شئ .

## ۵ . انسان ته ښکلې ژوند او د دنيا نعمتونه نصيبه کيږي :

د توبې پنځمه فايده داده چې ددې په وجه الله جل جلاله انسان ته بهترين د راحت واله ژوند نصيبه کوي ، الله رب العزت فرمائي :

﴿ اسْتَغْفِرُوْا رَبَّكُمْ ثُمَّ تُوْبُوْا إِلَيْهِ يُمَتِّعْكُمْ مَتَاعًا حَسَنًا إِلَى أَجَلٍ مُسَمًّى وَيُؤْتِ كُلَّ ذِيْ فَضْلٍ فَضْلَهُ ﴾ (۲)

---

(۱) النور آيت ۳۱ .

(۲) هود آيت ۳ .

(c) ketabton.com: The Digital Library



ترجمه : تاسو بخښنه غواړئ د خپل رب نه ، بيا توبه اوباسئ هغه ته ، نو هغه به درله د يو مقرّر وخت ( مرګ ) پورې د ژوند ښکلې سازو سامان درکړي او په آخرت کې به هر خاوند د فضل ( نيک عمل کونکي ) ته خپل فضل ( جنت ) ورکړي .

## د حضرت هود عليه السلام خپل قوم ته نصيحت :

حضرت هود عليه السلام هم چې کله خپل قوم ته نصيحت کولو نو دايې هم ورته فرمائلي ؤ :

﴿ وَيَا قَوْمِ اسْتَغْفِرُوا رَبَّكُمْ ثُمَّ تُوبُوا إِلَيْهِ يُرْسِلِ السَّمَاءَ عَلَيْكُمْ مِدْرَارًا وَيَزِدْكُمْ قُوَّةً إِلَى قُوَّتِكُمْ ﴾ . (۱)

ترجمه : اې زما قومه ! تاسو بخښنه غواړئ د خپل رب نه ،او بيا توبه اوباسئ ده ته ، نو هغه به را اُووروي په تاسو باندې په شِيبُو شِيبُو باران ، او ستاسو پدې موجوده قوت کې به درته د نور قوت زيادت هم وکړي .

## ٦ . د انسان زړه د ګناه د خيري نه صفا کيږي

د توبې پنځمه فائده داده چې کله انسان توبه اوباسي نو په دې سره دده زړه د ګناهونو د خيري نه صفا شي . نبي عليه الصلوة والسلام فرمائي :

(( إِنَّ الْمُؤْمِنَ إِذَا أَذْنَبَ ذَنْبًا كَانَتْ نُكْتَةٌ سَوْدَاءُ فِي قَلْبِهِ فَإِنْ تَابَ وَنَزَعَ وَاسْتَغْفَرَ صُقِلَ مِنْهَا ......)) (۲)

بيشکه مؤمن چې کله يو ګناه وکړي نو ددې ګناه په وجه دده په زړه باندې يو تور داغ اُولږي ، نو که دې توبه اوباسي او استغفار ووايي نو زړه يې ددې تور داغ نه صفا شي .

## د الله جل جلاله رحم او مهرباني په خپلو بندګانو باندې

محترمو مسلمانانو وروڼو ! الله تبارک وتعالی په خپلو بندګانو باندې ډير زيات مهربانه دی تر دې چې يو حديثِ مبارکه کې راځي چې د اويا (۷۰) مورانو نه هم زيات په خپل بنده مهربانه دی .

(۱) هود آيت ۵۲ .

(۲) رواه الترمذي في التفسير ، والنسائي وابن ماجه وابن حبان في صحيحه والحاكم ، الترغيب والترهيب ج۴ ص ۴۷ كتاب التوبة والزهد حديث ۱۳ ، مشكوة باب الاستغفار والتوبة.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د توبې دروازه هر وخت انسان ته خلاصه وي

الله رب العزت دومره غفور رحيم دی چې تر قيامته پورې يې د خپلو ګناهګارو بندګانو دپاره د توبې دروازه پرانستې ده چې که کله هم دا بنده په خپلو تيرو ګناهونو پښيمانه شي او ماته توبه اوباسي نو زه به يې مخکيني ټول ګناهونه معاف کړم.

امامِ مسلم رحمه الله د سردارِ دوجهان محمّدٌ رّسولُ الله صلی الله عليه وسلم يو ارشاد رانقل کړی:

(( إِنَّ اللهَ عَزَّوَجَلَّ يَبْسُطُ يَدَهُ بِاللَّيْلِ لِيَتُوْبَ مُسِيْئُ النَّهَارِ وَيَبْسُطُ يَدَهُ بِالنَّهَارِ لِيَتُوْبَ مُسِيْئُ اللَّيْلِ حَتَّى تَطْلُعَ الشَّمْسُ مِنْ مَغْرِبِهَا )). (۱)

بيشکه الله جل جلاله د خپل رحمت لاسونه د شپې غوړوي (کما يليق بشانه. يعنی د انسان د توبې منتظر وي (۲) ) ددې د پاره چې د ورځې ګناه کوونکې کس توبه اوباسي، او د ورځې خپل د رحمت لاسونه غوړوي ددې دپاره چې د شپې ګناه کوونکې کس توبه اوباسي (د الله جل جلاله د توبې دا دروازه انسان ته هر وخت خلاصه وي) تر دې چې نمر د مغرب نه رااوخيجي (يعنی قيامت قائم شي).

## د ابليس قَسَم او د الله جل جلاله جواب:

حديث کې راځي چې کله الله رب العزت ابليس لعنتي کړو (او راوې شړلو) نو د الله ﷻ نه يې مُهلت اوغوختو، نو الله ﷻ د قيامته پورې مهلت ورکړو، نو ابليس قَسَم وکړو او وې ويل:

وَعِزَّتِکَ لَاَخْرَجْتُ مِنْ قَلْبِ ابْنِ آدَمَ مَادَامَ فِيْهِ الرُّوْحُ.

زمادې ستا په عزت قسم وي چې زه به تر هغې پورې د بنې آدم د زړه نه جدا نه شم تر څو پورې چې په ده کې روح وي (يعنی هميشه به يې ګمراه کوم).

---

(۱) مسلم کتاب التوبة حديث ۳۱، النسائي، الترغيب والترهيب ج۴ ص ۴۵ کتاب التوبة والزهد، مسند احمد، کنزالعمال ۱۰۱۸۶.

(۲) قال النووي رحمه الله: البسط: کناية عن قبول التوبة. مرقاة ج۵ ص ۱۲۹ باب الاستغفار والتوبة.

(c) ketabton.com: The Digital Library



نو الله رب العزّت ورته او فرمایل :

وَعِزَّتِيْ وَجَلَالِيْ لَا حَجَبْتُ عَنْهُ التَّوْبَةَ مَادَامَ الرُّوْحُ فِيْهِ . (۱)

زما دې هم په خپل عزت او جلال قسم وي چې تر څو پورې په ده کې روح وي زه به ورنه توبه بنده نه کړم (یعنی توبه به یې قبلوم).

په بعضو روایاتو کې داسې هم نقل دي :

وَعِزَّتِيْ وَجَلَالِيْ لَا اَزَالُ اَغْفِرُ لَهُمْ مَا اسْتَغْفِرُوْنِيْ . (۲)

زما دې په خپل عزت او جلال قسم وي چې تر څو پورې دوی د مانه بخښنه غواړي زه به همیشه د دوی بخښنه کوم.

## دبني اسرائيلو د يو ځوان د توبې واقعه :

امام غزالي رحمه الله په احياء العلوم کې يو واقعه ذکر کړې ، چې بني اسرائيلو کې يو ځوان وُ ، شل (۲۰) کاله يې د الله ﷻ عبادت کړی وُ ، بيا يې شل (۲۰) کاله د الله ﷻ په نافرمانی کې تير کړه ، بيا يو ورځې آئينې (شيشې) ته ولاړ وُ ، په آئينه کې يې اوليده چې ګيره يې سپينه شوې ده نو ډير خفه شو چې ګيره مې سپينه ده او اوس هم د الله جل جلاله نافرماني کوم ، نو الله تعالی ته يې عرض وکړو :

اِلٰهِيْ اَطَعْتُکَ عِشْرِيْنَ سَنَةً ثُمَّ عَصَيْتُکَ عِشْرِيْنَ سَنَةً فَاِنْ رَجَعْتُ اِلَيْکَ اَتُقْبِلُنِيْ ؟

اې الله ! ما خوستا شل کاله فرمانبرداري وکړه ، بيا مې شل کاله ستا نافرماني وکړه ، اوس که زه تاته واپس درشم (او ستا فرمانبرداري شروع کړم) نو آيا ته به ما توبه قبوله کړې ؟

نو يو غائبانه آواز يې واوريده :

اَحْبَبْتَنَا فَاَحْبَبْنَاکَ وَتَرَکْتَنَا فَتَرَکْنَاکَ وَعَصَيْتَنَا فَاَمْهَلْنَاکَ وَاِنْ رَجَعْتَ اِلَيْنَا قَبِلْنَاکَ .

اې زما بنده تا د مونږ سره محبت وکړو نو مونږ هم درسره محبت وکړو ، تا مونږ پريښودو نو مونږ هم ته پريښودې ، تا زمونږ نافرماني وکړه نو مونږ مهلت درکړو ، اوس چې ته مونږ ته بيا

(c) ketabton.com: The Digital Library



راواپس کیږي ( او توبه اوباسي ) نو مونږ به تا قبول کړو . [1]
معلومه شوه چې الله رب العزت انسان ته د توبې دروازه هر وخت کلاؤ ساتلې .

## حديث قدسي :

حديث قدسي دی الله جل جلاله فرمائي :

(( مَنْ تَقَرَّبَ اِلَيَّ شِبْرًا تَقَرَّبْتُ اِلَيْهِ ذِرَاعًا وَمَنْ تَقَرَّبَ اِلَيَّ ذِرَاعًا تَقَرَّبْتُ اِلَيْهِ بَاعًا وَاِذَا اَقْبَلَ اِلَيَّ يَمْشِيْ اَقْبَلْتُ اِلَيْهِ اُهَرْوِلُ )). [2]

کوم کس چې ماته د يو لويشت په اندازه رانزدې کیږي زه ورته د يو ګز په اندازه ورنزدې کیږم ، او څوک چې ماته يو ګز رانزدې کیږي نو زه به ورته يو باع ( يعنی د دواړو لاسونود خورولو په مقدار ورنزدې کیږم [3] ) او چې کله دا انسان ماته را روان شي نو زه په منډه ورځم .
همدغه شان بل حديث قدسي دی الله تعالی فرمايي :

يَا ابْنَ آدَمَ قُمْ اِلَيَّ اَمْشِ اِلَيْکَ ، وَاَمْشِ اِلَيَّ اُهَرْوِلُ اِلَيْکَ . [4]

اې د آدم ځويه ! ته ماته راولاړ شه زه به ستا طرفته درروان شم ، او ته ماته را روان شه زه به په منډه تاته درشم . ( يعنی چې ماته لږ هم متوجه شې زه به درباندې ډير رحمتونه را اُووَروم ) .

## د کُرد قبيلې د يو ډاکو واقعه :

علامه ابن قدامه مقدسي رحمه الله په خپل کتاب ( کتاب التّوّابين ) کې ، او مولانا زکريا رحمه الله په فضائلِ صدقات کې يو واقعه رانقل کړې چې په کُرد قبيله کې يو مشهور ډاکو او غَل ( عبکرالکُردي ) اوسيده ، هغه د خپلې توبې واقعه دارنګې بيانوي : چې يو ورځ زه د خپلو ملګرو سره د غَلا دپاره اووتم ، مونږ په لاره روان وو ، مزل مو کولو ، يو ځای کې د دَمې دپاره

---

(۱) احياء العلوم ج۴ ص ۲۰ کتاب التوبة، حياة القلوب .
(۲) اخرجه البخاري في التوحيد ۷۵۳۷ ، ومسلم في التوبة حديث ۱ . والترمذي في الدعوات ۳۵۹۸ ، وابن ماجه في الاداب باب فضل العمل ۳۸٦۷ .
(۳) منجد ، قاموس الوحيد .
(۴) رواه احمد في المسند باسناد صحيح ۳ ۴۷۸ ، الترغيب والترهيب ج۴ ص ۴۸ کتاب التوبة والزهد حديث ۱۵ ، مشکوة باب الاستغفار والتوبة .

(c) ketabton.com: The Digital Library



کيناستو ، هلته مو د قجورو درې (۳) اُونې اوليدې ، چې دا دوه (۲) اونې تکې شنې وې او د قجورو نه خې ډکې وې ، او دا دريمه اُونه اُوچه وه قجورې پکې نه وې ، او يوه مرغۍ مو اوليده چې بار بار دې ميوه دارې اُونې ته راتله او يوه يوه قجوره يې په خپله مخوکه کې اخيسته ، او دې اُوچې اونې ته به تلله ، او هلته به يې په يو ځای کې دا قجوره اچوله ، دا غَل وايي چې : زه ډير حيران شوم چې دا مرغۍ دا قجورې چيرته وړي ؟

نو زه دې اُوچې اونې ته اُوختم چې اوګورم دا څه تماشه ده ؟ کله چې پاس اوختم ، نو مااوليده چې هلته يو ړوند مار پروت دی ، خُوله يې وازه کړې او دا مرغۍ دا تازه قجورې دې مارته په خُوله کې اچوي ، دامې چې اوليده نو زه ډير حيران شوم او په ژړا شوم چې يا الله ! مار خو داسې يو شی دی چې ددې د وژلو حکم اګر چې زمونږ پيغمبر محمد صلی الله عليه وسلم کړې ، خو چې دا ړوند دی نو بيا هم ده ته د روزي رسولو د پاره تا يوه مرغۍ مقرر کړې .

يا الله ! زه خو ستا بنده يم ، مسلمان يم ، او بيا هم د خلقو نه په غَلا کولو خپله روزي پيدا کوم.

يا الله ! چې ته دې ړوند مارته روزي ورکولې شې نو ماته هم حلال رزق راکولې شې .

نو په زړه کې مې ويره پيدا شوه ، يو هاتفي آواز رابانددې اوشو :

بَابِيْ مَفْتُوْحٌ لِلْقَاصِدِيْنَ.

چې زما د روازه خو توبه کوونکو ته خلاصه ده .

نو په هماغه ځاي کې مې د غَلا نه توبه اُوويسته ، اوکومه توره مې چې د غلا د پاره استعمالوله هغه مې هم په هماغه ځای ماته کړه او چغې مې کړې :

اَلتَّوْبَةُ اَلتَّوْبَةُ يا الله ! معافي راته وکړه زما توبه ده ، زما توبه ده .

نو يو غائبانه آواز مې واوريدو :

قَدْقَبِلْنَاكَ اې بنده ! مونږ ته قبول کړې ، معافي مو درته وکړه .

چې رابنکته شوم ملګرو رانه تپوس وکړو چې څه په تا څه اوشو ؟ نو ماورته ټوله قصه بيان کړه چې ما خو توبه اوويسته او د الله ﷻ سره مې صُلحه وکړه ، هغوی چې دا خبرې واوريدې نو هغوی هم تورې اوغورځولې او ټولو توبه اوويسته ، مونږ ټولو حرام مال خلقو ته واپس کړو او مکې معظمې ته د حج په اراده روان شو ، چې کله مونږ درې (۳) ورځې سفر وکړو او يو کلي ته اورسيدو ، نو هلته يوه بوډۍ زَنانه چې په سترګو ړنده وه را اُووته او مونږ نه يې پوښتنه وکړه:

(c) ketabton.com: The Digital Library



اَفِيْكُمْ فُلَانُ الْكُرْدِيُّ ؟

آيا په تاسو کې د ګُرد قبيلې فلانکي نومې کس شته ؟ د اړاکو وايي چې زما نوم يې واخيست، خلقو ورته وويل چې : آو دادی . نو هغې زَنانه څه جامې ماته راکړې او راته وې ويل چې نن دريمه ورځ ده چې رسول الله صلی الله عليه وسلم په خوب کې ګورم او ماته دا فرمائي :

اِعْطِيْ هٰذِهِ الثِّيَابَ لِفُلَانِ الْكُرْدِيِّ .

داجامې د ګُرد قبيلې فلانکي کس ته ورکړه ، دا کس وايي چې ما ورنه هغه کپړې راواخيستې او په خپلو ملګرو مې تقسيم کړې . (۱)

**فائده** : سبحان الله . په رينښتيني توبې سره ورته څومره عزت حاصل شو چې ګناهونه يې هم معاف شو او د نبي کريم صلی الله عليه وسلم د طرفه ورته جامې هم اعزازًا ورسيدې .

محترمو مسلمانانو الله جل جلاله د انسان د اعمالو او توبې ډير قدرداني کوونکې دی خو چې انسان په اخلاص الله ﷻ ته متوجه شي .

## حضرت داؤد عليه السلام ته د الله جل جلاله وحي :

امام غزالي رحمه الله په خپل کتاب احياء العلوم کې ذکر کړي دي چې يو کرت الله جل جلاله حضرت داؤد عليه السلام ته وحي وکړه :

يَا دَاوُدُ لَوْ يَعْلَمِ الْمُدْبِرُوْنَ عَنِّيْ كَيْفَ اِنْتِظَارِيْ لَهُمْ وَرِفْقِيْ بِهِمْ وَشَوْقِيْ اِلٰى تَرْكِ مَعَاصِيْهِمْ لَمَاتُوْا شَوْقًا اِلَيَّ وَتَقَطَّعَتْ اَوْصَالُهُمْ مِنْ مَحَبَّتِيْ . يَا دَاوُدُ ! هٰذِهِ اِرَادَتِيْ فِي الْمُدْبِرِيْنَ عَنِّيْ . فَكَيْفَ اِرَادَتِيْ فِي الْمُقْبِلِيْنَ عَلَيَّ ؟ (۲)

اې داؤد ! که چيرته هغه خلق کومو چې ماته شاکړې (زما په نافرمانۍ او ګناهونو کې ژوند تيروي ) که دوی ته دا پته اولږي چې زه د دوی ( د توبې ) څومره منتظر يم او په دوی څومره مهربان يم ، او د دوی د ګناه پريښودلو څومره په شوق ( او انتظار ) کې يم ، نو دوی به زما د شوق د وجې مړه شي او د دوی اندام اندام به زما د محبت په وجه جدا شي .

---

(۱) کتاب التوابين لابن قدامه المقدسي ص ۲۰۲ ، فضائل صدقات حصه دوم ص ٦٦ ، مثالي فکر انګيز واقعات ولطائف ص ۹۰

(۲) احياء العلوم ج۴ ص ۴۳۵ .

(c) ketabton.com: The Digital Library



اې داؤد ! داخو زما د هغه خلقو متعلق اراده وه کومو چې ماته شاکرې (او زه يې هير کړې يم، په ګناهونو کې اخته دي) نو که کوم کس د مخکې نه ماته متوجه وي (زما عبادت کوي) نو د هغوی به څه حال وي ؟ (يعنې زه به په هغوی ډېر زیات رحم کوم، او ډېر زیات به زه د هغوی په انتظار او شوق کې يم).

## دهندوستان د يو بُت پرست د توبې واقعه :

حضرت مولانا اشرف علي تهانوي رحمه الله يو واقعه ذکر کړې چې د هندوستان يو بُت پرست کافر خپل بُت ته نوي (۹۰) کاله د يَاصَنَمُ يَاصَنَمُ (اې بُته اې بُته) آواز کولو، خو د بُت د طرف نه به ورته هيڅ جواب نه راتلو . يو ورځ يې په غلطئ کې د خولې نه د يَاصَنَمُ په ځای يَاصَمَدُ اووت.

(صَمَد د الله ﷻ د نومونو نه يو نوم دی چې معنی يې ده : اَلْمُسْتَغْنِيُ عَنْ كُلِّ اَحَدٍ اَلْمُحْتَاجُ اِلَيْهِ كُلُّ اَحَدٍ ، هغه بې نيازه ذات چې د هر چانه بې پروا دی او ده ته هر څوک محتاج دي) .

نو د الله ﷻ د طرفه ورته آواز راغي :

لَبَّيْكَ يَا عَبْدِيْ . (اې زما بنده زه حاضر يم) .نو هغه کس په هماغه ځای باندې هغه خپل بُت توټې توټې کړو او کلمه يې وويله چې لَا اِلٰهَ اِلَّا اللهُ مُحَمَّدٌ رَّسُوْلُ الله . او نورو هندوانو ته يې وويل : چې ظالمانو ما خو نوي (۹۰) کاله دې بُت ته آواز ونه کول خو څه جواب به نه راتلو، نن مې په غلطئ کې د مسلمانانو د رَب نوم د خولې نه اووت نو د آسمان نه جواب راغي چې لَبَّيْكَ يَا عَبْدِيْ زه حاضر يم اې بنده . تا زه ولې پرېښې يم او هغه کاڼو ته آوازونه کوې چې هغه ځانله کاڼه او ګونګيان دي .

د دې واقعې بيانولو نه روستو مولانا اشرف علي تهانوي رحمه الله ليکلي چې کله الله ﷻ يو بُت پرست طرفته (چې په غلطئ کې يې د الله جل جلاله نوم اخيستې وُ) دومره متوجه دی نو که يو کس مسلمان وي او هغه الله راضي کول غواړي نو هغه طرفته به الله څومره زيات متوجه وي[1]

---

[1] مواعظ حکيم الامت ولحايات حلب .

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د زنکدن په حالت کې توبه نه قبلیږي :

البته چې کله په انسان باندې د زنکدن حالت شروع شي نو بيا د انسان توبه نه قبليږي ، ځکه دې په دې وخت کې هر څه په خپلو سترګو ګوري نو بيا خو ايمان بالغيب نه پاتې کيږي .

حديث کې راځي :

(( إِنَّ اللهَ يَقْبَلُ تَوْبَةَ الْعَبْدِ مَا لَمْ يُغَرْغِرْ )) . (۱)

بيشکه الله جل جلاله د بنده توبه قبلوي تر څو پورې چې دده روح مرۍ ته نه وي رارسيدلې .

د مرګ په وخت خو فرعون هم ويلي وُ :

﴿ آمَنْتُ أَنَّهُ لَا إِلَٰهَ إِلَّا الَّذِي آمَنَتْ بِهِ بَنُو إِسْرَائِيلَ وَأَنَا مِنَ الْمُسْلِمِينَ ﴾.(۲)

مادا يقين وکړو چې نشته دی څوک معبود سِوا د هغه ذات نه په کوم ذات چې بني اسرائيلو ايمان راوړې دی ، او زه د فرمانبردارو نه يم .

نو ورته وويل شو :

﴿ آلْآنَ وَقَدْ عَصَيْتَ قَبْلُ وَكُنْتَ مِنَ الْمُفْسِدِينَ ﴾. (۳)

ترجمه : آيا اوس ايمان راوړې حال دا دې چې له دې نه وړاندې تا نافرماني کړې ده او ته د فساد کوونکو نه وې .

حافظ الپوري رحمه الله فرمائي :

په زنکدن کې دې توبه رب ته قبوله نده * چې په حيات د ناروا وُ نه سَوګند اونکړې

## د توبې نه روستو الله ﷻ د انسان ګناه د حفظه فرشتو او اندامونو نه هم هيره کړي :

کله چې انسان يو ګناه کوي نو کرامًا کاتبين فرشتې هم دده په عملنامه کې دده ګناه ليکي ، د انسان خپل اندامونه ( لاس ، خپې وغيره ) به هم د قيامت په ورځ دده خلاف ګواهي ورکوي ، د زمکې په کومه حصه کې چې ګناه شوې وي هغه به هم د قيامت په ورځ دده خلاف ګواهي ورکوي

(۱) اخرجه الترمذي في الدعوات باب ۹۸ ، وابن ماجه في الزهد باب ۳۰ وقال حديث حسن ، الترغيب والترهيب ج۴ ص ۴۸ کتاب التوبة والزهد حديث ۱۵ ، مشكوة باب الاستغفار والتوبة .

(۲) يونس آيت ۹۰ .

(۳) يونس آيت ۹۱ .

(c) ketabton.com: The Digital Library



او دا ورځ او شپه (په کومه کې چې ګناه شوي وي دا) به هم د قيامت په ورځ د انسان خلاف ګواهي ورکوي.

خو د رب کريم دی مهرباني ته ګوره چې کله انسان په اخلاص توبه او باسي نو الله جل جلاله يې ګناه هم معاف کړي، دده د عملناني نه يې هم ختمه کړي، د هغه فرشتو نه يې هم هيره کړي کومو چې دا ليکلې، دده د اندامونو نه يې هم هيره کړي او په کومه زمکه يې چې کړې د هغې نه يې هم هيره کړي، ددې دپاره چې صبا د قيامت په ورځ دوی د انسان خلاف ګواهي ورنکړي.

نبي عليه الصلوة والسلام فرمائي:

(( إِذَا تَابَ الْعَبْدُ مِنْ ذُنُوْبِهِ أَنْسَى اللهُ عَزَّ وَجَلَّ حَفَظَتَهُ ذُنُوْبَهُ وَأَنْسَى ذَلِكَ جَوَارِحَهُ وَمَعَالِمَهُ مِنَ الْأَرْضِ حَتَّى يَلْقَى اللهَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَلَيْسَ عَلَيْهِ شَاهِدٌ مِّنَ اللهِ بِذَنْبٍ )). (۱)

کله چې يو بنده د خپلو ګناهونو نه توبه او باسي نو الله رب العزت د حفظه فرشتو نه هم دده ګناه هيره کړي، دده داندامونو نه يې هم هيره کړي او په کومه زمکه يې چې کړې وي د هغې نه يې هم هيره کړي.

دا ددې د پاره چې کله دې د قيامت په ورځ د الله جل جلاله سره ملاويږي نو په دده د ګناه څوک ګواه نه وي (ځکه که ددوی نه هيره نشي نو دوی خو به بيا د انسان خلاف ګواهي ورکوي).

## د دنيا او د الله تعالى په عدالت کې فرق:

محترمو مسلمانانو الله ﷻ د انسان د توبې ډير قدرداني کوونکې دی. تاسو ديته سوچ وکړئ چې که چيرته دنيا کې په يو کس باندې د دورغو دعوی اوشي او عدالت (قضاء) ته فيصله لاره شي، تحقيقات اوشي، د تحقيقاتو نه پس پته اولږي چې دا دعوی د دروغو وه، نو عدالت (قضاء) ددې سړي دا مقدمه ختمه کړي خو ددې مقدمې ريکارډ د ځان سره بيا هم ساتي. اوس که چيرته دا سړې دې عدالت ته هر څومره دا ووايي چې کله خبره دروغ ثابت شوه نو دا ريکارډ خو ختم کړئ. نو عدالت به ورته وايي چې نه. دا ريکارډ به مونږ د ځان سره خامخا ساتو

او بل طرفته د الله ﷻ معامله وګورئ چې کله يو سړې واقعي مُجرِم او ګناهګار وي، خو دې د الله جل جلاله د وړاندې په اخلاص توبه او باسي، او معافي او غواړي نو الله رب العزت يې

(c) ketabton.com: The Digital Library



توبه هم قبوله کړي ، د عمل نامې نه يې د ګناه ريکارډ هم ختم کړي، تردې چې دده د لاس ، خپو ، کومو فرشتو چې دا ګناه ليکلې او په کومه ځمکه شوې د دوی ټولو نه دا ګناه هيره کړي . ددې دپاره چې صبا د قيامت په ورځ دوی دده خلاف ګواهي ورنکړي .

## الله ﷻ بار بار ګناه معاف کوي

محترمو که انسان په اخلاص باندې توبه اوباسي او بيا د ګناه نه کولو پخه اراده وکړي ليکن د غلبه شهوت او شيطاني وسوسُو په وجه ورنه بيا ګناه اوشي او دې بيا توبه اوباسي ، استغفار ووايي ، نو الله جل جلاله بيا هم دده ګناه معاف کوي . اګر چې په يوه ورځ کې اويا (۷۰) پيرې ورنه دا ګناه اوشي او په هر ځل ورنه په اخلاص توبه اوباسي نو الله ﷻ يې معاف کوي او دې کس ته مُصِر (اِصرار کوونکې په ګناه) نشي ويلې . (۱)

د ابوداؤد شريف حديث دی ، نبي عليه الصلوة و السلام فرمائي :

(( مَا أَصَرَّ مَنِ اسْتَغْفَرَ وَإِنْ عَادَ فِي الْيَوْمِ سَبْعِينَ مَرَّةً )) (۲)

هغه کس هميشه والې په ګناه ندې کړې چې بخښنه يې غوښتې وي اګر چې دورځې اويا ځله يې دا ګناه کړې وي او توبه يې ورنه ويستې وي .

يعنی که چيرته د يو کس نه په يوه ورځ کې اويا (۷۰) پيرې ګناه اوشي او اويا پيرې ورنه توبه اوباسي ، استغفار ووايي نو ده ته په ګناه اِصرار کوونکې نشي ويلې .

امام بخاري رحمه الله او امام مسلم رحمه الله يو حديث رانقل کړې ، په کوم کې چې نبي کريم صلی الله عليه وسلم د خپل رب نه حکايت کوي :

(( أَذْنَبَ عَبْدٌ ذَنْبًا فَقَالَ اَللّٰهُمَّ اغْفِرْ لِيْ ذَنْبِيْ . فَقَالَ تَبَارَکَ وَتَعَالٰی : أَذْنَبَ عَبْدِيْ ذَنْبًا فَعَلِمَ أَنَّ لَهُ رَبًّا يَغْفِرُ الذَّنْبَ وَيَأْخُذُ بِالذَّنْبِ ( غَفَرْتُ لِعَبْدِيْ (۳) ) ثُمَّ عَادَ فَأَذْنَبَ فَقَالَ : أَيْ رَبِّ ! اغْفِرْ لِيْ ذَنْبِيْ فَقَالَ تَبَارَکَ وَتَعَالٰی : عَبْدِيْ أَذْنَبَ ذَنْبًا فَعَلِمَ أَنَّ لَهُ رَبًّا يَغْفِرُ الذَّنْبَ وَيَأْخُذُ

(۱) مجمع بحار الانوار ص ۳/۳۱۱ ، مرقاة ص ۶۷ ، ۳/۶۸ باب الاستغفار والتوبة الفصل الثاني ، فتاوی محموديه ج۲۹ ص ۴۳۲ .

(۲) ابوداؤد ۱۵۱۴ ، ترمذي ۳۵۵۹ ، مشکوة ص ۳۰۴ باب الاستغفار والتوبة ، کنز العمال ۱۰۳۰۷ .

(۳) بخاري .

(c) ketabton.com: The Digital Library



بِالذَّنْبِ ثُمَّ عَادَ فَاَذْنَبَ فَقَالَ : اَيْ رَبِّ اغْفِرْ لِيْ ذَنْبِيْ فَقَالَ تَبَارَكَ وَتَعَالٰى : اَذْنَبَ عَبْدِيْ ذَنْبًا فَعَلِمَ اَنَّ لَهُ رَبًّا يَغْفِرُ الذَّنْبَ وَيَاْخُذُ بِالذَّنْبِ . اِعْمَلْ مَا شِئْتَ فَقَدْ غَفَرْتُ لَكَ )) . (۱)

چې کله بنده يو ګناه وکړي او دا ووايي : اَللّٰهُمَّ اغْفِرْ لِيْ ذَنْبِيْ يا الله ماته زما ګناه اوبخښې، نو الله رب العزت فرمائي چې زما بنده يو ګناه وکړه خو ده ته دا پته ( معلومه ) ده چې دده داسې يو رب شته چې هغه دا ګناه بخي هم ، او نيول هم پرې کوي . نو ما دې خپل بنده ته بخښنه وکړه . بيا دې په دويمه پيره دا ګنا ه وکړي ( روستو پښيمانه شي ) او ووايي : اې ربه ماته زما دا ګناه معاف کړه . نو الله رب العزت فرمائي : چې زما بنده ګناه وکړه او دې پوهه دی چې دده يو رب شته چې ګناه بخښي هم ، اوپه ګناه نيول هم کوي نو ما دې خپل بنده ته بخښنه وکړه . بيا دې په دريمه پيره دا ګنا ه وکړي ، روستو ووايي : اې الله ماته دا ګناه معاف کړه . الله جل جلاله اوفرمائي زما بنده ګناه وکړه خو ده ته پته ( معلومه ) ده چې دده داسې يو رب شته چې ګناه بخښي هم ، اونيول هم پرې کوي . الله ﷻ ورته اوفرمائي :

اِعْمَلْ مَا شِئْتَ (۲) فَقَدْ غَفَرْتُ لَكَ .

اې زما بنده که د تا نه کله هم ګناه اوشي ، بيا ته د مانه بخښنه اوغواړې نو زه به درته معاني کوم ، څه . تاته مې بخښنه وکړه .

## حديث قدسي :

حديث قدسي دی ، الله ﷻ فرمائي :

وَيْحَ ابْنُ آدَمَ يُذْنِبُ الذَّنْبَ فَيَسْتَغْفِرُنِيْ فَاَغْفِرُلَهُ ثُمَّ يَعُوْدُ فَيَسْتَغْفِرُنِيْ فَاَغْفِرُلَهُ (۳)

---

(۱) اخرجه البخاري في التوحيد باب قول الله تعالى ﴿يُرِيدُونَ أَن يُبَدِّلُوا كَلَامَ اللَّهِ﴾ ۷۵۰۷ ، ومسلم باب قبول التوبة من الذنوب وان تكررت الذنوب والتوبة ۶۹۴۱ ، مشكوة باب الاستغفار والتوبة .

(۲) علامه تقي عثماني دامت بركاتهم العالية په تكمله د فتح الملهم کې د اِعْمَلْ مَا شِئْتَ معنى كوي چې مَا دُمْتَ تُذْنِبُ ثُمَّ تَتُوبُ غَفَرْتُ لَكَ چې كله هم ته ګناه كوې بيا ورته په اخلاص توبه اوباسې نو زه به هم درته معافي كوم .تكملة فتح الملهم ۶ ص ۱۵ هكذا في الترغيب والترهيب ج۴ ص ۴۷ كتاب التوبة والزهد .

(۳) تنبيه الغافلين باب التوبة ص ۴۷ ط. بيروت .

(c) ketabton.com: The Digital Library



د بني آدم په حال تعجب دی چې ګناه وکړي بيا د مانه معافي اوغواړي (توبه اوباسي) نو زه ورته معافي وکړم، دې بيا ګناه وکړي او بيا د مانه معافي اوغواړي نو زه ورته بيا هم معافي اوکړم. په ده تعجب دی چې نه خو ګناه پرېږدي، او نه زما د رحمت نه نا اميده کېږي. خو اې فرشتو! تاسو ګواه اوسئ چې ما ده ته ټول ګناهونه اوبخل (ځکه دې خو توبه هم اوباسي او زما د رحمت نه هم نه نا اميده کېږي).

## دحبيب بن الحارث ﷺ واقعه:

رسول الله ﷺ ته يو کس (حبيب بن الحارث ﷺ) راغې او عرض يې وکړو:

يَارَسُوْلَ اللهِ اِنِّيْ رَجُلٌ مِقْرَافٌ.

اې د الله ﷻ رسوله! زه ډير ګناهګاريم. نو نبي ﷺ ورته اوفرمايل:

تُبْ اِلَى اللهِ يَا حَبِيْبُ. اې حبيب! الله ﷻ ته توبه اوباسه.

هغه ورته عرض وکړو:

يَارَسُوْلَ اللهِ اِنِّيْ اَتُوْبُ ثُمَّ اَعُوْدُ.

اى د الله ﷻ رسوله! زه توبه اوباسم خو بيا رانه ګناه اوشي.

نبي عليه السلام ورته اوفرمايل:

كُلَّمَا اَذْنَبْتَ فَتُبْ. چې کله هم درنه ګناه اوشي نو توبه اوباسه.

هغه عرض وکړو:

يَارَسُوْلَ اللهِ اِذًا تَكْثُرُ ذُنُوْبِيْ.

که چيرته زما ګناهونه ډير زيات وي او بار بار وي (او زه توبه اوباسم نو آيا الله ﷻ به يې قبلوي؟)

نبي عليه السلام ورته اوفرمايل:

عَفْوُاللهِ عَزَّ وَجَلَّ اَكْثَرُ مِنْ ذُنُوْبِكَ يَا حَبِيْبُ.

اې حبيب! د الله ﷻ عفوه ستا د ګناهونو نه ډيره زياته ده (ته چې هرڅومره پيرى توبه اوباسې نو الله ﷻ يې قبلوي).

فائده : معلومه شوه چې که انسان هرڅومره ډيرې په اخلاص توبه اوباسي نو الله ﷻ يې قبلوي . (۱)

## نبيِ عليه الصلوٰة والسلام هم توبه ويسته :

پدې خو اتفاق دی چې نبي کريم صلی الله عليه وسلم معصوم دی : الله تعالی فرمائي :

﴿ لِيَغْفِرَ لَكَ اللّٰهُ مَا تَقَدَّمَ مِن ذَنۢبِكَ وَمَا تَأَخَّرَ ﴾ (۲)

ليکن بيا هم پيغمبر عليه السلام د ورځې سل (۱۰۰) ځلې توبه اوباسي او استغفار وايي.

نبي عليه السلام فرمائي :

(( يَاأَيُّهَا النَّاسُ تُوبُوا إِلَى اللّٰهِ فَإِنِّي أَتُوبُ إِلَيْهِ فِي الْيَوْمِ مِائَةَ مَرَّةٍ )) (۳)

ترجمه : اې خلقو تاسو الله ته توبه وو باسئ . بيشکه زه الله ته د ورځې سل ځلې توبه اوباسم.

نو چې کله نبي عليه السلام باوجود د دينه چې معصوم دی د ورځې سل ځلې توبه اوباسي نو بيا خو مونږ ته په کار دي چې مونږ خو يې زياته اوباسو ، ځکه مونږ خو ډير ګناهګار يو .

## بار بار توبه ويستونکي مُصِر ندی

پاتې شوه دا خبره چې الله رب العزت فرمائي :

﴿ وَلَمْ يُصِرُّوا عَلَىٰ مَا فَعَلُوا وَهُمْ يَعْلَمُونَ ﴾ (۴)

الله ﷻ د انسانانو ګناهونه بخښي خو چې دوی په خپلو ګناهونو باندې اِصرار (ټينګوالی) نکوي (يعنی بار بار يې نه کوي) .

---

(۱) خطبات فقير ج۳۶ ص ۷۸ .

(۲) الفتح آيت ۲ .

(۳) رواه مسلم ، ورواه الامام احمد ۱۸۸۴۱ ، مشکوة باب الاستغفار والتوبة . د بخاري شريف الفاظ داسې دي : والله اني لاستغفرالله واتوب اليه في اليوم اکثر من سبعين مرة . رواه البخاري ، مشکوة ج۵ ص ۱۲۳ باب الاستغفار والتوبة .

(۴) آل عمران آيت ۱۳۵ .

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د علامه آلوسي رحمه الله تحقيق:

د دې آيت په تفسير کې علامه آلوسي رحمه الله په خپل تفسير (روح المعاني) کې ليکلي چې اِصرار ديته وايي:

اَلْاِقَامَةُ عَلَى الْقَبِيْحِ بِدُوْنِ الْاِسْتِغْفَارِ وَالتَّوْبَةِ. (۱)

په يو قبيح (او د ګناه په) کار سرې هميش والې کوي خو استغفار هم نه وايي او توبه هم نه اوباسي. نو ديته اِصرار ويلې شي.

او که چيرته د يوې ګناه کولو نه پس يې استغفار وويل، په زړه کې په تيره ګناه پښيمانه شو او آئنده کې يې دا پخه اراده وکړه چې بيا به يې نه کوم نو الله جل جلاله به ورته دا ګناه معاف کړي. اوس که بيا ورنه دا ګناه اوشوه او بيا يې هم همدغه شان توبه اوويسته نو الله ﷻ به دوباره ورته ګناه معاف کړي اګر چې د ورځې اويا (۷۰) پيرې ګناه وکړي او توبه اوباسي.

او همدا د حديث مطلب دی چې:

(( مَا اَصَرَّ مَنِ اسْتَغْفَرَ وَاِنْ عَادَ فِي الْيَوْمِ سَبْعِيْنَ مَرَّةً )) (۲)

هغه کس هميشه والې په ګناه ندې کړې چې بخښنه يې غوښتې وي اګر چې د ورځې اويا (۷۰) پيرې يې دا ګناه کړې وي او توبه يې ورنه ويستې وي.

## د ملا علي قاري رحمه الله تحقيق:

ملا علي قاري رحمه الله هم په مرقاة شرح د مشکوة کې فرمائي:

مَنْ اَتْبَعَ ذَنْبَهُ بِالْاِسْتِغْفَارِ فَلَيْسَ بِمُصِرٍّ عَلَيْهِ وَاِنْ تَكَرَّرَ مِنْهُ. (۳)

څوک چې د ګناه نه روستو استغفار ووايي (په اخلاص توبه اوباسي او بيا يې د نه کولو پخه اراده وکړي) اوس ورنه بيا بيا ګناه کيږي (او دې بيا په اخلاص توبه اوباسي) نو دا سړې په ګناه اِصرار کوونکې ندې.

---

(۱) روح المعاني ج۴ ص ۶۱.

(۲) ابوداؤد ۱۵۱۴، ترمذي ۳۵۵۹، مشکوة ص ۲۰۴ باب الاستغفار والتوبة، کنزالعمال ۱۰۳۰۷.

(۳) مرقاة ص ۶۷، ۶۸/۳ باب الاستغفار والتوبة الفصل الثاني، مجمع بحار الانوار ص ۳/۳۱۱، فتاوی محموديه ج۲۹ ص ۴۳۲.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**وعيد**

البته که يو سړی تش په خُله استغفار وايي او په زړه کې په تيره گناه پښيمانه نه وي او آئنده يې دا اراده هم نه وي چې گني بيا به يې نه کوم او تش د خُولې توبه اُوباسي او بار بار گناه کوي نو د داسې کس باره کې سخت وعيدونه هم راغلي دي . نبي عليه السلام فرمائي :

(( وَالْمُسْتَغْفِرُ مِنَ الذَّنْبِ وَهُوَ مُقِيمٌ عَلَيْهِ كَالْمُسْتَهْزِئِ بِرَبِّهِ )) . (۱)

کوم سړی چې په خُولې خو د گناه نه استغفار غواړي حالانکه په گناه باندې قائم وي ، د پرېښودلو اراده يې هم نه وي نو دې د خپل رب پورې خندا کوونکې دی .

## د توبې طريقه :

اوس دا چې د توبې طريقه څه ده ؟

نو توبه صرف دېته نه وايي چې انسان تش په خُوله باندې وايي : چې توبه توبه .

بلکه د توبې خپله طريقه ده چې علماو بيان کړې ده :

### د امام قرطبي رحمه الله تحقيق :

امام قرطبي رحمه الله په خپل تفسير کېددې پوره تشريح کړې ، چې حقوق په دوه (۲) قسمه دي :

۱ . حقوق الله ۲ . حقوق العباد . نو که انسان حقوق الله ضائع کړي وي نو ددينه توبه داده : چې انسان درې (۳) کارونه وکړي :

۱ . په ژبه باندې استغفار ووايي . ۲ . په زړه کې په کړې گناه پښيمانه شي ۳ . او په آئنده کې ددې گناه د نه کولو پخه اراده وکړي .

که په دې طريقه يې توبه اوويسته نو د ځای نه د پاڅيدو نه مخکې به ورته الله ﷻ ټول گناهونه معاف کړي .

البته که فرائض ( لکه مونځ ، روژه ، زکوة وغيره ) يا واجبات ورنه پاتې شوي وي نو د هغې به قضاء هم راوړي نو بيا به يې توبه قبليږي .

---

(۱) اخرجه البيهقي في السنن ۱۰/۱۵۴ ، وابن ابي الدنيا من حديث ابن عباس مرفوعًا وذكره الحافظ في فتح الباري ۱۳ / ۴۷۱ .

او كه انسان حقوق العباد ضائع كړي وي ( لكه د يو مسلمان مال يې په ناجائزې طريقې سره خوړلې وي يا يې د هغه بې عزتي كړي وي ) نو ددې سره بيا يوه بله خبره هم ضروري ده :

چې مسلمان ته خپل حق واپس كړي يا د هغه نه معافي اوغواړي . نوبيا به يې توبه قبليږي .

او كه يو بل مسلمان يې په ناحقه وژلې وي ، نو كه د مقتول وارثانو دې معاف كړو خو ډيره ښه ده ، دې به صرف استغفار وايي او په آئنده كې به دبيا نه كولو پخه اراده وكړي .

او كه هغوی د قصاص مطالبه كوله ، نو ځان به هغوی ته د قصاص اخيستو دپاره حواله كوي

او كه په يو پاكدامنه مسلمانه زَنانه يې د زِنا تُهمت لږولې وُ او هغوی معاف نه كړو بلكه د حدِ قذف مطالبه يې كوله نو ځان به كوړو وهلو ته هم حَواله كوي. (۱)

## د حضرت علي رضي الله عنه نه تپوس :

( لكه دا خبره مخكې تيره شوې ده چې ) د حضرت علي رضی الله عنه نه پوښتنه اوشوه چې توبه څه ته وايي ؟ نو هغه ورته وويل چې توبه هغه ده چې په هغې كې شپږ خبرې وي :

۱ . عَلَى الْمَاضِيْ مِنَ الذُّنُوْبِ النَّدَامَةُ، ۲.وَلِلْفَرَائِضِ الْاِعَادَةُ ، ۳. وَرَدُّ الْمَظَالِمِ ، ۴ . وَاسْتِحْلَالُ الْخُصُوْمِ ، ۵ . وأَنْ تَعْزِمَ عَلَى أَنْ لَاتَعُوْدَ، ٦ . وَأَنْ تُرَبِّيَ نَفْسَكَ فِيْ طَاعَةِ اللهِ تَعَالٰى كَمَا رَبَّيْتَهَا فِي الْمَعْصِيَةِ . (۲)

۱ . په خپلو تيرو گناهونو پښيمانه كيدل ، ۲. كوم فرائض او واجبات چې درنه پاتې شوي وي د هغې قضاء راوړل ، ۳ . په ظلم چې كوم مال د بل چانه اخيستې شوې وي هغه واپس كول ، ۴ . په ژبه ، لاس يا خپو باندې چې دې بل مسلمان ته تكليف رسولې وي د هغه نه معافي غوښتل ۵ . په آئنده كې دې گناه ته د نه ورتللو پوخ قصد او اراده كول ، ٦ . لكه څرنگ چې دې مخكې خپل ځان د الله جل جلاله په نافرمانۍ كې ليدلې وُ اوس خپل ځان د الله ﷻ په فرمانبردارۍ كې اووينې.

يو شاعر وايي :

په عادتي توبه به خلاص د معصيته نشې * څو نصوحا غوندې توبه محكم سوگند اونكړې

(۱) تفسير قرطبي ج۱۸ ص ۱۷٦ التحريم آيت ۸ . هكذا ذُكر في مرقاة شرح مشكوة ج ۵ ص ۱۲۲ باب الاستغفار والتوبة .

(۲) تفسير مظهري ج۹ ص ۳۴۵ ، تفسير روح المعاني ج ۲۸ ص ۱۹۰ التحريم آيت ۸ ، بيضاوي مع حاشية القونوي ج ۱۹ ص ۱٦۵ التحريم آيت ۸ .

(c) ketabton.com: The Digital Library



# فقهي مسائل :

## ۱ : حقوق العباد تش په توبه نه معاف کيږي :

اوله مسئله داده : چې حقوق العباد تش په توبه نه معاف کيږي بلکه د حق خاوند ته به خپل حق سپاري يا به ورنه معافي غواړي . (۱)

وَاَمَّا حُقُوْقُ الْاٰدَمِيِّيْنَ فَلَا بُدَّ مِنْ اِيْصَالِهَا اِلَى مُسْتَحِقِّيْهَا فَاِنْ لَمْ تُوْصَلْ اِلَى اَرْبَابِهَا لَمْ يَتَخَلَّصْ مِنْ ضَرَرِ ذٰلِكَ الذَّنْبِ اِلَّا بِتَرْكِهِ ........ (۲)

هر چې حقوق العباد دي نو ددې د پاره دا ضروري ده چې خپل مُستحِق ته به يې سپاري . ځکه که د حق خاوند ته دا حق اونه رسي نو دا کس ددې ګناه د ضرر نه نه خلاصيږي . البته که هغه ورته خپل حق پريږدي او معاف يې کړي نو بيا صحيح ده .

## د ملا علي قاري رحمه الله تحقيق :

ملا علي قاري رحمه الله په شرح د فقه اکبر کې ليکلي :

وَاِنْ كَانَتْ مِمَّا يَتَعَلَّقُ بِالْعِبَادِ فَتَتَوَقَّفُ صِحَّةُ التَّوْبَةِ مِنْهَا عَلَى اَنْ يَتَحَلَّلَ اَوْ يَرُدَّهُ اِلَيْهِمْ . (۳)

او که ددې ګناه تعلق د حقوق العباد و سره وُ نو بيا د توبې صحت په دې موقوف دی چې يا خو د هغه نه معافي اوغواړي يا هغه ته خپل حق واپس کړي .

همدا رنګې ملا علي قاري رحمه الله په مرقاة شرح د مشکوة کې ليکلي :

فَاِنَّ حُقُوْقَ الْعِبَادِ يَتَوَقَّفُ عَلَى اِرْضَائِهِمْ .....(۴)

بيشکه د حقوق العبادو نه توبه موقوف ده په راضي کولو د صاحبِ حق باندې، يا هغه ته په خپل حق واپس کولو باندې .

(۱) فتاوی محموديه ج۲۹ ص ۴۲۵ .

(۲) المفهم شرح مسلم ج۷ ص ۷۱ کتاب الرقاق باب وجوب التوبة وفضلها ، فتاوی محمودية ج۲۹ ص ۴۲۵ .

(۳) شرح فقه اکبر ص ۱۹۴ بيان السام التوبة ، رياض الصالحين ص ۱۰ ، ۱۱ باب التوبة ، فتاوی محمودية ج۲۹ ص ۴۲۵

(۴) مرقاة شرح مشکوة ج۳ ص ۱۶۸ کتاب الحج الفصل الاول ، فتاوی محمودية ج۲۹ ص ۴۲۵ .

(c) ketabton.com: The Digital Library



### د امام نووي رحمه الله تحقيق :

امام نووي رحمه الله فرمائي :

اِنْ كَانَتِ الذَّنْبُ مُتَعَلِّقًا بِبَنِيْ آدَمَ فَلَهَا شَرْطٌ آخَر وَهُوَ رَدُّ الْمَظْلِمَةِ اِلَى صَاحِبِهَا اَوْ تَحْصِيْلُ الْبَرَاءَةِ مِنْهُ . (۱)

که د ګناه تعلق د بندګانو د حقونو سره وُ نو د دې د پاره ( د استغفار او توبې سره سره ) يو بل شرط هم دی چې صاحبِ حق ته خپل حق سپارل يا د هغه نه معافي غوښتل .

### ۲ : د هرې ګناه نه توبه د هغې موافق وي :

دويمه مسئله داده چې د هرې ګناه نه توبه د همغې موافق وي . يعنی که د سړي نه مونځ ، روژه ، زکوة ، حج وغيره قضاء شوي وي نو د دې توبه داده چې د دې فرائضو قضاء به راوړي . او که د چاماليي حق يې ضائع کړې وي نو يا خو به هغه ته خپل حق سپاري يا به ورنه معافي غواړي .

### د صاحب د هدايې وينا :

صاحب د هدايې ليکلي : اَلتَّوْبَةُ عَلَى حَسْبِ الْجِنَايَةِ . (۲)

توبه د جنايت موافق وي . يعنی چې څنګه جنايت وي همغه شان يې توبه وي .

## ۳ : که حقدار ته خپل حق واپس نکړي نو قيامت کې به دده نه نيکی اخيستلې شي

دريمه مسئله داده چې که په دنيا کې د حق خاوند ته خپل حق واپس نکړي نو په آخرت کې خو به د ده سره څه مال و دولت نه وي چې هغوی ته يې ورکړي ، لهذا د ده نه به نيکی اخيستلې شي او د حق دار په عملنامه کې به جمع کولې شي .

(۱) مرقاة شرح مشکوة ج۵ ص ۱۲۲ باب الاستغفار والتوبة .

(۲) هداية ج۳ ص ۱۷۳ کتاب الرجوع عن الشهادة .

(c) ketabton.com: The Digital Library



او که دده سره نیکۍ ختمې شي او په ده د خلقو حقونه پاتې وي نو بيا به د هغوی ګناهونه راخيستلې شي او په ده باندې به بار کولې شي. (۱)

امام بخاري رحمه الله د نبي کريم صلی الله عليه وسلم دا حديث رانقل کړې چې نبي عليه السلام فرمائي:

(( مَنْ كَانَتْ لَهُ مَظْلِمَةٌ لِأَخِيهِ مِنْ عِرْضِهِ أَوْ شَيْئٍ فَلْيَتَحَلَّلْهُ مِنْهُ الْيَوْمَ قَبْلَ أَنْ لَا يَكُونَ دِينَارٌ وَلَادِرْهَمٌ إِنْ كَانَ لَهُ عَمَلٌ صَالِحٌ أُخِذَ مِنْهُ بِقَدْرِ مَظْلِمَتِهِ . وَإِنْ لَمْ يَكُنْ لَهُ حَسَنَاتٌ أُخِذَ مِنْ سَيِّئَاتِ صَاحِبِهِ فَحُمِلَ عَلَيْهِ )) . (۲)

په چا باندې چې د بل ورور مسلمان حق وي که په هغه يې ظلم کړې وي، د هغه عزت ته يې نقصان رسولې وي يا يې نور حقوق ورباندې وي نو د هغه نه دې نن ورځ معافي اوغواړي، مخکې د هغه ورځې نه په کومه ورځ چې د چاسره نه دينار وي او نه درهم. (يعنی مخکې د قيامت د ورځې نه. ځکه که نن ورنه معافي اونه غواړي نو د قيامت په ورځ خو به دده سره درهم و دينار نوي) نو که دده سره نيکي وي نو د ظلم (او حق) په مقدار به دده نه نيکي اخيستلې شي (مظلوم او حقدار ته به ورکولې شي) او که دده سره نيکي نه وي نو د مظلوم او حقدار ګناهونه به راخيستلې شي او پده باندې به بار کولې شي.

## ٤ : که صاحبِ حق وفات او يا معلوم نوي د هغې نه د توبې طريقه :

څلورمه مسئله داده: چې که صاحبِ حق پخپله وفات شوې وي نو د هغه ورثو ته به دا حق سپاري. او که ده ته دا معلومه نه وي چې دا مال ما دچانه په ناجائزه طريقې سره اخيستې دی (يعنی اصلِ مالک ورته معلوم نه وي) نو بيا به دې دغه مال صدقه کوي.

(۱) احياء العلوم ج۴ ص ۵۰ کتاب التوبة.

(۲) بخاري ابواب المظالم والقصاص باب من کانت له مظلمة عندالرجل....... ۳۳۱/۱ طبعه قديمي، کفايت المفتي ج۱ ص ۲۸۰. بارهوان باب معاصي اور توبه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



### د امام غزالي رحمه الله وينا :

امام غزالي رحمه الله ليکلي :

وَمَالَا يُعْرَفُ لَهُ مَالِكًا فَعَلَيْهِ اَنْ يَتَصَدَّقَ بِهِ . (۱)

د کوم مال چې ده ته مالِک معلوم نوي نو په ده لازم دي چې دې دا مال صدقه کړي .

## ۵ : په توبې سره حرام مال نه حلالیږي :

پنځمه مسئله داده چې په توبې سره حرام مال ( مثلا په غلا يا زِنا وغيره سره جمع شوې مال ) نه حلالیږي بلکه په توبې سره صرف د ګناه وَبال ختم شي (۲)

## ۶ : په کوچني والي کې د کړل شوې ګناه حُکم :

شپږمه مسئله داده : چې که په کوچني والي او نابالغی کې کومه ګناه شوي وي نو د هغې مؤاخذه نشته . ځکه صريح حديث موجود دی ، نبي عليه الصلوة والسلام فرمائي :

(( رُفِعَ الْقَلَمُ عَنَ ثَلٰثَةٍ : عَنِ الْمَعْتُوْهِ حَتّٰى يَفِيْقَ وَالنَّائِمِ حَتّٰى يَسْتَيْقِظَ وَالصَّبِيِّ حَتّٰى يَحْتَلِمَ )) . (۳)

ترجمه : د درې ( ۳ ) تنو څخه د مکلفيت قلم پورته کړل شوي :

۱. هغه کس چې عقل يې ګډوَډ وي ترڅو چې عقلمند شوې نه وي .
۲ . اُوده انسان ترڅو چې رابيدار شوې نه وي .
۳ . نابالغه هلک ترڅو چې بالغ شوې نه وي .

(۱) احياء العلوم ج۵ ص ۵۰ کتاب التوبة .

(۲) کفايت المفتي ج۱ ص ۲۸۴ .

(۳) ابن ماجه ابواب الطلاق باب طلاق المعتوه والصغير والنائم ص ۱۴۷ طبعه لدهيي . کفايت المفتي ج۱ ص ۲۸۵ بارهوان باب معاصي اور توبه .

(c) ketabton.com: The Digital Library



## خلاصه :

عزتمندو مسلمانانو ! انسان عاجزه او كمزورې دى ، معصوم خو صرف انبياء كرام دي نور انسانان خو معصوم نه دي . نوكه د بشريت په تقاضائې ، د شيطاني وسوسو او د نفسي خواهشاتو د غلبې په وجه ورنه گناه اوشي نو ده ته پكار دي چې دې په وخت ورنه توبه اوباسي او په همدې كې د انسان كاميابي هم ده . نبي ﷺ فرمائي :

(( كُلُّ ابْنِ آدَمَ خَطَّاءٌ وَخَيْرُ الْخَطَّائِيْنَ التَّوَّابُوْنَ )). (۱)

د هر انسان نه گناه كيږي خو بهترين په دوى كې هغه دي چې توبه اوباسي .

الله رب العزت دې مونږ ته د صحيح توبې ويستلو توفيق راكړي او بيا دې راته په دې توبه باندې د استقامت توفيق هم رانصيب كړي .

آمِيْن يَا رَبَّ الْعَالَمِيْن .

وَآخِرُ دَعْوَانَا أَنِ الْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ

وَصَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى خَيْرِ خَلْقِهٖ مُحَمَّدٍ وَّآلِهٖ وَاَصْحَابِهٖ اَجْمَعِيْن

(۱) رواه الترمذي في القيامة باب ۴۹ . وابن ماجه في الزهد باب ۳۰ والدارمي والحاكم وقال الحاكم صحيح الاسناد . مشكوة باب الاستغفار والتوبة ، الترغيب والترهيب ج۴ ص ۴٦ كتاب التوبة والزهد .

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د توبې په باره کې نور معتمد واقعات :

( **نوټ** : د توبې متعلق مې نور زړه راښکونکي او معتمد واقعات هم ذکر کړي، چې که موقع ډيره وي ، وخت زيات وي نو مقررين حضرات د دې واقعاتو نه هم استفاده کولې شي . ځکه هره واقعه داسې د عبرت نه ډکه ده چې په اوريدو يې انسان په توبه ويستلو آماده کيږي او د ګناهونو نه يې پخپله نفرت پيدا کيږي ).

## د کفل د توبې واقعه :

امام ترمذي رحمه الله په خپل کتاب کې او نورمحدثينو هم د بني اسرائيلو د يو کس (کِفل) واقعه رانقل کړې .

حضرت عبدالله بن عمر ﷺ فرمائي چې ما دا واقعه د پيغمبر عليه الصلوة والسلام نه د اووه (۷) پيرو نه زياته اوريدلې ده .

(په بعضو رواياتو کې ذکر دي چې سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ اَكْثَرَ مِنْ عِشْرِيْنَ مَرَّةً . ما دا واقعه د نبي عليه السلام نه د شلو (۲۰) پيرو نه زياته اوريدلې ده )

نبي عليه السلام فرمائي چې په بني اسرائيلو کې يو کس وُ کِفل نوم يې وُ ، د ګناهونو نه به يې ځان بالکل نه ساتلو ، نو يوه ښځه ورته راغله ( کومه چې روپو ته ډيره مجبوره وه ) نو ده ورته شپيته (۶۰) ديناره ورکړه ، خو په دې شرط چې دې به خپل حاجت ورنه پوره کوي ، هرکله چې دې د زِنا د پاره ورغې ، نو ښځه اورَپيده او په ژړا شوه . ده ورنه تپوس وکړو: ولې ژاړې ؟

هغې ورته وويل : چې دا کار (زِنا ) ما چيرته مخکې د سره کړې ندې ، خو زه اوس سخته مجبوره يم . نو د ده په زړه کې هم يَره پيدا شوه او ورته وې ويل : چې کله تا دا کار مخکې ندې کړې او اوس يې صرف د مجبورۍ نه کوې ، نو واخله دا دينار خالصه د الله ﷻ د رضا د پاره (بغير د زِنا کولو نه ) . او دې کفل قسم وکړو :

لَاوَاللهِ لَآ اَعْصِي اللهَ بَعْدَهَا اَبَدًا .

(c) ketabton.com: The Digital Library



قسم په الله ، دا دې نه پس به بیا هیڅ نافرماني اونکړم ( او په اخلاص یې توبه اوویسته ، د الله شان ګوره چې ) دې په همدغه شپه وفات شو نو سَهر یې په دروازه لیکلي وُ :

إِنَّ اللّٰهَ قَدْ غَفَرَ لِلْكِفْلِ .

بیشکه الله ﷻ کِفل ته مغفرت او بخښنه کړې . [1]

**فائده:** محترمو مسلمانانو تاسو واوریده چې کِفل کوم چې ټول عمر د الله ﷻ نافرماني کړې وه خو چې په اخلاص یې توبه اوویسته نو الله ورته معافي وکړه او ټول ګناهونه یې ورته معاف کړه .

## څلویښت ( ۴۰ ) کاله د الله ﷻ نافرماني کوونکي کس د توبې واقعه :

علامه ابن قدامة المقدسي رحمه الله په خپل کتاب ( کتاب التّوّابین ) کې یو واقعه رانقل کړې: چې د حضرت موسی علیه السلام په زمانه کې سخت قحط راغې ، خلق راجمع شو او حضرت موسی علیه السلام ته راغلل او عرض یې وکړو :

اې د الله رسوله ! ته د خپل رب نه دُعا اوغواړه چې په مونږ باندې باران را اُووَروي .

نو حضرت موسی علیه السلام د دوی سره صَحرا ته اووت ، تقریبًا اویا زره ( ۷۰۰۰۰ ) ، یا زیات خلق وو ، دُعا یې اوغوښته چې یا الله ! په مونږ باران را اُووَروې ، په مونږ خپل رحمت را اووَروې ، او د شِیر خوار بچو ، چارپیانو او بوډاګانو په وجه په مونږ خپل رحم وکړې .

مګر آسمان نور هم صفا شو او نمر نور هم تیز شو .

حضرت موسی علیه السلام الله ﷻ ته عرض وکړو چې یا الله ! که چیرته ستا په حضور کې زما مقام او مرتبه غورځیدلې وي نو دآخیرې زمانې پیغمبر نبي اُمّي محمد رّسولُ الله ﷺ په وسیله درنه دُعا غواړم چې په مونږ باران وکړه .

وحي راغله چې اې موسی ( علیه السلام ) ! زما په نزد ستا په مرتبه کې څه فرق ندې راغلې، خو په تاسو کې یو کس دی چې د څلویښتو ( ۴۰ ) کالو نه راپه دیخوا زما په نافرمانی کې مبتلاء دی او ګناهونه کوي . ته په خلقو کې اعلان وکړه چې دغه کس د تاسو نه اووځي .

(۱) رواه الترمذي وحسّنه كتاب القيامة باب ۴۸ ، وابن حبان في صحيحه ، والحاكم والبيهقي . وقال الحاكم صحيح الاسناد ، الترغيب والترهيب ج۴ ص ۵۰ كتاب التوبة والزهد حديث ۲۶ .

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځکه د هغه د وجې مې، په تاسو هم باران بند کړې . حضرت موسى عليه السلام عرض وکړو چې اې الله ﷻ ! زه خو يو کمزورې بنده يم، زما آواز هم کمزورې دى نو د او يا زرو نه زياتو خلقو ته به زما آواز څنګه اورسي ؟ الله ﷻ ورته او فرمايل : چې ته اعلان وکړه او خلقو ته رَسَول يې زما کار دى . نو حضرت موسى عليه السلام اودريده ، اعلان يې وکړو :

يَاأَيُّهَا الْعَاصِيُ ! اَلَّذِيْ لَهُ أَرْبَعُوْنَ سَنَةً يَعْصِيْ رَبَّهُ أَقْسَمْتُ عَلَيْکَ أَنْ تَخْرُجَ مِنْ بَيْنِنَا .

اې هغه ګناهګار بنده ! چې د څلويښتو کالو نه راپه ديخوا د الله ﷻ نافرماني کوى، زه تا ته قسم درکوم چې زمونږ د صفونو نه اُوځه . ځکه ستا په وجه الله ﷻ په مونږ هم باران بند کړې .

دا اعلان چې دې ګناهګار کس واوريده ، نو پاڅيده او څلور واړه طرفته يې اوکتل ، نو هيڅوک هم د صفونو نه او نه وتلو . دې پوهه شو چې دا کس همدا زه يم . خو ده په زړه کې سوچ وکړو چې که اوس زه اووځم نو په ټولو بني اسرائيلو کې به رَسوا شم ، او که نه اوځم نو زما په وجه په ټولو بني اسرائيلو باران بند دى ، نو کيناست او په سَر يې څادر واچول ، الله ﷻ ته متوجه شو او دا دُعا يې اوغوښته :

اِلٰهِيْ أَعْصَيْتُکَ أَرْبَعِيْنَ سَنَةً فَأَمْهَلْتَنِيْ . جِئْتُکَ تَائِبًا فَقَبِّلْنِيْ .

اې الله ﷻ ما څلويښت کال ستا نافرماني وکړه خو تا مهلت راکړو اوس تا ته توبه اوباسم نو ما قبول کړه ( يعنى زما توبه قبوله کړه ) . ده لا دا خبره پوره کړې هم نوه چې يوه سپينه وريځ راغله او دومره ډير باران ورنه اوشو ګويا چې د مشکيزې خُوله چا کلاؤ کړې .

حضرت موسى عليه السلام الله ﷻ ته عرض وکړو چې يا الله ! تر اوسه خو لا څوک د صفونو نه اوتې هم ندې نو تا څنګه په مونږ باران وکړو ؟ الله ﷻ ورته او فرمايل: اى موسى !

سَقَيْتُکُمْ بِاَلَّذِيْ بِهِ مَنَعْتُکُمْ .

د کوم کس په وجه مې چې درباندې باران بند کړې ؤ اوس مې د همغه په وجه درباندې باران اُوورُول ( ځکه هغه را ته توبه اوويسته ) . حضرت موسى عليه السلام الله جل جلاله ته عرض وکړو چې يا الله ! دغه بنده خو ماته اوښايه ( چې زه يې اوګورم چې دا څوک دى ؟)

(c) ketabton.com: The Digital Library



الله جل جلاله ورته او فرمايل :

مَا فَضَحْتُهُ حَالَ مَعْصِيَتِهِ فَكَيْفَ اَفْضِحُهُ وَقَدْ تَابَ ؟

کله چې ده زما نافرماني کوله هلته ما ندې رَسوا کړې ، نو چې اوس يې توبه اوويسته ( او فرمانبردار جوړ شو ) نو څنګه يې رَسوا کړم . (۱)

**فائده** : محترمو مسلمانانو ورونړو ! تاسو واوريده چې کوم کس څلويښت کاله د الله جل جلاله نافرماني کړې وه خو چې په اخلاص يې توبه اوويسته نو الله جل جلاله يې متصل توبه قبوله کړه اوبيايې دده پَرده هم اوساتله ، چې په خلقو کې رَسوا نشي .

## دشرابو په سَرکه باندې د بدليدلو واقعه :

يو ورځ حضرت عمر رضی الله د مدينې منوّرې په يوه کوڅه کې روان ؤ ، نو يو ځوان ورته مخې ته راغې چې د جامو د لاندې يې پټ څه شي په لاس کې نيولې ؤ ، حضرت عمر رضی الله عنه ورته تپوس وکړو : اې ځوانه ! ددې کپړو د لاندې دې څه شي په لاس کې پټ نيولي ؟

دده سره په بوتل کې شراب ؤ ، خو ده ته حياء ورغله چې حضرت عمر رضی الله عنه ته ووايي چې دا شراب دي ، بل يې په زړه کې د حضرت عمر رضي الله عنه نه يَره هم وه چې هسې نه جزاء راکړي .

نو زړه کې سخت خفه شو او الله جل جلاله ته يې سوال وکړو چې يا الله ! که تا اوس زما پَرده اوساتله او زه دې د رسوايي نه بچ کړم نو زما توبه ده ، زه به بيا هيڅکله شراب اونه څکم .

نو حضرت عمر رضي الله عنه ته يې جواب ورکړو چې اې اميرالمؤمنين ! دا سَرکه ده . هغه ورته ووېل: ته او ښايه چې زه يې اوګورم . ده چې ورته اوخوده نو يقيني الله جل جلاله دا شراب په سَرکه بدل کړي وو . (۱)

**فائده** : قدرمنو ! تاسو واوريده چې دې ځوان په اخلاص توبه وويسته نو الله جل جلاله يې پَرده هم خَوَندي کړه او دده خبره يې هم دروغ نکړه بلکه شراب يې ورله په سَرکه بدل کړه .

---

(۱) کتاب التوّابين لابن قدامة المقدسي ص ۷۳ ، کرامات اولياء ، لنزهة البساتين .

(۲) درّة الناصحين ص ۳۲۴ .

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د يو کفن کش د توبې قبليدلو واقعه :

فقيه ابو الليث ثمرقندي رحمه الله په خپل کتاب ( تنبيه الغافلين ) کې د عبرت نه ډکه يوه واقعه رانقل کړې ده : چې يو ورځ حضرت عمر ﷺ د نبي کريم صلى الله عليه وسلم دربار ته حاضر شو نو ژړل يې . نبي عليه السلام ورنه پوښتنه وکړه :

مَايُبْكِيْكَ يَا عُمَرُ ؟ اې عمر ! تا څه شی ژړوي ؟ (يعنی ولې ژاړې ؟ )

جواب يې ورکړو چې اې د الله ﷻ رسوله ! چې راتلم نو په دروازه کې مې يو ځوان اوليدو چې د يو ګناه په وجه يې ډير زيات ژړل . د هغې په وجه ماله هم ژړا راغله .

نبي عليه السلام ورته اوفرمايل چې ورشه دننه يې راوله . کله چې هغه ځوان دننه راغې نو نبي ﷺ ورنه تپوس وکړو : مَايُبْكِيْكَ يَا شَابُّ ؟ اې ځوانه ! څه له ژاړې ؟

هغه جواب ورکړو چې ډير ګناهونه مې کړي دي او د هغه جبّار ذات ( الله ﷻ ) نه ويريږم (چې سخته سزا به راکړي ) .نبي عليه السلام ورنه پوښتنه وکړه :

أَشْرَكْتَ بِاللهِ يَا شَابُّ ؟ اې ځوانه د الله ﷻ سره دې شرک کړې ؟ هغه ويل نه .

بيا يې ورنه تپوس وکړو : أَقَتَلْتَ نَفْسًا بِغَيْرِ حَقٍّ ؟ آيا په ناحقه دې څوک وژلي دی ؟

هغه ويل : نه . نبي عليه السلام ورته اوفرمايل :

فَإِنَّ اللهَ يَغْفِرُ ذَنْبَكَ وَلَوْكَانَ مِثْلَ السَّمٰوٰاتِ السَّبْعِ وَالْأَرَضِيْنَ السَّبْعِ وَالْجِبَالِ الرَّوَاسِي .

که چيرته ستا ګناهونه د اوو (۷) آسمانونو ، اوو (۷) زمکو او د دې مضبوطو غرونو برابروي نو هم الله ﷻ يې معاف کوي .

هغه ورته وويل : اې د الله رسوله ! زما ګناه د دينه هم لويه ده . نبي ﷺ ورته اوفرمايل :

ذَنْبُكَ أَعْظَمُ أَمِ الْكُرْسِيُّ ؟ ستا ګناه لويه ده يا کرسي ؟ هغه جواب ورکړو : زما ګناه .

بيا ورته نبي ﷺ اوفرمايل : ذَنْبُكَ أَعْظَمُ أَمِ الْعَرْشُ ؟ ستا ګناه لويه ده يا عرش ؟

هغه ويل : زما ګناه . بيا ورنه نبي ﷺ پوښتنه وکړه : ذَنْبُكَ أَعْظَمُ أَمِ إِلٰهُكَ ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستا ګناه لویه ده او که الله ﷻ ؟ (یعنی د هغه عفوه ؟) هغه وویل : الله ﷻ خو ډیر لوي او اعظم دی . (د هغه عفوه او بخښنه ډیره لویه ده) . نبي ﷺ ورته او فرمایل :

فَإِنَّهُ لَا يَغْفِرُ الذَّنْبَ الْعَظِيمَ إِلَّا اللهُ . چې دا لوي لوي ګناهونه خو صرف همغه ذات بخښي .

خو اې ځوانه ! دا راته اووایه چې هغه کومه ګناه تا کړې ؟ (چې تا ته د ومره غټه معلومیږي)

هغه ورته وویل : اې د الله ﷻ رسوله ! د تا نه حیاء راځي (نه یې شم درته ویلی) . نبي علیه السلام بیا ورته او فرمایل : چې خیر دې اُووایه ، څه ګناه دې کړې ؟ هغه ورته شروع شو :

اې د الله رسوله ﷺ ! زه کفن کش یم ، د اوو (۷) کالونه راپه دیخوا د مړو نه کفنونه اوباسم (او بیا یې خرڅوم) . یو څو ورځې مخکې د انصارو یو جینۍ وفات شوه ، چې کله د شپې زه د کفن ویستلو دپاره ورغلم او کفن مې ورنه را اوویست ، راروان شوم ، چې څه اندازه راغلم نو شیطان را باندې غلبه وکړه ، دوباره ورغلم او د هغه جینۍ سره مې زِنا هم وکړه . چې کله ورنه راروان شوم ، نو هغه جینۍ راپسې آواز وکړو :

وَيْلَكَ يَا شَابُّ أَمَا تَسْتَحْيِيْ مِنْ دَيَّانِ يَوْمِ الدِّيْنِ يَضَعُ كُرْسِيَّهُ لِلْقَضَاءِ وَيَأْخُذُ لِلْمَظْلُوْمِ مِنَ الظَّالِمِ ، تَرَكْتَنِيْ عُرْيَانَةً فِيْ عَسْكَرِ الْمَوْتَى وَأَوْقَفْتَنِيْ جُنُبًا بَيْنَ يَدَيِ اللهِ عَزَّ وَجَلَّ .

افسوس دی په تا باندې اې ځوانه ! آیا تا ته د قیامت د هغه ورځې نه حیاء نه درځي ؟ په کومه ورځ چې به الله ﷻ د فیصلې دپاره کرسۍ اولږوي ، د ظالم نه به د مظلوم دپاره حق اخلي ، تا خو زه د مړو په ډله کې بربنده پریښودم ، او په دې دې مجبوره کړم چې د قیامت په ورځ د الله ﷻ په دربار کې د جُنابت په حالت کې اودریږم .

کله چې نبي ﷺ دا خبرې واوریدې نو ډیر غصه شو او دې ځوان ته یې او فرمایل :

چې اې فاسقه ! اُوځه د مانه . نو دا ځوان را اووت ، او یو غره طرفته لاړ ، هلته یې په اخلاص توبه اوویسته ، او څلویښت ورځې یې الله ﷻ ته سوال و زاري وکړې ، کله چې څلویښتمه ورځ شوه نو دې ځوان سَر آسمان طرفته اوچت کړو او دا دُعا یې وکړه :

اې د آدم او حوا بي بي ربه ! که چیرته تا زما توبه قبوله کړې وي نو د دې خبر پیغمبر علیه السلام او د ده ملګرو (صحابه کرامو) ته ورکړه ، او که نه دې وي قبوله کړې نو بیا د آسمان نه اُور را نازِل کړه ، ما پرې دلته اُوسوزوه ، خو د آخرت د اُور نه را ته نجات را کړه .

(c) ketabton.com: The Digital Library



بل طرفته حضرت جبريل عليه السلام نبي کريم صلى الله عليه وسلم ته راغلو ، سلام يې واچول ، او عرض يې وکړو چې اې د الله رسوله ! په تاسو باندې الله جل جلاله سلام وايي . نبي عليه السلام د سلام ښکلې جواب ورکړو .

بيا حضرت جبريل عليه السلام عرض وکړو : اې د الله رسوله ! الله جل جلاله فرمائي :

اَنْتَ خَلَقْتَ الْخَلْقَ ؟ آيا دا مخلوق تاسو پيدا کړې ؟ نبي عليه السلام جواب ورکړو چې نه . بلکه الله جل جلاله زه هم پيدا کړې يم ، او دا مخلوق يې هم پيدا کړې .

حضرت جبريل عليه السلام دوباره اوفرمايل چې الله جل جلاله تپوس کوي : اَنْتَ تَرْزُقُهُمْ ؟ آيا دې مخلوق ته تاسو رزق ورکوئ ؟ نبي عليه السلام جواب ورکړو چې نه . بلکه الله جل جلاله ماته او دې ټول مخلوق ته رزق ورکوي .

حضرت جبريل عليه السلام په دريم ځل عرض وکړو چې الله جل جلاله پوښتنه کوي : اَنْتَ تَتُوْبُ عَلَيْهِمْ ؟ آيا تاسو ددې مخلوق توبه قبلوئ ؟ نبي عليه السلام جواب ورکړو چې نه . بلکه الله جل جلاله زما او ددې ټول مخلوق توبه قبلوي .

آخير کې جبريل عليه السلام عرض وکړو : چې الله جل جلاله فرمائي :

تُبْ عَلَى عَبْدِيْ فَاِنِّيْ تُبْتُ عَلَيْهِ .

ته زما دابنده معاف کړه ځکه ما دده توبه قبوله کړه . ( ځکه ده ماته ډيرې زارۍ وکړې او په اخلاص يې توبه اوويسته ) . نبي کريم صلى الله عليه وسلم هغه ځوان را اُوغوښت او زيرې يې ورکړو چې الله جل جلاله ستا توبه قبوله کړه .

**فائده** : محترمو مسلمانانو تاسو ديته سوچ اوکړئ چې ددې ځوان نه څومره غټه ګناه شوې وه خو چې په اخلاص يې توبه وويسته ، او الله جل جلاله طرفته متوجه شو نو الله جل جلاله يې توبه قبوله کړه . (۱)

(۱) تنبيه الغافلين باب التوبة ص ۴۸ ط. دارالفکر بيروت .

(c) ketabton.com: The Digital Library



# په توبه کوونکي ځوان باندې د وريځې د سورې واقعه :

د حضرت عبدالله بن مبارک رحمه الله په باره کې ذکر دي چې دده په زړه کې د يوې ښځې سره ډېر محبت ؤ ، يو ځل يې ټوله شپه د هغې په انتظار کې تيره کړه ، خو هغه رانغله ، آخر د صبا آذان اوشو ، ده د ځان سره سوچ وکړو چې صرف د يوې ښځې د پاره مې ټوله شپه ويخه تيره کړه او ملاقات هم اونشو ، که چيرته د الله ﷻ په عبادت کې مې ټوله شپه ويخه تيره کړې وې نو الله ﷻ به را باندې څومره رحم کړې وی ، او څومره اَجر به يې راکړې وې .

نو يَخه توبه يې اوويسته ، او د عِلم حاصلولو دپاره د علماو يوې علاقې طرفته روان شو ، چې کله د ښهر نه بهر اُووَت ، سخته ګرمي وه ، په لاره کې ورسره يو بزرګ هم ملګرې شو ، دواړه د علماو علاقې طرفته روان وو ، د الله ﷻ شان ګوره چې په دې سخته ګرمۍ کې د دوی دپاسه وريځ روانه وه ، او سورې يې ورباندې کړې ؤ ، حضرت عبدالله بن مبارک دا سوچ کولو چې دې وريځ د دې بزرګ په وجه په مونږ سورې کړې ، او دې بزرګ هم همدا ګمان کولو چې دا په ما باندې د الله ﷻ خصوصي رحمت دی .

خو چې کله دواړه هغه علاقې ته اورسيده ، نو دواړه جدا شو ، او خپل خپل مقصدي ځاي طرفته روان شو ، نو دا وريځ د عبدالله بن مبارک رحمه الله په سَر روانه شوه ، دې بزرګ چې دا اوليده نو ډېر حيران شو او رامنډه يې کړې ، دده نه يې پوښتنه وکړه : چې ستا دې په الله ﷻ قَسَم وي ريشتيا راته اووايه چې تا کوم عمل کړې چې د هغې په وجه ستا په سَر باندې وريځ روانه ده او د ګرمۍ نه يې بچ اوساتلې ؟

د حضرت عبدالله بن مبارک رحمه الله په سترګو کې اُوخکې راغلې او وې ويل چې ما خو د يو ګناه نه توبه اوويسته ، او د عِلم حاصلولو دپاره مې د دې علماو د علاقې نيت راکړې . خو زما پروردګار دومره غفور ورحيم او قدردَان ذات دی چې هغه په دُنيا کې زما دپاره د ګرمۍ نه د بچ کيدو دپاره انتظام وکړو ، زه اميد لرم چې په آخرت کې به مې هم د جهنم د اُور نه حفاظت کوي [1]

(۱) اهل دل کے تڑپا دینے والے واقعات ج ۲ ص ۱۵۵ .

(c) ketabton.com: The Digital Library



**فائده** : قدرمنو مسلمانانو ! تاسو واوريده چې الله ﷻ د انسان د توبې څومره قدرداني کوونکې دی چې يو کس د ګناه نه په اخلاص توبه او ويسته نو د دنيا د نمر د ګرمائش نه يې ورله حفاظت وکړو ، نو د جهنم په اُور به يې څنګه او سوزوي ؟

## د قارون په واقعه کې عبرت :

علامه جلال الدين سيوطي رحمه الله په خپل تفسير (اَلدّرّالمنثور في التّفسير بالماثور) ، او علامه جارالله زمحشري رحمه الله په خپل تفسير (تفسير کشاف) کې د آيت :

﴿ فَخَسَفْنَا بِهِ وَبِدَارِهِ الْأَرْضَ ﴾(۱) دلاندې د قارون تفصيلي واقعه رانقل کړې، چې پکې د مسلمانانو دپاره ډير لوي عبرت او نصيحت پروت دی . زه به يې درته څه خلاصه بيان کړم :

قارون د حضرت موسی ؑ د تره ځوي ؤ ، ډير مال و دولت ورسره ؤ ، او د دې مال په نشه کې ډير مست ؤ . خو د دې دومره ډير مال و دولت باوجود بيا هم ډير حريص ؤ ، او هر وخت به يې حضرت موسی ؑ ته د ضرر رسولو کوشش کولو . کله چې د زکوة حکم راغې ، نو هم ده انکار وکړو ،او قوم ته يې وويل چې موسی ؑ د تاسو نه صرف په چَل کې مال اخلي .

ملګرو ورته وويل چې ته زمونږ مشر يې ، ته چې څه حکم کوې مونږ يې منو . قارون وويل چې زه به يوه زِناکاره ښځه د مال و دولت په زُور پدې راضي کړم چې په حضرت موسی ؑ باندې د زِنا تهمت اولږوي . (نو په خلقو کې به بدنام شي ، خلق به بيا د ده خبرو ته غوږ نه ږدي)

نو ده د يوې زِنا کاره ښځې سره خبره وکړه چې کله د اختر په ورځ حضرت موسی ؑ د تورات احکامات بيانوي نو ته به پرې تهمت اولږوې . هغې وويل چې صحيح ده .

کله چې د اختر ورځ شوه ، او حضرت موسی ؑ خپل قوم ته د تورات احکامات بيانول شروع کړه : چې اې بني اسرائيلو ! که چا غلا وکړه نو مونږ به يې لاس پريکوو.... که چا زِنا وکړه او شادي شده کس ؤ نو مونږ به يې رَجَم کوو . نو په دې کې قارون راپاڅيده او وې ويل : که دا کار تا وکړو نو بيا ؟ حضرت موسی ؑ ورته اوفرمايل چې زما هم همدا حکم دی .

---

(۱) القصص آيت ۸۱ ،

قارون وويل چې بعضې خلق دا ګمان کوي چې تا دا کار د فلانکۍ ښځې سره کړې دی. کله چې هغه ښځه راوستې شوه، حضرت موسی ﷺ ورته قَسَم ورکړو چې ريښتيا وواېه، او صحيح خبره بيان کړه. هغې اقرار وکړو چې ماته قارون دومره دومره مال و دولت راکړې دی چې ته په حضرت موسی عليه السلام باندې تهمت اولږوه، خو زه دا ګواهي ورکوم چې ته پاک يې او د الله ﷻ رسول يې.

حضرت موسی ﷺ په سجده پرېوت او الله ﷻ ته په ژړا شو. الله ﷻ ورته وحي وکړه:

مُرِ الْاَرْضَ بِمَا شِئْتَ فَاِنَّهَا مُطِيْعَةٌ لَکَ.

اې موسی! زمکې ته حکم وکړه چې څه ستا خوښه وي، زمکه به ستا تابعداري کوي.

نو حضرت موسی ﷺ زمکې ته حکم وکړو:

يَا اَرْضُ خُذِيْهِمْ. اې زمکې دې او دده ملګري اونيسه.

نو زمکې ټول لاندې راښکل، تر دې چې د زنګنونو پورې ډوب شو.

قارون او دده ملګرو حضرت موسی ﷺ ته سوال او زاري شروع کړې، چې مونږ معاف کړه، او قَسَمُونه يې کول چې بيا به هيڅکله داسې نه کوو. خو حضرت موسی ﷺ معاف نکړه.

حضرت موسی عليه السلام په دويمه پېره زمکې ته حکم وکړو:

خُذِيْهِمْ. دوی ټول اونيسه (راېې کاږه) نو زمکې تر نيمايي بدن پورې راښکوده. دوی بيا سوال او زاري شروع کړې. خو حضرت موسی ﷺ معاف نکړه. ځکه دې ډير غصه ؤ.

په دريمه پېره حضرت موسی ﷺ زمکې ته حکم وکړو: خُذِيْهِمْ. دوی ټول اونيسه. نو زمکې ټول ډوب کړه.

د دوی د غرقيدلو نه روستو الله ﷻ حضرت موسی ﷺ ته وحي را اوليږله چې:

يَا مُوْسٰی مَا اَفَظَّکَ اِسْتَغَاثُوْا بِکَ مِرَارًا فَلَمْ تَرْحَمْهُمْ اَمَا وَعِزَّتِيْ لَوْ اِيَّايَ دَعَوْا مَرَّةً وَاحِدَةً لَوَجَدُوْنِيْ قَرِيْبًا مُّجِيْبًا. (١)

(١) تفسير کشاف ج٣ ص ٤٣٧ القصص آيت ٨١، الدّرّالمنثور فی التفسير بالماثور ج٦ ص ٣٨٦، تفسير مدارک ج٢ ص ٢٧٧ القصص آيت ٨١.

(c) ketabton.com: The Digital Library



اې موسی ! دا ستا څومره سخت زړه دی چې قارون او دده ملګرو درته څومره زاری . وکړې خو تا پرې رحم اونکړو ( اومعاف دې نکړه ) . زما دې په خپل عزت قسم وي که چیرته دوی صرف یو پیره ماته آواز کړې وې او د مانه یې مدد غوښتې وې نو دوی به زه توبه قبلوونکې موندلې وی ( یعنی مابه معاف کړي وو ) .

**فائده**: محترمو مسلمانانو تاسو دالله ﷻ دې دومره لوی رحم و کَرم ته اوګورئ چې هغه قارون چې هر وخت به یې حضرت موسی ﷺ ته ضرر رسولو ، د زکوة نه یې انکار کړې ؤ ، حتی چې په حضرت موسی ﷺ باندې یې د تهمت لږولو جُراءت هم کړې ؤ خو الله ﷻ حضرت موسی ﷺ ته فرمایي : که دې قارون او دده ملګرو ستا په ځای د مانه معافي غوښتې وې او ماته یې زاري کړې وې نو ما به معاف کړي وو .

نو اوس تاسو ووایې چې یو کس مسلمان وي ، او د پیغمبر علیه السلام امّتي وي او دده نه څه نافرماني اوشي او دې په اخلاص باندې الله ﷻ ته توبه اوباسي نو آیا الله ﷻ به دده توبه نه قبلوي ؟ بلکه قبلوي به یې . الله جل جلاله فرمائي :

﴿ وَهُوَ الَّذِيْ يَقْبَلُ التَّوْبَةَ عَنْ عِبَادِهٖ وَيَعْفُوْ عَنِ السَّيِّئَاتِ ﴾ (١)

ترجمه : الله ﷻ هغه ذات دی چې د خپلو بندګانو توبه قبلوي او ګناهونه ورته معاف کوي .

بل ځای الله ﷻ فرمائي :

﴿ وَإِنِّيْ لَغَفَّارٌ لِّمَنْ تَابَ ﴾ (٢)

بیشکه زه ډیر بخښونکې یم هغه چا لره چې هغه توبه اوباسي .

## د یو شرابي د توبې واقعه :

یو پیره حضرت سفیان ثوري رحمه الله اُوده ؤ ، په خوب کې یې د یو بزرګ سره ملاقات اوشو ، هغه ورته وویل چې اې سفیان ! پاڅه . ستا ګاونډي وفات شوې دی ، د هغه جنازه تیاره ده ، هغه وکړه . سفیان ثوري رحمه الله چې راپاڅیده نو حیران ؤ چې زما ګاونډي خو شرابي او ګناهګار دی نو څنګه ماته حکم اوشو چې دده جنازه وکړه ؟

---

(١) الشوری آیت ٢٥ .

(٢) طه آیت ٨٢ .

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو بيايې سوچ وکړو چې راشه هلته ورشه ، معلومات خوبه او کړې . نو چې هلته ورغې د کلي واله وُ نه يې پوښتنه وکړه چې دې په څه حال کې وفات شوې وُ ؟ هغوى ورته وويل چې دا خو يو ګناهګار شرابي کس وُ ، خو د مرګ نه مخکې ده الله ﷻ ته په اخلاص توبه او ويسته ، او د الله ﷻ د وړاندې يې ژړا او زاري وکړې او دا دُعا يې وکړه چې اې د دُنيا او آخرت مالکه ! د ماسره خو هيڅ نيک اعمال نشته په ما باندې خپل رحم وکړه .

سفيان ثوري رحمه الله پوهه شو چې الله ﷻ د ده توبه قبوله کړې ، او ګناهونه يې ورته معاف کړي . نو ځکه ماته د ده د جنازې حکم وکړې شو .[1]

## واقعه : په معافي غوښتلو سره په هماغه ځاي ګناه معاف کيدل :

حضرت جابر رضی الله عنه فرمايي چې يو ځوان د نبي کريم صلی الله عليه وسلم دَربار ته حاضر شو ، او دوه (٢) يا درې (٣) پيرې يې دا کلمات وويل :

وَاذُنُوْبَاه ، وَاذُنُوْبَاه ، وَاذُنُوْبَاه . هائې زما ګناهونو (درې پيرې يې دا کلمات وويل)

نبي عليه السلام ورته او فرمايل چې داسې او وايه :

اَللّٰهُمَّ مَغْفِرَتُکَ اَوْسَعُ مِنْ ذُنُوْبِيْ وَرَحْمَتُکَ اَرْجیٰ عِنْدِيْ مِنْ عَمَلِيْ .

اې الله ستا مغفرت زما د ګناهونو نه زيات وسيع (او فراخه) دی ، او د خپلو اعمالو په نسبت ستا د رحمت ماته ډير اميد دی (نو زما مغفرت وکړه او په ما خپل رحم وکړه)

نو هغه نوجوان دا کلمات وويل . نبي عليه السلام ورته او فرمايل :

عُدْ . دوباره يې ووايه . هغه دوباره وويل . بيا ورته نبي ﷺ په دريمه پيره او فرمايل :

عُدْ . بيا يې ووايه . نو هغه بيا وويل . آخر کې نبي ﷺ ورته او فرمايل :

قُمْ فَقَدْ غَفَرَ اللهُ لَکَ . اې ځوانه پاځه . الله جل جلاله درته ګناهونه معاف کړه .

**فائده** : محترمو ځومره د خوشخبرۍ زيرې دی چې صرف په درې پيرې مذکوره کلماتو

---

(١) اهل دِل کے تڑپا دینے والے واقعات ج۴ ص ۱۰۹ .

(c) ketabton.com: The Digital Library



ويلو سره ورته الله ﷻ ټول ګناهونه معاف کړه . نو مونږ ته هم پکار دي چې د الله ﷻ نه د خپلو ګناهونو د بخلو سوال وکړو . (۱)

## د زاذان سندر غاړي د توبې واقعه :

ملا علي قاري رحمه الله په مرقاة شرحه د مشکوة کې د شيخ عبد القادر جيلاني رحمه الله په حواله يو واقعه ذکر کړې ده : چې حضرت عبد الله بن مسعود رضی الله عنهما يو ورځ د کوفې په اطرافو کې تيريده نو څه فاسقان په يو کور کې راجمع شوي وو ، شراب يې څکل . په دوی کې يو کس سندر غاړې ( سندرې ويونکې ) زاذان هم ؤ ، چې رَباب به يې وهلو او ورسره به يې سندرې هم ويلې .

کله چې حضرت عبد الله بن مسعود رضی الله عنهما دده آواز واوريده نو وې ويل :

مَا اَحْسَنَ هٰذَا الصَّوْتُ . لَوْكَانَ بِقَرَاءَةِ كِتَابِ اللهِ تَعَالٰى كَانَ اَحْسَن .

څه ښه دی دا آواز کاش چې ده ورباندې د الله ﷻ د کتاب ( قرآن ) تلاوت کولې نو ډير به ښه وو . ابن مسعود رضی الله عنه په سَر باندې څادر واچول او روان شو . زاذان دده خبرې واوريدې پوښتنه يې وکړه دا څوک ؤ ؟ او څه يې ويلې ؟ خلقو ورته وويل چې : دا حضرت عبد الله بن مسعود رضی الله عنهما د رسول الله ﷺ صحابي ؤ ، او ويل يې : چې څومره ښه آواز دی ، خو کاش چې ده ورباندې د قرآن مجيد تلاوت کولې . نو د زاذان په زړه کې يَره پيدا شوه ، راپاڅيد ، خپله شپيلۍ يې ماته کړه ، او په منډه يې د حضرت عبد الله بن مسعود رضی الله عنهما پسې ځان اورسول .

زاذان په غاړه کې خپل دَسمال ( رُومال ) اچولې ؤ ، او د ابن مسعود رضی الله عنهما مخې ته په ژړا شو . ابن مسعود رضی الله عنهما غاړه ورکړه او دواړه په ژړا شو ، بيا حضرت عبد الله بن مسعود رضی الله عنه او فرمايل:

كَيْفَ لَآ اُحِبُّ مَنْ اَحَبَّ اللهُ .

زه څنګه د هغه کس سره محبت اونکړم چا سره چې الله ﷻ محبت کوي . ( يعنی چې څنګه دده سره اوس الله ﷻ محبت کوي نو زه هم ورسره محبت کوم )

(۱) خطبات فقير ج ۳۲ ص ۷۳ .

(c) ketabton.com: The Digital Library



نو زاذان په اخلاص توبه اوويسته ، او د حضرت عبدالله ابن مسعود رضی الله عنهما سره ملګرې شو ، هميشه به دده سره ؤ ، قرآن کريم يې هم ياد کړو ، او ډير عِلم يې هم ورنه زده کړو ، بلکه د عِلم امام شو ، تردې چې ډيرو رواياتو کې راځي :

عَنْ زَاذَان عَنْ عَبْدِاللّٰهِ بْنِ مَسْعُوْدٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا.....

چې دا روايت د زاذان نه نقل دی ، هغه د حضرت عبدالله بن مسعود رضی الله عنهما نه نقل کړې ...... (۱)

(۱) مرقاة شرح مشکوة ج۵ ص ۹ . ط . مکتبه امداديه ملتان ، تنبيه الغافلين باب آخر من التوبة ص ۵۵ ط . دارالفکر بيروت .

۷۵

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

﴿إِنَّ رَحۡمَتَ اللّٰهِ قَرِيۡبٌ مِّنَ الۡمُحۡسِنِيۡنَ﴾. الاعراف آيت ٥٦.

﴿ وَرَحۡمَتِيۡ وَسِعَتۡ كُلَّ شَيۡءٍ ﴾ . الاعراف آيت ١٥٦.

# د الله جل جلاله رحمت او مهرباني

تالیف :


ابو الشمس مولانا نور الهدی عُفِيَ عَنۡهُ

مُدَرِّس دار العلوم فیض القرآن اکاخیل کالونی مردان

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د اَبان بن ابي عياش رحمه الله د مغفرت سبب :

امام غزالي رحمه الله په احياء العلوم کې ذکر کړي دي : چې ابان بن ابي عياش يو عالم ؤ ، خلقو ته به يې د الله جل جلاله د رحمت او د الله ﷻ نه د ښه اميد ساتلو ډير ذکر کولو ، کله چې دې وفات شو ، نو چا په خوب کې وليد پوښتنه يې ترې وکړه :

چې الله ﷻ درسره څه معامله وکړه ؟ ده ورته په جواب کې وويل چې کله زه د الله ﷻ حضور ته پيش شوم ، نو الله ﷻ رانه پوښتنه وکړه :

مَا الَّذِيْ حَمَلَکَ عَلٰی ذٰلِکَ ؟

په تا باندې څه شی باعث ؤ ، چې خلقو ته دې زما د رحمت او د مانه د ښه اميد تذکره زياته کوله ؟

ما ورته جواب ورکړو :

اَرَدْتُ اَنْ اُحَبِّبَکَ إلٰی خَلْقِکَ .

اې الله ! زما خو اراده دا وه چې زه تا خلقو ته محبوب کړم ، او د خلقو په زړونو کې ستا محبت واچوم ( بيا به ستا عبادت پخپله کوي ، او د ګناهونو نه به هم ځان ساتي ) .

نو الله ﷻ راته او فرمايل :

قَدْ غَفَرْتُ لَکَ . (۱)

( اى ابان بن ابي عياش ! چې کله ستا اراده داوه نو ) ما ستا بخښنه وکړه .

---

(۱) احياء العلوم ج۴ ص ۱۹۳ کتاب الخوف والرجاء .

(c) ketabton.com: The Digital Library



بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

# د الله جل جلاله رحمت او مهرباني

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ وَحْدَهُ ، وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى مَنْ لَّا نَبِيَّ بَعْدَهُ ، وَلَارَسُوْلَ بَعْدَهُ ، وَهُوَ خَاتَمُ النَّبِيِّيْنَ ، وَعَلٰى آلِهٖ وَاَصْحَابِهٖ اَجْمَعِيْنَ ، وَعَلٰى مَنْ تَبِعَهُ وَتَبِعَهُمْ بِإِحْسَانٍ إِلٰى يَوْمِ الدِّيْنِ .

اَمَّا بَعْدُ فَأَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ . قَالَ اللّٰهُ تَبَارَكَ وَتَعَالٰى فِي الْقُرْآنِ الْمَجِيْدِ وَالْفُرْقَانِ الْحَمِيْدِ : ﴿إِنَّ رَحْمَتَ اللّٰهِ قَرِيْبٌ مِّنَ الْمُحْسِنِيْنَ﴾ . (۱)

وَقَالَ فِيْ مَوْضِعٍ آخَر ﴿ وَرَحْمَتِيْ وَسِعَتْ كُلَّ شَيْءٍ ﴾ (۲)

(( وَقَالَ النَّبِيُّ ﷺ : قَالَ اللّٰهُ عَزَّوَجَلَّ : اَنَا عِنْدَ ظَنِّ عَبْدِيْ بِيْ وَاَنَا مَعَهُ حَيْثُ يَذْكُرُنِيْ )) . (۳)

صَدَقَ اللّٰهُ الْعَظِيْمُ .

زما خوږو قدرمنو او عزت مندو مسلمانانو ورونو ! الله رب العزت په خپل بنده باندې ډير زيات مهربانه دی ، تر دې چې يو حديث شريف کې راځي :

چې الله ﷻ د خپل بنده سره د اويا (۷۰) مورانو نه هم زيات محبت کوي .

قدرمنو ! تاسو ديته سوچ وکړئ چې يو مور د خپل بچي سره څومره زيات محبت کوي :

په خپله نه خوراک نه کوي خو بچي ته يې ورکوي ، په خپله په لمده بستره څملي خو بچي په اوچه بستره څملوي ، او چې بچې يې مريض شي نو څو څو شپې ورسره ويښې هم تيروي ، تر هغې يې زړه قرار نه مومي تر څو يې چې دا بچې روغ شوی نه وي .

نو چې کله يو مور د بچي سره دومره محبت کوي ، نو الله ﷻ خو د خپل بنده سره د اويا (۷۰) مورانو نه هم زيات محبت کوي ( او رحمتونه پرې راوروي ) .

---

(۱) الاعراف آيت ۵۶.

(۲) الاعراف آيت ۱۵۶.

(۳) اخرجه البخاري في التوحيد باب ۱۵ ، ۳۵ . ومسلم في التوبة حديث ۱ ، والذكر حديث ۲ و ۱۹ . الترغيب والترهيب ج۴ ص ۳۵ باب الترغيب في الرجاء وحسن الظن بالله عزّ وجل .

(c) ketabton.com: The Digital Library



رحمت په وجه مخلوقات په يو بل مهرباني (مينه) كوي، په يو بل رحم كوي، او د همدغه يو رحمت په وجه وحشي حيوان په خپل بچي باندې رحم (مينه) كوي.

او الله ﷻ دا يو كم سل (۹۹) رحمتونه د قيامت ورځې ته مؤخر كړي (ساتلي)، چې بيا به په خپلو خاصو بندګانو باندې ددې په ذريعه رحم كوي (او دا پوره سل (۱۰۰) واړه رحمتونه به د خاص مؤمنانو بندګانو د پاره وي).

## د الله ﷻ رحمت په دنيا كې هر شي ته عام دى :

الله جل جلاله فرمائي :

﴿ وَرَحْمَتِي وَسِعَتْ كُلَّ شَيْءٍ ﴾ (۱)

ترجمه : زما عام دى هر شي ته (په دنيا كې (۲))

حافظ جلال الدين سيوطي رحمه الله په خپل تفسير [الدرّ المنثور في التفسير بالماثور] كې ددې آيت د لاندې ليكلي :

حضرت ابن عباس رضي الله عنهما فرمائي : چې كله دا آيت ﴿ وَرَحْمَتِي وَسِعَتْ كُلَّ شَيْءٍ ﴾ نازل شو، نو ابليس وويل : أَنَا مِنَ الشَّيْءِ زه هم په شيانو كې يو شي يم نو ماته به هم (په آخرت كې) د الله ﷻ رحمت رسيږي.

نو چې كله الله جل جلاله او فرمايل :

﴿ فَسَأَكْتُبُهَا لِلَّذِينَ يَتَّقُونَ وَيُؤْتُونَ الزَّكَاةَ وَالَّذِينَ هُمْ بِآيَاتِنَا يُؤْمِنُونَ ﴾ (۳)

ترجمه : پس ډير زر به زه دا رحمت اوليكم (خاص كړم) د هغه خلقو د پاره چې پرهيزګاري كوي (په دُنيا كې) زكوة وركوي، او هغه خلق كوم چې زمونږ په آيتونو ايمان راوړي.

نو ابليس نااميد شو. بيا يهود او نصارىٰ وُ وويل : چې په دې رحمت كې به (د قيامت په ورځ) مونږ هم شامل يو، ځكه مونږ هم متقيان يو، په خپل خپل كتاب (توراة او انجيل) ايمان لرو، او زكوة هم وركوو. نو چې كله الله ﷻ او فرمايل :

(۱) الاعراف آيت ۱۵۶.

(۲) حسن صاحب فرمائي : انّ هذه الرحمة على العموم في الدنيا والخصوص في الاخرة. زادالمسير ج۲ ص ۱۶۰.

(۳) الاعراف آيت ۱۵۶.

(c) ketabton.com: The Digital Library



﴿ اَلَّذِيْنَ يَتَّبِعُوْنَ الرَّسُوْلَ النَّبِيَّ الْاُمِّيَّ ﴾ (۱)

دا رحمت به د هغه چا د پاره خاص وي چې هغوی تابعداري د هغه رسول کوي کوم چې نبي اُمّي دی .

نو يهود او نصاری هم نا اميده شو ، او د قيامت د ورځی سل (۱۰۰) واړه رحمتونه د مومنانو دپاره خاص شو . (۲)

## د بني اسرائيلو د يو کفن کش واقعه :

نبي عليه الصلوة والسلام خپل امت د نااُميدۍ او مايوسۍ نه د بچ کولو د پاره دوی ته د نبي اسرائيلو د يو کس واقعه ذکر کړې ، دا واقعه امام بخاري رحمه الله او امام مسلم رحمه الله رانقل کړې چې نبي عليه الصلوة والسلام فرمايلي :

قَالَ رَجُلٌ لَمْ يَعْمَلْ حَسَنَةً قَطُّ لِاَهْلِهِ : اِذَا مَاتَ فَحَرِّقُوْهُ ثُمَّ اذْرُوْا نِصْفَهُ فِي الْبَرِّ وَنِصْفَهُ فِي الْبَحْرِ فَوَاللهِ لَئِنْ قَدَرَاللهُ عَلَيْهِ لَيُعَذِّبَنَّهُ عَذَابًا لَايُعَذِّبُهُ اَحَدًا مِنَ الْعَالَمِيْنَ . فَلَمَّا مَاتَ الرَّجُلُ فَعَلُوْا مَا اَمَرَهُمْ فَاَمَرَاللهُ الْبَرَّ فَجَمَعَ مَافِيْهِ ، وَاَمَرَ الْبَحْرَ فَجَمَعَ مَافِيْهِ . ثُمَّ قَالَ : لِمَ فَعَلْتَ هذا؟ قَالَ مِنْ خَشْيَتِكَ يَارَبِّ ! وَاَنْتَ اَعْلَمُ . فَغَفَرَاللهُ لَهُ . (۳)

د بني اسرائيلو يو ګناهګار کس کوم چې د ايمان نه علاوه بل هيڅ نيک عمل نه وو کړې (بلکه کفن کش ؤ (۴)) ، کله چې دده د مرګ وخت نزدې شو نو خپل اولاد ته يې وويل : چې کله زه مړشم نو ما اوسوزَوئ ، بيا دا اِيره نيمه په اُوچه کې والوزوَئ ، او نيمه په درياب کې پريږدئ .

---

(۱) الاعراف آيت ۱۵۷ .

(۲) اخرج البيهقي في الشعب عن سفيان بن عيينه ، الدرالمنثور في التفسير بالماثور ج۳ الاعراف آيت ۱۵۶ ، زاد المسير ج۲ ص ۱۶۰ ، معارف القرآن الاعراف آيت ۱۵۶ .

(۳) اخرجه البخاري في الانبياء باب ما ذكر عن بني اسرائيل ۳۴۸۱ ، وفي التوحيد ۷۵۰۶ . واخرجه ايضا عن حذيفة وابي سعيد رضى الله عنهما في باب ما ذكر عن بني اسراليل ۳۴۵۲ ، ۳۴۷۸ ، ۳۴۷۹ . ومسلم في سعة رحمة الله تعالى ۶۹۳۵ . واخرجه النسائي في الجنائز باب ارواح المؤمنين ۲۰۷۹ . ومالک في جنائز الموطا ، جامع الجنائز وابن ماجه في الزهد باب ذكر التوبة ۴۳۰۹ .

(۴) ذكر الحافظ عن رواية للطبراني انه كان من بني اسراليل وكان ينبش القبور وقد صرح عقبة بن عمرو رضى الله عنه بكونه نبّاشا وذلک في حديثه عندالبخاري في الانبياء . تكلمه فتح الملهم ج۶ ص ۱۲ .

(c) ketabton.com: The Digital Library



قسم په الله، که چيرته د الله ﷻ راباندې وَس بَر شو نو د اسې عذاب به راکړي چې په مخلوقاتو کې به يې بل هيچاته داسې عذاب نه وي ورکړې (دا خبره يې د ډيرې ويرې د وجې وکړه[1]). کله چې دې وفات شو نو خپلو ځامنو ورسره د وصيت مطابق معامله وکړه. بل طرفته الله ﷻ اوچې ته حکم وکړو چې د ده اجزاء را جمع کړئ، او سمندرته يې هم حکم وکړو چې د ده اجزاء را جمع کړه. او پوره انسان يې ورنه جوړ کړو، بيا الله ﷻ ورته اوفرمايل:

اى بنده دا کار دې ولې کړې؟ (آيا ستا په ما يقين نه ؤ چې زه انسان دوباره ژوندې کولې شم؟) هغه ورته جواب ورکړو:

مِنْ خَشْيَتِكَ يَا رَبِّ وَأَنْتَ أَعْلَمُ.

اى ربه! ستا د ويرى د وجى مې دا کار کړې، او تا ته ښه معلومه ده چې ما هيڅ نيک کار ندې کړې (ستا د عذاب نه ويريدم، نو ځکه مې بچو ته حکم کړې وو چې ما اُوسوزوئ). نبي عليه السلام اوفرمايل: چې د الله جل جلاله رحمت په جوش کې راغې

فَغَفَرَ اللّٰهُ لَهُ او ده ته يې بخښنه وکړه.

## د الله ﷻ رحمت په غضب غالب دى

نبي کريم صلى الله عليه وسلم فرمائي:

(( لَمَّا خَلَقَ اللّٰهُ الْخَلْقَ كَتَبَ فِيْ كِتَابِهٖ فَهُوَ عِنْدَهٗ فَوْقَ الْعَرْشِ: اِنَّ رَحْمَتِيْ تَغْلِبُ غَضَبِيْ )) [2]

کله چې الله رب العزت مخلوق پيدا کړو نو په يو کتاب کې يې اوليکل، کوم چې د ده سره د عرش د پاسه دى: بيشکه زما رحمت زما په غضب باندې غالب دى.

(۱) قال ذلک فی حال دهشته وغلبة الخوف عليه. تکملة فتح الملهم ج٦ ص ١٣. حديث ٦٩٣٥.

(۲) اخرجه البخاري في بدء الخلق باب ما جاء في قوله تعالى: وَهُوَ الَّذِيْ يَبْدَأُ الْخَلْقَ ثُمَّ يُعِيْدُهٗ ٣١٩٤، وفى التوحيد ٧٤٠٤، وباب قوله قول الله تعالى: وَلَقَدْ سَبَقَتْ كَلِمَتُنَا لِعِبَادِنَا الْمُرْسَلِيْنَ ٧٤٥٣. واخرجه ابن ماجه فى الزهد باب ما يرجى من رحمة الله يوم القيامة ٤٣٤٩. ومسلم باب في سعة رحمة الله تعالى ٦٩٢٤. مشكوة.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## الله ﷻ په خپلو بندګانو باندې د مورنه ډیر مهربانه دی :

په بخاري او مسلم شریف کې یو واقعه ذکر ده :

عَنْ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ أَنَّهُ قَالَ : قَدِمَ عَلَى رَسُوْلِ اللهِ ﷺ بِسَبْيٍ فَإِذَا امْرَأَةٌ مِنَ السَّبْيِ تَبْتَغِي إِذَا وَجَدَتْ صَبِيًّا فِي السَّبْيِ أَخَذَتْهُ فَأَلْصَقَتْهُ بِبَطْنِهَا وَأَرْضَعَتْهُ فَقَالَ لَنَا رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : أَتَرَوْنَ هٰذِهِ الْمَرْأَةَ طَارِحَةً وَلَدَهَا فِي النَّارِ ؟ قُلْنَا : لَا وَاللهِ وَهِيَ تَقْدِرُ عَلَى أَنْ لَا تَطْرَحَهُ فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : لَلّٰهُ أَرْحَمُ بِعِبَادِهِ مِنْ هٰذِهِ بِوَلَدِهَا (۱)

حضرت عمر رضی الله عنه فرمائي : چې یو ځل نبي کریم صلی الله علیه وسلم ته څه قیدیان (بندیان) راوستې شو ، نو په دې قیدیانو کې یو ښځه وه چې ډیر په ناقلارۍ سره یې خپل بچې تلاش کولو (ځکه د دې نه خپل بچې ورک شوې ؤ (۲)) ، ناګهانه دې خپل بچې په قیدیانو کې او مونده ، نو راوایې خیست ، خپلې سینې سره یې اولږول او شوده (پی) یې ورکړه .

( کله چې نبي کریم صلی الله علیه وسلم او صحابه کرامو دا اولیده چې دا مور د بچي په لیدو څومره خوشحاله شوه او څومره پرې مهربانه ده )

نو نبي علیه السلام د صحابه کرامو نه پوښتنه وکړه : ستاسو څه خیال دې چې دا ښځه به دا خپل بچې اُور ته اوغورځوي ؟

صحابه کرام فرمائي چې مونږ ورته وویل : په الله قسم هیڅ کله به یې اونه غورځوي . نو نبي علیه السلام او فرمایل :

لَلّٰهُ أَرْحَمُ بِعِبَادِهِ مِنْ هٰذِهِ بِوَلَدِهَا .

خامخا الله ﷻ په خپلو بندګانو باندې د دې نه هم زیات مهربانه دی څومره چې دا مور په دې خپل بچي مهربانه ده .

---

(۱) اخرجه البخاري في الادب باب رحمة الولد وتقبيله ومعانقته ۵۹۹۹ ، ومسلم باب في سعة رحمة الله تعالى ۶۹۳۳ ، مشكوا

(۲) مرقات شرح مشكوة ج۵ ص ۱۵۶ .

(c) ketabton.com: The Digital Library



## واقعه :

همدغه شان يو واقعه امام ابوداؤد رحمه الله هم نقل کړې :

عَنْ عَامِرِ الرَّامِ قَالَ بَيْنَا نَحْنُ عِنْدَهُ يَعْنِيْ عِنْدَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذْ أَقْبَلَ رَجُلٌ عَلَيْهِ كِسَاءٌ وَفِيْ يَدِهِ شَيْئٌ قَدْ إِلْتَفَّ عَلَيْهِ فَقَالَ يَا رَسُوْلَ اللهِ ا مَرَرْتُ بِغيضَةِ شَجَرٍ فَسَمِعْتُ فِيْهَا أَصْوَاتَ فِرَاخِ طَائِرٍ فَأَخَذْتُهُنَّ فَوَضَعْتُهُنَّ فِيْ كِسَائِيْ فَجَاءَتْ أُمُّهُنَّ فَاسْتَدَارَتْ عَلَى رَأْسِيْ فَكَشَفْتُ لَهَا عَنْهُنَّ فَوَقَعَتْ عَلَيْهِنَّ فَلَفَفْتُهُنَّ بِكِسَائِيْ فَهُنَّ أُولآءِ مَعِيْ . قَالَ ضَعْهُنَّ فَوَضَعْتُهُنَّ وَأَبَتْ أُمُّهُنَّ إِلَّا لُزُوْمهُنَّ . فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ أَتَعْجَبُوْنَ لِرَحْمِ أُمِّ الْأَفْرَاخِ فِرَاخهَا. فَوَالَّذِيْ بَعَثَنِيْ بِالْحَقِّ لَلّٰهُ أَرْحَمُ بِعِبَادِهِ مِنْ أُمِّ الْأَفْرَاخِ بِفِرَاخِهَا . إِرْجِعْ بِهِنَّ حَتّٰى تَضَعْهُنَّ مِنْ حَيْثُ أَخَذْتَهُنَّ وَأُمُّهُنَّ مَعَهُنَّ فَرَجَعَ بِهِنَّ (۱)

حضرت عامر رضی الله عنه فرمائي چې يو ورځ مونږ د نبي کريم صلی الله عليه وسلم سره ناست وو ، چې په دې کې يو کس راغې ، څادر يې اغوستی ؤ ، او په لاس کې ورسره څه وو چې په څادر کې يې راتاؤ کړي وو ، او وی فرمايل : ( ای د الله رسوله ! کله چې زه ستاسو د راتلو نه خبر شوم نو ستاسو ملاقات ته راروان شوم ) نو په لاره کې د اُونو په يو ځنګل راتيريدم ، نو ما په دې اُونو کې د مرغو د بچو آوازونه واوريده ، نو ما هغه بچي راواخيست او په دې څادر کې مې واچول ( چې کله را رواَن شوم ) نو د دې بچو مور راغله او زما د سَر د پاسه تاويده راتاويده ، ما څادر د دې بچو نه لرې کړو ( چې دا مور يې اوګوري ، کله چې دې مور دا بچي وکتل ) نو مور يې راغله او په دې بچو يې وزرې خورې کړې او نه ورَنه پاڅيده ، نو ما په دې هم څادر واچول ، او دا دې ټول اوس د ماسره دي .

نبي عليه السلام ورته اوفرمايل : چې ته دا کيده . دا صحابي وايي چې ما کيښوده ( او څادر مې ورنه لرې کړو ) چه ګورو چې دې مور هماغه شان په دې بچو خپلې وزرې خورې کړې دي ، او نه ورنه پاڅيده ( صحابه کرامو چې دا اوليده نو ډير تعجب يې وکړو چې دا مور په دې خپلو بچو څومره مهربانه ده چې خپل ځان يې قيد کې ورکړو خو د بچو نه جدا نه شوه نو ) نبي عليه السلام صحابه کرامو ته وفرمايل :

---

(۱) ابوداؤد كتاب الجنائز ،۳۰۸۹ ، مشكوة .

(c) ketabton.com: The Digital Library



اى صحابهؤ تاسو تعجب کوئ چې دا مور په دې خپلو بچو څومره مهربانه ده ؟
زما دې قسم وي په هغه ذات ، چاچې زه برحق رسول راليږلې يم ، الله تعالى په خپلو بندګانو باندې ددې نه زيات مهربانه دى څومره چې دا مور په دې بچو مهربانه ده .
صحابي فرمائي چې بيا نبي کريم صلى الله عليه وسلم حکم وکړو چې واپس دا ټول هماغه ځاى ته ويسه د کوم ځاى نه دې چې راخيستى دي .
نو واپس هماغه ځاى ته وى وړل شو ، اومور يې هماغه شان ورسره وه .

**فائده** : محترمو مسلمانانو تاسو واوريده چې الله جل جلاله په خپلو بندګانو باندې څومره مهربانه دى ، مور چې په بچي څومره مهربانه وي د هغې نه زيات الله ﷻ په خپلو بندګانو مهربانه دى .

د مور د محبت خو تاسو روزانه مشاهده کوئ. زه درته د مور د محبت يو واقعه بيانوم :

## د مور د شفقت واقعه :

په تيرو وختونو کې يو پيره په چين کې خطرناکه زلزله راغلې وه ، چې په هغې کې په زرهاؤ خلق مړه شوي وو ، په يو ځاى کې ډير غټ بلډنګ راغورځيدلې ؤ ، د هغې په راسپړدلو کې هم دوه درى ورځې اولږيدې ، چې کله يې دا رااُوسپړل ، نو چه ګوري چې د يوى کمرى ( کوټې ) چَت روغ راپريوتې ، چت داسې په تَرَس ( څنګ ) ولاړؤ ، او په يو ګوټ کې يوه ښځه او وړوکې تي خُور ماشوم دواړه پراته دي ، ژوندي دي خو بى هوشه دي ( پدوى د چَت ملبه نه وه راغلې ځکه دوى د کوټې په يو ګَنج کې وو ) . دواړه يې هسپتال ته وى وړل ، څه وخت پس دواړه په هوش کې راغلل ، ډاکټرانو ددې ښځې نه پوښتنه وکړه : چې دا څه وجه ده چې ستا د دواړو لاسونو د ګوتو سَرونه زخمي دي ؟ پدې خود چَت مَلبه هم نده راغلې ؟ هغې ورته وويل :
چې کله دا چت رااُوغورځيده نو مونږ د کوټې په يو ګَنج کې ناست وو ، مونږ محفوظ شو خو د راوتلو لاره نوه . دې وړوکي تي خُور ماشوم ژړل ، مابه ورته خپله سينه ورکړه ، دې به قرار شو ، آخر دوه درى ورځې پس زما په سينه کې شُوده ( پى ) هم ختم شو ، ځکه د خوراک او څکاک څه نه ؤ چې ما خوړلي وى ، نو دې ماشوم به ډير ژړل ، مابه ورته کله خپله ګوته په خُله کې ورکړه چې قلار شي ، خو دې به نه قلاريده ، ځکه دده خيټې ته به د خوراک څه نه تلل .

(c) ketabton.com: The Digital Library



کله چې دده ولړه او ژړا زياته شوه، او زما دبرداشت نه بهر شوه، نو ما د ځان سره سوچ وکړو چې که زما په سينه کې شوده (پی) نشته، نو په وجود کې خو مې وينه شته، نو ما د خپل لاس دايوه ګُته په غاښونو اوچيچله او زخمي مې کړه، چې کله ورنه وينه را اُووته، نو ما دې ماشوم ته په خُله کې کيښوده، نو ده به اُوچوپله، څه وخت به قرار شو.

کله به چې بيا په ژړا شو نو ما به دا دويمه ګُته په غاښونو او چيچله او ده ته به مې په خُله کې کيښوده. دغه شان نمبر په نمبر مې لس (۱۰) واړه ګوتې په غاښونو اوچيچلې، او ده ته به مې په خُله کې کيښودې. آخر د مانه هم ډيره وينه لاړه، زه هم د کمزورتيا نه بې هوشه شوم، او دې ماشوم چونکه ډيره وينه څکلې وه، نو دې هم بې هوشه شو، مونږ بيا په ځان نه يو پُوهه شوي. اوس دادې تاسو دلته هسپتال ته راوړي يو.

کله چې ډاکټرانو دا خبره واوريده نو سخت حيران شو چې ګوره مور د بچي سره دومره محبت کوي، که مورته دا پَته اولږي چې زما په وينه څکلو دا بچې ژوندې پاتې کيږي نو هم ورته ورکوي يې.

**فايده:** محترمو تاسو ديته سوچ وکړئ چې کله يو مور په خپل بچي دومره مهربانه ده، نو الله رب العزت خو په خپل بنده باندې د اويا (۷۰) مورانو نه هم زيات مهربانه دی[1]

رسول الله ﷺ فرمائي:

(( لَوْ يَعْلَمُ الْكَافِرُ مَا عِنْدَاللهِ مِنَ الرَّحْمَةِ مَا قَنَطَ مِنْ جَنَّتِهِ اَحَدٌ )) (۲)

که چيرته کافرته دا پته اولږي چې دالله ﷻ سره څومره رحمتونه دي نو بيا به هيڅوک هم دجنت نه نهٔ نا اميده شوې (بلکه ټولو به اسلام قبول کړې وې).

## د يو مجوسي د اسلام قبلولو واقعه:

حضرت ابراهيم عليه السلام ډير زيات ميلمه دوست انسان وُ، يو ورځ ورته يو مجوسي راغې او خوراک يې ورنه اوغوښت، حضرت ابراهيم عليه السلام ورته اوفرمايل: چې که مسلمانيږې نو خوراک به درباندې اوخورم. هغه مجوسي وويل: چې زه خو خپل دين نشم

(۱) اهل دل کے تڑپا دینے والے واقعات ج۳ ص ۳۴.

(۲) اخرجه المسلم باب في سعة رحمة الله تعالى ۶۹۳۴، والترمذي في الدعوات باب عظم العقوبة وعظم الرجاء ۳۵۳۶.

(c) ketabton.com: The Digital Library



پرېښودې. دايې وويل او لاړ، بل طرفته الله ﷻ دا تړوله معامله اوکته، چې يو مجوسي د وګړی د وجی ګرځي راګرځي، او سخت خفه دی، نو دا الله ﷻ ورباندې رَحم راغې.

(ځکه حديث کې راځي: أَنَا عِنْدَ الْمُنْكَسِرَةِ قُلُوبِهِمْ. زه د غمجن زړونو واله سره يم)

نو الله ﷻ حضرت ابراهيم السلام ته حضرت جبريل عليه السلام را وليږلو:

يَا إِبْرَاهِيمُ ! لَمْ تُطْعِمْهُ إِلَّا بِتَغْيِيرِ دِيْنِهِ. وَنَحْنُ مِنْ سَبْعِيْنَ سَنَةً نُطْعِمُهُ عَلَى كُفْرِهِ. فَلَوْ أَضَفْتَهُ لَيْلَةً مَا ذَا كَانَ عَلَيْكَ.

ای زما خليله! دې مجوسي خو زما نافرماني کوله، او د اويا (۷۰) کالو نه راپه دېخوا ما رزق ورکولو، ډوډی مې پری نه ده بنده کړې. خير دې که ده نن ستا ډوډی خوړلې وې (نو څه به شوي وو؟)

ای ابراهيم! اوس لاړشه او واپس يې راوله، او ډوډی پری اوخوره. حضرت ابراهيم عليه السلام په منډه منډه لاړ، او هغه مجوسي ته يې د خوراک دعوت ورکړو، هغه ورته وويل:

ای ابراهيم! دا څه وجه ده تا خو اول د مانه روټی منع کړې وه او اوس مې په خپله غواړی؟ ابراهيم عليه السلام ورته اوفرمايل: چې الله جل جلاله حضرت جبريل عليه السلام را اوليږل ... ابراهيم عليه السلام ټوله خبره ورته بيان کړه.

کله چې مجوسي دا خبری واوريدې نو وی ويل:

ای ابراهيم! چې کله ستا رب دومره مهربانه دی نو أَعْرِضْ عَلَيَّ الْإِسْلَامَ. فَأَسْلَمَ.

ماته اسلام پيش کړه (زه هم مسلمانيږم) نو هملته مسلمان شو.(۱)

معلومه شوه چې الله رب العزت په خپلو بندګانو باندې ډير مهربانه دی.

### د الله ﷻ مهرباني:

يو صحابي فرمايي چې يو کرت مونږ صحابه کرام ناست وو، او خندل مو، پدې کې رسول الله صلی الله عليه وسلم تشريف راوړو (چې مونږ يې په دې حالت کې اوليدو) نو وې فرمايل:

(۱) احياء العلوم ج۴ ص ۲۰۵ کتاب الخوف والرجاء.

(c) ketabton.com: The Digital Library



أَتَضْحَكُوْنَ وَالنَّارُ مِنْ وَرَائِكُمْ .....

آيا تاسو خاندئ او حال دادې چې اُور ستاسو چاپيره دى ..

بيا نبي عليه السلام روان شو ، مونږ دومره خفه شو چې ګويا زمونږ په سَرونو باندې يو غټ غَرپروت دى . ( څه وخت پس ) بيا نبي عليه السلام تشريف راوړو چې د خندا په حالت کې ؤ ، او وې فرمايل : چې حضرت جبريل عليه السلام ماته راغې او د الله ﷻ د طرفه يې دا پيغام راوړو :

لِمَ تُقْنِطُ عِبَادِيْ مِنْ رَحْمَتِيْ ؟ ﴿ نَبِّئْ عِبَادِيْ أَنِّيْ أَنَا الْغَفُوْرُ الرَّحِيْمُ ، وَأَنَّ عَذَابِيْ هُوَ الْعَذَابُ الْأَلِيْمُ ﴾ . (۱) ، (۲)

اى پيغمبره ! ته زما بندګان زما د رحمت نه ولې نا اُميده ( مايوسه ) کوى ؟ زما بندګانو ته داخبر ورکړه چې زه ډير بخښونکې او زيات مهربانه يم ، او زما عذاب هم ډير دردناک عذاب دى .

## د يو زنانه د پيغمبر عليه السلام نه پوښتنه :

عَنْ عَبْدِاللهِ بْنِ عُمَرَ قَالَ : كُنَّا مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِيْ بَعْضِ غَزَوَاتِهِ فَمَرَّ بِقَوْمٍ فَقَالَ : مَنِ الْقَوْمُ ؟ قَالُوْا : نَحْنُ الْمُسْلِمُوْنَ . وَامْرَأَةٌ تَحْضِبُ بِقِدْرِهَا ، وَمَعَهَا إِبْنٌ لَهَا فَإِذَا إِرْتَفَعَ وَهَجٌ تَنَحَّتْ بِهِ فَأَتَتِ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَتْ : أَنْتَ رَسُوْلُ اللهِ ؟ قَالَ نَعَمْ .

قَالَتْ : بِأَبِيْ أَنْتَ وَأُمِّيْ أَلَيْسَ اللهُ أَرْحَمُ الرَّاحِمِيْنَ ؟ قَالَ : بَلٰى . قَالَتْ : أَلَيْسَ اللهُ أَرْحَمُ بِعِبَادِهِ مِنَ الْأُمِّ بِوَلَدِهَا ؟ قَالَ : بَلٰى . قَالَتْ : إِنَّ الْأُمَّ لَاتُلْقِيْ وَلَدَهَا فِي النَّارِ . فَأَكَبَّ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَبْكِيْ ، ثُمَّ رَفَعَ رَأْسَهُ إِلَيْهَا فَقَالَ :

إِنَّ اللهَ لَايُعَذِّبُ مِنْ عِبَادِهِ إِلَّا الْمَارِدُ الْمُتَمَرِّدُ الَّذِيْ يَتَمَرَّدُ عَلَى اللهِ وَأَبٰى أَنْ يَقُوْلَ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ (۳)

(۱) الحجر آيت ۵۹ .

(۲) تنبيه الغافلين باب ما يرجى من رحمة الله تعالى ص ۳۸ ط . مكتبه دار الفكر بيروت .

(۳) رواه ابن ماجه ، مشكوة .

(c) ketabton.com: The Digital Library



حضرت عبدالله بن عمر رضی الله عنهما فرمائي : چې يو کرت مونږ د پيغمبر عليه السلام سره په يو غزا کې شريک وو ، نو زمونږ تيريدل په يو قوم باندې اوشو ، هغوی پوښتنه وکړه چې تاسو څوک يئ ؟ نو صحابه کرامو ورته اوفرمايل : چې مونږ مسلمانان يو .

په دې قوم کې يوه ښځه وه ، هغې سره په غيږ کې يو وړوکې بچې هم ؤ ، هغې د کټوی پسی اُور بلول . چې کله به د اُور لمبه را اوچته شوه نو دې به دا خپل بچې د دې اُور د لمبی نه رادېخوا کړو ( د دې دپاره چې د اُور ګرمائش پری او نه لږي ، کله چې دې ښځی ته دا معلومه شوه چې دلته په يو ځای کې نبي کريم ﷺ تشريف فرما دی )

نو دا ښځه نبي کريم ﷺ ته راغله ، او پوښتنه يې تری وکړه :

أَنْتَ رَسُوْلُ اللهِ ؟ آيا تاسو د الله ﷻ رسول يئ ؟

نبي عليه السلام جواب ورکړو چې آو . ( زه د الله ﷻ رسول يم ) .

هغې بيا تپوس وکړو : بِأَبِيْ وَأُمِّيْ أَلَيْسَ اللهُ أَرْحَمُ الرَّاحِمِيْنَ ؟ زما مور او پلار دې په تاسو قربان وي . آيا الله ﷻ أَرْحَمُ الرَّاحِمِيْنَ او ډير مهربانه ذات نه دې ؟

پيغمبر عليه السلام جواب ورکړو : چې هو . ( الله ﷻ ډير مهربانه ذات دی ) .

هغې بيا پوښتنه وکړه : أَلَيْسَ اللهُ أَرْحَمُ بِعِبَادِهٖ مِنَ الْأُمِّ بِوَلَدِهَا ؟

آيا الله ﷻ په خپلو بندګانو باندې د مورنه زيات مهربانه نه دې ؟ نبي عليه السلام ورته وفرمايل : چې هو . ( الله ﷻ په خپلو بندګانو باندې د مور نه هم زيات مهربانه دی ) .

( دا ښځه ډير هوښياره وه ) هغې بيا پوښتنه وکړه : إِنَّ الْأُمَّ لَا تُلْقِيْ وَلَدَهَا فِي النَّارِ .

مور خو خپل بچې په اُور کې نه غورځوي ( نو الله ﷻ څنګه خپل بنده په جهنم کې غورځوي ؟ ) . نبي کريم صلی الله عليه وسلم په ژړا شو ( ډير يې اوژړل ) ، بيا يې خپل سر را اوچت کړو ، او وی فرمايل :

إِنَّ اللهَ لَا يُعَذِّبُ مِنْ عِبَادِهٖ إِلَّا الْمَارِدُ الْمُتَمَرِّدُ .....

بيشکه الله ﷻ په خپلو بندګانو کې هيچاته ( دائمي ) عذاب نه ورکوي ، مګر هغه کس چې ډير زيات سرکشه وي ، په ګناهونو زړه وَر وي ( نو دَه ته به عذاب د ګناهونو نه د صفايي د پاره ورکولې شي )

(c) ketabton.com: The Digital Library



## صرف د توحيد په ګواهي ورکولو سره د الله ﷻ بې شماره نعمتونه

د حضرت يوسف عليه السلام په زمانه کې د غنمو کمې ؤ ، حکومت غنم ذخيره کړي وو ، او حضرت يوسف عليه السلام خپلو مامورينو ته حکم کړې ؤ چې هر کس ته په يو معلوم مقدار سره غنم ورکوئ ، زيات مه ورکوئ د دې د پاره چې ټولو خلقو ته يو شان غنم ورسيږي .

يو کرت يو ځوان راغې ، او غنم يې او غوښت ، دوی ورته د عام معمول مطابق غنم ورکړه ، ځومره به يې چې نورو ته ورکول . ده به ويل چې ماته نور هم راکړئ . هغوی ورته وويل : چې نور غنم ورکول خو زمونږ په اختيار کې نه دي ، که ستا نور غنم پکار وي نو ته حضرت يوسف عليه السلام ته ورشه ، ځکه دا اختيار صرف د هغه سره دې ، چې چا ته ځومره غنم وغواړي ، ورکولې يې شي . دې راغې ، او حضرت يوسف عليه السلام ته يې وويل :

چې ماته نور غنم هم راکړه . ده ورته نور غنم هم ورکړه . هغه ځوان وويل : چې نور هم راکړه .

حضرت يوسف عليه السلام ورته وويل چې اى د الله بنده ! هغوی هم غنم درکړل ، ما هم درکړه ، او ته اوس نور هم غواړې . دا څه کوې ؟ مړيږې نه ؟

ده ورته وويل : چې ته ما نه پيژنې ؟ که تا ته پته اولږيده چې زه څوک يم ، نو ته به ماته نور غنم هم راکړې . حضرت يوسف عليه السلام چې دا خبره واوريده ، نو ورته متوجه شو ، پوښتنه يې ترې وکړه چې ته څوک يې ؟

هغه ورته وويل : چې کله زليخى په تا باندې تهمت ولږول [1] ، نو کوم ماشوم چې ستا د براءت او پاکدامنۍ ګواهي ورکړې وه ، هغه ماشوم زه ووم . [2] اوس غټ شوې يم .

---

[1] زليخى خپل خاوند ته وويل : ﴿ مَا جَزَاءُ مَنْ أَرَادَ بِأَهْلِكَ سُوءًا إِلَّا أَنْ يُسْجَنَ أَوْ عَذَابٌ أَلِيمٌ ﴾ . يوسف آيت ۲۵ .

ترجمه : بله هيڅ جزاء نشته د هغه چا دپاره څوک چې ستا دکور واله سره د بد نيت اراده لري مګر دا چې بنديوان کړې شي ، يا دردناک عذاب ورکړې شي .

[2] الله تعالى فرمائي : ﴿ وَشَهِدَ شَاهِدٌ مِنْ أَهْلِهَا إِنْ كَانَ قَمِيصُهُ قُدَّ مِنْ قُبُلٍ فَصَدَقَتْ وَهُوَ مِنَ الْكَاذِبِينَ . وَإِنْ كَانَ قَمِيصُهُ قُدَّ مِنْ دُبُرٍ فَكَذَبَتْ وَهُوَ مِنَ الصَّادِقِينَ . فَلَمَّا رَأَى قَمِيصَهُ قُدَّ مِنْ دُبُرٍ قَالَ إِنَّهُ مِنْ كَيْدِكُنَّ إِنَّ كَيْدَكُنَّ عَظِيمٌ ﴾ .

ترجمه : او ددې ښځې د خاندان نه يو ګواه ( ماشوم ) دا ګواهي ورکړه چې که ددې يوسف ( عليه السلام ) قميص د وړاندې طرف نه شليدلى وي نو بيا دا ښځه رښتينې ده او دې دروغجن دى ، او که دده قميص د روستو طرف نه شليدلى وي نو بيا دا ښځه دروغجنه ده او حضرت يوسف عليه السلام رښتينې دى . هر کله چې عزيز مصر اوليده چې د حضرت يوسف عليه السلام قميص د روستو نه شليدلى دى ، نو وى ويل چې بيشکه دا خو ستاسو د ښځو يو فريب ( دهوکه ) ده ، بيشکه ستاسو فريب ډير لوى دى . معارف القرآن .

نوټ : د حضرت يوسف عليه السلام تفصيلي واقعه په قرآن مجيد کې سورة يوسف کې ذکر ده .

(c) ketabton.com: The Digital Library



حضرت يوسف عليه السلام چې دا واوريده ، نو ډير خوشحاله شو ، زړيې سينې ته رانږدې کړو ، او ډير قدر يې دده وکړو ، بيايې نور ډير غنم هم ورکړه ، انعام يې هم ورکړو ، او خپلو ماتحتو کارګنانو ته يې حکم وکړو : چې دا غنم ورسره د کور پورې هم ويسئ .

کله چې دې لاړ ، نو الله ﷻ وحی نازله کړه :

ای زما خوږه پيغمبره ! تا خو ددې ځوان ډير زيات عزت او اکرام وکړو ( دا ولې ؟ ) ده ورته اوفرمايل : چې يا الله ! دا خو هغه کس وُ چا چې زما د پاکدامنۍ ګواهي ورکړې وه ، نن چې دې زما مخې ته راغې نو زما زړه غوښته چې ده ته زه دومره څه ورکړم څومره چې زما زړه غواړي ( او زما په وَس کې وي ) .

الله ﷻ ورته اوفرمايل : ای يوسف ( عليه السلام ) ! ته ګواه اوسه چې دې کس چې ستا د پاکدامنۍ ګواهي ورکړې وه او تاته راغې نو تا دومره څه ورکړه څومره چې ستا د شان لائق وُ ، نو ته ګواه اوسه چې زه دا وايم : چې کوم کس په دنيا کې زما د وحدانيت او يو والي ګواهي ورکړي ، او دې د قيامت په ورځ ماته راشي نو زه به هم ده ته دومره څه ورکړم څومره چې زما د شان مناسب وي ( يعنی جنت او دومره نعمتونه به ورکړم څومره چې زما د شان لائق وي ) .

سبحان الله . الله رب العزت په خپل بنده څومره مهربانه دی ، چې صرف د توحيد په ګواهي ورکولو سره په انسان باندې دومره زياته مهرباني کوي ، نو چې بيا انسان نور عبادات هم کوي نو د هغې خو بيا د سره اندازه نشي کيدې . (۱)

محترمو مسلمانانو ! د الله تبارک وتعالی د مهربانۍ اندازه ددينه کيدې شي چې هر وخت په انسان باندې بی شماره نعمتونه نازلوي . الله ﷻ فرمائي :

﴿ وَإِنْ تَعُدُّوا نِعْمَةَ اللَّهِ لَا تُحْصُوهَا ، إِنَّ اللَّهَ لَغَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴾ (۲)

ترجمه : که چيرته تاسو د الله نعمتونه شميرل وغواړئ نو دا نشئ شميرلې ، بيشکه الله بخښونکې او مهربان دی .

بلکه که انسان يو معمولي عمل په اخلاص وکړي ، نو الله رب العزت دده دا عمل نه ضائع کوي ، بلکه په دې ورته هم اجر ورکوي .

(۱) الزهر الفائح ۳۹ ، شمس الدين ابو الخير محمد بن محمد بن يوسف الجزري المتوفی ۸۳۳ هـ ، اهل دل کے تڑپا دينے والے واقعات ج۳ ص ۲۹ .

(۲) النحل آيت ۱۸ .

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دُنيا د بادشاهانو دا قانون دی چې دوی وړه تحفه نه قبلوي ، ځکه دوی وايي : چې څومره زمونږ شان لوي دی ، دغه شان مونږ له تحفه هم غټه پکار ده ، ليکن د الله جل جلاله شان ګوره چې اعلان کوي :

﴿ فَمَنْ يَعْمَلْ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ خَيْرًا يَرَهُ ﴾ . (۱)

کوم کس چې د يوی ذری برابر نيکي وکړي نو د قيامت په ورځ به دا کس د دې اجر اوګوري .

بل ځای الله ﷻ فرمائي :

﴿ أَنِّي لَا أُضِيعُ عَمَلَ عَامِلٍ مِّنكُم مِّن ذَكَرٍ أَوْ أُنثَىٰ ﴾ . (۲)

ترجمه : بيشکه زه په تاسو کې د هيچا عمل نه ضائع کوم ، که هغه نارينه وي او که ښځينه .

ليکن بل طرفته د انسان ناشکري او ناقدری ته اوګوره چې الله ﷻ پيدا کړو ، روغ صورت يې ورکړو ، ښکلې شکل يې ورکړو ، رزق ورکوي ، او نور بی شماره انعامات ورباندې کوي ، ليکن دې بيا هم ناشکري کوي ، د خپل رب عبادت نکوي . الله رب العزت فرمائي :

﴿ إِنَّ الْإِنسَانَ لِرَبِّهِ لَكَنُودٌ . وَإِنَّهُ عَلَىٰ ذَٰلِكَ لَشَهِيدٌ ﴾ . (۳)

بيشکه انسان د خپل رب ډير زيات ناشکره دی ، او دې په دې خپله ناشکری باندې ګواه هم دی (چې زه د الله ﷻ ډير ناشکره يم ) .

بل ځای الله تبارک وتعالی فرمائي :

﴿ يَا حَسْرَةً عَلَى الْعِبَادِ مَا يَأْتِيهِم مِّن رَّسُولٍ إِلَّا كَانُوا بِهِ يَسْتَهْزِئُونَ ﴾ . (۴)

ترجمه : هائي افسوس ! په بندګانو باندې ، چې کله هم دوی ته رسول راغلې ، نو دوی ورپوری ټوقی او خنداګانی کړي .

خو ليکن بيا هم د دې ټولو کمزوريو باوجود الله ﷻ انسان څومره د محبت او شفقت په انداز ځان طرفته رابلي . الله تعالی فرمائي : ﴿ يَا أَيُّهَا الْإِنسَانُ مَا غَرَّكَ بِرَبِّكَ الْكَرِيمِ ﴾ . (۵)

---

(۱) الزلزال آيت ۷ .

(۲) آل عمران آيت ٦٧ :

(۳) العاديات آيت ٦ ، ۷ .

(۴) يس آيت ۳۰ .

(۵) الانفطار آيت ٦ .

(c) ketabton.com: The Digital Library



اى انسانه ! د خپل رب كريم په حقله ته څه شي دهوكه كړې يې ؟ (چې د خپل رب نه دې بغاوت او سركشي اختيار كړې ، نافرماني يې كوې . ستا رب خو تا طرفته متوجه دى ، ستا د توبې منتظر دى چې كله به دا بنده د ګناهونو نه توبه او باسي او ما طرفته به متوجه كيږي ).

## حديث قُدسي :

حديث قُدسي دى ، الله تعالى فرمائي : .

(( مَنْ تَقَرَّبَ إِلَيَّ شِبْرًا تَقَرَّبْتُ إِلَيْهِ ذِرَاعًا وَمَنْ تَقَرَّبَ إِلَيَّ ذِرَاعًا تَقَرَّبْتُ إِلَيْهِ بَاعًا ، وَإِذَا أَقْبَلَ إِلَيَّ يَمْشِيْ أَقْبَلْتُ إِلَيْهِ أُهَرْوِلُ )) . (۱)

كوم كس چې ماته د يو لويشت په اندازه رانزدې كيږي نو زه ورته د يو ګز په اندازه ورنزدې كيږم ، او څوک چې ماته د يو ګز په اندازه رانزدې كيږي نو زه ورته د يو باع ( يعنى د دواړو لاسونو د خورولو په مقدار ) ورنزدې كيږم ، او چې كله انسان ماته را روان شي نو زه ورته په منډه ورځم .

## حضرت داؤد عليه السلام ته د الله جل جلاله وحي :

امام غزالي رحمه الله په خپل كتاب احياء العلوم كې ذكر كړي دي ، چې يو پيره الله جل جلاله حضرت داؤد عليه السلام ته وحي وكړه :

يَا دَاوُدُ لَوْ يَعْلَمُ الْمُدْبِرُوْنَ عَنِّيْ كَيْفَ اِنْتِظَارِيْ لَهُمْ وَرِفْقِيْ بِهِمْ وَشَوْقِيْ إِلَى تَرْكِ مَعَاصِيْهِمْ لَمَاتُوْا شَوْقًا إِلَيَّ وَتَقَطَّعَتْ اَوْصَالُهُمْ مِنْ مَحَبَّتِيْ ، يَا دَاوُدُ هٰذِهِ اِرَادَتِيْ فِي الْمُدْبِرِيْنَ عَنِّيْ . فَكَيْفَ اِرَادَتِيْ فِي الْمُقْبِلِيْنَ عَلَيَّ . (۲)

اې داؤد ! كه چيرته هغه خلق ، كوم چې ماته شا كړې ( زما په نافرمانۍ او ګناهونو كې ژوند تيروي ) كه دوى ته دا پته اولږي چې زه د دوى څومره منتظر يم ، او په دوى څومره مهربان يم ، او

---

(۱) اخرجه البخاري فى التوحيد ۷۵۳۷ ، ومسلم فى التوبة حديث ۱ ، والترمذي فى الدعوات ۳۵۹۸ ، وابن ماجه فى الاداب باب فضل العمل ۳۸۶۷ .

(۲) احياء العلوم ج۴ ص ۴۳۵ .

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دوی د ګناه پرېښودلو څومره په شوق (او انتظار) کېږم، نو دوی به زما د شوق د وجې مړه شي، او د دوی اندام اندام به زما د محبت په وجه جدا شي.

اې داؤد! داخو زما د هغه خلقو متعلق اراده وه کومو چې ماته شاکړې (او زه يې هېر کړې يم، په ګناهونو کې اخته دي) نو که کوم کس د مخکې نه ماته متوجه وي (زما عبادت کوي) نو د هغوی به څه حال وي؟ (يعنی زه به په هغوی څومره ډېر رحم کوم، او څومره زيات به زه د هغوی په انتظار او شوق کې يم).

محترمو! الله رب العزت په خپل بنده دومره مهربانه دی چې که دا بنده د الله ﷻ نافرماني هم کوي خو بيا هم په ده باندې خپل رزق نه بندوي او بيا هم دده د حفاظت اسباب برابروي.

## د يو ځوان شرابي د حفاظت واقعه:

مولانا مفتي عبدالرؤف صاحب سکهروي په خپل کتاب (اصلاحي بيانات)، او مولانا مفتي تقي عثماني صاحب په اصلاحي خطبات کې يوه واقعه رانقل کړې:

مالک بن دينار رحمه الله وايي: چې يو ورځ زه د درياب په غاړه ناست ووم، ناڅاپه مې اوليده چې يو لړم ډېر په تيزۍ سره د درياب غاړې ته را روان دی، چې څنګه د درياب غاړې ته را اورسيده، نو دلته د درياب په غاړه ورته د مخکې نه يوه شمشتۍ تياره ولاړه وه، لړم په تيزۍ باندې د شمشتۍ په شا سُور شو، شمشتۍ اخوا غاړې طرفته روانه شوه.

ما چې دا اوليده نو زه ډېر حيران شوم چې يا الله! ددې لړم او ددې شمشتۍ دوستانه د کله نه جوړه شوې؟ او دا چيرته لاړه؟

نو ما هم کشتۍ په کرايه اونيوه، او زه هم د دوی پسې شاته روان شوم، کله چې شمشتۍ د درياب اخوا غاړې ته اورسيده، نو لړم ورنه ډېر په جلتۍ سره کوز شو، او په منډه اخوا اُوچې علاقې طرفته روان شو.

مالک بن دينار رحمه الله وايي: چې زه هم ورپسې شاته په قلاره قلاره روان ووم، لړم چې لږ مخکې لاړ، نو ما اوليده چې هلته يو ځوان د شرابو په نَشه کې مست پروت دی، اُوده دی، او ددې ځوان د سَر سره نزدې يو تَک تور مار دی، خُوله يې وازه کړې، او ددې ځوان د چيچلو اراده لري، نو دا لړم په تيزۍ سره ورغی، او دغه مار له يې يو ټک ورکړو، وې چيچلو.

دې چيچلو سره مار تاؤ راتاؤ شو، او په هماغه ځای مړ شو. لړم واپس روان شو، لاړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ما چې دا منظر اوليده نو زه نور هم زيات حيران شوم ، چې يا الله ﷻ ! تا د يو نافرمان ( شرابي ) بنده حفاظت په څه عجيبه طريقې سره وکړو .

مالک بن دينار رحمه الله وايي : چې بيا مې دا ځوان راپاڅول ، او ټوله واقعه مې ورته بيان کړه ، چې ګوره ته د الله ﷻ په نافرمانۍ او شرابو کې مست يې ، ليکن بل طرفته خالقِ کائنات ستا حفاظت په کومه طريقه وکړو ؟ چې يو خو يې لړم ته حکم وکړو چې د دومره لرې نه په جلتۍ سره راغې ، بل يې ورته د مخکې نه د درياب په غاړه شمشتۍ مقرر کړې وه ، چې هغه يې ديخوا غاړې ته را اورسول ، بيا دې لړم دا مار او چيچل او مار مړ شو ، او ته يې د مار د چيچلو نه محفوظ کړې.

کله چې ځوان دا واقعه واوريده نو ډير زيات يې وژړل ، او وې ويل چې يا الله ! زه خو ستا ډير ګناهګار او نافرمان بنده يم ، ليکن بيا هم ته په ما باندې دومره مهربانه يې چې زما حفاظت دې په څه عجيبه طريقې سره وکړو . اې الله ! چې کله ستا په نافرمانو بندګانو باندې دومره رحم دی ، نو په فرمانبردارو خلقو به دې څومره رحم وي ؟

نو ځوان په هماغه ځای توبه وويسته ، او دايې کلکه وعده وکړه چې د نن نه پس به د الله ﷻ نافرماني نه کوم ، بلکه د الله ﷻ او د هغه د رسول صلی الله عليه وسلم د احکاماتو مطابق به خپل ژوند تيروم . (۱)

الله رب العزت فرمائي :

﴿ هُوَ الَّذِيْ يُصَلِّيْ عَلَيْكُمْ وَمَلَائِكَتُهُ لِيُخْرِجَكُمْ مِّنَ الظُّلُمَاتِ إِلَى النُّوْرِ وَكَانَ بِالْمُؤْمِنِيْنَ رَحِيْمًا ﴾ . (۲)

ترجمه : الله هغه ذات دی چې دې او دده فرشتې په تاسو باندې رحمت راليږي ، ددې دپاره چې تاسو د کفر د تيارونه د اسلام رڼا ته را اوباسي ، او الله په مؤمنانو باندې ډير مهربانه دی .

---

(۱) اصلاحي بيانات ج۲ ص ۲۰۸ ، اصلاحي خطبات ج۵ ص ۱۵۹ . نوټ : همدغه شان واقعه علامه ابن قدامه المقدسي رحمه الله هم په خپل کتاب ( کتاب التوابين واقعه نمبر ۸۷ ) کې ذکر کړې .

(۲) الاحزاب آيت ۴۳ .

(c) ketabton.com: The Digital Library



محترمو ! تاسو د الله ﷻ د رحم اندازه ددينه هم لږولې شئ: چې کله يو بنده د الله ﷻ نافرماني کوي ، نو زرېې مؤاخذه هم نه کوي (بلکه مهلت ورکوي)، الله ﷻ ورباندې خپل رزق هم نه بندوي ، او د خپل دَر نه يې هم نه شړي .

## د بني اسرائيلو د يو بزرگ واقعه :

فقيه ابو الليث ثمرقندي رحمه الله يو واقعه رانقل کړې، چې د بني اسرائيلو يو بادشاه ؤ ، هغه ته خلقو د يو بزرگ ډېر صفت وکړو (چې دا ډېر نيک سړی دې ، خو دا بزرگ ډېر لرې اوسيده) .
بادشاه دې را اوغوښت ، او ورته وی ويل : چې ګوره زما د تاسره ډېر محبت دې ، ته ډېر لرې اوسېږې ، نو ته راشه او د ماسره دلته په دربار کې اوسيږه .

دې بزرگ ورته وويل : چې بادشاه سلامت ! يو ه پوښتنه درنه کوم ، هغه دا چې که چيرته زه دلته راشم ، او يو ورځ ته ما اوګورې چې ستا په کور کې ستا د وينځې سره لوبې کوم ، نو ته به د ماسره څه سلوک کوې ؟

بادشاه چې دا واوريده نو سخت غصه شو ، او وی ويل چې اې فاسقه ! اوځه زما د دربار نه . ته دومره زړه وَرېې ، چې دلته راشې نو ددې کار اراده هم لرې ؟ نو دې بزرگ ورته وويل :

إِنَّ لِيْ رَبًّا كَرِيْمًا لَوْ رَأٰى مِنِّيْ سَبْعِيْنَ ذَنْبًا فِي الْيَوْمِ مَا غَضَبَ عَلَيَّ وَلَا طَرَدَنِيْ عَنْ بَابِهٖ وَلَا أَحْرَمَنِيْ رِزْقَهٗ فَكَيْفَ أُفَارِقُ بَابَهٗ .....

زما رب خو دومره کريم دی چې که چيرته هغه د مانه د ورځې اويا (۷۰) ګناهونه هم اوګورې، نو بيا هم په ما نه غصه کيږي ، او نه ما د خپل دَر نه شړي ، او نه راباندې خپل رزق بندوي ، نو زه څنګه د هغه رب د دربار پريدم ، او د هغه چا (بادشاه) دربار ته راشم ، چې لا تر اوسه مې دا کار کړې هم ندې او بيا هم راباندې دومره غصه شو ، نو که دا کار مې وکړو نو خدای خبر چې بيا به راسره څه کوي ، دا يې وويل او نيغ د بادشاه د دربار نه راووت ، او واپس هماغه زوړ ځای ته لاړ. [1]

(۱) تنبيه الغافلين باب التوبة ص ۴۹ ط مكتبة دار الفكر بيروت .

(c) ketabton.com: The Digital Library



# الله ﷻ ډير صبر کوونکې ذات دی :

نبي عليه الصلوة والسلام فرمائي :

(( مَا أَحَدٌ أَصْبَرَ (۱) عَلَى أَذًى يَسْمَعُهُ مِنَ اللهِ تَعَالَى : إِنَّهُمْ يَجْعَلُوْنَ لَهُ نِدًّا وَيَجْعَلُوْنَ لَهُ وَلَدًا، وَهُوَ مَعَ ذٰلِكَ يَرْزُقُهُمْ وَيُعَافِيْهِمْ وَيُعْطِيْهِمْ )) . (۲)

الله ﷻ دومره صابره ذات دی چې کافران د الله ﷻ سره بُتان شريکوي ، د الله ﷻ د پاره ولد ثابتوي ، خو بيا هم الله ﷻ دوی ته رزق ورکوي ، روغ صحت ورکوي او نور نعمتونه هم ورکوي (او که توبه اوباسي نو مخکيني ګناهونه يې هم معاف کوي) .

محترمو مسلمانانو ! لکه څرنګ چې يو طرفته د الله ﷻ د عذاب نه ويره پکار ده ، دغه شان بل طرفته د الله ﷻ د رحمت اميد هم په کار دی ، ځکه چې د کوم سړي په زړه کې د الله ﷻ د عذاب نه ويره وي نو الله ﷻ ده ته د عذاب نه پناه ورکوي . او چې ورسره يې د الله ﷻ د رحمت اميد هم وي نو الله ﷻ يې بيا نه مايوسه کوي .

## حديث قدسي :

حديثِ قدسي دی ، الله تعالی فرمائي :

أَنَا عِنْدَ ظَنِّ عَبْدِيْ بِيْ . (۳)

زه د خپل بنده د ګمان مطابق فيصلې کوم ، چې دې په ما څنګه ګمان کوي همغه شان معامله ورسره کوم .

---

(۱) قال النووي : قال العلماء معناه انّ الله تعالى واسع الحلم حتى على الكافر الذي ينسب اليه الولد والندّ . فتح الملهم ج٦ ص٧٥

(۲) مسلم بابٌ لا احَدٌ اصبر على اذى من الله عز وجل ۷۰۳۸ ، بخاري باب الصبر في الاذى ۶۰۹۹ .

(۳) اخرجه البخاري في التوحيد باب ذكر النبي صلى الله عليه وسلم وروايته عن ربه ۷۵۳۷، ومسلم في كتاب التوبة حديث ۱ والذكر حديث ۲ و ۱۹ ، والترمذي في الدعوات باب حسن الظنّ بالله ۳۵۹۸ ، وابن ماجه في الاداب باب فضل العمل ۳۸۶۷

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د الله ﷻ نه د يرې او اميد فضيلت :

حضرت انس رضی الله عنه فرمائي : چې يو ورځ نبي عليه الصلوة والسلام داسې يو ځوان ته راغې چې هغه قريب الموت ؤ ، ځنکدن يې شروع ؤ ، نبي ﷺ ورنه پوښتنه وکړه :

كَيْفَ تَجِدُكَ ؟ ته څنګه محسوسوې ؟ هغه ورته جواب ورکړو :

اَرْجُوا اللهَ يَارَسُوْلَ اللهِ وَاِنِّي اَخَافُ ذُنُوْبِي .

ای د الله رسوله ! يو طرفته د الله ﷻ نه ښه اميد لرم ، او بل طرفته د خپلو ګناهونو نه ويريږم هم . نو نبي عليه السلام وفرمايل :

لَايَجْتَمِعَانِ فِيْ قَلْبِ عَبْدٍ فِيْ مِثْلِ هَذا الْمَوْطِنِ اِلَّا اَعْطَاهُ اللهُ مَا يَرْجُوْا وَاَمَّنَهُ مِمَّا يَخَافُ . (۱)

کله چې د يو بنده په زړه کې په دې وخت کې دا دوه (۲) خبرې موجود شي ، نو چې دا کس د الله ﷻ نه د څه شي اميد لري الله ﷻ هغه ورکوي ، او چې د څه شي نه ويريږي د هغې نه پناه ورکوي .

## د قيامت په ورځ مؤمنانو ته د الله ﷻ اوله خبره :

په يو موقعه نبي کريم صلی الله عليه وسلم صحابه کرامو ته وفرمايل :

اِنْ شِئْتُمْ اَنْبَأْتُكُمْ مَا اَوَّلُ مَايَقُوْلُ عَزَّوَجَلَّ لِلْمُؤْمِنِيْنَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ ؟ وَمَا اَوَّلُ مَا يَقُوْلُوْنَ لَهُ ؟ قُلْنَا : نَعَمْ يَا رَسُوْلَ اللهِ . قَالَ : اِنَّ اللهَ عَزَّوَجَلَّ يَقُوْلُ لِلْمُؤْمِنِيْنَ : هَلْ اَحْبَبْتُمْ لِقَائِيْ ؟ فَيَقُوْلُوْنَ نَعَمْ يَا رَبَّنَا فَيَقُوْلُ لِمَ ؟ فَيَقُوْلُوْنَ رَجَوْنَا عَفْوَكَ وَمَغْفِرَتَكَ . فَيَقُوْلُ :

قَدْ وَجَبَتْ لَكُمْ مَغْفِرَتِيْ . (۲)

(ای صحابه کرامو) که چيرته ستاسو خوښه وي نو زه به تاسو ته خبر درکړم چې د قيامت په ورځ به الله رب العزت مؤمنانو ته اوله کومه خبره کوي ؟ او مؤمنان به ورته اول کومه خبره

(۱) اخرجه الترمذي فی الجنائز باب ۱۱ ، وابن ماجه فی الزهد باب ۳۱ ، والنسائي فی الکبری وقال النووي اسناده جيد ، الترغيب والترهيب ج۴ ص ۱۳۴ الرجآء وحسن الظن بالله عزوجل .

(۲) رواه احمد المسند ۵/ ۲۳۸ ، الترغيب والترهيب ج۴ ص ۱۳۵ باب الترغيب فی الرجاء وحسن الظن بالله عز وجل .

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوي؟ (صحابه کرام فرمائي چې) مونږ ورته او فرمايل: ای د الله رسوله! هو، خبر را کړې.
نبي عليه السلام ورته وفرمايل: چې الله ﷻ به د قيامت په ورځ مؤمناتو ته او فرمائي:

هَلْ اَحْبَبْتُمْ لِقَائِيْ؟ آيا تاسو زما ملاقات خوښوئ؟

مومنان به ورته جواب ورکړي: نَعَمْ يَا رَبَّنَا. آو، ای زمونږ ربه (مونږ ستا ملاقات خوښه وو). الله جل جلاله به ورنه پوښتنه وکړي: لِمَ؟ ولې زما ملاقات خوښوئ؟ (ځه نيک اعمال مو کړي دي چې د هغې په وجه زما ملاقات خوښوئ؟).

مؤمنان به ورته جواب ورکړي: رَجَوْنَا عَفْوَكَ وَمَغْفِرَتَكَ. مونږ خو د مخکې نه ستا د عفوې او مغفرت اميد لرل (چې مونږ ته به خپل ديدار رانصيب کوې او زمونږ مغفرت به کوې) نو الله تعالی به ورته وفرمائي:

قَدْ وَجَبَتْ لَكُمْ مَغْفِرَتِيْ. په تحقيق سره تاسو د پاره زما مغفرت واجب شو (ځکه تاسو په ما باندې د مغفرت او بخښنې اميد لرل، نو ما هم درته مغفرت وکړو، چې مايوسه نشئ، او زما ملاقات به هم درته په جنت کې نصيب شي).

نو چې کله هم د يو انسان په الله جل جلاله باندې ښه اميد وي نو الله ﷻ دې نه مايوسه کوي.

## الله ﷻ نه د ښه اميد لرلو په وجه جنت ته داخليدل:

نبي عليه السلام فرمائي:

اِنَّ رَجُلًا يدخل النَّار فَيَمْكُثُ فِيْهَا اَلْفَ سَنَةٍ يُنَادِيْ: يَا حَنَّانُ يَا مَنَّانُ. فَيَقُوْلُ اللهُ لِجِبْرِيْلَ: إِذْهَبْ فَأْتِنِيْ بِعَبْدِيْ. قَالَ فَيَجِيْئُ بِه فَيُوْقِفُهُ عَلى رَبِّه، فَيَقُوْلُ اللهُ تَعَالى: كَيْفَ وَجَدْتَ مَكَانَكَ؟ فَيَقُوْلُ شَرُّ مَكَانٍ. قَالَ فَيَقُوْلُ رُدُّوْهُ إِلى مَكَانِهِ. قَالَ فَيَمْشِيْ وَيَلْتَفِتُ إِلى وَرَائِهِ. فَيَقُوْلُ اللهُ عَزَّوَجَلَّ: إِلى أَيِّ شَيْئٍ تَلْتَفِتُ؟ فَيَقُوْلُ: لَقَدْ رَجَوْتُ أَنْ لَا تُعِيْدَنِيْ إِلَيْهَا بَعْدَ إِذْ أَخْرَجْتَنِيْ مِنْهَا. فَيَقُوْلُ اللهُ تَعَالى: إِذْهَبُوْا بِه إِلَى الْجَنَّةِ. (۱)

---

(۱) اخرجه ابن ابی الدنيا في كتاب حسن الظن بالله، والبيهقي في الشعب، احياء العلوم ج۴ ص ۱۹۳، كتاب الخوف والرجاء، ابن كثير ج۳ ص ۱۹.

(c) ketabton.com: The Digital Library



يو کس به جهنم ته داخل کړې شي ، زر (۱۰۰۰) کاله پس به دې الله ﷻ ته يو آواز وکړي :

يَا حَنَّانُ يَا مَنَّانُ . الله رب العزت به حضرت جبريل عليه السلام ته او فرمائي : ای جبريل ! ته لاړ شه او زما دغه بنده ماته راوله . نو حضرت جبريل عليه السلام به دې راولي ، او دالله ﷻ د وړاندې به يې اودروي ، الله ﷻ به ورنه تپوس وکړي :

كَيْفَ وَجَدْتَ مَكَانَكَ ؟ خپل ځای دې څنګه اوموندو ؟ (يعنی جهنم څنګه ځای ؤ ؟ )

دې به ورته جواب ورکړي : ډير بد ترين ځای ؤ ، الله به دوباره حکم وکړي :

رُدُّوْهُ اِلٰى مَكَانِه . دوباره يې خپل زوړ ځای ته بوځئ .

نو دا کس به روان شي او شاته شاته به راګوري . الله جل جلاله به ورنه تپوس وکړي :

اِلٰى اَيِّ شَيْءٍ تَلْتَفِتُ ؟ څه شي ته شاته شاته ګوری ؟ دې به ورته جواب ورکړي :

لَقَدْ رَجَوْتُ اَنْ لَا تُعِيْدَنِيْ اِلَيْهَا بَعْدَ اِذْ اَخْرَجْتَنِيْ مِنْهَا .

(اې الله ! ) تا چې کله زه يو پيره د جهنم نه را اوويستم نو زما خو دا اُميد ؤ چې ته به ما دوباره ديته نه واپس کوې ( الله ﷻ چې کله دده دا اُميد اوګوري ) نو فرشتو به حکم وکړي :

اِذْهَبُوْا بِه اِلَى الْجَنَّةِ . زما دا بنده جنت ته بوځئ ( ځکه ده په ما باندې ښه اميد اوساتل ، نو ما هم مايوسه نه کړو ، او جنت ته مې داخل کړو ) .

ددې واقعی نه روستو امام غزالي رحمه الله ليکلي :

فَدَلَّ هٰذا اَنَّ رَجَاءَهُ كَانَ سَبَبَ نِجَاتِهِ .

دا واقعه په دې دلالت کوي چې ددې کس د نجات سبب د الله ﷻ نه ښه اميد لرل وو .

دغه شان د قيامت په ورځ د الله ﷻ د رحمت او مهربانی نور اقوال او واقعات هم په احاديثو کې ذکر دي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د قيامت په ورځ د الله ﷻ رحم :

امام غزالي رحمه الله په احياء العلوم کې ذکر کړي :

يُؤْمَرُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ بِإِخْرَاجِ رَجُلَيْنِ مِنَ النَّارِ فَيَقُوْلُ اللهُ تَبَارَكَ وَتَعَالٰى : ذٰلِكَ بِمَا قَدَّمَتْ أَيْدِيْكُمَا وَمَا أَنَا بِظَلَّامٍ لِلْعَبِيْدِ . وَيَأْمُرُ بِرَدِّهِمَا إِلَى النَّارِ . فَيَعْدُو أَحَدُهُمَا فِيْ سَلَاسِلِهِ حَتّٰى يَقْتَحِمَهَا، وَيَتَلَكَّا الْآخَرُ. وَيَأْمُرُ بِرَدِّهِمَا وَيَسْأَلُهُمَا عَنْ فِعْلِهِمَا . فَيَقُوْلُ الَّذِيْ عَدَا إِلَى النَّارِ : قَدْ حَذِرْتُ مِنْ وَبَالِ الْمَعْصِيَةِ فَلَمْ أَكُنْ لِأَتَعَرَّضَ لِسَخَطِكَ ثَانِيَةً ، وَيَقُوْلُ الَّذِيْ تلكا حُسْنُ ظَنِّيْ بِكَ كَانَ يُشْعِرُنِيْ أَنْ لَا تَرُدَّنِيْ إِلَيْهَا بَعْدَ مَا أَخْرَجْتَنِيْ مِنْهَا . فَيَأْمُرُ بِهِمَا إِلَى الْجَنَّةِ . (۱)

د قيامت په ورځ به د يو دوه کسانو د جهنم نه د راويستلو حکم اوشي (چې کله دا دوه کسان راوستی شي)، الله ﷻ به ورته اوفرمائي :

ذٰلِكَ بِمَا قَدَّمَتْ أَيْدِيْكُمَا وَمَا أَنَا بِظَلَّامٍ لِلْعَبِيْدِ .

دا ما چې تاسو جهنم ته داخل کړي وی، نو دا ستاسو د خپلو اعمالو وجه وه ځکه زه خو په (خپلو) بندګانو باندې ظلم نه کوم. بيا به الله ﷻ حکم وکړي : دا دواړه واپس جهنم ته بوځئ. نو په دې دواړو کې به يو کس په خپلو ځنځيرونو کې جهنم ته منډه کړي، او ځان به غورځولو ته نزدې کړي، او دا دويم کس به په قلاره قلاره روان وي.

الله ﷻ به حکم وکړي : دا دواړه کسان واپس راولئ (چې کله دواړه راوستې شي)، نو الله ﷻ به ورنه تپوس وکړي : چې تاسو داسې ولې وکړه؟ (چې يو په منډه لاړئ، او بل په قلاره قلاره؟) دا څوک چې په منډه تللې وُ هغه به عرض وکړي :

اې الله! زه د خپلو ګناهونو نه ويريدم نو ما دا نه غوښتل چې ستا د حکم نافرماني وکړم، او دوباره ستا غضب او غصې ته ځان وروړاندې کړم.

او کوم کس چې په قلاره قلاره تللو، هغه به ورته عرض وکړي چې اې الله! زما چې په تا باندې کوم ښه ګمان وُ، هغې ماته دا خودله چې ته به ما دوباره جهنم ته نه ليږې (نو ځکه زه روستو روستو کيدم).

(۱) احياء العلوم ج ۴ خاتمة الكتاب في رحمة الله .

(c) ketabton.com: The Digital Library



نو د الله ﷻ رحمت به په جوش کې راشي : فَيَأْمُرُ بِهِمَا إِلَى الْجَنَّةِ. د دې دواړو په باره کې به حکم وکړي چې دا دواړه جنت ته بوځئ ( ځکه د دې يو کس په زړه کې زما يَره ده ، زه به دې نور په يَره کې وانه چوم ، او د دې بل کس په ما باندې ښه ګمان دی او أَنَا عِنْدَ حُسْنِ ظَنِّ عَبْدِي بِي .
زه د خپل بنده د نيک ګمان موافق د ده باره کې فيصلې کوم .
دې په ما ښه ګمان کوي چې دوباره به مې جهنم ته نه داخلوي ، نو ما هم د جهنم نه پناه ورکړه .
نو دواړه به جنت ته بوتلې شي ) .

## د الله ﷻ د رحمت نه مايوسه کيدل ندي پکار

نو انسان ته پکار دي چې د الله ﷻ د رحمت نه مايوسه نشي .
الله رب العزت فرمائي :

﴿ لَا تَقْنَطُوا مِنْ رَّحْمَةِ اللهِ ﴾ (۱)

تاسو د الله ﷻ د رحمت نه مه نا اميده کيږئ .
بل ځای الله جل جلاله فرمائي :

﴿ إِنَّهُ لَا يَيْأَسُ مِن رَّوْحِ اللهِ إِلَّا الْقَوْمُ الْكَافِرُوْنَ ﴾ (۲)

بيشکه د الله د رحمت نه نه نااميده کيږي مګر صرف کافران قوم ( د الله ﷻ د رحمت نه نااميده کيږي ) .

دا ځکه چې د الله ﷻ په نزد قابليت ته اعتبار نشته ، بلکه قبوليت ته اعتبار دی ، چې د فضيل بن عياض غوندې د ډاکوانو د سردار نه د اولياؤ سردار جوړولې شي ، نو پکار ده چې بنده هيڅکله د الله ﷻ د رحمت نه نا اميده نشي . اګر چې دې هرڅومره غټ ګناهګار او خطا کار ولې نوي . ځکه که په ده يو پيره د رحمت نظر اوشو ، توبه يې اوويسته ، او الله ﷻ ته مقبول شوه ، نو الله جل جلاله به د ده مخکيني ټول ګناهونه معاف کړي ، بلکه ګناهونه به ورله په نيکيو بدل کړي

---

(۱) الزمر ۵۳ .
(۲) يوسف آيت ۸۷ .

(c) ketabton.com: The Digital Library



الله تعالی فرمائي :

﴿ إِلَّا مَنْ تَابَ وَآمَنَ وَعَمِلَ عَمَلاً صَالِحًا فَأُوْلَئِكَ يُبَدِّلُ اللهُ سَيِّئَاتِهِمْ حَسَنَاتٍ وَكَانَ اللهُ غَفُورًا رَّحِيمًا ﴾ (۱)

ترجمه : مګر څوک چې تو به اوباسي ، ايمان راوړي او د نيکۍ کارونه کوي نو الله به د داسې خلکو بدياني په نيکيو بدلې کړي او (دا ځکه چې) الله بخښونکې او مهربان دی .

## د حضرت موسی علیه السلام د الله ﷻ نه سوال :

یو کرت حضرت موسی علیه السلام د الله جل جلاله نه سوال وکړو : چې اې الله ! په دې وخت کې چې په مخ د زمکه کوم کس ډیر زیات ګناهګار وي هغه راته او ښایه ، چې زه یې او ګورم چې هغه څوک دی ؟ وحی ورته راغله : چې په فلانکي ځای کې یو کس دی هغه ډیر ګناهګار دی .

حضرت موسی علیه السلام هلته ورغی ، نو وی کته چې یو کس دی ، د ځوانۍ په مستۍ کې ډوب دی ، هر وخت یې ځان د الله ﷻ په نافرمانۍ کې مشغوله کړې ، او ګناهونه کوي .

څه وخت پس بیا حضرت موسی علیه السلام الله ﷻ ته عرض وکړو چې اې الله ! په دې وخت کې ستا ډیر عبادت ګزار بنده څوک دی ؟ هغه راته وښایه چې زه یې او ګورم . وحي ورته اوشوه چې په فلانکي ځای کې یو کس دی ، هغه ډیر زیات عبادت کوي .

کله چې حضرت موسی علیه السلام هلته ورغی ، نو وی کته ، چې هماغه مخکینې کس ؤ ، دا چې حضرت موسی علیه السلام اولیده ، نو ډیر زیات حیران شو ، الله ﷻ ته یې عرض وکړو : اې الله ! دا خو هماغه مخکینی ګناهګار کس دی ؟

الله ﷻ ورته اوفرمایل : آو ، دې هماغه کس دی ، خو دې یو پیره په کور کې د خپلې ښځې سره ناست ؤ ، څه خبرې یې کولې نو هغې ورته وویل : چې ته خو داسې غټ ګناهګار یې ، چې یقیني جهنمي یې . ده ورته جواب ورکړو : چې ستا خبره صحیح ده ، چې زه غټ ګناهګار یم ، خو زه د الله ﷻ د رحمت نه نا امیده کیږم (امید شته چې الله ﷻ ما ته د توبې توفیق را کړي) .

---

(۱) الفرقان آیت ۷۰ . نوټ : د بدیالو په نیکیو سره د بدلیدلو تشریح علامه آلوسي رحمه الله په خپل تفسیر [ روح المعاني ج۱۹ ص۶۷ ] کې د همدې آیت د لاندې کړې .

(c) ketabton.com: The Digital Library



الله ﷻ اوفرمایل : دې بنده چونکه د اُمید خبره کړې وه ( چې زه د الله ﷻ د رحمت نه نه نااُمیده کیږم ) ، نو زما رحمت په جوش کې راغې ( ده ته مې د توبې توفیق ورکړو ) ، دده مخکیني ټول ګناهونه مې معاف کړه ، بلکه ګناهونه مې ورته په نیکۍ بدل کړه ، او س یې ځکه دومره زیات عبادت شروع کړې دی . (۱)

نو انسان ته پکار دي چې پخپله هم د الله ﷻ د رحمت نه نااُمیده نشي، او بل کس هم نا امیده نکړي .

## نور خلق د الله ﷻ د رحمت نه مایوسه کول ندي پکار:

بعضې انسان بل چاته د مایوسۍ داسې خبرې وکړي ، چې هغه بالکل د الله ﷻ د رحمت نه نااُمیده شي ، او داسې مایوسه شي ، چې مخکې به یې څه لږ عبادت کولو هغه هم پرېږدي ، نو د داسې ناامیده کوونکي کس د پاره په احادیثو کې سخته سزا راغلې .په حدیث شریف کې راځي

إِنَّ رَجُلًا مِنْ بَنِيْ إِسْرَائِيْلَ كَانَ يُقْنِطُ النَّاسَ وَيُشَدِّدُ عَلَيْهِمْ قَالَ : فَيَقُوْلُ اللهُ تَعَالَى يَوْمَ الْقِيَامَةِ: اَلْيَوْمَ اويسک مِنْ رَحْمَتِيْ كَمَا كُنْتَ تُقْنِطُ عِبَادِيْ مِنْهَا . (۲)

په بني اسرائیلو کې یو کس ؤ ، چې هغه به خلق د الله ﷻ د رحمت نه نااُمیده کول ، او په دوی به یې سختي کوله ( یعنی داسې خبرې به یې ورته کولې چې دوی به د الله ﷻ د رحمت نه نا امیده کیدل ) .

نبي علیه السلام فرمائي :الله ﷻ به ورته د قیامت په ورځ اوفرمائي :
لکه څرنګ چې تا په دُنیا کې زما بندګان زما د رحمت نه نا امیده کول ، دغه شان به زه هم نن تا د خپل رحمت نه نا امیده کوم .

په بعضو روایاتو کې داسې دي : چې داکس پخپله ډیر عبادت ګزار ؤ ، خو خلقو ته به یې داسې خبرې کولې چې خلق به د الله ﷻ د رحمت نه مایوسه کیدل ، نو چې کله دې وفات شو نو الله ﷻ ته یې عرض وکړو :

---

(۱) خطبات فقير ج۱۷ ص ۲۹ .

(۲) رواه البيهقي في الشعب عن زيد بن اسلم . احياء العلوم ج ۴ ص ۱۴۹ كتاب الخوف والرجاء .

(c) ketabton.com: The Digital Library



أَيْ رَبِّ مَا لِيْ عِنْدَكَ ؟

ای ربه زما د پاره تا سره څه دي ؟ ( یعنی ماله دې څه شی تیار کړې ؟ ) الله ﷻ ورته او فرمایل: اَلنَّارُ . د جهنم اور . ده ورته عرض وکړو : اې الله هغه زما عبادتونه او کوششونه څه شو ؟ ( ما خو ډیر عبادتونه کړي وو ، هغه چیرته لاړ ؟ ) نو الله ﷻ ورته او فرمایل :

إِنَّكَ كُنْتَ تَقْنُطُ النَّاسَ مِنْ رَحْمَتِيْ فِي الدُّنْيَا وَأَنَا أُقْنِطُكَ .

تا په دنیا کې خلق زما د رحمت نه نا امیده کول ، زه به هم نن تا د خپل رحمت نه نا امیده کوم .(۱)

امام مسلم رحمه الله یو باب قائم کړې : [ باب النهي عن تقنيط الانسان من رحمة الله ] چې د انسان د پاره دا منع دي چې دې د الله ﷻ د رحمت نه نا امیده شي ، او د دې باب لاندې یې یو حدیث ذکر کړې ، پیغمبر علیه السلام فرمائي :

إِنَّ رَجُلًا قَالَ : وَاللهِ لَا يَغْفِرُ اللهُ لِفُلَانٍ ، وَانَّ اللهَ تَعَالَى قَالَ : مَنِ الَّذِيْ يَتَأَلَّىٰ عَلَيَّ ؟ اَنْ لَا اَغْفِرَ لِفُلَانٍ فَإِنِّيْ قَدْ غَفَرْتُ لِفُلَانٍ ، وَأَحْبَطْتُ عَمَلَكَ . اَوْ كَمَا قَالَ .(۲)

بیشکه یو سړي وویل : قسم په الله چې الله ﷻ به فلانکي کس ته هیڅ کله بخښنه اونکړي . الله رب العزت او فرمایل :

څوک دی چې قسمونه خوري په ما باندې ، چې ګني زه به فلاني ته بخښنه نه کوم ، بیشکه ما فلاني ته بخښنه وکړه او ستا عملونه مې ضائع کړه .

محترمو مسلمانانو ! انسان که هر څومره ګناهګار او خطاء کار وي نو بیا هم مایوسي نده پکار ، ځکه دده ګناهونه او نافرمانۍ محدودې دي ، او بل طرفته د الله ﷻ رحمت لامحدوده دی . الله ﷻ فرمائي :

﴿ وَرَحْمَتِيْ وَسِعَتْ كُلَّ شَيْءٍ ﴾ (۳) ترجمه : زما رحمت عام دی هر څیز ته .

---

(۱) رواه البیهقي ، التذكرة ج۲ ص ۲۱۴ .

(۲) مسلم باب النهي عن تقنيط الانسان من رحمة الله ۶۶۲۰ .

(۳) الأعراف ۱۵۷ .

(c) ketabton.com: The Digital Library



نو الله ﷻ داسې کولې شي چې دې د ګناهونو نه را اوباسي ، او وليُّ الله ورنه جوړ کړي ، او داسې ډير شوي هم دي .

## د يو شاعر وينا :

ابو نواس شاعر فرمائي :

ذُنُوبِي إِنْ فَكَّرتُ فِيهَا كَثِيرَةٌ ❁ وَرَحْمَةُ رَبِّي مِنْ ذُنُوبِي أَوْسَعُ

وَمَا طَمْعِيْ فِيْ صَالِحٍ إِنْ عَمِلْتُهُ ❁ وَلٰكِنَّنِيْ فِيْ رَحْمَةِ اللهِ أَطْمَعُ

فَإِنْ تَكُ غُفْرَانٌ فَذٰلِكَ رَحْمَةٌ ❁ وَإِنْ تَكُنِ الأُخْرٰى فَمَا أَنَا أَصْنَعُ (١)

که زه په خپلو په خپلو ګناهونو کې سوچ اوکړم نو دا خو ډير زيات دي ، خو ليکن نا اميده کيږم نه ، ځکه زما د رب رحمت د ګناهونو نه ډير فراخه دی .

که زه نيک اعمال وکړم نو د هغې نه مې ډيره طمع نوي ( ځکه پته نه لږي چې قبول شوي به وي او که نه ) ، خو ليکن زه د الله ﷻ د رحمت نه ډيره طمع لرم .

که چيرته الله ﷻ زما ګناهونه اوبخل نو دا به د هغه رحمت وي ، او که چيرته زما د پاره عذاب مقرر وي ، نو بيا زه د الله ﷻ د وړاندې څه کولې شم ؟

### الله جل جلاله په خپل بنده ډير مهربانه دی :

په دنيا کې که د يو سړي غټ دشمن وي ، هغه ګير شي . بيا هغه دده د وړاندې اُورته غورځولې شي نو بيا هم دده زړه داغواړي چې دا دې اُورته او نه غورځولې شي .

اوس په دې دشمن دده دا تَرس او رحم صرف د هغه يو رحمت وجه ده ، چې الله ﷻ دنيا ته رانازل کړې ، او په غونډ مخلوق کې يې تقسيم کړې ، نو د قيامت په ورځ چې الله ﷻ پوره سل (١٠٠) واړه رحمتونه راجمع کړي او د مؤمنانو دپاره يې خاص کړي ، نو الله ﷻ کله دا خوښوي چې يو کلمه ګو انسان دې جهنم ته لاړ شي ، بلکه د مسلمان جهنم ته تلل خو صرف دده د صفائي د پاره وي چې دې د ګناهونو نه صفا شي .

(١) منبهات ابن حجر عسقلاني باب الرباعي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



بلکه الله ﷻ خو په دنيا کې د انسان د پاره د مغفرت او بخښنې بهانې ګوري ، په معمولي معمولي عمل چې په اخلاص اوشي ، په هغې د انسان مغفرت کوي .

او دا يوه واقعه نه ، بلکه په زرهاؤ داسې واقعات شته چې الله ﷻ په معمولي اخلاص واله عمل د انسان مغفرت نصيبه کړې ، او ډير اجرېې ورکړې . ځکه الله ﷻ د انسان د اعمالو ډير قدرداني کوونکې دی .

الله رب العزت فرمائي :

﴿ وَمَا كَانَ اللهُ لِيُضِيعَ إِيمَانَكُمْ إِنَّ اللهَ بِالنَّاسِ لَرَءُوفٌ رَحِيمٌ ﴾ (۱)

ترجمه : الله ﷻ ستاسو ايمان (اعمال) نه ضائع کوي ، بيشکه الله ﷻ په خلقو ډير مهربان او رحم کوونکې دی .

په معمولي اخلاص واله عمل سره د انسان د مغفرت يو څو نمونې درته پيش کوم :

## د ازغي دارې څانګې په لرې کولو سره مغفرت :

رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمائي :

بَيْنَمَا رَجُلٌ يَمْشِي بِطَرِيقٍ وَجَدَ غُصْنَ شَوْكٍ عَلَى الطَّرِيقِ فَأَخَّرَهُ فَشَكَرَ اللهُ لَهُ فَغَفَرَ لَهُ . (۲)

يو سړې په لاره روان ؤ ، نو په لاره کې يې يو آزغيداره څانګه اوليده ، نو هغه يې لرې کړه . نو الله تعالى دده دا عمل قبول کړو ، او بخښنه يې ورته وکړه .

## په تږي سپي باندې اوبو څکلو سره مغفرت :

امام بخاري او امام مسلم رحمهما الله او نورو محدثينو د نبي کريم صلى الله عليه وسلم دا حديث مبارک رانقل کړې چې نبي عليه السلام فرمائي :

بَيْنَمَا رَجُلٌ يَمْشِي بِطَرِيقٍ إِشْتَدَّ عَلَيْهِ الْعَطَشُ فَوَجَدَ بِئْرًا فَنَزَلَ فِيهَا فَشَرِبَ ثُمَّ خَرَجَ فَإِذَا كَلْبٌ يَلْهَثُ الثَّرٰى مِنَ الْعَطَشِ فَقَالَ الرَّجُلُ : لَقَدْ بَلَغَ هٰذَا الْكَلْبَ مِنَ الْعَطَشِ مِثْلَ الَّذِي كَانَ بَلَغَ مِنِّي

---

(۱) البقرة آيت ۱۴۳ .

(۲) رواه البخاري في الاذان باب فضل التهجير الى الظهر ۶۵۲ ، وفي المظالم باب من اخذ الغصن وما يؤذي الناس في الطرق فرمى به ۲۴۷۲ . ومسلم باب فضل ازالة الاذى عن الطريق ۶۶۲۸ . واخرجه ابوداؤد في الادب باب اماطة الاذى عن الطريق ۵۲۴۵ . والترمذي في البر والصلة باب ما جاء في اماطة الاذى ۱۹۵۸ . ومالک في صلاة الجماعة باب ما جاء في العتمة والصبح وابن ماجه في الآداب باب اماطة الاذى عن الطريق ۳۷۲۶ .

(c) ketabton.com: The Digital Library



فَنَزَلَ الْبِئْرَ فَمَلَأَ خُفَّهُ مَاءً ثُمَّ أَمْسَكَهُ بِفِيْهِ حَتَّى رَقِيَ فَسَقَى الْكَلْبَ . فَشَكَرَ اللهُ لَهُ . فَغَفَرَلَهُ .
قَالُوْا يَا رَسُوْلَ اللهِ وَإِنَّ لَنَا فِيْ هٰذِهِ الْبَهَائِمِ لَأَجْرًا ؟ فَقَالَ فِيْ كُلِّ كَبِدٍ رَطْبَةٍ أَجْرٌ (١)

يو كس په لاره روان ؤ (په مكه معظمه كې (٢) ) ، سخت تږي شو ، نو په لاره كې يې يو كوهي اوليد ، دې كوهي ته ورښكته شو ، اُوبه يې اوڅكلې . كله چې پاس را اوخت ، نو يو سپې يې وليد چې هغه هم ډير تږي شوې ؤ ، او د تندې نه يې ژبه راويستې وه ، او د ډيرې تندې د وجې يې لمده خټه څټله . نو دې سړي د ځان سره وويل : چې څنګه زه تږي شوې ووم ، دغه شان دې هم سخت تږى شوي ، نو دوباره كوهي ته ورښكته شو ، او خپله موزه يې د اُوبو نه ډكه كړه ، په خُله كې يې ونيوه ، بَره رااُوخت او په دې سپي يې اُوبه اوڅكلې .

نبي ﷺ فرمائي: فَشَكَرَ اللهُ تَعَالٰى لَهُ . فَغَفَرَلَهُ . الله تعالى د ده دا عمل قبول كړ ، او ده ته يې د همدې عمل په وجه بخښنه وكړه .

صحابه كرامو پوښتنه وكړه : اى د الله ﷺ رسوله ! آيا زمونږ د پاره د دې چارپيانو سره احسان كولو او په دوى اُوبه څكلو كې هم اجر شته ؟

نبي عليه السلام اوفرمايل : د هر لوند جګر (ژوندي) شي سره احسان كولو كې اجر دى .

## د زبيده خاتون د مغفرت واقعه :

د هارون الرشيد بي بي [ زبيده خاتون ] يوه ډيره نيكه بي بي وه ، كله چې دې ته پته اولږيده چې خلق حج ته ځي ، نو په لاره كې ورته د اُوبو سخت تكليف وي ، ډير خلق به اكثر د تندې د لاسه په تكليف كې وو ، نو د ى خپل خاوند هارون الرشيد ته وويل : چې زما په زړه كې دا تمنّى ده چې ته يو نهر اوباسې ، اود ميدان عرفات پورې يې بوځې ، چې حاجياتو ته د اوبو تكليف نه وي .

نو هارون الرشيد د دې دا غوښتنه پوره كړه ، او يو غټ نهر يې اوكنستو چې د هغې نه په زرهاؤ انسانانو ، حيواناتو او مرغو فائده اخيسته .

---

(١) اخرجه البخاري في المساقاة باب فضل سقي الماء ٢٣٦٣ وفي الادب باب رحمة الناس والبهائم ٦٠٠٩ ، ومسلم باب فضل سقي البهائم المحترمة واطعامها ٥٨١٣ ، وابوداؤد في الجهاد باب ما يؤمر به من القيام على الدواب والبهائم ٢٥٥٠

(٢) وفي رواية للدار قطني في الموطآت : يمشي بطريق مكة كما في فتح الباري ٤١/٥ . تكملة فتح الملهم ج٤ ص ٢٤٠ باب فضل سقي البهائم المحترمة واطعامها .

(c) ketabton.com: The Digital Library



کله چې دا وفات شوه، نو چا په خوب کې اولیده، پوښتنه یې ورنه وکړه: چې الله ﷻ درسره څه معامله وکړه؟ دې ورته جواب ورکړو: چې الله ﷻ زما مغفرت وکړو.

دې خوب لیدونکي ورنه پوښتنه وکړه: چې الله ﷻ به ستا مغفرت ځکه کولو چې تا خو ډیر نیک کارونه کړي وو، او نهر زبیده دې کنستی وُ. دې ورته جواب ورکړو: چې زما مغفرت یې د دې نهر په وجه ندې کړې. ځکه چې کله د الله ﷻ د وړاندې دا د نهر کنستلو واله عمل پیش شو نو الله ﷻ او فرمایل:

دا نهر چې تا کنیستی، نو دا خو دې د بیت المال په روپو کنیستی، که د بیت المال روپۍ درسره نه وې، نو تا خو بیا نشو کنیستی. خو ای زبیدې! دا راته ووایه: چې تا زما د رضا د پاره کوم عمل کړې؟

زبیده خاتون ویل: چې زه اوېریدم چې د ماسره بل کوم عمل دی چې هغه ما خالصه د الله ﷻ د رضا د پاره کړې وي. زه په دې ویره کې ووم، چې الله ﷻ راته او فرمایل: هو. تا یو عمل زما د رضا د پاره کړې.

هغه دا چې یو ورځ ته ډیره وږې شوې وی، په دستر خوان د روټۍ د پاره ناسته وی، کله چې دې نوړۍ خولې ته را اوچته کړه، نو په دې کې یو مؤذن آذان وکړو، تا چې کله د الله ﷻ نوم واوریده، نو په دې وخت کې ستا په سَر لوپټه پوره نوه پَرَته، بلکه نیم سَر دې ښکاره وُ، او نیم پټ وُ.

ستا په زړه کې دا خیال راغې چې د الله ﷻ نوم اخیستل کیږي او زما په سَر لوپټه پوره نشته، او دا خو د ادب خلاف ده، نو تا زَر هغه نوړۍ کیښوده او په سَر دې لوپټه برابره کړه، او بیا دې نوړۍ اوخوړه، نو تا چې زما د نوم د ادب په وجه په نوړۍ خوړلو کې کوم تاخیر وکړو، دغه عمل ماته ډیر خوښ شو، او تا ته مې د همدغه عمل په وجه مغفرت او بخښنه وکړه.

سبحان الله! الله ﷻ په انسان څومره مهربانه دې، کوم عمل چې په اخلاص شوې وي، که هغه وړوکې هم وي، خو بیا هم الله ﷻ په هغې سره د انسان مغفرت او بخښنه نصیب کوي.[1]

(۱) کشکول حکایات ص ۵۲، خطبات فقیر ج ۱۲ ص ۴۷، ماهنامه الدعوة الى الله ج ۲ ص ۲، یاد گار ملاقاتیں.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د امام ابوداؤد رحمه الله د مغفرت واقعه :

د دارالعلوم ديوبند مهتمم مولانا قاري محمد طيب صاحب په خپل کتاب [ خطبات حکيم الاسلام ] کې د امام ابوداؤد رحمه الله يو واقعه رانقل کړې .

امام ابوداؤد رحمه الله ډير لوي محدث تير شوې دی ، ابوداؤد شريف دده کتاب دی چې په مدارسو کې لوستل کيږي ، دده په واقعاتو کې راځي : چې يو ورځ دې د سمندر په غاړه ولاړ ؤ ، ديو فرلانګ په فاصله کې يو غټ جهاز په سمندر کې ولاړ ؤ ، په هغې کې يو کس پرنجی وکړو ، او په زوره يې وويل : اَلْحَمْدُ لله .

( د شريعت دا مسئله ده : چې څوک پرنجې وکړي نو هغه له په کار دي چې اَلْحَمْدُ لله ووايي ، او چې څوک يې واوري ، مجلس هم يو وي ، نو هغه به يَرْحَمُکَ اللهُ وايي )

د هغه سړي آواز چونکه ډير تيز ؤ ، نو ځکه امام ابوداؤد رحمه الله د هغه آواز واوريده . او دده آواز خو دومره تيز نه ؤ چې دې يَرْحَمُکَ اللهُ ووايي او هغه يې واوري ، بلکه په ده باندې يَرْحَمُکَ اللهُ ويل لازم هم نه ؤ ، ځکه چې مجلس جدا جدا وو .

خو چونکه ده سره د نيکۍ ګټلو ډير زيات حرص ؤ ، نو په درې ( ۳ ) درهمه يې ځانله وړه کشتۍ اونيوه ، په هغې کې سور شو ، چې کله هغه غټ جهاز ته ورغې ، نو هغه سړي ته يې د پرنجي جواب ورکړو : يَرْحَمُکَ اللهُ .

مؤرخين ليکي : چې کله ده يَرْحَمُکَ اللهُ وويل ، نو يو غيبي آواز يې واوريده :

ای ابوداؤد ! تا ته دې مبارک وي ، تا نن د ځان د پاره جنت په درې ( ۳ ) درهمه واخيست .

سبحان الله ـ امام ابوداؤد رحمه الله چې د احاديثو لوي کتاب [ ابوداؤد شريف ] يې ليکې ، نو ربه يې هم څومره ډير د نيکۍ کارونه کړي وي ، د هغې ټولو اجر به الله ﷻ ورکوي ،

خو ليکن الله رب العزت دومره قدردان ذات دی چې د امام ابوداؤد رحمه الله دغه وړه نيکي يې هم ضائع نکړه ، بلکه د همدغې نيکۍ په عوض کې يې ورته جنت ورکړو .[1]

(۱) خطبات حکيم الاسلام ص ۴۲۶ ، کشکولِ حکايات ص ۷۶ ، خطبات فقير ج ۱۲ ص ۱۹۶ .

(c) ketabton.com: The Digital Library



خلاصه دا چې انسان ته پکار دي چې د الله ﷻ د عذاب نه د ويرې سره سره ، د الله ﷻ د رحمت ، مغفرت او بخښنې اميد هم ساتي ، نيک اعمال هم کوي .

## ضروري تنبيه :

قدرمنو ! تاسو د الله ﷻ د رحمت او مهربانۍ په باره کې چې کوم بيان واوريده ، هسې نه چې تاسو په دې دهوکه کې پريوځئ چې ګني الله ﷻ غفور رحيم دی ، بخښنه به راته وکړي ، نو عبادات پريږدئ ، او په ګناهونو هم زړه وَر شئ .

بلکه دا خو بيا د شيطان غټه دهوکه ده چې انسان په ګناهونو زړه وَر کوي ، او نيک اعمال ورنه پاتې کوي . لهذا انسان به فرائض ، واجبات او نور عبادات اداء کوي ، د ټولو ګناهونو نه به ځان ساتي او ورسره ورسره به د الله ﷻ د رحمت اميد هم ساتي ، نو بيا دغه انسان کامياب دی .

الله رب العزت فرمائي :

﴿ فَمَنْ كَانَ يَرْجُوْ لِقَاءَ رَبِّهِ فَلْيَعْمَلْ عَمَلاً صَالِحًا وَلاَ يُشْرِكْ بِعِبَادَةِ رَبِّهِ أَحَدًا ﴾ (۱)

ترجمه : پس څوک چې د خپل رب د ملاقات (او مهربانۍ) اميد لري ، نو په کار ده چې هغه نيک کارونه وکړي ، او د خپل رب په عبادت کې دې بل هيڅوک نه شريکوي .

او که يو انسان مسلسل په ګناهونو کې اَخته وي ، او صرف په دې طمعه وي چې ځه ، الله ﷻ غفور رحيم دی ، نو دا خو بيا د حياء او غيرت خلاف هم ده .

يو شاعر وايي :

يَرْجُو النِّجَاةَ وَلَايَسْلُكُ مَسْلَكَهَا ✱ إِنَّ السَّفِيْنَةَ لَاتَجْرِيْ عَلَى الْيُبْسِ (۲)

دوی د نجات اميد لري ، خو د نجات په لاره نه ځي (نيک اعمال نه کوي) . بيشکه کشتۍ خو په اُوچه زمکه نه ځي .

بيا خاصکر چې يو سړی سپين ګيری شي او بيا هم د الله ﷻ نا فرماني نه پريږدي ، نو دا خو بيا ډيره د افسوس خبره ده .

(۱) الكهف آيت ۱۱۰ .

(۲) منبهات ابن حجر عسقلاني باب السداسي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



## سپين ږيري سړي ته هم د الله ﷻ نه حياء په کار ده :

حضرت عمر رضی الله عنه فرمائي : چې يو ورځ زه په نبي کريم صلی الله عليه وسلم باندې داخل شوم ، نو ما اوليده چې نبي عليه الصلوة والسلام ژړل ، ما ترې پوښتنه وکړه :

مَا يُبْكِيكَ يَا رَسُوْلَ اللهِ ؟ اې د الله ﷻ رسوله ولې ژاړې ؟ نبي ﷺ راته او فرمايل :

(( جَاءَنِيْ جِبْرِيْلُ عَلَيْهِ الصَّلوةُ وَالسَّلَامُ وَقَالَ : إِنَّ اللهَ يَسْتَحْيِيْ اَنْ يُعَذِّبَ أَحَدًا قَدْ شَابَ فِي الْإِسْلَامِ . فَكَيْفَ لَا يَسْتَحْيِيْ مَنْ شَابَ فِي الْإِسْلَامِ اَنْ يَعْصِيَ اللهَ تَعَالَى )) . (۱)

ماته اوس حضرت جبريل عليه السلام راغلې ؤ ، او دايې راته او فرمايل : چې الله جل جلاله د هغه چانه په عذاب ورکولو کې حياء کوي ، کوم چې په اسلام کې بوډا شوې وي ( يعنی الله ﷻ سپين ږيري سړي ته په عذاب ورکول کې حياء کوي ) .

نبي عليه السلام او فرمايل : چې ژاړم په دې ، چې دغه بوډاګان په نافرماني کولو سره د الله ﷻ نه حياء ولې نه کوي ؟ ( بلکه دې سپين ږيري ته هم پکار دي چې د الله ﷻ نه حياء وکړي او د هغه نافرماني پريږدي ) .

نو په کار ده چې سپين ږيري سړې دا خپل عزت او مرتبه او پيژني چې ماته الله جل جلاله څومره لوي عزت او مقام راکړې ، خپل ځان د ګناهونو نه اوساتي ، د الله ﷻ نه حياء وکړي ، د کرامًا کاتبين فرشتو نه حياء وکړي او د الله ﷻ عبادت طرفته متوجه شي .

دغه شان ځوان ته هم پکار دي چې د الله ﷻ په عبادت کې ځان مشغوله کړي .

ځکه يو خو د مرګ هيڅ پته نه لږي ،

دويم دا چې کوم ځوان په ځوانۍ کې د الله ﷻ عبادت کوي ،نو الله ﷻ به ده ته د دې په عوض کې د قيامت په هغه سخته ورځ کې د خپل عرش د سيوري لاندې ځای ورکړي .

---

(۱) تنبيه الغافلين ص ۴۱ . ط مکتبه دار الفکر بيروت .

په يو روايت کې داسې الفاظ دي : إِنَّ اللهَ عَزَّ وَجَلَّ يَسْتَحْيِيْ اَنْ يُعَذِّبَ عَبْدَهُ أَوْ اَمَتَهُ إِذَا اَسَنَّا فِي الْإِسْلَامِ . کنز العمال ج ۱۵ الباب الرابع في فضيلة طول العمر ... حديث نمبر ۴۲۶۷۳ .

إِنَّ اللهَ يَسْتَحْيِيْ عَنْ عَبْدِهِ أَوْ اَمَتِهِ يَشِيْبَانِ فِي الْإِسْلَامِ اَنْ يُعَذِّبَهُمَا . کنز العمال ج ۱۵ الباب الرابع في فضيلة طول العمر ... حديث نمبر ۴۲۶۷۴ .

(c) ketabton.com: The Digital Library



لکه حديث شريف کې راځي ، نبي عليه السلام فرمائي :

(( سَبْعَةٌ يُظِلُّهُمُ اللهُ فِيْ ظِلِّهِ يَوْمَ لَاظِلَّ إِلَّا ظِلُّهُ . . . . . ))

اووه ( ۷ ) کسان داسې دي چې د قيامت په هغه سخته ورځ کې به الله ﷻ دوی ته د خپل عرش د سيوري لاندې ځای ورکړي ، په کومه ورځ چې د عرش د سيوري نه علاوه بل سيوری نوي .

په دې اووه ( ۷ ) کسانو کې يو :

شَابٌ نَشَأَ فِيْ عِبَادَةِ اللهِ عَزَّ وَجَلَّ . (۱)

هغه ځوان چې په ځوانی کې يې د الله ﷻ عبادت کړې وي .

الله تبارک وتعالی دې مونږ ټولو ته د عبادت توفيق رانصيب کړي ، او الله ﷻ دې مونږ ټولو سره د خپل رحم او فضل معامله وکړي ، او زمونږ د ټولو په ګناهونو باندې دې قلم د عفوې راکاږي ، او آينده دې راته د نيکو اعمالو توفيق رانصيب کړي .

آمِيْن يَارَبَّ الْعَالَمِيْن .

وَآخِرُ دَعْوَانَا أَنِ الْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ

(۱) اخرجه البخاري في الاذان باب ۳٦ ، والرقاق باب ۲۴ ، والزكوة باب ۱٦ والحدود باب ۱۹ . ومسلم في الزكوة حديث ۹۱ . والترمذي في الزهد باب ۵۳ . والنسائي في القضاة باب ۲ .

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د الله جَلّ جَلالُهُ د رحمت په باره کې نور زړه رابښکونکې معتمد واقعات :

( د الله جَلّ جَلالُهُ د رحمت او مهربانۍ متعلق مې نور دِلچسپ او معتمد واقعات هم ذکر کړي ، ځکه بعض وخت مقرر ته د اُوږد بيان کولو موقع په لاس ورشي ، نو بيا داسې زړه رابښکونکو ، علمي او مؤثرو واقعاتو ته اَشد ضرورت هم وي . لهذا مقرِرين حضرات د دينه هم استفاده کولې شي ) .

## د قيامت په ورځ د ګناهونو نهه نوي(۹۹) دفترونه معاف کيدل :

که انسان په اخلاص باندې يو وړوکې عمل هم وکړي ، خو الله جَلّ جَلالُهُ په ده دومره مهربانه دی چې ده ته په دې وړوکي عمل هم ډير لوي اجر ورکوي ، او د ده د نيکو اعمالو تَله ورباندې درَنه ګرځوي .

امام ترمذي رحمه الله د نبي کريم صلی الله عليه وسلم يو حديث مبارک رانقل کړې :

(( إِنَّ اللّٰهَ يَسْتَخْلِصُ رَجُلًا مِنْ أُمَّتِيْ عَلٰى رُؤُوْسِ الْخَلَائِقِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ فَيَنْشُرُ عَلَيْهِ تِسْعَةً وَتِسْعِيْنَ سِجِلًّا كُلُّ سِجِلٍّ مِثْلُ مَدِّ الْبَصَرِ ثُمَّ يَقُوْلُ : أَتُنْكِرُ مِنْ هذا شَيْئًا ، أَظَلَمَكَ كَتَبَتِيْ الْحَافِظُوْنَ ؟ فَيَقُوْلُ : لَا يَا رَبِّ . فَيَقُوْلُ : أَفَلَكَ عُذْرٌ ؟ فَقَالَ : لَا يَا رَبِّ . فَيَقُوْلُ اللّٰهُ تَعَالٰى : بَلٰى إِنَّ لَكَ عِنْدَنَا حَسَنَةً فَإِنَّهُ لَا ظُلْمَ عَلَيْكَ الْيَوْمَ فَتُخْرَجُ بِطَاقَةٌ فِيْهَا : أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُوْلُهُ . فَيَقُوْلُ أُحْضُرْ وَزْنَكَ . فَيَقُوْلُ يَا رَبِّ مَا هٰذِهِ الْبِطَاقَةُ مَعَ هٰذِهِ السِّجِلَّاتِ . فَقَالَ فَإِنَّكَ لَا تُظْلَمُ . فَتُوْضَعُ السِّجِلَّاتُ فِيْ كَفَّةٍ . وَالْبِطَاقَةُ فِيْ كَفَّةٍ . فَطَاشَتِ السِّجِلَّاتُ وَثَقُلَتِ الْبِطَاقَةُ فَلَا يَثْقُلُ مَعَ اسْمِ اللّٰهِ شَيْءٌ )) . (۱)

(۱) رواه الترمذي كتاب الايمان باب ۱۷ وقال حديث حسن غريب ، وابن ماجه وابن حبان في صحيحه ، والحاكم والبيهقي وقال الحاكم صحيح على شرط مسلم ، الترغيب والترهيب ج۲ ص ۲۷۰ باب : الترغيب في قوله لا اله الاالله وما جاء في فضلها .

(c) ketabton.com: The Digital Library



بيشکه الله ﷻ به د قيامت په ورځ دټولو مخلوقاتو د وړاندې زما يو امتي راجدا کړي، او ده ته به د ګناهونو نهه نوي (۹۹) دفترونه وړاندې کړي، هريو دفتر به دده د سترګو د نظر په اندازه اوږد وي (يعنې هر دفتر به دومره غټ وي چې ترکومه ځايه پورې دده د سترګو نظر رسي تر هغې ځايه پورې به يو يو دفتر اوږد وي، او دا ټول به د ګناهونو نه ډک وي)، بيا به الله ﷻ ورته اوفرمائي:

أَتُنْكِرُ مِنْ هٰذَا شَيْئًا، أَظَلَمَكَ كَتَبَتِي الْحَافِظُوْنَ ؟

آيا ته په دې کې د کومې ګناه نه انکار کوې؟ آيا زما فرشتو خو په تا باندې ظلم نه دې کړې؟ (چې تا يو ګناه نوي کړي او دوی درپسې ليکلې وي؟)، دې به ووايي: چې اې زما ربه! نه خو زه د دينه انکار کوم، او نه ستا فرشتو په ما ظلم کړې، بلکه دا ټول ګناهونه ما يقيني کړي دي.

الله ﷻ به بيا ورنه پوښتنه وکړي:

أَفَلَكَ عُذْرٌ ؟ آيا تا ته څه عذر شته چې د هغې په وجه تا دا ګناهونه کړي؟

دې به ورته جواب ورکړي: ای ربه ماته هيڅ عذر نه ؤ (خو ما بيا هم دا ګناهونه کړي).

الله ﷻ به ورته اوفرمائي:

بَلٰى إِنَّ لَكَ عِنْدَنَا حَسَنَةً فَإِنَّهُ لَا ظُلْمَ عَلَيْكَ الْيَوْمَ.

آو. بلکه ستا د پاره د مونږ سره، ستا يوه نيکي هم شته، او نن به په تا ظلم نشي کيدی.

بيا به يو وړوکې غوندې پرچه را اويستلې شي چې په هغې کې به کلمه شهادت (: أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُوْلُهُ.) ليکلې وي، او ده ته به اوفرمائي:

أُحْضُرْ وَزْنَكَ: هغه خپل د ګناهونو دفترې دې را ديخوا کړه (چې د دې پرچې سره يې اوتلو) دا بنده به عرض وکړي: ای زما ربه! د دې وړوکې پرچې به د دې نهه نوي دفترونو د وړاندې څه حيثيت وي؟ الله جل جلاله به ورته اوفرمائي:

فَإِنَّكَ لَا تُظْلَمُ. بيشکه په تا باندې به ظلم نشي کولې. نو دا نهه نوي دفترونه د ګناهونو به د تلې په يو چابړي کې کيښودلې شي او دا وړه پرچې به د تلې په بل چابړي کې کيښودې شي،

(c) ketabton.com: The Digital Library



نو دا ټول ګناهونه به سپک شي او دغه د نيکۍ چابړې به دروند شي. ځکه د الله د نوم نه وزني شي بل نشته. (نو چې کله د انسان د نيکۍ چابړې دروند شي، نو ده ته بيا نجات ملاويږي).

## د الله ﷻ په نزد د سپين ګيري مسلمان قدر:

فقيه ابوالليث سمرقندي رحمه الله په تنبيه الغافلين کې يو واقعه رانقل کړې:

احمد بن سهل رحمه الله فرمائي: چې کله يحيیٰ بن اکثم رحمه الله د بوډا والي په حالت کې وفات شو، نو د وفات نه څو ورځې روستو ما په خوب کې اوليد، پوښتنه مې ترې وکړه:

چې الله ﷻ درسره څه معامله وکړه؟ هغه راته وويل چې کله زه د الله ﷻ حضور ته پيش شوم، نو راته وې فرمايل:

يَا شَيْخَ السُّوْءِ! فَعَلْتَ مَا فَعَلْتَ.

اې ګناهګار بوډا! تا دا فلانې فلانې کار ولې کړې؟

ما ورته عرض وکړو: يا الله! ماته خو ستا د طرف نه دا خبره نوه رارسيدلې. الله ﷻ راته اوفرمايل: تاته زما د طرفه کومه خبره در رسيدلې وه؟ ما ورته وويل:

ماته خو حديث بيان کړې عبدالرزاق، او هغه د معمر نه اوريدلې، هغه د زهري نه اوريدلې، هغه د عروه نه اوريدلې، هغه د حضرت عائشې رضی الله عنها نه اوريدلې، هغې د پيغمبر عليه السلام نه اوريدلې، پيغمبر عليه السلام د حضرت جبريل عليه السلام نه دا خبره اوريدلې، او حضرت جبريل عليه السلام د تا نه دا خبره اوريدلې، چې تا فرمايلي:

مَا مِنْ مُسْلِمٍ يَشِيْبُ فِي الْإِسْلَامِ إِلَّا وَأَنَا أُرِيْدُ أَنْ أُعَذِّبَهُ إِلَّا وَأَنَا أَسْتَحْيِيْ أَنْ أُعَذِّبَهُ.

کوم مسلمان چې په اسلام کې سپين ګيرئ شي، او زه هغه ته د عذاب ورکولو اراده وکړم، نو ماته حياء راځي چې زه ده ته عذاب ورکوم.

نو اې الله! زه خو هم بوډا يم (ماته هم د عذاب نه نجات راکړه).

(امام غزالي رحمه الله هم په احياء العلوم کې دا واقعه ذکر کړې، په هغې کې ورسره دا سې الفاظ هم دي چې دې يحيیٰ بن اکثم رحمه الله، الله جل جلاله ته اوفرمايل: چې ماته خو ستا د طرف نه دا خبره رار[سي]دلې و[چ]ې تا فرمايلي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



أَنَا عِنْدَ ظَنِّ عَبْدِيْ بِيْ فَلْيَظُنَّ بِيْ مَا شَآءَ ، وَكُنْتُ أَظُنُّ بِكَ أَنْ لَا تُعَذِّبَنِيْ . (۱)

بنده چې په ما باندې ښه ګمان کوي زه دده د ګمان مطابق دده سره معامله کوم ، او س دده خوښه ده چې په ما هر ښه ګمان کوي (هماغه شان معامله به ورسره کوم) اې الله ! زما خو په تا باندې دا ګمان ؤ چې ته به ماته عذاب نه راکوې .)

يحيٰ بن اکثم رحمه الله وايي : چې الله ﷻ راته او فرمايل :

صَدَقَ عَبْدُالرَّزَّاقِ وَصَدَقَ مَعْمَرُ وَصَدَقَ الزُّهْرِيُّ وَصَدَقَ عُرْوَةُ وَصَدَقَتْ عَائِشَةُ وَصَدَقَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَصَدَقَ جِبْرِيْلُ عَلَيْهِ السَّلَامُ وَصَدَقْتُ أَنَا . يَا يَحْيىٰ إِنِّيْ لَا أُعَذِّبُ مَنْ شَابَ فِي الْإِسْلَامِ .

عبدالرزاق هم رښتيا ويلي ، معمر هم رښتيا ويلي ، زهري هم رښتيا ويلي ، عروة هم رښتيا ويلي ، حضرت عائشې رضی الله عنها هم رښتيا ويلي ، نبي کريم صلی الله عليه وسلم هم رښتيا ويلي ، حضرت جبريل عليه السلام هم رښتيا ويلي ، او ما هم رښتيا ويلي : چې زه هغه کس ته عذاب نه ورکوم ، کوم چې په اسلام کې سپين ږيرې شوې وي .

يحی بن اکثم رحمه الله وايي : چې بيا الله ﷻ حکم وکړو چې دې جنت ته بوځئ ، نو زه جنت ته بوتلې شوم . (۲)

## د يو بانړه د شفاعت په وجه مغفرت :

د قيامت په ورځ به مختلف خلق د ګناهګارانو باره کې شفاعت کوي ، انبياء کرام به شفاعت کوي ، علماء کرام به شفاعت کوي ، شهداء به شفاعت کوي ، د قرآن کريم حافظان به شفاعت کوي ، او جنتيان به هم شفاعت کوي ، تردې چې يو حديث شريف کې راځي :

چې د قيامت په ورځ به د ګناهګار سړي د خي سترګې يو بانړه د الله ﷻ نه د خبرو کولو اجازت اوغواړي ، الله ﷻ به اجازت ورکړي . دا بانړه به الله رب العزت ته عرض وکړي :

---

(۱) احياء العلوم ج۴ ص ۱۹۳ کتاب الخوف والرجاء .

(۲) تنبيه الغافلين ص ۳۱ باب ما يرجي من رحمة الله تعالى . ط . دارالفکر بيروت . احياء العلوم ج۴ ص ۱۹۳ کتاب الخوف والرجاء .

(c) ketabton.com: The Digital Library



اې الله ! آیا تا دا ندي فرمایلي : چې کوم سړی زما د یَرې د وجې اوژاړي او د سترګو یو بانړه په اوښکو باندې لوند کړي ، زه به دې انسان ته د جهنم د اُور نه پناه ورکوم ؟ (۱)

الله ﷻ به ورته او فرمائي : چې هو ، ما دا فرمائلي دي . دا بانړه به عرض وکړي :

أَنَا أَشْهَدُ أَنَّ هَذَا الْعَبْدَ الْمُذْنِبَ قَدْ أَغْرَقَنِيْ بِالدُّمُوْعِ مِنْ خَشْيَتِکَ . فَيَأْمُرُ اللهُ تَعَالٰى بِهِ إِلَى الْجَنَّةِ .

اې الله ! زه دا ګواهي ورکوم چې دې ګناهګار بنده شتا د یَرې د وجې نه یو پیره ژړلي ، او زه يې په اوښکو لوند کړې یم ، نو الله ﷻ به حکم وکړي چې دې جنت ته بوځئ.

بیا به یو آواز کوونکې دا آواز وکړي :

أَلَآ إِنَّ فُلَانَ بْنَ فُلَانٍ قَدْ نَجَا مِنَ النَّارِ بِشَعْرَةٍ وَّاحِدَةٍ مِنْ أَجْفَانِ عَيْنَيْهِ .

بیشکه فلانی چې د فلاني ځوی دی د ه جهنم د اُور نه د سترګو د یو بانړه د شفاعت په وجه نجات او موند ه . (۲)

## د قیامت په ورځ د الله رب العزت د یو بنده سره مکالمه :

علامه ابن جوزي رحمه الله په خپل کتاب [ بستان الواعظین ] کې یو حدیث رانقل کړې :

نبي علیه السلام فرمائي : الله رب العزت به د قیامت په ورځ یو بنده د نورو خلقو نه راجدا کړي ، ځانته به يې مخاطب کړي ، دده او د الله ﷻ په مینځ کې به هیڅ حِجاب نوي ، او الله ﷻ به ورته او فرمائي :

أَمَا عَلِمْتَ أَنِّيْ مُطَّلِعٌ عَلَيْکَ يَا عَبْدِيْ ، أَفَجَعَلْتَنِيْ أَهْوَنَ النَّاظِرِيْنَ إِلَيْکَ ؟ أَمَا اسْتَحْيَيْتَ مِنِّيْ ، أَمَا اسْتَحْيَيْتَ مِنْ مَلَآئِکَتِيْ ، أَمَا خِفْتَ مِنْ عِقَابِيْ . عَبْدِيْ أَرْوَيْتُکَ مِنَ الْمَاءِ الْبَارِدِ ، وَقَوَّيْتُ جِسْمَکَ . وَ وَسَّعْتُ عَلَيْکَ مِنْ سَعَةِ رِفْدِيْ فَعَصَيْتَنِيْ !

(۱) نبي علیه السلام فرمائي : حُرِّمَتِ النَّارُ على عينٍ دَمَعَت أو بَكَت من خَشيَةِ الله ..... . اخرجه احمد في المسند ۱۳۴/۴ ، والنسائي والحاكم وقال صحيح الاسناد ، الترغيب والترهيب ج ۴ ص ۱۱۳ الترغيب في البكاء من خشية الله تعالى .

(۲) حياة القلوب ، اهل دل کي تړپان دینے والے واقعات ج۴ ص ۹۸ ، خطبات فقير ج۲۲ ص ۱۵۲ ، درة الناصحين ص ۳۰۹ .

(c) ketabton.com: The Digital Library



( اى زما بنده تا چې زما نافرماني كوله ) آيا تاته دا معلومه چې زه په تا باندې خبر داريم، اى زما بنده ! آيا تاته زه دومره كمزورى ښكاره شوم چې گڼي زه تا نه گورم ؟ آيا تا د ما نه حياء نه كوله ؟ زما د فرښتو نه دې حياء نه كوله ؟ آيا ته زما د عذاب نه نه ويريدې ؟

اې زما بنده ما خو تاته ينخې اُوبه دركړې وې ، ستا جسم مې قوي كړې وو ، په تا باندې مې هر قسم فراخي راوستى وه ، نو تابيا هم زما نافرماني كوله ؟

نبي عليه السلام فرمائي : چې كله بنده دا خبرې واوري ، نو د حياء د وجې به سَم ويلې شي، او په خَولو كې به ډوب شي ، تردې چې مرگ ته به نزدې شي .

دا بنده به عرض وكړي : اى ربه ! ماته د تا نه او ددې بندگانو دومره حياء راځي چې ما د پاره ددېنه جهنم غوره دى . الله ﷻ به حكم وكړي چې دې جهنم له بوځئ . نو دې به روان شي ، بيا به دا كس شا ته مخ راواړوي ، او اوبه وايي :

اې الله ! زما دې ستا په عزت او جلال قسم وي ما چې دا كوم گناهونه كړي ، دا مې ستا د سپكاوي په غرض ندي كړي ، بلكه زما خو په تا باندې دا گمان وُ چې څرنگ دې په دنيا كې په ما باندې پَرده اچولې وه ، دغه شان په آخرت كې به مې گناهونه هم معاف كوې .

اې الله ! زما خو دا يقين وُ : چې زما دا گناهونه تا ته هيڅ نقصان نشي در رَسولې ، او ستا رحمت په ما باندې ستا په خدائي كې څه كمې نه راولي . نو الله ﷻ به ورته او فرمائي :

عَبْدِيْ صَدَقْتَ ، لَمْ تَقْطَعْ رَجَاءَ كَ مِنْ رَحْمَتِيْ ، فَوَعِزَّتِيْ وَجَلَالِيْ لَأَغْفِرَنَّ لَكَ الْيَوْمَ ، يَا مَلَائِكَتِيْ مُرُّوْا بِعَبْدِيْ إِلَى الْجَنَّةِ .

اې زما بنده ! تا رښتيا وويل ، زما د رحمت نه ستا اُميد قطع نه وُ ( بلكه زما د رحمت اميد دې وُ ) ، زما دې په خپل عزت او جلال قسم وي چې زه به نن خامخا تا ته بخښنه وكوم ، اې زما فرښتو زما دا بنده جنت ته بوځئ . (۱)

**قدرمنو** ! الله ﷻ په خپل بنده دومره مهربانه دى او دده د اعمالو دومره قدرداني كوونكې دى چې كه دې يو معمولي عمل هم په اخلاص سره وكړي ، نو الله جل جلاله دده دا عمل نه ضائع كوي ، او ده ته پرى ډير اجر وركوي .

---

(۱) بستان الواعظين لابن جوزي رحمه الله ص ۸۱ .

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د يو مَچ سره د احسان کولو په وجه مغفرت :

مولانا تقي عثماني رحمه الله فرمائي : چې ما څو څو پيرې دا واقعه د خپل شيخ حضرت ډاکټر عبدالحي صاحب قدّس الله سرّه نه اوريدلې ده .

چې يو بزرگ ؤ ، ډير لوي عالم ، فاضل ، محدث او مفسر ؤ ، ټول عمر يې په درس و تدريس ، تصنيف او تاليف کې تير کړې ؤ ، ( دا امام غزالي رحمه الله ؤ ، کوم چې احياء العلوم او کيميائې سعادت وغيره کتابونه ليکلي [1] )

کله چې دې وفات شو ، نو چا په خوب کې اوليد ، تپوس يې ترې وکړو :

جناب ! الله ﷻ درسره څه معامله وکړه ؟ ده ورته وويل : چې الله ﷻ راباندې خپل فضل و کرم وکړو ، زما مغفرت يې وکړو . خو مغفرت يې په څه عجيبه شي راته وکړو :

هغه دا چې کله زما پيش کيدل د الله ﷻ د وړاندې اوشو ، نو الله ﷻ راته اوفرمايل :

اې امام غزالي ! مونږ ستا مغفرت وکړو . خو آيا تاته معلومه ده چې په کوم عمل مو ستا مغفرت وکړو ؟ زما په ذهن کې راغله چې ما خو ټول عمر د الله ﷻ د دين خدمت کړې ، وعظ او تقريرونه مې کړي ، تاليف و تصنيف مې کړې ، خلق مې د الله ﷻ دين ته رابللي نو په دې وجه به يې زما مغفرت کړې وي .

الله ﷻ راته اوفرمايل : چې نه . ددې کارونو ثواب په خپل ځای دی ، خو مونږ چې تاته بخښنه کړې هغه په يو بل شي سره .

هغه دا چې يو ورځ تا ليکل کول ، دلرګي نه جوړ شوې قلم درسره ؤ ، تا په سياهی کې بنکته کړو ، کله چې دې را اوچت کړو نو يو مچ راغې ، په دې قلم کيناست ، او سياهي څکل يې شروع کړه . تا چې ورته اوکتل ، نو تا ليکل د لږ وخت د پاره اودرول ، او دا سوچ دې وکړو چې د امچ به تږې شوې وي ، پريده چې دې داسياهي اوڅکي ، زه به خير لږ انتظار وکړم ، نو تا په ليکلو کې داسې لږه غوندې وقفه وکړه ، چې کله مچ پاڅيده ، نو تا بيا ليکل شروع کړه ، نو تا چې په دې ليکلو کې کومه لږه وقفه کړې وه نو دا خالصه زما د رضا د پاره وه ، او زما د يو مخلوق سره دې احسان کړې ؤ .

---

[1] ايک هزار پُر تاثير واقعات ص ۳۸۷ .

(c) ketabton.com: The Digital Library



نو اې امام غزالي ! تاته چې ما نن کومه بخښنه وکړه ، دا صرف د هغې وړوکي عمل په بدله کې ده کوم چې تا په ليکلو کې لږ انتظار زما د رضا د پاره کړې وو . (۱)

(۱) دين و دانش ج۳ ، ايک هزار پُر تاثير واقعات ص ۲۰۱ .

(c) ketabton.com: The Digital Library

١٤١

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

﴿ وَذَرُوْا ظَاهِرَ الْإِثْمِ وَبَاطِنَهُ ﴾. الانعام آیت ١٢٠.

﴿ ظَهَرَ الْفَسَادُ فِي الْبَرِّ وَالْبَحْرِ بِمَا كَسَبَتْ أَيْدِي النَّاسِ لِيُذِيْقَهُمْ بَعْضَ الَّذِيْ عَمِلُوْا لَعَلَّهُمْ يَرْجِعُوْنَ ﴾. الروم آیت ٤١.

# دګناهونو نقصانات:

تالیف:


ابو الشمس مولانا نُوْرُ الْهُدٰی عُفِيَ عَنْهُ

مُدَرِّس دارُالعلوم فیض القرآن اکاخیل کالونی مردان

(c) ketabton.com: The Digital Library



بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

# د ګناهونو نقصانات :

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ وَكَفٰى ، وَسَلَامٌ عَلٰى عِبَادِهِ الَّذِيْنَ اصْطَفٰى .

اَمَّا بَعْدُ فَأَعُوْذُ بِاللهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ. قَالَ اللهُ تَبَارَكَ وَتَعَالٰى فِي الْقُرْآنِ الْمَجِيْدِ وَالْفُرْقَانِ الْحَمِيْدِ :

﴿ ظَهَرَ الْفَسَادُ فِي الْبَرِّ وَالْبَحْرِ بِمَا كَسَبَتْ أَيْدِي النَّاسِ لِيُذِيْقَهُم بَعْضَ الَّذِيْ عَمِلُوْا لَعَلَّهُمْ يَرْجِعُوْنَ ﴾. (۱)

وَقَالَ فِيْ مَوْضِعٍ آخَر ﴿ وَذَرُوْا ظَاهِرَ الْإِثْمِ وَبَاطِنَهُ إِنَّ الَّذِيْنَ يَكْسِبُوْنَ الْإِثْمَ سَيُجْزَوْنَ بِمَا كَانُوْا يَقْتَرِفُوْنَ ﴾. (۲)

(( وَقَالَ النَّبِيُّ ﷺ : إِنَّ الْمُؤْمِنَ إِذَا أَذْنَبَ ذَنْبًا كَانَتْ نُكْتَةٌ سَوْدَاءُ فِيْ قَلْبِهِ فَإِنْ تَابَ وَنَزَعَ وَاسْتَغْفَرَ صُقِلَ مِنْهَا، وَإِنْ زَادَ زَادَتْ حَتّٰى يُغَلَّفَ بِهَا قَلْبُهُ . فَذٰلِكَ الرَّانُ الَّذِيْ ذَكَرَ اللهُ فِيْ كِتَابِهِ: ﴿ كَلَّا بَلْ رَانَ عَلٰى قُلُوْبِهِمْ مَا كَانُوْا يَكْسِبُوْنَ (۳) ﴾ )).(۴)

صَدَقَ اللهُ الْعَظِيْمِ .

زما خوږو قدرمنو او عزت مندو مسلمانانو ورونو ! الله رب العزت په خپل آخيري كتاب كې انسانانو ته دا حكم كوي :

﴿ وَذَرُوْا ظَاهِرَ الْإِثْمِ وَبَاطِنَهُ ﴾. (۵)

---

(۱) الروم آيت ۴۱.

(۲) الانعام آيت ۱۲۰ .

(۳) المطففين آيت ۱۴ .

(۴) اخرجه الترمذي في التفسير تفسير سورة ۸۳ باب ۱ ، والنسائي ، وابن ماجه ، وابن حبان في صحيحه ، والحاكم ، الترغيب والترهيب ج۴ ص ۴۷ كتاب التوبة والزهد .

(۵) الانعام آيت ۱۲۰ .

(c) ketabton.com: The Digital Library



ترجمه: تاسو ښکاره او پټه ګناه پرېږدئ. (يعنى هر قسمه ګناهونه پرېږدئ) (۱)

# د ګناهونو ضرر او نقصان زيات دى:

د انسان د پاره په دُنيا کې د ټولو نه زيات ضرر ناک شي ګناهونه کول دي. وجه داده: چې د دنيا نور ضرري شيان اګرچې نقصاني دي، خو دهغوى نقصان عارضي دى، يا به په خپله ختم شي، يا به په څه دوائي سره ختم شي، يا زيات نه زيات په مرګ سره خو به دهغه تکليف نه خامخا نجات او مومي (او د مرګ نه خو انکار نشي کيدې).

خو ليکن د ګناهونو چې کوم نقصانات دي، هغه نه ختميدونکي نقصانات دي. په دُنيا کې هم انسان ته د ګناهونو نقصان رسيږي، او په آخرت کې خو به په طريقِ اولیٰ سره انسان ته د دې جزاء رسيږي.

الله جل جلاله فرمايي:

﴿ إِنَّ الَّذِيْنَ يَكْسِبُوْنَ الْإِثْمَ سَيُجْزَوْنَ بِمَا كَانُوْا يَقْتَرِفُوْنَ ﴾. (۲)

ترجمه: بيشکه کوم خلق چې ګناهونه کوي، ډير زر به دويي ته بدله ورکړې شي د هغه عملونو کوم چې دوی کول.

بل ځای الله ﷻ فرمائي:

﴿ وَمَنْ يَّعْمَلْ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ شَرًّا يَّرَهُ ﴾. (۳)

ترجمه: او څوک چې د يو ذرې برابر بدي وکړي، نو دې به د قيامت په ورځ ددې جزاء وګوري.

الله رب العزت يو قانون بيانوي:

﴿ مَنْ يَّعْمَلْ سُوْءًا يُّجْزَ بِهٖ ﴾. (۴)

ترجمه: څوک چې بَد کار وکړي (او توبه ورنه اونه باسي) نو ده ته به د هغې جزاء ورکولې شي.

(۱) المعنى: وَذَرُوا الاثمَ من جميع جهاته. زاد المسير ج۲ ص ۷۱.

(۲) الانعام آيت ۱۲۰.

(۳) الزلزال آيت ۸.

(۴) النساء آيت ۱۲۳.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د مخکيني قومونو د هلاکت وجه ګناهونه وو :

محترمو مسلمانانو ! که چيرته مونږ په قرآن کريم نظر واچوو ، نو دا به راته واضحه شي چې الله ﷻ چې مخکيني غټ غټ قومونه تباه کړي نو د هغې واحد سبب د الله ﷻ نافرماني کول، او د الله ﷻ د حکمونو نه مخ اړول وو .

الله رب العزت د بني اسرائيلو د هلاک شوي يو قوم (اصحب السبت) باره کې فرمائي :

﴿ فَلَمَّا عَتَوْا عَنْ مَّا نُهُوْا عَنْهُ قُلْنَا لَهُمْ كُوْنُوْا قِرَدَةً خَاسِئِيْنَ ﴾ . (۱)

ترجمه : هر کله چې دوی سرکشي وکړه د هغې شي نه ، د کوم نه چې دوی منع شوي وو (يعنی د الله جل جلاله حکم يې اونه منل) ، نو مونږ دوی ته وويل : چې تاسو ذليله بيزوګان شئ .

بل ځای الله ﷻ د فرعون او دده د ملګرو باره کې فرمايي :

﴿ فَلَمَّا آسَفُوْنَا انْتَقَمْنَا مِنْهُمْ فَأَغْرَقْنَاهُمْ أَجْمَعِيْنَ ﴾ . (۲)

ترجمه : هر کله چې دوی زه ناراضه کړم ، نو مونږ د هغوی نه بدله واخيسته ، بيا مو ټول غرق کړل .

## د بعضو هلاک شوو قومونو اجمالي تذکره :

عزت مندو مسلمانانو ! تاسو آخر ديته سوچ وکړئ :

چې هغه څه شی ؤ ، چې د هغې په وجه الله ﷻ د حضرت لوط عليه السلام ټول قوم (بغير د يو څه کسانو نه) د آسمانه پورې اوچت کړو ، بيا يې اُلټه (پړ مخ) را اوغورځول ، او د پاسه يې پرې د کاڼو باران وکړو ؟

هغه څه شی ؤ ، چې د هغې په وجه الله جل جلاله د حضرت نوح عليه السلام ټول قوم (بغير د يو څه کسانو نه نور ټول) په طوفان کې غرق کړه ؟

هغه څه شی ؤ ، چې د هغې په وجه الله ﷻ د حضرت هود عليه السلام په قوم (عاديانو) باندې سخته تيزه هوا مسلط کړه ، او ټول قوم يې په زمکه ويشتلو راويشتلو سره تباه کړو ؟

---

(۱) الاعراف آيت ۱۶۶ .

(۲) الزخرف آيت ۵۵ .

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه څه شی وُ ، چې د هغې په وجه د حضرت صالح علیه السلام په قوم (ثمودیانو) باندې حضرت جبریل علیه السلام د الله ﷻ په حکم یوه تیزه چغه او وهله ، چې د هغې په وجه د ټولو زړونه اُوچاودیدل ، او ځای په ځای ټول هلاک شو ؟

هغه څه شی وُ ، چې د هغې په وجه د حضرت شعیب علیه السلام په قوم باندې د وریځې نه اُور رااُو وریده ، او ټول قوم تباه شو ؟

هغه څه شی وُ ، چې د هغې په وجه په بني اسرائیلو باندې مختلف قسمه عذابونه راغلل : کله قید شو ، کله یې کورونه اوسوزیدل ، کله جلا وطن شو ، او کله مړه شو ؟

هغه څه شی وُ ، چې د هغې په وجه قارون سره د ملګرو او مال و دولت په زمکه کې خخ کړې شو ؟

هغه څه شی وُ ، چې د هغې په وجه ابلیس باوجود د ډېر عبادت نه بیاهم د اسمانونه رااویستلې شو ، شکل یې بدل شو ، لعنتي شو ، او همیشه د پاره تباه وبرباد شو ؟

قدرمنو ! هغه شی د الله جلاله نافرماني کول او ګناهونه کول وو .

چې کله هم یو قوم د الله ﷻ نافرماني کړې ، د خپل وخت د پیغمبر خبره یې نده منلې ، نو الله رب العزت هغه قوم تباه کړې .

الله ﷻ فرمائي :

﴿ فَكُلًّا أَخَذْنَا بِذَنبِهِ فَمِنْهُم مَّنْ أَرْسَلْنَا عَلَيْهِ حَاصِبًا وَمِنْهُم مَّنْ أَخَذَتْهُ الصَّيْحَةُ وَمِنْهُم مَّنْ خَسَفْنَا بِهِ الْأَرْضَ وَمِنْهُم مَّنْ أَغْرَقْنَا وَمَا كَانَ اللَّهُ لِيَظْلِمَهُمْ وَلَكِن كَانُوا أَنفُسَهُمْ يَظْلِمُونَ ﴾ .(۱)

ترجمه : پس هر یو مونږ د هغوی د ګناه په وجه اونیولو ، په بعضو مو کانړي رااُوورول ، بعضی یو چغې (د حضرت جبریل علیه السلام) اونیوه ، بعضی مو په زمکه کې ورننویستل ، او بعضې مو (په اُوبو کې) غرق کړه .

او الله ﷻ په دوي ظلم ندې کړې ، بلکه دوی په خپلو ځانونو ظلم کوونکي وو (چې ګناهونه یې کول) .

(۱) العنکبوت آیت ۴۰ .

(c) ketabton.com: The Digital Library



**عبرت :**

عزتمندو ! قرآن کريم کې چې د مخکيني امتونو د هلاکت کوم واقعات بيان شوي، نو دا نو د يو مقصد د پاره ذکر شوي، چې انسان دد ينه عبرت واخلي. چې څوک هم د الله ﷻ نافرماني کوي، ګناهونه کوي، د الله ﷻ او د هغه د رسول احکامات نه مني، نو د دغه خلقو سره به هم همغه شان معامله کولې شي، څنګه چې د مخکيني امتونو سره شوې وه.

## ګناه ته ګناه نه ويل خطرناک دي :

د ټولو نه غټه ګمراهي داده چې يو سړی په ګناه کې اخته وي، خو دده سره دا احساس هم نوي چې زه ګناه کوم، بلکه دده ته دا ګناه د سره ګناه نه معلومېږي، نو دا بيا ډيره د خطرې خبره ده، په دې سره په انسان باندې د الله ﷻ قهر او غضب نازلېږي. او داسې کس ته الله ﷻ د توبې توفيق هم نه ورکوي.

البته که يو کس ګناه کوي خو دده سره دا احساس هم شته چې زه د الله ﷻ نافرماني کوم، په خپل زړه کې ورباندې پښيمانه دی، نو اميد شته چې داسې کس ته الله ﷻ د توبې توفيق هم ورکړي.

## د حضرت آدم عليه السلام د توبې قبليدو وجه :

الله ﷻ چې کله حضرت آدم عليه السلام پيدا کړو، نو جنت کې يې ورته د هر شي د خوراک اجازت ورکړو، خو صرف د يوې اُونې (غنم) د خوراک نه يې منع کړو، الله ﷻ فرمائي :

﴿ وَيَا آدَمُ اسْكُنْ أَنتَ وَزَوْجُكَ الْجَنَّةَ فَكُلَا مِنْ حَيْثُ شِئْتُمَا وَلَا تَقْرَبَا هَٰذِهِ الشَّجَرَةَ فَتَكُونَا مِنَ الظَّالِمِينَ ﴾. (۱)

ترجمه : اى آدم ! ته او ستا بي بي په جنت کې اوسيږئ، او د کوم ځای نه مو چې خوښه وي خوراک کوئ، خو (خبردار) دغې خاص اونې (غنم) ته مه ورنږدې کيږئ، ګني بيا به په ځان باندې د زياتي کوونکو نه وګرځئ.

---

(۱) الاعراف آيت ۱۹.

(c) ketabton.com: The Digital Library



کله چې د حضرت آدم علیه السلام نه د شیطان د وسوسې په وجه دا اُونه اوخوړل شوه، نو الله جل جلاله ورته اوفرمایل:

﴿ أَلَمْ أَنْهَكُمَا عَن تِلْكُمَا الشَّجَرَةِ وَأَقُل لَّكُمَا إِنَّ الشَّيْطَانَ لَكُمَا عَدُوٌّ مُّبِينٌ ﴾. (۱)

ترجمه: آیا ما تاسو دواړه د دې اُونې (د خوراک) نه نه وئ منع کړي؟ آیا دا مې درته نه وو ویلي چې شیطان ستاسو ښکاره دشمن دی؟ (دده خبره اونه منئ).

نو حضرت آدم علیه السلام دلته دلیل بازي اونکړه:

چې ګني دا خو زما په قسمت او تقدیر کې لیکلې وه، نو ځکه مې اوخوړه. بلکه د خپل عجز او خطا اقرار یې وکړو، په تیر کار پښیمانه شو، او الله ﷻ ته یې عرض وکړو:

﴿ رَبَّنَا ظَلَمْنَا أَنفُسَنَا وَإِن لَّمْ تَغْفِرْ لَنَا وَتَرْحَمْنَا لَنَكُونَنَّ مِنَ الْخَاسِرِينَ ﴾. (۲)

ترجمه: اې ربه زمونږه! مونږ په خپلو ځانونو باندې زیاتې کړې، او که چیرته ته مونږ ته بخښنه اونکړې، او په مونږ رحم اونکړې، نو خامخا مونږ به د تاوانیانو نه شو.

نو چې کله حضرت آدم علیه السلام د خپلې خطا اقرار وکړو، او توبه یې اوویسته، نو الله ﷻ یې هم توبه قبوله کړه.

## د ابلیس د لعنتي کیدو وجه:

اوس بل طرفته اوګوره، چې کله الله ﷻ حضرت آدم علیه السلام پیدا کړو، نو فرښتو او ابلیس ته یې حکم وکړو:

﴿ اسْجُدُوا لِآدَمَ ﴾. (۳)

(۱) الاعراف آیت ۲۲.
(۲) الاعراف آیت ۲۳.
(۳) الاعراف آیت ۱۱، البقرة آیت ۳۴.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ترجمه : تاسو حضرت آدم عليه السلام ته سجده وکړئ . (۱)

نو ټولو فرشتو سجده وکړه ، خو ابليس اونکړه . (۲)

الله ﷻ ورنه پوښتنه وکړه :

﴿ مَا مَنَعَكَ أَلَّا تَسْجُدَ إِذْ أَمَرْتُكَ ﴾ . (۳)

ترجمه : کله چې ما درته حکم وکړو ، نو ته د سجدې کولو نه څه شي منع کړې ؟ (او سجده دې ولې اونکړه ؟ )

نو په ځای ددې چې ده د خپلې ګناه اقرار کړې وی ، ګناه ته يې ګناه ويلې وی ، او معاني يې غوښتې وی . خو ده داسې اونکړه ، بلکه تکبر يې وکړو ، او اُلټه يې دليلونه شروع کړه چې :

﴿ أَنَا خَيْرٌ مِّنْهُ خَلَقْتَنِي مِن نَّارٍ وَخَلَقْتَهُ مِن طِينٍ ﴾ . (۴)

ترجمه : زه خو دده نه غوره يم ، تا زه د اُور نه پيدا کړې يم ، او دا دې د خټې نه پيدا کړې (نو زه څنګه ده ته سجده اوکړم ؟ )

نو الله ﷻ د قيامته پورې ملعون او مردُود کړو . اګر چې ډير زيات عبادتونه يې کړي وُ ، خو چې د الله ﷻ حکم يې اونه منل ، د ګناه احساس يې اونکړو ، او اُلټه يې دلايل شروع کړه ، نو الله ﷻ يې ټول عبادات هم ختم کړه ، او د هميشه د پاره يې مردود او لعنتي کړو . (۵)

---

(۱) مراد د سجدې نه سجده د عبادت نده ، بلکه سجده د تعظيم مراد ده ، کومه چې په پخوانيو شريعتونو کې جائز وه ، لکه د حضرت يوسف عليه السلام په واقعه کې راځي : ﴿ وَخَرُّوا لَهُ سُجَّدًا ﴾ . سورة يوسف آيت ۱۰۰ .
البته اوس په شريعتِ محمدي کې چاته سجده د تعظيم جائز نه ده بلکه منسوخ شوې ده ، اوس د بل چا د تعظيم د پاره صرف د سلام ، مصافحې او معانقې اجازت دی . دا تفصيل ابوبکر جصاص الرازي په احکام القرآن کې او مولانا مفتي محمد شفيع رحمه الله په معارف القرآن کې ذکر کړي .

(۲) ﴿ فَسَجَدُوا إِلَّا إِبْلِيسَ ﴾ . الاعراف آيت ۱۱ ، البقرة آيت ۳۴ .

(۳) الاعراف آيت ۱۲ .

(۴) الاعراف آيت ۱۲ .

(۵) وَقَالَ مُحَمَّدُ بْنُ الذُّورِيِّ رحمه الله : شَقِيَ إِبْلِيسُ بِخَمْسَةِ أَشْيَاءَ : لَمْ يُقِرَّ بِالذَّنْبِ ، وَلَمْ يَنْدَمْ عَلَيْهِ ، وَلَمْ يَلُمْ نَفْسَهُ ، وَلَمْ يَعْزِمْ عَلَى التَّوْبَةِ ، وَقَنَطَ مِنْ رَحْمَةِ اللهِ .
وَسَعِدَ آدَمُ بِخَمْسَةِ أَشْيَاءَ : أَقَرَّ بِالذَّنْبِ ، وَنَدِمَ عَلَيْهِ ، وَلَامَ نَفْسَهُ ، وَأَسْرَعَ فِي التَّوْبَةِ ، وَلَمْ يَقْنَطْ مِنْ رَحْمَةِ اللهِ . منبهات ابن حجر عسقلاني باب الخماسي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د مريض مثال :

ددې خبرې د ښه وضاحت دپاره درته يو مثال پيش کوم :

که چيرته يو کس مريض وي ، خو ده ته دا احساس وي چې زه مريض يم ، علاج طرفته متوجه وي او دوائي خوري ، نو اميد شته چې دې روغ شي ، او دا مرض يې ختم شي .

خو که ده ته دسره دا احساس هم نه وي چې ګني زه مريض يم ، او علاج نه کوي ، نو داسې يو وخت به راشي چې دده دا مرض به زيات شي ، او دده د مرګ سبب به اوګرځي .

دغه شان که يو انسان ګناه کوي ، خو ده ته د ګناه احساس وي ، او پرې پښيمانه هم وي ، نو يو ورځ به ورته الله ﷻ د توبې توفيق ورکړي ، او ګناهونه به يې معاف کړي .

او که ده ته دسره د ګناه احساس هم نوي ، توبه نه اُوباسي ، نو دا ددې انسان دپاره د هلاکت سبب ګرځي ، داسې کس ته الله ﷻ د توبې توفيق هم نه ورکوي .

شيخ سعدي رحمه الله ويلي :

بنده همان به که ز تقصير خويش ❋ عذر به درګاهِ خدا آورد (۱)

هغه بنده غوره دی چې د خپلو ګناهونو عذر الله ﷻ ته پيش کړي ، معافي ورنه اوغواړي ، او پښيمانه شي .

## حضرت عزير عليه السلام ته وحي :

علامه ابن حجر عسقلاني رحمه الله په خپل کتاب ( منبهاتِ ابن حجر ) کې ويلي : چې الله جل جلاله حضرت عزير عليه السلام ته وحي وکړه :

يَا عُزَيْرُ إِذَا أَذْنَبْتَ ذَنْبًا صَغِيْرًا فَلَا تَنْظُرْ إِلى صِغْرِهِ وَانْظُرْ إِلى مَنِ الَّذِيْ أَذْنَبْتَ لَهُ . (۲)

اى عزيز ! چې کله ته يو وړه ګناه وکړې ، نو ته ددې وړوکوالي ته مه ګوره ، بلکه هغه ذات ته اوګوره چې تا د چا نافرماني کړې ( هغه ذات خو ډير لوي شان واله دی ، نو د هغه نافرماني نه ده پکار ) .

---

(۱) ګلستان ص .

(۲) منبهات ابن حجر عسقلاني باب الثنائي . همدغه شان خبره حافظ ابن قيم رحمه الله هم نقل کړې . خطباتِ فقير ج ۱۰ ص ۱۹۲ .

(c) ketabton.com: The Digital Library



محترمو مسلمانانو ! بعضې خلق د الله ﷻ په نافرمانۍ کې مبتلاء وي، او س په ځای د دې چې دوی ورته توبه اوباسي، او ورباندې پښیمانه شي، دوی الټه د دې ګناه د جَواز د پاره دلایل ګوري، او حیلې ورته جوړوي، نو دا بیا ډیره خطرناکه خبره ده.

## د اصحاب السبت د هلاکت واقعه :

الله ﷻ په قرآن مجید کې د بني اسرائیلو د یو کلي د هلاکت واقعه ذکر کړې، چې هغوی هم د الله ﷻ د حکم ماتولو د پاره مختلف حیلې او بهانې جوړولې. الله جل جلاله فرمائي :

﴿ وَلَقَدْ عَلِمْتُمُ الَّذِيْنَ اعْتَدَوْا مِنْكُمْ فِي السَّبْتِ فَقُلْنَا لَهُمْ كُوْنُوْا قِرَدَةً خَاسِئِيْنَ ﴾ .(۱)

دا واقعه امام قرطبي رحمه الله او نورو مفسرینو په تفصیل سره ذکر کړې :

چې د حضرت داؤد علیه السلام په زمانه کې د بني اسرائیلو یو کلې ؤ، د سمندر په غاړه اوسیده، الله ﷻ د دوی د پاره د خالي (هفتې) ورځ د عبادت د پاره مقرر کړې وه. چونکه د دوی محبوبه مشغله د مَیَانو (کبانو) ښکار ؤ، نو دوی ته دا حکم ؤ چې په دې ورځ به تاسو ښکار نه کوئ، بلکه صرف د الله ﷻ عبادت به کوئ.

د الله ﷻ شان ګوره چې په نورو ورځو کې به په سمندر کې کبان کم وو، او د خالي (هفتې) په ورځ به دومره ډیر وو چې د اُوبو د پاسه به روان ؤ، په لاس به هم رانیول کیده (دا د دوی د پاره یو امتحان ؤ، چې آیا دوی د الله ﷻ حکم مني او که نه ؟).

نو دوی کې بعضو دا حیله جوړه کړه چې تالابونه یې جوړ کړل، او د خالي په ورځ به یې اُوبه په کې راپریخودې، نو کبان به ورته راغله، بیا به یې پرې اوبه بندې کړې، او د اتوار په ورځ به یې ورنه کبان رانیوه.

بعضو به په دریاب کې د جُمعې په ورځ جال خُور کړو، او د اتوار په ورځ به یې راواخیستو، نو میان به په کې ګیر شوي وو،

(۱) البقرة ٦٥.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دې کلي کې يوه ډله د نيکانو خلقو هم وه، هغوی ورته ډېر نصيحت وکړو: چې دا خو تاسو ديو حرام کار د پاره حيلې کوئ، او دا خو ناجائز دی. ځکه د الله ﷻ سره خو دهوکه نه کيږي.
دوی به ورته ويل: چې مونږ خو د خالي په ورځ ښکار نه کوو، بلکه د اتوار په ورځ يې کوو.
نو چې کله يې د دوی خبره اونه منله، نو دوی ورنه جدا شو، او د کلي په يو بل طرف کې يې اوسيدل شروع کړه، او په مينځ کې يې ديوال اووهل.
يو ورځ سهر چې دا نيکان راپاڅيده، نو د ديوال نه ديخوا خاموشي وه، څوک نه راوته. چې د ديوال د پاسه ور اوختل، او وی کتل، نو د دې ګناهګارانو نه بيزوګان او خنزيران جوړ شوي وو (د کشرانو نه يې بيزوګان جوړ شوي وو، او د مشرانو نه يې خنزيران جوړ شوي وو).
نو چې دا نيکان ورته راغلل، نو دې بيزوګانو دا نيکان پيژنده، خو دوی دا بيزوګان نه پيژنده چې دا کوم کس دی، نو دې بيزوګانو به د دې نيکانو خلقو جامې بُويَولې، او ژړل به يې.
دې نيکانو ورته وويل:
أَلَمْ نَنْهَكُمْ؟
آيا مونږ تاسو نه وئ منع کړي د دې کار نه؟
نو دوی به سرونه خوزول چې هو. (منع کړي مو وو، خو مونږ ستاسو خبره اونه منله).
درې (۳) ورځې ژوندي وو، بيا الله ﷻ هلاک کړه.[1]
الله تعالى فرمائي:
﴿ وَلَقَدْ عَلِمْتُمُ الَّذِيْنَ اعْتَدَوْا............ ﴾
ترجمه: او په تحقيق سره تاسو پوهه يئ (ای بني اسرائيلو!) په حال د هغه خلقو چې زياتې يې کړې وو په تاسو کې، د خالي په ورځ (د الله ﷻ حکم يې نه وُ منلې). نو مونږ ورته وويل: چې تاسو ذليل بيزوګان شئ، نو مونږ اوګرځوله دا واقعه عبرت د هغه خلقو د پاره کوم چې هغه وخت موجود وو او کوم چې روستو راتلونکي دي. او نصيحت مو جوړه کړه د متقيانو د پاره.

(۱) قرطبي ج۱ ص۲۷۷ البقرة آيت ٦٥، معارف القرآن.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**فائده** : قدرمنو ! تاسو واوريده چې کومو خلقو د ګناهونو کولو دپاره حيلې او چلونه جوړول ، نو د الله ﷻ قهر وربانديې نازل شو ، او په شکل د بيزوګانو او خنزيرانو اوګرځيدل. نو انسان ته په کار دي چې د الله ﷻ د نافرمانئ نه بچ شي ، په زړه کې پرې پښيمانه شي او توبه او باسي .

## د ګناه کولو سبب :

انسان چې په دنيا کې څومره ګناهونه کوي نو ددې غټ سبب يو داهم دی چې دې ددې ګناهونو د نقصاناتو نه نه دې خبر . که چيرته ده ته دګناهونو دُنيوي او اُخروي نقصانات معلوم شي ، نو دې به بيا هيڅ کله ګناه ته نزدې نه شي .

ځکه د انسان په فطرت کې دا خبره پرته ده چې ده ته په کوم شي کې نقصان معلوميږي ، نو دې د هغې نه ځان ساتي .

**اول مثال** :

د مثال په طور ، هر چاته دا معلومه ده چې مار خطرناک دی ، نو که ته چاته ووايي چې دې مار له خولې ګوتې ويسه . نو نه يې وروړي . ځکه ده ته معلومه ده چې دې کې زما نقصان دی . اګر چې دا د مار وړوکې بچې وي خو بيا هم دې ګوتې نه وروړي .

**دويم مثال** :

دغه شان که يو کس ته دا وويل شي : چې دا سل (۱۰۰) بِسکټ دي ، خو په دې کې صرف په يو بِسکټ کې زَهَر دي ، په باقي نهه نوي (۹۹) کې زهر نشته ، خو معلومه نه ده چې په کوم يو کې زهر دي . او ته ده ته ووايي چې دا اوخوره . نو دې به هيڅ کله يو بسکټ هم او نه خوري .

که ته ورنه پوښتنه وکړې چې ولې يې نه خورې ؟ دې به درته جواب درکړي چې صحيح ده چې زهر صرف په يو بِسکټ کې دي ، خو څه پته لږي چې زه کوم بِسکټ راواخلم ، که دا د زهرو واله بسکټ اوخيجي ، نو دا خوزما د وجود دپاره نقصاني دی .

بل طرفته ته يو ماشوم ته مار وروکړه ، نو زر به يې راواخلي او خُولې ته به يې اوچت کړي . يا هغه ته دا بِسکټ مخې ته کيږده ، نو هغه به يې اوخوري .

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا ځکه چې دې ماشوم ته د دې مار او د زهرو د نقصان عِلم نشته. که ده ته علم وی نو هیڅ کله به یې دې ته لاس نه وی وروړی.

هم د غه شان محترمو ګناهونه هم دي. کوم کس ته چې د دې د نقصاناتو علم وي، او په زړه کې یې د الله ﷻ نه ویره وي، نو هغه ورنه ځان په اسانه طریقې سره ساتلې شي. لکه اولیاء الله او بزرګان شو.

د دې دپاره درته یو څو نمونې پیش کوم:

## (۱). د یو ځوان واقعه:

یو بزرګ ته یو ځوان راغې، او ورته وی ویل چې جناب! تاسو وایئ چې د ګناهونو نه ځان ساتئ، نو آخر زه څنګه د ګناه نه ځان اوساتم؟

زه خو یو ځوان یم، چې په بازار کې تیرېږم، نو دسترګو ګناه رانه کیږي، خپل نظر نشم کنټرول کولې. نو دا خبره خو زما په ذهن کې نه راځي: چې په دې ځوانۍ کې دې زه خپل نظر په کنټرول کې اوساتم؟

هغه بزرګ ورته وویل: تا زه په دې راز پوهه کولې شم (چې انسان ځان څنګه د ګناه نه بچ کوي). خو شرط دا دی چې ته به زما یو خدمت کوی. هغه وویل: ډیره ښه ده. څه خدمت دی؟

ده ورته وویل: چې په فلاني ځای کې یو بزرګ دی، د بازار په هغه بل طرف کې اوسیږي، نو ته هغه ته د شودو (پیو) دا ډکه پیالۍ وروړه، بیا راشه، نو تا به زه په دې راز پوهه کړم.

ده وویل چې صحیح ده. وی به یې سم. دې بزرګ ورته وویل: چې پیالۍ ویسه، خو یوه خبره بله هم ده: چې که چیرته د دې پیالۍ نه دې یو څاڅکې شوده توی کړه، نو زه درسره یو بل کس هم لیږم، هغه به دې د بازار په مینځ کې یو دوه څپیړې وهي.

هغه وویل: ډیره ښه ده. نو دې بزرګ ده ته پیاله سَمه د شودو نه ډکه کړه، ورته وَر ئې کړه، او ورسره یې یو بل کس هم اولیږل، چې که چیرته دده نه یو څاڅکې شوده هم په لاره توی شو، نود خلقو په مخکې یې یو دوه څپیړې ښه په تیزه اووهه.

دواړه روان شو، ده ډیره په احتیاط پیالۍ هغه بزرګ ته اورسوله، ډیر خوشحاله شو، واپس راغې، او دې بزرګ ته یې وویل:

چې جناب! هغه پیالۍ خو مې روغه اورسوله. اوس را ته هغه رازووایه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دي بزرګ ورته وویل : چې صحیح ده ، پیالۍ خو دې روغه اورسوله . خو دا راته ووایه :
چې نن دې په بازار کې څومره پردۍ ښځو ته اوکتل ؟
ده ورته وویل : چې جناب ! نن خو دیته زما د سره سوچ هم نه وو .
بزرګ ورته پوښتنه وکړه : ولې ؟
ده ورته وویل چې د ماسره دا یَره وه ، که چیرته د دې پیالۍ نه شوده تویه شو : نو هسې نه چې دغه بل کس مې د خلقو په مخکې یو دوه څپیړې او نه وهي . نو د غونډ بازار په مخکې به اوشرمیږم .

بزرګ ورته وویل : چې دغه شان که چیرته د یو انسان په زړه کې د الله ﷻ خوف وي ، او دا یَره ورسره وي چې که ګناه رانه اوشوه ، نو د قیامت په ورځ به د ټولو مخلوقاتو د وړاندې شرمنده او ذلیل شم ، نو دې به هیڅکله ګناه اونکړي ، او هیڅ کله به خپل نظر غلط اُستعمال نکړي .

د هغه ځوان ذهن ته خبره کوزه شوه ، چې کله هم د انسان په زړه کې د الله نه خوف وي او د ګناه نقصان ورته معلوم وي نو دې بیا په خپله د ګناه نه ځان ساتي .(۱)

## (۲). د صحابه کرامو د نظرونو ښکته ساتلو واقعه :

یو کرت صحابه کرام د جهاد د پاره یو ښار ته لاړل ، هلته رومیانو ته پته اولږیده ، نو ډیره یَره ورسره پیدا شوه ( ځکه هغوي ته هم پته وه چې دوی سره د الله ﷻ امداد وي ) .
نو خپلو ښځو ته یې حکم وکړو چې تاسو ځانونه ښکلي کړئ ، نیم ځان بربنډ کړئ ، او په لارو کې اودریږئ . ځکه دیرې ورځې شوي چې مسلمانان د کورونو نه راوتي دي ، نو که چیرته دوی تاسو ته اوکتل ، او د سترګو په ګناه کې مبتلاء شو ، نو د الله ﷻ امداد به ورنه ختم شي ، بیا په مونږ نشي غالب کیدې .

کله چې د مسلمانانو د لښکر امیر دا اولیده ، نو خپل لښکر کې یې اعلان وکړو ، او د قرآن کریم یو آیت یې ورته وویل :

﴿ قُلْ لِلْمُؤْمِنِينَ يَغُضُّوا مِنْ أَبْصَارِهِمْ ﴾ ؛(۲)

---

(۱) خطبات فقیر ج۲۵ ص ۲۵ .
(۲) النور آیت ۳۰ .

(c) ketabton.com: The Digital Library



ترجمه : ای پیغمبره ! دې مؤمنانو ته ووایه چې دوی خپلې سترګې ښکته ساتي ( پردو زنانوُ ته دې نه ګوري ) .

کله چې لښکر دا اعلان واوریده ، نو ټولو خپل نظرونه ښکته کړه .

هر کله چې دا لښکر واپس مدینې منورې ته راغې ، نو خلقو ورنه پوښتنه وکړه :

چې تاسو خو به دهغه ځای بلهٔ نګونه او ښکلې هم لیدلې وي چې څومره او چتې وی ؟

دوی ورته وویل : چې کله مونږ د خپل امیر نه دغه آیت واوریده ، نو مونږ خپل نظرونه داسې ښکته کړه چې مونږ بیا یو ښکلې ته هم پورته نه دي کتلي . چې دا څومره او چته ده ؟ (۱)

فائده : معلومه شوه چې د انسان په زړه کې د الله ﷻ خوف وي ، د ګناه نقصان ورته معلوم وي ، نو دې بیا په آسانه ځان د ګناه نه ساتلې شي .

صحابه کرامو ته چې الله ﷻ دومره فتوحات ورکول . داځکه چې په شریعت پوره برابر وو ، ځانونه یې د ګناهونو نه ساتل ، نو د الله ﷻ امداد هم ورسره وو .

الله رب العزت فرمائي :

﴿ وَأَنتُمُ الْأَعْلَوْنَ إِن كُنتُم مُّؤْمِنِينَ ﴾ . (۲)

ترجمه : او هم تاسو به غالب یئ که چیرې تاسو ریښتیني مؤمنان یئ .

## (۳) . د سلیمان بن یسار رحمه الله د ګناه نه دبچ کیدلو واقعه :

امام غزالي رحمه الله په احیاء العلوم کې یو عجیبه واقعه رانقل کړې : چې سلیمان بن یسار رحمه الله ډیر پرهیزګار او د ښکلې صورت خاوند وُ ، یو ورځ دې او یو بل ملګرې د حج په اراده باندې روان شو ، کله چې اَبواء مقام ته اورسیده ، نو دخوراک شیان ورسره کم شو . سلیمان بن یسار رحمه الله په خیمه کې کیناسته او دا بل ملګرې یې بازار ته لاړ ، چې د خوراک څه راوړي .

په دې کې یوه ډیره ښکلې ښځه دې خیمې ته راغله ، او ده ته یې اشاره وکړه . ده دا ګمان وکړو چې ګنې دا ښځه دوډۍ غواړي ، نو دوډۍ یوه برخه یې ورله راواخیسته .

هغې ورته وویل :

لَسْتُ اُرِيْدُ هذا ، اِنَّمَا اُرِيْدُ مَا يَكُوْنُ مِنَ الرَّجُلِ اِلٰى اَهْلِهٖ .

(۱) خطبات فقير ج۲۵ ص ۲۹ .

(۲) آل عمران آیت ۱۳۹ .

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه روتې نه غواړم، بلکه ښځه چې د سړي نه څه غواړي هغه کار غواړم.

کله چې ده دا خبره واوريده، نو زړه کې يې دا خيال راغې، چې زه خو د الله ﷻ کور بيت الله ته د حج د پاره روان يم، او شيطان ګوره دا ښځه خپله نمائنده جوړه کړه، او زما د ايمان خرابولو د پاره يې ماته را اوليږله، دلته هم د شيطان د جال نه خلاص نه شوم. نو په ژړا شو، او ډير زيات يې اوژړل.

کله چې ښځې دا اوليده، نو ډيره شرمنده شوه، او واپس لاړه.

کله چې دې حج ته لاړو، طواف يې وکړو، بيا په يو ځاي کې اوده شو، په خوب کې يې ډير ښکلې کس اوليده چې خوشبو ورنه تلله. سليمان ورنه پوښتنه وکړه:

مَنْ اَنْتَ ؟ ته څوک يې ؟ هغه ورته وويل: اَنَا يُوْسُفُ. زه يوسف (عليه السلام) يم.

ده ورنه بيا پوښتنه وکړه: چې هغه پيغمبر يوسف ئې؟ هغه ورته وويل چې آو. دې ورته وايي

شَأْنُکَ وَشَأْنُ اِمْرَأَةِ الْعَزِيْزِ لَعَجَبًا.

ستا او د زليخې خو ډيره عجيبه واقعه ده. (چې تا د ګناه نه ځان بچ کړې وُ).

هغه ورته وويل:

شَأْنُکَ وَشَأْنُ صَاحِبَةِ الْاَبْوَاءِ اَعْجَبُ. (۱)

ستا او د ابواء په مقام کې د ښځې واقعه خو ډيره زياته عجيبه ده.

(ځکه ما چې د ګناه نه ځان ساتلې وو نو زه خو پيغمبر ووم، د ماسره د الله ﷻ ډير غټ امداد وو. خو تا چې د ګناه نه ځان اوساتلو نو دا هم ډيره عجيبه ده، ځکه ته پيغمبر هم نه يې، بلکه يو ولي يې، خو بيا دې هم د زِنا نه ځان بچ کړو).

بهر حال. خبره دا روانه وه: چې کله يو انسان ته د ګناهونو نقصانات معلوم وي او په زړه کې يې د الله ﷻ نه يَره وي نو دې بيا د ګناهونو نه په ډيره آسانه طريقې سره ځان ساتلې شي.

او چاته چې د ګناهونو د نقصاناتو علم نه وي، يا علم ورسره وي خو علمِ نافع ورسره نوي، يا د نفس د خواهشاتو نه مجبور وي، نو دې بيا په ګناهونو باندې ډير زړه وَر وي او ګناهونه ورنه صادريږي.

(۱) احياء العلوم ج۳ ص ۱۲۲ کتاب کسر الشهوتين.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د امام غزالي رحمه الله وينا :

امام غزالي رحمه الله ليکلي :

عالم هغه کس دی چې هغه ته د ګناهونو نقصانات معلوم وي. نو څومره چې ورته د ګناهونو نقصانات زيات معلوم وي، دومره دې غټ عالم دی.

## د ګناهونو دُنيوي نقصانات :

په قرآن کريم او احاديثو مبارکهٔ کې د ګناهونو دُنيوي او اخروي ډېر نقصانات بيان شوي دي. ځکه الله ﷻ حکيم ذات دی، چې د څه شي نه يې انسان منع کړې، يقيني خبره ده چې په دې کې به دده د دُنيا او آخرت ډېر نقصانونه وي.

او علماؤ په دې نقصاناتو باندې مستقل کتابونه هم ليکلي دي. خو زه به درته يو څو مشهور نقصانات بيان کړم.

### ۱. د الله ﷻ په نزد بې قدره کيدل :

د ګناه کولو اول نقصان دادی : چې دا کس د الله ﷻ په نزد ذليله، بې قدره او خوار شي.

ځکه ګناه انسان هغه وخت کوي چې دده په زړه کې د الله ﷻ عظمت او قدر پاتې نشي.

ولې. که دده په زړه کې دالله ﷻ عظمت وي، نو هيڅ کله به يې د هغه نافرماني نه وې کړې.

نو چې کله دده په زړه کې د الله ﷻ عظمت پاتې نه شي، نو بيا دې هم د الله ﷻ په نزد ذليله او خوار شي.

او کوم کس چې د الله ﷻ په نزد ذليله شي نو بيا په مخلوق کې هم دده عزت نه پاتې کيږي، دده دوستان هم دده دشمنان او ګرځي.

الله رب العزت فرمائي :

﴿ وَمَن يُهِنِ اللَّهُ فَمَا لَهُ مِن مُّكْرِمٍ ﴾. (۱)

ترجمه : او څوک چې الله ﷻ ذليله کړي، نو ده له بيا څوک عزت ورکوونکې نشته.

---

(۱) الحج آيت ۱۸.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## حضرت جبريل عليه السلام ته د الله ﷻ فرمان :

امام بخاري او امام مسلم رحمهما الله د نبي کريم صلی الله عليه وسلم يو حديث شريف رانقل کړي :

...... وَإِذَا أَبْغَضَ عَبْدًا دَعَا جِبْرِيلَ فَيَقُولُ : إِنِّي أُبْغِضُ فُلَانًا فَأَبْغِضْهُ . قَالَ فَيُبْغِضُهُ جِبْرِيلُ. ثُمَّ يُنَادِي فِي أَهْلِ السَّمَاءِ إِنَّ اللهَ يُبْغِضُ فُلَانًا فَأَبْغِضُوهُ . قَالَ : فَيُبْغِضُونَهُ ثُمَّ تُوضَعُ لَهُ الْبَغْضَاءُ فِي الْأَرْضِ . (۱)

کله چې الله ﷻ د يو بنده سره بُغض کول اوغواړي (يعنی دده د ګناهونو په وجه ده ته عذاب ورکول اوغواړي (۲) ) ، نو حضرت جبريل عليه السلام را اوغواړي او ورته اوفرمائي :

چې زه د فلانکي سړي سره بُغض کوم ، نو ته هم ورسره بُغض کوه . نو حضرت جبريل عليه السلام هم ورسره بُغض شروع کړي .

بيا حضرت جبريل عليه السلام د آسمان په مخلوقاتو کې آواز وکړي : چې الله ﷻ د فلانکي کس سره ( دده د ګناهونو په وجه ) بُغض کوي ، نو تاسو هم ورسره بُغض کوئ . نو هغوی هم ورسره بُغض شروع کړي (او په ده لعنت راليږي) . بيا د زمکې واله خلق هم دده سره بُغض کوي (او په خلقو کې ذليل او رسوا شي ، نيکان او اولياء الله ورسره محبت نه کوي) .

## د حضرت ابوالدرداء رضی الله عنه وينا :

امام احمد بن حنبل رحمه الله دا روايت رانقل کړي : چې کله قُبرَص فتح شو ، نو حضرت جُبَير بن نفير رضی الله عنه حضرت ابوالدّرداء رضی الله عنه اوليده چې ځانله ناست دی او ژاړي . حضرت جُبَير رضی الله عنه فرمائي : چې ما ورنه پوښتنه وکړه :

اې ابوالدّرداء ! په داسې مبارکه ورځ تاسو ولې ژاړئ ؟ چې الله ﷻ پکې اسلام او مسلمانانو ته عزت ورکړو (فتح يې ورکړه) ؟ نو هغه جواب ورکړو :

---

(۱) اخرجه البخاري في الادب باب المقت في الله تعالى ۶۰۴۰ وفي التوحيد ۷۴۸۵ . واخرجه المسلم ۶۶۶۴ . والترمذي في تفسير سورة مريم ۳۱۶۱ . ومالک في الشعر .

(۲) ذکره النووي شرح صحيح مسلم ۱۶/ ۱۸۲ ، ۱۸۳ ، تکلمة فتح الملهم ج۵ ص ۲۳۲ .

(c) ketabton.com: The Digital Library



ای جُبیره ! (رضي الله عنه) افسوس، چې ته نه پوهیږې. کله چې یو قوم د الله ﷻ حکم ضائع کړي، نو هغه د الله ﷻ په نزد څنګه ذلیله او بې قدره شي.

او ګوره دا قوم (د قبرص واله) چې د حکومت خاوندان وو، خو چې د الله ﷻ حکم یې او نه منل، نو څنګه خوار او ذلیل شو، کوم چې ته نن (پخپله د دوی رسوائي) ګورې. (۱)

## د حضرت عائشې رضي الله عنها وینا :

حضرت عائشې رضی الله عنها (یو ځل) حضرت معاویة رضی الله عنه ته په خط کې اولیکل: چې کله بنده د الله ﷻ حکم نه مني (نو هغه دالله ﷻ په نزد دومره بې قدره شي چې) د هغه تعریف کوونکي پخپله د ده هَجوه (بدي) بیانول شروع کړي. (۲)

## د مجاهد بن عوض رحمه الله وینا :

مجاهد بن عوض رحمه الله فرمائي: چې کله هم د مانه دالله ﷻ په حکم منلو کې کوتاهي شوې، نو ما د هغې اثر په خپله ښځه، خپل آس، او خپلې وینځې کې هم لیدلې، چې دوی هم بیا زما نافرماني کوي. (۳)

## د یو شاعر وینا :

عزیزې که هر که درش سر بتافت ❋ به هر در که شد هیچ عزت نه یافت (۴)

کوم عزت مند بنده چې د الله ﷻ د دَربار نه سَر واړول، بیا چې د چا دروازی ته تللې هیڅ عزت یې نه دې موندلې.

(۱) رواه احمد.
(۲) رواه احمد.
(۳) اشرف علي تهانوي رحمه الله جزاء الاعمال ص ۱۲.
(۴) بوستان ص ۱ شعر نمبر ۳.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۲. په زمکه کې فساد خوريدل :

د ګناه دويم نقصان دا دی چې د دې په وجه په زمکه باندې مختلف قسمه آفتونه او مصيبتونه راځي.

الله تعالی فرمائي :

﴿ ظَهَرَ الْفَسَادُ فِي الْبَرِّ وَالْبَحْرِ بِمَا كَسَبَتْ أَيْدِي النَّاسِ ﴾. (۱)

ترجمه : ظاهر شو فساد په اُوچه او لمده (درياب) کې، د خلقو د بدو اعمالو په وجه.

يعنی هر ځای چې فساد خور دی، نو د دې اصلِ وجه د خلقو بد اعمال او ګناهونه دي.

تفسير روح المعاني او نور مفسرين د دې آيت د لاندې ليکي : چې د فساد نه مراد قحط سالي، وبائي امراض، اُور لګېدل، طوفان راتلل، په اُوبو کې غرقيدل، او د هر شي برکت ختميدل دي. (۲)

همدا مضمون په يو بل آيت کې هم الله ﷻ ذکر کړی :

﴿ وَمَا أَصَابَكُمْ مِّن مُّصِيبَةٍ فَبِمَا كَسَبَتْ أَيْدِيكُمْ وَيَعْفُوا عَن كَثِيرٍ ﴾. (۳)

ترجمه : او تاسو ته چې کوم مصيبت در رسي، نو د خپل عمل د لاسه به در رسي، او ډير ګناهونه خو در ته الله ﷻ معاف کوي.

د دواړو آيتونو خلاصه داده چې کوم مصيبتونه په ټولې دنيا يا په ټول ملک يا په ټولې علاقې عام راشي (لکه قحط سالي، وبائي امراض، قيمتي، او بې برکتي وغيره)، نو دا سې مصيبتونه اکثر د ګناهونو اثرات وي.

البته انفرادي تکليفونه کله د امتحان د پاره وي (خو چې د دې وړباندې صبر وکړي نو د ده دَرجې وړباندې اوچتولې شي، او ګناهونه يې معاف کولې شي.

---

(۱) الروم آيت ۴۱.

(۲) روح المعاني الروم آيت ۴۱، قرطبي ج ۱۴، زاد المسير ج۳، تفسير کبير ج۹ الروم آيت ۴۱.

(۳) الشوری آيت ۳۰.

(c) ketabton.com: The Digital Library



او دا مصيبتونه په نيکانو خلقو ډېر راځي.(۱) )

او کله انفرادي مصيبتونه عذاب هم وي خو چې دې ورباندې صبر اونکړي او جَزع، فَزع پرې وکړي.

## دا معلومول، چې دا مصيبت عذاب دی او که امتحان؟

### د شاه ولي الله رحمه الله تحقيق:

شاه ولي الله رحمه الله په حجّة الله البالغة کې ذکر کړي: چې کوم تکليفونه په نيکانو خلقو راځي، او دوی ورباندې صبر وکړي، زړه يې مطمئن وي، او دا مصيبت داسې برداشت کوي لکه مريض چې تَرخه دارو برداشت کوي. نو دا علامه ددې ده چې دا تکليف عذاب نه دې، بلکه دا د انسان د مرتبو اوچتولو او ګناهونو معاف کولو يو ذريعه ده.

او که دې پدې مصيبت راتلو سره سخت خفه او پريشانه شي، د خُلې نه يې د ناشکری يا کفري کلمات اووتل، نو بيا دا علامه ددې ده چې دا تکليف عذاب دی.

### د مولانا اشرف علي تهانوي رحمه الله تحقيق:

حکيم الامت حضرت مولانا اشرف علي تهانوي رحمه الله ددې علامه دا خودلې:

چې که په يو انسان باندې مصيبت راشي، او دې په دې وخت کې استغفار وايي، توبه اوباسي او الله ﷻ ته راجع شي، نو دا غتهٔ نښه ددې ده چې دا تکليف عذاب نه دی، بلکه دده دګناهونو ختمولو دپاره په ده يو امتحان دی.

او که دې د دې مصيبت په وخت ډېرې چغې او سُورې وهي، او ګناهونو کې مبتلاء شي، نو دا غتهٔ نښه ددې ده چې دا مصيبت په ده د الله ﷻ قهر او عذاب دی.(۲)

---

(۱) يو صحابي د نبي عليه السلام نه پوښتنه وکړه: يَارَسُوْلَ اللهِ أَيُّ النَّاسِ أَشَدُّ بَلَآءً؟ ای د الله ﷻ رسوله! په خلقو کې ډېر امتحانات په چا راځي؟ نو نبي عليه السلام ورته اوفرمايل: اَلْاَنْبِيَاءُ ثُمَّ الْاَمْثَلُ فَالْاَمْثَلُ. يُبْتَلَى الرَّجُلُ عَلَى حَسْبِ دِيْنِهِ فَإِنْ كَانَ فِيْ دِيْنِهِ صُلْبًا اِشْتَدَّ بَلَاءُهُ وَاِنْ كَانَ فِيْ دِيْنِهِ رِقَّةٌ اِبْتَلَاهُ اللهُ عَلَى حَسْبِ دِيْنِهِ. فَمَا يَبْرَحُ الْبَلَاءُ بِالْعَبْدِ حَتّٰى يَمْشِيْ عَلَى الْاَرْضِ وَمَا عَلَيْهِ خَطِيْئَةٌ. رواه ابن ماجه كتاب الفتن باب ۲۳، وابن ابی الدنيا، والترمذي وقال حديث حسن صحيح، الترغيب والترهيب ج۴ ص ۱۴۱.

(۲) معارف القرآن الروم آيت ۴۱.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۳ . د زړه اطمينان ختميدل ، او ژوند تنګيدل :

د ګناه کولو دريم نقصان دادی : چې په دې سره د انسان د زړه اطمينان او سکون ختميږي، اګر چې دده سره به مال و دولت زيات وي ، بچې به يې زيات وي او د ژوند اسباب به هم ورسره برابر وي ، خو د زړه اطمينان او سکون به يې ختم وي ، خوب به د نشې په ګولو سره کوي ،ژوند به يې تنګ وي او هميشه به پريشانه وي .

الله تعالی فرمائي :

﴿ وَمَنْ أَعْرَضَ عَنْ ذِكْرِي فَإِنَّ لَهُ مَعِيشَةً ضَنْكًا ﴾ . (۱)

ترجمه : څوک چې زما د ذکر ( قرآن ) نه مخ واړوي ، نو بيشکه د هغه ژوند به تنګ وي.

ځکه چې کوم کس ګناهونه کوي ، نو هر وخت ورسره دا يَره وي چې څوک رابانديې خبرنه شي، حياء او عزت مې خراب نه شي او څوک رانه بَدل وانخلي .

نو د زړه سکون او اطمينان يې ختم شي او په زړه کې يې د الله ﷻ نه وَحشَت ( وار خطائي) پيدا شي ، محبت يې ختم شي . بيا د نيکانو خلقو سره په محفل کې تنګيږي ، نيک اعمالو ته يې زړه نه کيږي ، او د قرآن کريم او احاديثو خبرې ورباندې بنې نه لږي .

نبي کريم صلی الله عليه وسلم فرمائي :

إِنَّ الْمُؤْمِنَ إِذَا أَذْنَبَ ذَنْبًا كَانَتْ نُكْتَةٌ سَوْدَاءُ فِي قَلْبِهِ فَإِنْ تَابَ وَنَزَعَ وَاسْتَغْفَرَ صُقِلَ مِنْهَا وَإِنْ زَادَ زَادَتْ حَتَّى يُغَلَّفَ بِهَا قَلْبُهُ . فَذٰلِكَ الرَّانُ الَّذِي ذَكَرَ اللهُ فِي كِتَابِهِ :

﴿ كَلَّا بَلْ رَانَ عَلَى قُلُوبِهِمْ مَا كَانُوا يَكْسِبُونَ (۲) ﴾ . (۳)

مؤمن چې کله يو ګناه وکړي ، نو ددې په وجه دده په زړه يو تُور داغ اولږي . نو که دې توبه اوباسي ، ګناه پريږدي او استغفار ووايي نو زړه يې صفا شي .

(۱) طه آيت ۱۲۴ .

(۲) المطففين آيت ۱۴ .

(۳) اخرجه الترمذي في التفسير . تفسير سورة ۸۳ باب ۱ ، والنسائي وابن ماجه ، وابن حبان في صحيحه ، والحاکم ، الترغيب والترهيب ج۴ ص ۴۷ کتاب التوبة والزهد .

(c) ketabton.com: The Digital Library



او که دې (توبه او نه باسي او) نور ګناهونه هم کوي، نو هغه تور داغ زياتيږي، تر دې چې دده ټول زړه راګير کړي. او دا هم هغه زنګ دی چې ددېنه د الله ﷻ تعبير کړی په:

﴿كَلَّا بَلْ رَانَ عَلَىٰ قُلُوبِهِمْ....﴾ سره

ترجمه: داسې نده، بلکه د دوی بدو اعمالو د دوی په زړونو زنګ لړولی.

څا يو بزرګ ته شکايت وکړو: چې زه په خپل زړه کې يو وَحشت (وار خطائي) محسوسوم، نيک اعمالو ته مې زړه نه کيږي. آخر ددې څه علاج دی؟ هغه ورته وويل:

إِذَا كُنْتَ قَدْ أَوْحَشَتْكَ الذُّنُوبُ ❁ فَدَعْهَا إِذَا شِئْتَ وَاسْتَأْنِسْ.

کله چې ګناهونه تا په وَحشت کې واچوي، او ته دا وحشت لری کول غواړې، نو بيا ګناهونه پريږده، او اُنس (محبت) حاصل کړه (نيک اعمال او عبادات شروع کړه).

## ٤. دعبادت نُورانيت ختميدل:

د ګناهونو څلورم نقصان دا دی چې په دې سره د عبادت نُورانيت ختميږي، او ثواب کې يې کمې راځي.

تاسو دا تجربه وکړئ چې کوم کس د الله ﷻ د نافرمانۍ نه ځان ساتي، او عبادت کوي. نو دده په دې عبادت کې ډير زيات نورانيت او برکت وي.

او که بل طرفته يو کس نيک اعمال هم کوي، خو ورسره ورسره ګناهونه هم کوي. نو دې سره دعبادت هغه نورانيت ختم شي.

ددې يو څو مثالونه تاسو ته پيش کوم:

### اول مثال:

که چيرته يو غټ روغ بالټې وي، هيڅ سُوری پکې نه وي، او په دې بالټې کې يو يو څاڅکي اُوبه راغورځيږي، نو څه وخت پس به دا بالټې د اُوبو نه ډک شي. ځکه اُوبه ورنه چيرته نه ضائع کيږي.

ليکن که بل طرفته يوه وړه لوټه وي، خو په هغې کې لاندې د څوخکي سره نزدې غټ سوری وي، نو که چيرته په دې لوټه باندې ښه ډيرې اوبه راپريدې، او پوره ګنهټه يې اوبو ته کيدې، نو هيڅ کله به دا لوټه ډکه نشي. ځکه په دې کې لاندې غټ سوری دی، اُوبه ورنه واپس ضائع کيږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دغه شان کوم کس چې عبادت کوي، خو د ګناهونو نه ځان ساتي، نو د دې عبادت په وجه د دوی زړه د نورانيت نه ډک شي، او لوي بزرګ او وليُ الله ورنه جوړ شي.

او که يو طرفته عبادت هم کوي، خو بل طرفته مختلف ګناهونه هم کوي، نو په دې سره هغه جمع شوې نورانيت واپس ختم شي.

همدغه وجه ده چې خلق د الله ﷻ عبادات ښه ډير کوي، خو اولياءُ الله او بزرګان يکې ډير کم پيدا کيږي.

**دويم مثال :**

د دې خبرې د ښه وضاحت د پاره درته يو دويم مثال هم پيش کوم هغه دا چې:

که چيرته په يوه کمره کې ايئرکنډيشن لګيدلې وي، او د دې کمرې کړکۍ، دروازه او روشندان بَند وي نو کومه يخني چې ايئرکنډيشن جوړوي، هغه محفوظه وي، ختميږي نه. نو څه وخت پس به دا کمره يخه شي.

او که چيرته يو طرفته ايئرکنډيشن هم لګيدلې وي او بل طرفته دروازه هم خلاصه وي، کړکۍ هم خلاصه وي، روشندان هم خلاصه وي. نو دا کمره هيڅکله نه يخيږي. ځکه کومه يخني چې ايئرکنډيشن جوړوي، هغه واپس په دې دروازه او کړکۍ اوځي. بلکه اُلټه به د بهر نه ګرمه هوا راننوځي.

همدغه شان انسان چې عبادات او نيکۍ کوي خو ورسره يې د لاس، خپو، غوږونو او سترګو نه ګناهونه نه کيږي. نو د عبادت هغه نورانيت دده په زړه کې جَمعه کيږي او ضائع کيږي نه.

او که دې د عبادت سره سره د لاس، خپو او سترګو ګناهونه هم کوي، نو کوم نورانيت چې جَمعه شوې وي هغه واپس ختم شي.

**د امام مالك رحمه الله وصيت :**

امام مالک رحمه الله امام شافعي رحمه الله ته وصيت کړې وُ:

إِنِّيْ أَرَى اللهَ تَعَالىٰ قَدْ أَلْقىٰ عَلىٰ قَلْبِكَ نُوْرًا فَلَا تُطْفِئْهُ بِظُلْمَةِ الْمَعْصِيَةِ.

زه ګورم چې الله تعالى ستا په زړه کې يوه رڼا اچولې ده، نو ته دا رڼا د ګناهونو په تيارۍ سره مه مړه کوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۵ . د الله ﷻ او د هغه د رسول ﷺ د لعنت مستحق کېدل :

د ګناهونو پنځم نقصان دا دی چې د دې په وجه انسان د الله ﷻ او د هغه د رسول ﷺ د لعنت مستحق ګرځي . ځکه ډېر ګناهونه داسې دي چې د هغې په کوونکي د شارع له خوا لعنت راليږل شوی دی ، د نمونې دپاره درته يو څو ګناهونه پيش کوم :

### په کافرانو او ظالمانو لعنت :

الله ﷻ د کافرانو باره کې فرمائي :

﴿ فَلَعْنَةُ اللهِ عَلَى الْكَافِرِيْنَ ﴾ . (۱)

ترجمه : د الله لعنت دی په کافرانو باندې .

د ظالمانو باره کې فرمائي :

﴿ أَلَا لَعْنَةُ اللهِ عَلَى الظَّالِمِيْنَ ﴾ . (۲)

ترجمه : خبردار ! د الله ﷻ لعنت دی په ظالمانو باندې .

### په شرابي لعنت :

حضرت ابن عباس رضی الله عنه فرمائي :

سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ يَقُوْلُ : أَتَانِيْ جِبْرِيْلُ عَلَيْهِ السَّلَامُ فَقَالَ : يَا مُحَمَّدُ ! إِنَّ اللهَ لَعَنَ الْخَمْرَ وَعَاصِرَهَا وَمُعْتَصِرَهَا وَبَائِعَهَا وَمُبْتَاعَهَا وَشَارِبَهَا وَآكِلَ ثَمَنِهَا وَحَامِلَهَا وَالْمَحْمُوْلَةَ إِلَيْهَا وَسَاقِيَهَا وَمُسْتَقِيَهَا . (۳)

ما د رسول الله صلی الله عليه وسلم نه اوريدلي دي چې فرمايل يې : ماته حضرت جبريل عليه السلام راغې او وی فرمايل :

---

(۱) البقرة آيت ۸۹ .

(۲) هود آيت ۱۸ .

(۳) رواه الامام احمد بسند صحيح المسند ۳۱٦/۱ ، ۹۷/۲ ، وابن حبان في صحيحه ، والحاكم ، وقال صحيح . كتاب الكبائر الكبيرة التاسعة عشرة شرب الخمر ص ۹۲ ، الترغيب والترهيب ج ۳ ص ۱۷۵ الترهيب من شرب الخمر .... .

(c) ketabton.com: The Digital Library



اي محمد ! (صلی الله علیه وسلم) الله ﷻ لعنت لیږلی : په شراب څکونکي، نچوړونکي، په بل نچوړونکي، خرڅوونکي، اخیستونکي، د دې قیمت خوړونکي، چې څوک دا راوړي، د چا د پاره چې راوړل شي، په بل څکونکي او په خپله څکونکي. (په دې ټولو باندې الله ﷻ لعنت رالیږلی).

## په سُود اخیستونکي او ورکونکي لعنت :

حضرت جابر رضی الله عنه فرمائي :

لَعَنَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ اٰكِلَ الرِّبَا وَمُؤْكِلَهُ وَكَاتِبَهُ وَشَاهِدَيْهِ . وَقَالَ : هُمْ سَوَاءٌ. (۱)

نبي علیه السلام لعنت لیږلی په سُود اخیستونکي، سود ورکوونکي، د سود لیکونکي، او د دې په ګواه باندې. او نبي ﷺ او فرمایل : چې دوی ټول په ګناه کې برابر دي (ځکه امداد په مَعصیت کې هم معصیت دی).

## په رشوت اخیستونکي او ورکوونکي لعنت :

حضرت عبد الله بن عمر رضی الله عنهما فرمائي :

لَعَنَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الرَّاشِيَ وَالْمُرْتَشِيَ . (۲)

نبي علیه السلام لعنت ویلي په رشوت ورکوونکي او رشوت اخیستونکي باندې .

په بعضو روایاتو کې ورسره دا الفاظ هم شته :

وَالرَّائِشَ : يَعْنِيْ الَّذِيْ يَمْشِيْ بَيْنَهُمَا . (۳)

او په هغه کس هم نبي علیه السلام لعنت لیږلی چې څوک د دوی په مینځ کې د رشوت وَرَل راوړَل کوي.

(۱) مسلم باب لعن اکل الربا وموکله ۴۰۶۳، ابوداؤد رقم ۳۳۲۳ باب فی اکل الربا وموکله، ترمذي باب ماجاء في اکل الربا رقم ۱۲۰۶، ابن ماجه رقم ۲۲۷۷ .

(۲) اخرجه ابوداؤد فی الاقضیة باب ۴، والترمذي فی الاحکام باب ۹، وابن ماجه فی الاحکام باب ۲، الترغیب والترهیب ج ۳ ص ۱۲۵ ترهیب الراشي والمرتشي والساعي ابهما، الکبائر احذالرشوة علی الحکم ص ۱۲۹ .

(۳) رواه الامام احمد المسند ۱۶۴/۲، ۱۹۰ . والبزار والطبراني . الترغیب والترهیب ج۳ ص ۱۲۶ .

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د بعضو ګناهونو په وجه په ښځو لعنت :

حضرت اسماء رضی الله عنها فرمائي :

لَعَنَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَلْوَاصِلَةَ وَالْمُسْتَوْصِلَةَ . (۱)

نبي ﷺ لعنت ليږلي په هغې ښځې چې نورو ښځو له د حُسن د پاره د هغوی د ويښتانو سره نور ويښتان لږوي ، او په هغې ښځه هم نبي عليه السلام لعنت ليږلي چې چاته دا لږولي شي .

په يو بل حديث شريف کې څه نور کارونه هم ذکر دي :

حضرت ابن مسعود رضی الله عنه فرمائي :

لَعَنَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَلْوَاشِمَاتِ وَالْمُسْتَوْشِمَاتِ وَالْمُتَفَلِّجَاتِ لِلْحُسْنِ اَلْمُغَيِّرَاتِ خَلْقَ اللّٰهِ . (۲)

نبي عليه السلام لعنت ليږلي په هغه ښځه باندې چې بلې ښځې له (په څرمن) خالونه وهي ، او هغې ښځې باندې چې چاله دا خالونه وهلې شي ، او په هغه ښځې باندې هم نبي عليه السلام لعنت ليږلي چې د ډول د پاره وريزې اوباسي ، او نرۍ کوي يې . او په هغه ښځه باندې هم نبي عليه السلام لعنت ليږلي چې د ډول د پاره د خپلو غاښونو په مينځ کې فُرجې (جدا والې) پيدا کوي . او دا ښځې د الله ﷻ په خلقت کې تغير راوستونکې دي .

نبي عليه السلام فرمائي :

(( إِذَا دَعَا الرَّجُلُ إِمْرَأَتَهُ إِلَى فِرَاشِهِ فَلَمْ تَأْتِهِ فَبَاتَ غَضْبَانَ عَلَيْهَا لَعَنَتْهَا الْمَلَائِكَةُ حَتَّى تُصْبِحَ )). (۳)

---

(۱) اخرجه البخاري في اللباس باب ۸۳ ، ۸۵ ، ۸۷ . ومسلم في اللباس حديث ۱۱۵ ، ۱۱۷ ، ۱۱۹ . وابن ماجه في النكاح باب ۵۲ . الترغيب والترهيب ج۳ ص ۸٦ .

(۲) اخرجه البخاري في التفسير سورة ۵۹ باب ۴ ، واللباس باب ۸۲ ، ۸۴ ، ۸۵ ، ۸۷ . ومسلم في اللباس حديث ۱۲۰ . وابوداؤد في الترجل باب ۵ . والترمذي في اللباس باب ۲۵ . والنسائي في الزينة باب ۲۴ ، ۲٦ ، ۷۱ . وابن ماجه في النكاح باب ۵۲ . الترغيب والترهيب ج۳ ص ۸۷ ترهيب الواصلة والمستوصلة .

(۳) اخرجه البخاري في بدء الخلق باب ۷ ، ومسلم في الطلاق حديث ۱۲ ، وابوداؤد في النكاح باب ۴۰ ، الترغيب والترهيب ج۳ ص۳۸ ترغيب الزوج في الوفاء بحق زوجه . . . .

(c) ketabton.com: The Digital Library



کله چې يو سړی خپله بي بي خپل فِراش (د ملاستې ځای. لکه کټ وغيره) ته را وبلي، او دا (بغير د څه شرعي عذر نه) رانه شي، او دا خاوند په خفګان شپه تيره کړي، نو تر سهره پورې فرښتې په دې ښځه لعنت وايي.

## د ښځو سره مشابهت کوونکو سړو، او د سړو سره مشابهت کوونکو ښځو باندې لعنت:

حضرت ابن عباس رضی الله عنهما فرمائي:

لَعَنَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَلْمُتَشَبِّهِيْنَ مِنَ الرِّجَالِ بِالنِّسَآءِ وَالْمُتَشَبِّهَاتِ مِنَ النِّسَآءِ بِالرِّجَالِ. (۱)

نبي ﷺ لعنت ويلې په هغه سړو باندې چې د ښځو سره مشابهت کوي (يعنی د ښځو په شکل و صورت ځان جوړوي). او په هغو ښځو يې هم لعنت ويلې چې د سړو سره مشابهت کوي (يعنی د سړو په شکل و صورت ځان جوړوي).

## په مړي ژړا کوونکي زنانه و باندې لعنت:

حضرت ابن ابو سعيد خدري رضی الله عنه فرمائي:

لَعَنَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ اَلنَّائِحَةَ وَالْمُسْتَمِعَةَ. (۲)

پيغمبر عليه السلام لعنت ليږلې په هغه ښځه باندې چې په مړي ژاړي (چغې سورې وهي، او خپل ګريوانونه شلوي)، او چې څوک دا آوري (او ورباندې راضي وي) نو په دې هم لعنت دی.

## په لوطي او د مور او پلار په نافرماني کوونکي لعنت:

په يو حديث کې نبي عليه السلام فرمائي:

(( مَلْعُوْنٌ مَنْ عَمِلَ عَمَلَ قَوْمِ لُوْطٍ )).

---

(۱) اخرجه البخاري في اللباس باب ٦١، وابوداؤد في اللباس باب ٢٧، والترمذي والنسائي، الترغيب والترهيب ج٣ ص٧٥ الترهيب من تشبه الرجل بالمرءة.

(۲) رواه ابوداؤد كتاب الجنائز باب ٢٥. ورواه البزار والطبراني. الترغيب والترهيب ج٤ ص١٨٥ الترهيب من النياحة على الميت...

(c) ketabton.com: The Digital Library



لعنتي دی هغه څوک چې د حضرت لوط علیه السلام د قوم عمل کوي (یعنی لِواطت کوي).

دا پاس الفاظ نبي ﷺ درې (۳) پیرې اوفرمایل.

(( مَلْعُوْنٌ مَنْ ذَبَحَ بِغَيْرِ اللهِ )).

لعنتي دی، څوک چې د غیر الله په نوم ذبح کوي.

(( مَلْعُوْنٌ مَنْ أَتَى شَيْئًا مِنَ الْبَهَائِمِ )).

لعنتي دی، څوک چې د چارپیانو سره خپل شهوت پوره کوي.

(( مَلْعُوْنٌ مَنْ عَقَّ وَالِدَيْهِ )). (۱)

لعنتي دی، څوک چې د مور او پلار نافرماني کوي.

(( مَلْعُوْنٌ مَنْ أَتَى اِمْرَأَةً فِيْ دُبُرِهَا )). (۲)

لعنتي دی، څوک چې د خپلې کور واله سره په شا طرف (دُبره) کې کوروالې کوي.

## نور د لعنت واله ګناهونه :

محترمو! دا خو مې درته صرف یو څو ګناهونه پیش کړه، د کومو په وجه چې په انسان باندې لعنت راوریږي. د دینه علاوه په معتمدو احادیثو کې نور ګناهونه هم ذکر دي، چې د هغې په کونکي لعنت لیږل شوې.

لکه نبي علیه السلام لعنت ویلې په تصویر جوړوونکي، په هغه چا چې مسلمان ته ضرر رسوي او دهوکه ورسره کوي، او لعنت یې ویلې په هغه چا چې ښځه د خپل خاوند نه یا غلام د خپل مالک نه جدا کوي، او لعنت یې ویلې په هغه چا چې د الله ﷻ حکمونه پټوي او په پاکدامنو ښځو د زِنا تهمت لږوي.

د دینه علاوه په احادیثو نور هم ډیر داسې ګناهونه شته چې د هغې په کونکي باندې نبي ﷺ لعنت ویلې.

(۱) رواه الطبراني فی الاوسط والحاکم، الترغیب والترهیب ج۳ ص ۱۹۶.

(۲) اخرجه ابوداؤد فی النکاح باب ۵۲ واحمد المسند ۲/ ۴۴۴، ۴۷۶.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**عبرت** : عزتمندو مسلمانانو ! تاسو ديته سوچ وکړئ چې دا څومره دخفګان خبره ده چې په يو سړي باندې (د ګناه کولو په وجه ) الله ﷻ او د هغه رسول ﷺ لعنت ويلې وي .

نو انسان ته په کار دي چې د الله ﷻ د نافرمانۍ نه ځان اوساتي .

### په ګناهګار باندې نور مخلوقات هم لعنت وايي :

کله چې انسان ګناهونه کوي ، نو ددې په وجه قحط سالي راځي ، بارانونه بند شي . نو د انسانانو نه علاوه نور مخلوقاتو ته هم ددې اثر اورسي ، نو هغوی هم بيا په دې انسان باندې لعنت وايي .

مجاهد رحمه الله وايي :

چې کله باران بند شي او سخت قحط شي ، نو ځناور هم په نافرماني کوونکو بندګانو باندې لعنت وايي . او دا وايي چې دا ددې انسانانو د ګناهونو نحوست او سپيره توب دی ( چې په مونږ باندې هم باران بند شوې ) . (۱)

## ۶ . د الله تعالی د دښمنانو وارث جوړېدل :

د ګناهونو شپږم نقصان دادی چې ددې په وجه انسان د الله ﷻ د دشمنانو نه د يو دشمن وارِث جوړيږي . ځکه هره ګناه اکثر د يو چا ميراث دی ، نو دې چې هغه ګناه کوي ، نو خامخا د هغوی وارِث جوړيږي :

لکه په ناپ تول کې کمې کول د حضرت شعيب عليه السلام د قوم ميراث دی ، تکبر او ظلم د حضرت هود عليه السلام د قوم ميراث دی ، ځان اوچت ګڼل او فساد کول د فرعون او ده د قوم ميراث دی ، لواطت د حضرت لوط عليه السلام د قوم ميراث دی .

نو دې انسان چې دا ګناه وکړه ، نو دې هم د هغوي وارِث جوړ شو ، د هغوی مشابهت يې اختيار کړو . او حديث کې راځي :

(( مَنْ تَشَبَّهَ بِقَوْمٍ فَهُوَ مِنْهُمْ )) . (۲)

---

(۱) جزاء الاعمال للتهانوي رحمه الله .

(۲) رواه احمد في المسند .

(c) ketabton.com: The Digital Library



څوک چې د يو قوم سره (د هغوييې په خاصو افعالو او اقوالو کې) مشابهت کوي، نو دې هم د هغوی نه دی.

## ۷. معيتِ الهي (دالله ﷻ امداد) ختميدل:

د ګناهونو اووم نقصان دادی چې ددې په وجه د انسان سره معيتِ الهي (د الله ﷻ امداد) ختميږي. او چې د چا سره د الله ﷻ امداد ختم شو، نو هغه بيا هيڅکله نه کامياييږي اګر چې ظاهري اسباب دده سره ښه ډير وي.

ځکه په اسبابو کې اثر اچوونکې خو الله ﷻ دی، او چې دالله ﷻ معيت ختم شو، نو بيا اسباب اثر نه کوي.

او بل طرفته کوم کس چې د ګناهونو نه ځان ساتي، نو دده سره دالله ﷻ امداد شامل وي، او د چا سره چې د الله ﷻ امداد شاملِ حال وي نو ده ته بيا هيڅوک او هيڅ شي ضرر نشي رسولې. او دا يو لوی نعمت دی.

ددې دپاره درته يو دوه مثالونه پيش کوم:

## د نيکانو سره د الله ﷻ د امداد مثالونه:

### اول مثال: په غارِ ثور کې د رسول الله ﷺ سره د الله ﷻ د معيت واقعه:

د هجرت په شپه د نبي کريم صلی الله عليه وسلم سره په غارِ ثور کې حضرت ابوبکر صديق رضی الله عنه وو، کله چې مشرکينِ مکه ددوی د تلاش دپاره راووتل، او ددې غار خولې ته را اورسيدل، نو حضرت ابوبکر صديق ﷺ د کافرانو قدمونه اوليده، نو اويريده، چې هسې نه دوی ښکته وګوري، او مونږ او ويني نو نبي عليه السلام ته به تکليف اورسوي.

ده د خپلې پريشانۍ ذکر نبي عليه السلام ته وکړو، پيغمبر عليه السلام ورته اوفرمايل:

﴿لَا تَحْزَنْ إِنَّ اللهَ مَعَنَا﴾. (۱)

ترجمه: غم مه کوه، بيشکه الله ﷻ د مونږ سره دی. (د هغه نصرت او امداد د مونږ سره دی، او د چا سره چې د الله ﷻ امداد وي هغوي ته هيڅوک هم نقصان نشي رسولې).

---

(۱) التوبة آيت ۴۰.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیا همداسې اوشو هم. چې کافران واپس لاړه، دوی یې اونه لیدل، او الله ﷻ د دوی حفاظت وکړو.

## دويم مثال: د حضرت موسى عليه السلام سره د الله ﷻ د معيت واقعه:

حضرت موسى عليه السلام چې کله خپل قوم بني اسرائيل د ځان سره روان کړه، او د مصر نه اووت، نو شاته ورپسې فرعون او د ده لښکر راغې، په يو ځای کې مخې ته درياب (بحرِ قلزم) راغې، او شاته د فرعون لښکر وو.

نو د حضرت موسى عليه السلام ملګري (بني اسرائيل) اوېريده، او موسى عليه السلام ته يې وويل:

﴿ إِنَّا لَمُدْرَكُونَ ﴾. (۱)

ای موسى! يقيناً مونږ خو راګير شو (مخې ته درياب دی او شاته د فرعون لښکر دی).
حضرت موسى عليه السلام ورته تسلي ورکړه:

﴿ كَلَّا إِنَّ مَعِيَ رَبِّي سَيَهْدِينِ ﴾. (۲)

ترجمه: هرګز داسې نده، د ما سره خپل رب دی، هغه به ما ته راهنمائي کوي (او زمونږ د نجات صورت به را اوباسي، ځکه د مونږ سره د الله ﷻ امداد شاملِ حال دی).
او همداسې اوشوه، چې الله ﷻ حضرت موسى عليه السلام ته حکم وکړو:

﴿ اضْرِب بِّعَصَاكَ الْبَحْرَ ﴾ (۳)

ترجمه: ته په خپله اَمسا باندې دا درياب اووهه.
حضرت موسى ﷺ چې درياب په اَمسا اووهلو، نو دولس (۱۲) لارې پکې جوړې شوې، او اُوبه ځای په ځای اودرېدې، دوی ورباندې پورې وَتل، او چې کله فرعون او د ده لښکر پکې ورننوتل، نو اُوبه واپس يو ځای شوې، او ټول په کې غرق شو.

---

(۱) الشعرآء آیت ۶۱.
(۲) الشعرآء آیت ۶۲.
(۳) الشعرآء آیت ۶۳.

(c) ketabton.com: The Digital Library



وروسته الله ﷻ فرمائي :

﴿ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَآيَةً ﴾ .(۱)

ترجمه : يقيناً په دې واقعه کې لويه نښه د قدرت ده (چې څنګه د نيکانو سره امداد کوم ، او نافرمان څنګه هلاکوم ) .

**فائده** : معلومه شوه چې کوم کس ځان د ګناه نه ساتي د هغه سره د الله ﷻ معيت ( امداد ) وي ، او چې څوک ګناهونه کوي ، نو د هغه سره د الله ﷻ امداد نه وي .

## ۸ . د فرښتو د دُعاګانو نه محرومه کيدل :

د ګناهونو اتم نقصان دا دی چې په دې سره انسان د فرښتو د دُعاګانو نه محرومه کيږي.
په قرآن کريم کې ذکر دي : چې فرښتې د هغه خلقو د پاره دعاګانې کوي کوم چې مومنان وي او نيک اعمال کوي .

اوس چې يو سړی ګناهونه کوي ، نو لازمي به دې د فرښتو د دُعاګانو نه محرومه وي .
الله رب العزت د فرښتو دُعاګانې داسې رانقل کوي :

﴿ اَلَّذِيْنَ يَحْمِلُوْنَ الْعَرْشَ وَمَنْ حَوْلَهٗ يُسَبِّحُوْنَ بِحَمْدِ رَبِّهِمْ وَيُؤْمِنُوْنَ بِهٖ وَيَسْتَغْفِرُوْنَ لِلَّذِيْنَ آمَنُوْا رَبَّنَا وَسِعْتَ كُلَّ شَيْءٍ رَّحْمَةً وَّعِلْمًا فَاغْفِرْ لِلَّذِيْنَ تَابُوْا وَاتَّبَعُوْا سَبِيْلَكَ وَقِهِمْ عَذَابَ الْجَحِيْمِ . رَبَّنَا وَأَدْخِلْهُمْ جَنّٰتِ عَدْنِ الَّتِيْ وَعَدْتَّهُمْ وَمَنْ صَلَحَ مِنْ آبَائِهِمْ وَأَزْوَاجِهِمْ وَذُرِّيّٰتِهِمْ إِنَّكَ أَنْتَ الْعَزِيْزُ الْحَكِيْمُ ، وَقِهِمُ السَّيِّئَاتِ وَمَنْ تَقِ السَّيِّئَاتِ يَوْمَئِذٍ فَقَدْ رَحِمْتَهٗ وَذٰلِكَ هُوَ الْفَوْزُ الْعَظِيْمُ ﴾ .(۲)

ترجمه : کومو فرښتو چې عرش اوچت کړی ، او کومې چې د عرش ګير چاپيره دي ، دوی د خپل رب تسبيح او تعريف بيانوي ، په الله ايمان لري او د مومنانو د پاره ( داسې ) بخښنه غواړي : چې ای ربه زمونږه ! تا احاطه کړې په هر شي باندې په خپل رحمت او علم سره .

---

(۱) الشعرآء آيت ٦٧ .

(۲) المومن آيت ۷ ، ۸ .

(c) ketabton.com: The Digital Library



پس کوم خلقو چې توبه اوویسته، او ستا په لاره روان دي، دوی ته بخښنه وکړه، او دوی د عذاب د جهنم نه اوساته.

ای ربه زمونږه ! ته داخل کړه دوی په باغونو د همیشه اوسیدلو کې، د کوم چې تا د دوی سره وعده کړې. او (اې الله! ته داخل کړه د دوی سره) د دوی نیکان پلاران، نیکانې بیبیانې او نیکان اولاد. بیشکه ته ډیر زبردست او حکمت واله یې.

او (اې الله!) ته اوساته دوی د تکلیفونو نه. او تا چې څوک په دغه ورځ د تکلیفونو نه بچ کړو، نو بیشکه تا په هغه رحم وکړو، او همدا لویه کامیابي ده.

**فائده** : معلومه شوه چې د عرش او د عرش ګیر چاپیره فرښتې د مؤمنانو او نیکانو خلقو د پاره ډیرې دُعاګانې غواړي.

اوس چې څوک په ګناهونو کې اَخته وي، نو یقیني خبره ده چې دې به د فرښتو ددې دُعاګانو نه محرومه وي.

## ۱۰. د مخ رونق ختمیدل، او عقل کمزوري کیدل :

لسم نقصان د ګناهونو دادی چې ددې په وجه د انسان د مخ رونق ختمیږي. ځکه چې د ګناه په وجه د انسان په زړه یو تور داغ اولږي، نو که چیرته دې توبه اونه باسي، او بار بار ګناه کوي نو هغه داغ زیاتیږي، چې د هغې اثر بیا په سترګو او مخ کې هم معلومیږي.

او دا په تجربې سره معلومه ده چې کوم کس په ګناه کې مبتلاء وي، که هغه هر څومره ښکلې وي، او په ځان ډیرې ګوتې وهي، خو بیا به یې هم په مخ کې د نیکانو خلقو رونق او نُور نوي، بلکه مخ به یې پیکه او سپیره لږي.

ددې برعکس تاسو د نیکانو خلقو مخونو ته اوګورئ، نو ښکاره به درته په کې رونق معلوم شي.

حضرت عبدالله بن عباس رضی الله عنهما فرمائي :

چې په نیکۍ کولو سره د انسان په مخ کې رونق راځي، په زړه کې رڼا، په رزق کې فراخي، په بدن کې قوت او د خلقو په زړونو کې محبت پیدا کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



او په ګناه کولو سره په مخ کې بې رونقي پيدا کيږي ، په قبر او زړه کې تياره ، په بدن کې سستي ، رزق کې تنګي ، او د خلقو په زړونو کې بُغض (کينه) پيدا کيږي .(۱)

دغه شان د ګناهونو په وجه د انسان په عقل کې هم نقصان او فساد راځي .

ځکه عقل يو نوراني شي دی ، او د ګناهونو د ککړ والي په وجه په دې کې خامخا کمي راځي .

## دامام شافعي رحمه الله خپل استاذ ته د حافظې د کمزورتيا شکايت :

امام شافعي رحمه الله فرمائي : چې ما خپل استاذ وکيع رحمه الله ته د حافظې د کمزورتيا شکايت وکړو ، نو هغه راته دا وصيت وکړو : چې ګناهونه پريږده نو حافظه به دې مضبوطه شي ، په اشعارو کې يې دا خبره بيان کړې :

شَكَوْتُ إِلَى وَكِيْعٍ سُوْءَ حِفْظِيْ ❖ فَأَوْصَانِيْ إِلَى تَرْكِ الْمَعَاصِيْ

وَأَخْبَرَنِيْ بِأَنَّ الْعِلْمَ نُوْرٌ ❖ وَنُوْرُ اللهِ لَا يُعْطٰى لِعَاصٍ (۲)

ما خپل استاذ وکيع رحمه الله ته د حافظې د خرابۍ (کمزورتيا) شکايت وکړو ، نو هغه راته وصيت وکړو چې ګناهونه پريږده (نو حافظه به دې صحيح شي) .

او دا خبر يې راکړو (چې د ګناهونو سره ځکه حافظه کمزوری کيږي) چې علم يو نُور دی ، او ګناهګار ته د الله ﷻ نُور نشي ورکولې .

عزتمندو مسلمانانو ! که چيرته تاسو سوچ وکړئ ، نو کوم کس چې ګناهونه کوي ، دا پخپله د بې عقلۍ غټ دليل دی .

ځکه که يو کس ته دا پته اولږي چې ما يو ماشوم ګوري ، نو هيڅ کله به دې د هغه د وړاندې يو فحش کار اونکړي . او س چې د يو کس دا يقين وي چې ما الله ﷻ ګوري ، زه د هغه په قدرت کې يم ، د هغه رزق خورم ، هغه مې د دې ناجائز کار نه منع کوي ، د هغه رسول مې منع کوي ، قرآن مې منع کوي ، په ګناه کولو سره الله ﷻ ناراضه کيږي ، پيغمبر عليه السلام ناراضه کيږي ، حفظه ملائکو ته تکليف رسي ، شيطان خوشحاليږي ، مرګ خامخا راروان دی د الله ﷻ د

(۱) جزاء الاعمال للتهانوي رحمه الله .

(۲) ص .

(c) ketabton.com: The Digital Library



وراندې به پېش کېږم، حساب وکتاب به ورکوم، د هغه فرشتې به راباندې ګواهي ورکوي، زما اندامونه به زما خلاف ګواهي ورکوي، دا ورځ او شپه به ګواهي ورکوي، په کوم ځای چې دا ګناه شوې هغه به ګواهي ورکوي، الله ﷻ راباندې په خپله ګواه دی، د جنت نه محروم کېږم، او د جهنم مستحق ګرځم.

نو چې یو سړی دا ټولې خبرې ځانته رامخې ته کړي، او دې بیا هم د عارضي خوشحالۍ د پاره ګناهونه کوي، د الله ﷻ حکم ماتوي، د پیغمبر حکم ماتوي، د قرآن کریم او احادیثو احکامات د خپو لاندې کوي. نو دا غټ دلیل د دې دی چې د دې انسان عقل کمزورې دی، چې د معمولي فائدې د پاره یې دومره زیات نقصانونه برداشت کړه.

## ۱۱ . بار بار ګناه کولو سره د توبې توفیق نه ملاویږي:

د ګناهونو یولسم نقصان دادی چې کله انسان یو ګناه وکړي، نو دا ګناه بلې ګناه ته دعوت ورکوي، بیا دې مسلسل ګناهونه کوي. آخر دده د زړه نه د دې ګناه بَدیت او وځي، بیا ورته د سړه دا ګناه نه معلومیږي. چې په نتیجه کې د دې انسان نه د توبې توفیق هم سَلب شي.

مثلاً یو سړې خپل نظر غلط استعمال کړي، پَردې ښځې ته او ګوري، نو ده یو ګناه وکړه. په دې سره دده په زړه کې نوری وسوسې هم پیدا شي، بیا ورسره خبرې وکړي...... آخر دا چې دا سړی په زِنا کې مبتلاء شي.

او چې بار بار یې کوي، نو دې سره دده د زړه نه د زِنا بدیت هم ختم شي، او دا ورته بیا د سره ګناه نه معلومیږي، بلکه یو عادت یې او ګرځي. چې په دې سره دا انسان نه د توبې توفیق هم سَلب شي، آخر د دنیا نه بې توبې لاړ شي.

ډیر داسې واقعات پیښ شوي چې په آخیري وخت کې انسان ته د کلمې تلقین ورکړې شوې، لیکن د هغه په خُله کلمه نه جاري کیده، بلکه په دُنیا کې به چې په کومه ګناه کې مبتلاء وُ، د مرګ په وخت یې هم هغه الفاظ د خُلې نه وتلي:

د ډیرو خلقو د خُلې نه د مرګ په وخت سندرې وتلي، او ډیرو صراحةً د کلمې نه انکار کړې. دا ټول د ګناهونو اثر دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۱۲ . د الله ﷻ دحفاظت نه وتل ،او شيطان پرې مسلط كيدل :

د ګناهونو دولسم نقصان دادى چې ددې په وجه انسان د الله ﷻ د حفاظت نه اووځي او شيطان ورباندې مسلط كيږي . ځكه نيك اعمال د انسان د پاره حفاظتي قلعه ده . او س چې يو سړې ددې قلعې نه اووت ، او په ګناهونو كې مبتلاء شو ، نو خامخا په ده باندې د شيطان غلبه او تسلط راځي . بيا چې د شيطان څه خوښه وي هغه ورسره كوي .

## ۱۳ . اندامونه باطني نجس او بدبويه كيدل :

د ګناهونو ديارلسم نقصان دادى چې ددې په وجه د انسان هغه اندامونه چې په كوم ګناه كوي باطني نجس كيږي او بدبوئي ترې ځي . ځكه په ګناه كې دننه نجاست پروت دى . مثلا په لاس ګناه كوي نو لاس حكمًا نجس شي ، په ستركو ګناه كوي دا حكمًا نجسې شي .

ځكه خو حديث كې راغلي : چې كله يو انسان اودس كوي ، نو كوم اندام چې وينځي نو هغه د نجاست نه پاكيږي .

د اندامونو د نجس كيدو او بدبويه كيدو باره كې درته څو نمونې پيش كوم :

۱ . د دروغو باره كې نبي ﷺ فرمائي :

(( إِنَّ الْعَبْدَ لَيَكْذِبُ الْكِذْبَةَ لَيَتَبَاعَدُ الْمَلَكُ عَنْهُ مَسِيْرَةَ مِيْلٍ مِنْ نَتْنِ مَا جَاءَ بِهِ )) . (۱)

كله چې يو بنده دروغ وايي نو فرشتې ددې دروغو د بدبويۍ د وجې يو ميل لرې ولاړې وي .

۲ . د ګناه بدبويي د انسان نه د مرګ په وخت هم ځي :

حديث كې راځي : چې كله د يو بنده د وفات وخت رانزدې شي ، نو د ملك الموت سره چې نورې كومې فرښتې راغلې وي ، نو دوى ددې انسان اندامونه بُويوي .

نو په كومو اندامونو چې انسان ګناه كړې وي ، د هغې نه بدبويي ځي ، نو فرشتې په دې سړي باندې راباندې كړي ، او بنه يې اووهي .

او كوم كس چې نيك وي ، توبه يې ويستې وي ، نو د هغه د اندامونو نه بدبويي نه ځي ( نو بيا ده ته وهل نه وركوي ) . (۲)

---

(۱) اخرجه الترمذي وقال حسن غريب ، احياء العلوم ج۳ ص ۱۸۳ كتاب آفات اللسان .

(۲) خطبات فقير ج۱۰ ص ۱۷۲ .

(c) ketabton.com: The Digital Library



۳. د ګناهونو دا بدبوئي به د انسان نه د قيامت په ورځ هم ځي :

نبي ﷺ فرمائي :

(( إِنَّ النَّاسَ تُرْسَلُ عَلَيْهِمْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ رِيْحٌ مُنْتِنَةٌ حَتَّى يَتَأَذَّى مِنْهَا كُلُّ بَرٍّ وَفَاجِرٍ )).

د قيامت په ورځ به په خلقو باندې ډيره بدبويه هوا راشي ، تردې چې نيک او بد ټولو ته به دې نه تکليف اورسيږي ، او هر ځاى ته به دا هوا اورسي .

بيا به يو آواز کوونکې آواز وکړي :

هَلْ تَدْرُوْنَ هٰذِهِ الرِّيْحُ الَّتِيْ قَدْ آذَتْكُمْ ؟

آيا تاسو ته پته ده چې دا بدبويه هوا د څه شي ده کومې چې تاسو ته تکليف اورسول؟

دوى به ورته جواب ورکړي :

لَانَدْرِيْ وَاللهِ .

په الله قسم ، مونږ ته خو هيڅ پته نشته . بلکه هر کس ته د دينه تکليف اورسيده .

نو دوى ته به وويلې شي :

اَلَا اِنَّهَا رِيْحُ فُرُوْجِ الزُّنَاةِ الَّذِيْنَ لَقُوا اللهَ بِزِنَاهُمْ وَلَمْ يَتُوْبُوْا مِنْهُ . (۱)

خبردار ! دا خو د هغه زناکارو د فرجُونو ( شرمګاهو ) بدبويه هوا ده ، کومو چې په دنيا کې زِنا کړې وه ، د هغې نه يې توبه نه وه ايستې ، اوس د الله ﷻ د وړاندې پيش شو .

· په يو بل حديث کې داسې هم راغلي چې کله زِناکارې ښځې په جهنم کې واچولې شي ،نو دا چولو نه روستو به هم د دويې د شرمګاه نه داسې بدبوئي ځي چې ټول جهنميان به ورنه تنګ شي

يُؤْذِيْ اَهْلَ النَّارِ رِيْحُ فُرُوْجِهِمْ . (۲)

جهنميانو ته به د زِناکارو ښځو د شرمګاهونو د بدبويې د وجې سخت تکليف وي .

او ددې ګناه احساس بعضو نيکانو خلقو ته هم کيږي . ځکه دوى په خپل فراست او نُورِايماني سره معلوموي ، چې دا انسان په ګناهونو کې مبتلاء دى لکه :

(۱) الترغيب والترهيب ج۳ ص۱۹۰ الترهيب من الزنا . . .

(۲) رواه احمد المسند ۴/۱۶۰ ، الترغيب والترهيب الترهيب من الزنا . . .

(c) ketabton.com: The Digital Library



۴. د حضرت عثمان رضی الله عنه مجلس ته یو کس راغې، چې په لاره کې يې خپل نظر غلط استعمال کړې ؤ، نو حضرت عثمان رضی الله عنه او فرمايل:

مَا بَالُ أَقْوَامٍ يَتَرَشَّحُ الزِّنَا مِنْ أَعْيُنِهِمْ. (۱)

څه شوي په دې خلقو باندې چې زمونږ مجلس ته راځي او د هغوی د سترګو نه د زنا آثار څوريږي.

## ۱۴. د بعضو ګناهونو اثر التِه پده او دده په کورنۍ راځي:

د ګناهونو څوارلسم نقصان دادی چې بعض وخت د دې اثرات دده په خپل کور واله پريوځي. لکه يو کس د پردۍ زَنانه حياء او عزت ته نقصان اورسوي، نو د دې اثر دا را اوځي چې دده کور واله ته به هم دغه شان نقصان رسولې شي.

نبي عليه السلام فرمائي:

که چيرته تاسو د نورو د ښځو سره د پرهيزګارۍ معامله کوئ، نو ستاسو ښځو سره به هم د پرهيزګارۍ معالمه کولې شي.

## د زَرګر د ښځې واقعه:

امام غزالي رحمه الله په خپل کتاب [اَلتِّبرُ المَسبُوک] کې يو واقعه رانقل کړې: چې په بخارا کې يو مُشکي ؤ، ډير نيک سړې وو، دده د يو زَرګر کره د ديرشو (۳۰) کالو نه اُوبه راوړې، دا زَرګر هم ډير نيک سړې ؤ، او دده دا بي بي هم ډيره نيکه ښځه وه.

دې مُشکي به د دروازې پورې اُوبه راوړې، او بيا به واپس لاړ. په دې ديرش کاله کې دده نه څه غلط حرکت نه ؤ شوې.

يو ورځ ده اُوبه راوړې، چې وې کتل نو د زَرګر ښځه په اَنګر کې اُوده وه، دې ورغی او دهغې په لاس يې خپل لاس راښکلو، او زُور يې پرې وکړو، نور واپس لاړو.

دا ښځه چې راپاڅيده، نو ډيره زياته خفه شوه، چې څنګه ديرش کاله پس د دې سړي نيت خراب شو؟ آخر څه وجه خو خامخا شته.

---

(۱) وعظ غض البصر للتهانوي رحمه الله ص ۷.

(c) ketabton.com: The Digital Library



کله يې چې، دا خاوند کورته راغې، او وې ليده چې دا ښځه ژاړي او خفه ده. ده ورنه پوښتنه وکړه: چې ولې ژاړې؟ دې ورته وويل: چې تا نن په بازار کې څه خراب کار کړې، چې د هغې اثر ماته هم رارسيدلې. دې زَرګر انکار وکړو چې ما هيڅ ندي کړي. دې ښځې ورته وويل: چې دا هيڅ کله کيدې نشي، تا خامخا څه کړي. که صفا حال راته نه وايې نو زه د تاسره هيڅکله پاتې کيږم نه.

آخر زَرګر مجبور شو، او ورته وې ويل: چې نن زما دُکان ته يوه ښائسته ښځه راغله، بنګړي يې اخيستل، چې کله يې بنګړي واخيستل، او په لاس کې يې واچول، نو لاسونه يې ډير ښکلي وو، زه په ځان پوهه نه شوم، دهغې لاس مې اونيوه، او لږ زور مې ورکړو، بيا هغه ښځه واپس لاړه.

دې ښځې افسوس وکړو چې تا ولې داسې کول؟ د هغې اثر ماته ورسيد. هغه مشکي چې مونږ له يې د ډيرشو کالو نه راپه ديخوا اُوبه راوړې، او نيک سړی ؤ خو نن يې زما لاس له زُور ورکړو، او واپس لاړو.

نو زَرګر ورته وويل: چې په خدای قسم، د ما نه غلطي شوې، زما توبه ده، بيا به هيڅکله داسې نه کوم.

صبا له چې مشکي راغې، اُوبه يې راوړې، نو د دې ښځې نه يې معافي اوغوښته، او ډير پښيمانه ؤ، چې زه په ځان پوهه نشوم، شيطان دهوکه کړم، بيا به هيڅکله داسې کار نه کوم.

دې ښځې ورته وويل: چې دا ستا غلطي نه ده، بلکه اول غلطي زما د خاوند نه شوې وه چې د هغې اثر ماته را اُورسيده، او الله ﷻ د هغه نه بدل واخيست.(۱)

دا وو د ګناهونو دُنيوي نقصانات چې ما درته يو څو بيان کړل، د دينه علاوه نور دُنيوي نقصانات هم شته چې د وخت د کمي د وجې نشي ذکر کولې.

---

(۱) التبر المسبوک باب ۷.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د ګناهونو اُخروي نقصانات :

عزتمندو ! په قرآن کريم او نبوي احاديثو کې د ګناهونو اُخروي نقصانات خو ډير زيات ذکر شوي دي، چيرته زه هغه درته تفصيلي بيانوم، نو خبره بيا ډيره اوږديږي.

بلکه زه به درته اجمالا يو څو ذکر کړم :

کله چې يو کس د الله ﷻ نافرماني کوي، نو اول خو دده نه د مرګ په وخت فرشتې ډير په سختۍ سره روح اخلي،

بيا په قبر کې دده دپاره مختلف قسمه عذابونه وي، قبر ورباندې دومره راتنګ شي چې يو پُښتۍ يې په بله کې ننوځي، ماران وي، لړمان وي، د فرشتو وهل وي، او د جهنم د طرفه ورته يوه کړکۍ راخلاصه شي چې په هغې کې ورته د جهنم ګرمائش راځي.

بيا د قيامت په هغه سخته ورځ کې ( چې يوه ورځ به يې د پنځوس زره کالو په مقدار اوږده وي، هر انسان به په خپلو خَوَلو کې ډوب وي په دې ورځ کې ) به هم په ده باندې د الله ﷻ قهر، غضب او نور قسمه عذابونه وي.

بيا به د پُلِ صراط عذاب وي (چې د جهنم د پاسه لږيدلې دی، او هر کس به په دې تيريږي). دلته هم د کافرانو او ګناهګارانو دپاره ډير سخت عذابونه دي.

بيا د هغې نه روستو د جهنم خوفناکې مرحلې دي : چې د اُور جامې به ده ته ور واغوستلې شي، په زنځيرونو کې به تړلې وي، د جهنميانو وينې او زَوې به ورباندې څکلې شي، د زقوم بدبوداره اُونه به دده خوراک وي، داسې جوشيدلې اُوبه به په ده څکلې شي چې خُولې ته يې رااوچتې کړي نو د ډير ګرمائش نه به دده د مخ څرمن په دې اُوبو کې را اُوغورځي، او چې کله يې اوڅکي، نو دننه په خيټه کې به يې کولمې ټولې ويلې شي، د پاسه طرف نه به يې فرشتې په ګرزُونو وهي، لاندې به ورته د اُور څپلۍ واچولې شي چې دهغې په وجه به يې پاس دماغ خوټکيږي.

په جهنم کې د اُوښانو په مقدار غټ غټ زهريله لړمان به په ده باندې مسلط کړې شي، چې يو ټک ورکړي نو تر څلويښتو کالو پورې به هغه درد نه ختميږي.

ددينه علاوه به نور مختلف قسمه عذابونه وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



( نوټ : دا د کومو عذابونو ذکر چې اوشو ، نو دا ځني په قرآن کريم او ځني په صحيح احاديثو کې پوره په تفصيل سره ذکر دي ، خو د وخت د کمي په وجه مې تفصيلا بيان نه کړه ).

## د هرې ګناه نقصان شته :

محترمو مسلمانانو ! د هرې ګناه نقصان شته ، ده ته به د دې جزاء ورکولې شي .

الله ﷻ فرمائي :

﴿ مَنْ يَعْمَلْ سُوٓءًا يُجْزَ بِهِ ﴾ . (۱)

ترجمه: څوک چې بد کار وکړي (او دې توبه او نه باسي) نو ده ته به د دې جزاء ورکولې شي.

**افسوس** : ډيره د افسوس خبره داده چې که چيرته په يو کور کې يو ماشوم پياله يا څه بل شی مات کړي ، نو دې پرې رټلې او وهلې شي .

ليکن که يو عاقل و بالغ کس د الله ﷻ او د رسول ﷺ احکامات مات کړي ، ګناهونه کوي ، نو ده ته هيڅوک هم څه نه وايي ، حالانکه پلار او مشران يې ښه ګوري ، ليکن بيا هم ورته څه نه وايي .

نو انسان ته پکار دي چې د الله ﷻ د نافرمانۍ نه ځان اوساتي . ځکه کوم کس چې د الله ﷻ د ويرې نه يو ګناه پرېږدي ، نو الله ﷻ د دې انسان ډيره قدرداني کوي ، او ډير لوي اجر ورته ورکوي .

الله تعالی فرمائي :

﴿ وَأَمَّا مَنْ خَافَ مَقَامَ رَبِّهِ وَنَهَى النَّفْسَ عَنِ الْهَوَى . فَإِنَّ الْجَنَّةَ هِيَ الْمَأْوَى ﴾ . (۲)

ترجمه : او څوک چې د خپل رب په وړاندې د پيشی نه ويريدلې وي ، او خپل نفس يې د خواهشاتو نه منع کړې وي نو جنت د هغه د پاره ځاي د اوسيدو دی :

(۱) النساء آيت ۱۲۳ .

(۲) النازعات آيت ۴۰ ، ۴۱ .

(c) ketabton.com: The Digital Library



بل ځای الله ﷻ فرمائي :

﴿ وَلِمَنْ خَافَ مَقَامَ رَبِّهِ جَنَّتَانِ ﴾ (۱)

ترجمه : او څوک چې د خپل رب په وړاندې د اودریدلو نه ویریږي ، د هغه د پاره دوه (۲) باغونه دي .

## واقعه : د ګناه نه د بچ کیدو په وجه د بدن نه د مُشکو خُوشبوئي تلل :

په اِنډیاکې یو بزرګ تیر شوې ، خپل نوم یې بل څه وو ، خو مشهور ؤ په خواجه مُشکي رحمه الله باندې . هر وخت به یې د جسم نه د مشکو په شان خوشبوئي تلله ، خلق حیران وو ، پوښتنه به یې و... کړو ، خو ده ورته حال نه ویلو . آخر خلقو مجبور کړو چې ددې څه وجه ده چې ستا د جسم نه هر وخت د مشکو په شان خوشبوئي ځي ؟

نو ده ورته خپله واقعه بیان کړه :

چې زه یو ورځې په یو کوڅه تیریدم ، نو یوه بوډۍ ښځه د یو کور دروازې سره ولاړه وه ، ماته یې وویل : چې ته داسې نیک سړې معلومیږې ، په دې کور کې دننه یو مریض دی ، سخت تکلیف دی ورته ، نو که ته راسره لاړ شې ، او په هغه څه دَم واچوې نو ډیره به ښه وي ، الله ﷻ به درله اَجر درکړي .

ما وړباندې اعتماد وکړو چې ګني ریښتیا وایي . کله چې کورته ورننوتم ، نو دې بوډۍ دروازه تاله (قلف) کړه ، او ددې کور خپله مالکه ماته راغله ، چې ډیره ښکلې هم وه ، ما ته یې وویل : چې زه روزانه تا ګورم چې ته په دې لاره تیریږې ، نو زما د رسره ډیره مینه پیدا شوې ، اوس به زما حاجت پوره کوی .

دې وایي : چې ما ورته ډیر عذرونه پیش کړه چې دا یو ناجائز کار دی ، زه دا نشم کولې ، خو دې راته وویل : چې دوه خبرې دي : یا خو به زما حاجت پوره کوې ، یا به تهمت درباندې اولږوم او سنګسار به دې کرم .

دا بزرګ وایي چې زه هم حیران شوم . آخر مې زړه ته یو تدبیر راغې ، دې ته مې ... ویل : چې ماته د قضائ حاجت (اودس ماتي) ضرورت دی ، بیت الخلا راته اوښایه . چې واپس راشم نو بیا به ګورو .

---

(۱) الرحمن آیت ۴۶ .

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه هم خوشحاله شوه چې څه . څه ناڅه خو راضي شو ، نو بيت الخلا يې راته او خوده ، هلته چې لاړم ، نو په بيت الخلاکې چې څه اودس ماتې وو ، هغه مې په خپلو جامو او بدن پورې او مږل .

کله چې د بيت الخلا نه را اووتم ، نو د مانه سخته بدبوئي تلله ، دې ښځې چې زه په دې حالت کې اوليدم ، نو نفرت يې رانه پيدا شو ، او بودۍ ته يې حکم وکړو : چې زر يې اوباسه ، دا دې څه پاګل رانه نويستی .

نو زه يې د دروازې نه را اوويستم ، او د زنا نه بچ شوم . اوس ما سره دا غم پيدا شو چې خلقو ته به زما د بدن او جامې نه بدبويي ورځي ، نو زر لاړم ، او په يو غسل خانه کې مې کپړې او بدن اووينځل .

کله چې د غسل خانې نه بهر را اووتم ، لمدې جامې مې اغوستې وې ، نو د همغه وخت نه مې د جسم او جامو نه د مشکو په شان خوشبوئي تلل شروع شو . (۱)

سبحان الله . الله رب العزت د انسان څومره قدرداني کوونکې دی ، چې دې کس د ګناه نه د بچ کيدو د پاره په خپل بدن ګندګي مګلې وه ، نو الله ﷻ يې د جسم نه د مشکو خوشبوئي تلل شروع کړه ، او په خواجه مشکي رحمه الله مشهور شو .

معلومه شوه چې په نيکۍ کولو سره د جسم نه خوشبوئي ځي او د ګناه کولو په وجه سره د جسم نه بدبوئي ځي .

قدرمنو ! انسان ته دا سوچ په کار دی چې زه د اګناهونه کوم ، نو دا خو د هغه ذات نافرماني کوم چا چې زه پيدا کړې يم ، هغه رزق راکوي ، د هغه په ملک کې اوسيږم ، د هغه رابانده قدرت شته ، او هغه عذاب راکولې شي . نو بيا ولې د داسې عظيم ذات نافرماني اوکړم ؟

## د الله ﷻ د نافرمانۍ نه د يو ځوان توبه :

علامه فريد الدين عطار رحمه الله په تذکرة الاولياء کې ذکر کړي دي : چې يو ځوان ابراهيم بن ادهم رحمه الله ته راغې ، او ورته وې ويل چې جناب ! په ګناهونو کې مبتلاء يم ، پريښودې يې نه شم ، خو بل طرفته د الله ﷻ د عذاب نه هم ويريږم .

نو ته داسې څه طريقه راته اوښايه چې زه ګناهونه هم کوم ، او د الله ﷻ د عذاب نه هم بچ يم .

(۱) اهل دل کے تڑپا دینے والے واقعات ج۲ ص ۱۴۶ ، خطبات فقیر ج ۱۰ ص ۱۷۵ .

(c) ketabton.com: The Digital Library



ابراهيم بن ادهم رحمه الله چې دا خبره واوريده، نو په ځای ددې چې دې دا کس اورټنۍ، او وي شړي، چې دا څنګه خبره کوي؟ (چې هم ګناه کوې او هم د الله ﷻ د عذاب نه بچ شې. دا خو کيدې نشي).

نو ده ورته ډير په نرمۍ او محبت سره وويل: چې صحيح ده، طريقه درته ښايم، خو ته يو څو کارونه وکړه، د هغې نه روستو بيا ګناه کوه، نو د عذاب نه به بچ ئي.

هغه ځوان خوشحاله شو او رامتوجه شو، چې جناب! هغه طريقه راته اوښايه.

نو ده ورته وويل: چې يو شپږ خبرې عملي کړه، بيا خير دی ګناه کوه:

۱. چې کله ګناه کوې نو داسې ځای کې يې کوه چې الله ﷻ دې نه ګوري.

هغه ځوان په سوچ کې شو او وې ويل: چې داسې ځای خو نشته چې هلته زه د الله ﷻ نه پټ شم او الله ﷻ ما اونه ګوري؟ دا خو د سره ممکن نده.

۲. چې کله ته ګناه کوې نو د الله ﷻ رزق مه خوره. او الله ﷻ ته. ووايه: چې اې الله! نه خو ستا رزق خورم، او نه ستا خبره منم.

هغه ځوان ورته وويل: چې جناب! دا خو هم ممکن نده، چې زه د الله ﷻ رزق پريږدم. ځکه بيا به ژوندې څنګه پاتې کيږم؟

۳. چې کله ته ګناه کوې نو بيا ددې زمکې او آسمان نه اووځه. ځکه دا خو د الله ﷻ په ملکيت کې دي، نو چې ته د الله ﷻ په ملک کې اوسيږې، او د هغه نافرماني کوې نو دا خو ښه خبره نده.

هغه ځوان وويل: چې جناب! دا خو هم ممکن نده چې زه دې ددې زمکې او آسمان د حدودو نه اووځم.

۴. چې کله درته ملک الموت فرښته د روح قبض کولو دپاره راشي، نو ته ورته ووايه: چې لږ انتظار وکړه، زه توبه اوباسم او نيک اعمال کوم، نو بيا به مې روح واخلې.

هغه ورته وويل: جناب! دا خو هم ممکن نده. ځکه الله ﷻ فرمائي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



﴿ إِذَا جَاءَ أَجَلُهُمْ فَلَا يَسْتَأْخِرُونَ سَاعَةً وَلَا يَسْتَقْدِمُونَ ﴾ . (۱)

هر کله چې د دوی نیټه ( مرګ ) راشي ، نو بیا خو نه یو ساعت روستو کیږي او نه مخکې کیږي .

۵. چې کله وفات شې ، او په قبر کې دې کیدي ، منکر و نکیر فرشتې درته راشي ، نو ته ورته او وایه : چې دا تاسو بغیر د اجازت نه څنګه راغلې یئ ؟ د چانه مو اجازت اخیستې وو ؟

هغه ځوان ورته وویل : چې جناب ! دا خو هم ممکن نه ده . ځکه هغه فرښتې څوک منع کولې شي ؟

٦ . چې کله د قیامت په ورځ د الله ﷻ دربار ته پیش شې او ستا اعمال او تللې شي ، ګناهونه دې ډیر وي ، او الله ﷻ فرښتو ته حکم وکړي : چې دا جهنم ته بوځئ ، او الټه یې جهنم ته او غورځوئ . نو هغه ځای کې ته خپلې خپې ټینګې کړه ، او ضد شروع کړه ، چې زه خو جهنم ته نه ځم ، ما هیڅوک هم جهنم ته نشي بو تللې .

هغه ځوان وویل : چې جناب ! دا خو هم نشي کیدې . ځکه د فرښتو د وړاندې زما څه حیثیت دی چې زه انکار وکړم .

نو ابراهیم بن ادهم رحمه الله ورته او فرمایل :

چې کله ته دا الله ﷻ نه پټیدې هم نه شی ، د هغه رزق هم خوری ، د هغه حکومت نه هم نه شی وتې ، د مرګ فرښته هم نشی منع کولې ، منکر او نکیر هم نه شی منع کولې ، د قیامت په ورځ انکار هم نشی کولې ، نو بیا ستا څه حیثیت دی چې ته د دومره لوي ذات نافرماني کوی ؟

هغه ځوان ورته وویل : چې جناب ! زما د ماغو ته خبره کوزه شوه ، د دینه پس به هیڅکله د الله ﷻ نافرماني او نکړم ، هم هلته یې توبه اوویسته ، او لاړ . (۲)

محترمو مسلمانانو وروڼو ! دا خو یقیني خبره ده چې د ګناه په وجه انسان د الله ﷻ د عذاب مستحق ګرځي . نو انسان ته دا سوچ په کار دی چې زه د الله ﷻ نافرماني کوم ، نو آیا زه دا الله ﷻ عذاب برداشت کولې شم او که نه ؟ آیا زه د جهنم اور برداشت کولې شم او که نه ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



## واقعه : د جهنم دويرې نه د يو غر ژړا :

فقيه ابو الليث ثمرقندي رحمه الله يو واقعه رانقل کړې :

چې يو ځل حضرت عيسى عليه السلام په يو کلي تيريده ، په دغه کلي کې يو غر ؤ ، او د هغې نه د ژړا او سُورو آوازونه راوتل . نو حضرت عيسى عليه السلام د دغه کلي د خلکو نه پوښتنه وکړه : چې په دې غَر کې دا چغې او ژړا د څه شي ده ؟ هغوي ورته وويل :

چې اى عيسى عليه السلام ! د کوم وخت نه چې مونږ په دې کلي کې اوسيږو ، د هغه وخت نه را په ديخوا مونږ دغه ژړا او چغې اَورو .

حضرت عيسى عليه السلام د الله جل جلاله نه سوال وکړو :

يَارَبِّ ! اِئْذَنْ لِهٰذَا الْجَبَلِ اَنْ يُكَلِّمَنِيْ .

اى ربه ! دې غَر ته اجازت وکړه چې د ماسره خبرې وکړي (چې زه ورنه پوښتنه وکړم) .

الله رب العزت ورته غَر ګويا کړو . غر ورته وايي :

اى عيسى عليه السلام ووايه ، د مانه څه پوښتنه کوى ؟

حضرت عيسى عليه السلام ورته اوفرمايل : چې ما ته دا ووايه چې ته ولې دومره ژاړى او چغې سورې وهى ؟ غر ورته وويل :

اَنَا الْجَبَلُ الَّذِيْ كَانَتْ تُنْحَتُ مِنِّيْ الْاَصْنَامُ الَّتِيْ يَعْبُدُوْنَهَا مِنْ دُوْنِ اللهِ فَاَخَافُ اَنْ يَلْقِيَنِيْ اللهُ تَعَالٰى فِيْ نَارِ جَهَنَّمَ . فَاِنِّيْ سَمِعْتُ اللهَ يَقُوْلُ :

﴿ فَاتَّقُوا النَّارَ الَّتِيْ وَقُوْدُهَا النَّاسُ وَالْحِجَارَةُ ﴾ . (۱)

اى عيسى ! زه خو هغه غَر يم ، چې د ما نه خلق بُتان جوړوي ، او بيا د هغې عبادت کوي ، زه ويريږم د دينه چې هسې نه ما الله جل جلاله په اُور کې اوغورځوي . ځکه ما د الله جل جلاله دا ارشاد اوريدلې دى ، چې الله جل جلاله فرمائي :

تاسو د هغه اُور نه اويريږئ چې د هغې خشاک خلق ( کافران او ګناهګاران ) ، او کاڼي دي (يعنى د کاڼو نه جوړ شوي بُتان دي) .

---

(۱) البقرة آيت ۲۴ .

(c) ketabton.com: The Digital Library



غَر وويل : چې د ما نه خو هم بتان جوړ شوي دي نو هسې نه چې ما جهنم ته اوغورځوي .

الله ﷻ حضرت عيسى عليه السلام ته وحي وکړه : چې ته دې غرته تسلي ورکړه ، ما ده ته د جهنم نه پناه ورکړه . (۱)

قدرمنو ! غَر چې څومره سخت شی دی ، خو بيا هم د جهنم د اُور نه ويرېږي ، نو انسان ته خو په کار دي چې په طريقِ اولی سره د الله ﷻ نه اوويرېږي .

# د بعضو شبهو جوابونه :

په آخر کې زه د عوامو بعضې شُبهې او د هغې جوابونه بيانوم . ځکه بعضې خلقو ته چې څوک نصيحت کوي :

چې د ګناهونو نه ځان اوساتئ ، او نيک اعمال کوئ .

نو هغوی څه شُبهې پيش کوي ، چې د دې په وجه په خپله هم په ګمراهۍ او دهوکه کې پراته دي ، او نور خلق هم ګمراه کوي .

اوس دا شُبهې په دوه قسمه دي :

۱. اول قسم هغه شُبهې ، چې د هغې په کولو سره انسان کافر کيږي . لکه :

دنيا نقده ده ، او آخرت قرض دی . او نقد د قرض نه بنه وي .

يا : د دُنيا لذت يقيني دی ، او د آخرت لذت شکي دی . او يقيني شی د شکي په نسبت بنه وي .

دا دواړه شُبهې داسې دي چې په دې سره د انسان د اسلام نه د وتلو خطره ده . ځکه د ده د آخرت متعلق عقيده کمزوری شوه ، او شک يې پکې پيدا شو ، چې د مسلمان د شان سره نه بنائي .

(بل دا چې آخرت هم يقيني دی چې په ډيرو دلائلو سره ثابت دی) .

(نوټ : چونکه دا قسم شُبهې کمې وي ، نو ځکه يې ډير تفصيل نه بيانوم) .

۲. دويم قسم هغه شُبهې دي چې د هغې سبب غفلت او جهالت دی .

نو زه به درته د داسې قسم شُبهو جوابونه ذکر کړم .

(۱) تنبيه الغافلين ص

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۱. الله ﷻ غفور رحیم دی ، توبه به اوباسم :

**اوله شُبهه** دا کیږي : چې ځان څه له ستړې کوم ، هیڅ پروا نشته ، الله ﷻ غفور رحیم دی ، توبه به اوباسم ، ټول ګناهونه به راته معاف کړي . ( دا خبره ډیر زیات خلق کوي ) .

**جواب** دادی : چې دا خبره صحیح ده چې الله ﷻ غفور رحیم دی . خو ورسره الله ﷻ خو قهّار ، منتقم ( غضبناک او بدله اخیستونکې ) هم دی . تا ته څه پته ده چې خامخا به تا ته بخښنه کوي ؟

کیدې شي جزاء درکړي ، یا تاته د توبې توفیق د سره حاصل نه شي . یا داچې بعضی ګناهونه خو تَش په توبه نه معاف کیږي ( لکه حقوق العباد ) بلکه دې کې به د حق خاوند ته خپل حق سپارل هم لازمي وي .

او که کوم کس په دې نیت ګناه کوي چې زه بیا به توبه اوباسم ، نو داسې کس ته ویل په کار دي چې ته خپل لاس لږ په اُور کې وردننه کړه ، که اُوسوزیده ، نو خیر دی څه پرواه نشته . ځکه مَلهم به پری اولږوې ، واپس به ښه شي .

دا خو هیڅوک هم نه خوښوي . نو بیا ځنګه دا خوښوي : چې خیر دی ګناه به اوکړم ، بیا به توبه اوباسم ؟

## ۲. اوس لا ځوان یم ، چې بوډا شم بیا به توبه اوباسم :

**دویمه شبه** دا کیږي : چې زه تر اوسه پورې ځوان یم ، اوس خیر دی که ګناهونه کوم ، کله چې بوډا شم ، نو توبه به اوباسم ، د جُمات په یو ګُنج ( ګُټ ) کې به کینم ، او بیا به نیک اعمال شروع کړم .

**جواب** : چاته دا یقین شته چې زه به لس یا شل کاله نور هم ژوندې پاتی کیږم ؟ کیدې شي زَر مړ شې ، یا د توبې توفیق درته د سره جاصل نشي . ځکه د ډیرو ګناهونو په وجه د انسان زړه توریږي ، او اکثر بې توبې مړ شي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



نبي كريم صلى الله عليه وسلم فرمائي :

إِنَّ الْمُؤْمِنَ إِذَا أَذْنَبَ ذَنْبًا كَانَتْ نُكْتَةٌ سَوْدَآءُ فِيْ قَلْبِهِ فَإِنْ تَابَ وَنَزَعَ وَاسْتَغْفَرَ صُقِلَ مِنْهَا وَإِنْ زَادَ زَادَتْ حَتّى يُغَلِّفَ بِهَا قَلْبُهُ . فَذٰلِكَ الرَّانُ الَّذِيْ ذَكَرَ اللهُ فِيْ كِتَابِهِ :

﴿كَلَّا بَلْ رَانَ عَلَى قُلُوْبِهِمْ مَّا كَانُوْا يَكْسِبُوْنَ (۱)﴾ . (۲)

مؤمن چې كله يو ګناه وكړي ، نو ددې په وجه دده په زړه يو تور داغ اولږي . نو كه دې توبه اوباسي ، ګناه پرېږدي او استغفار ووايي نو زړه يې صفا شي .

او كه دې (توبه اونه باسي او) نور ګناهونه هم كوي ، نو هغه تور داغ زياتيږي ، تردې چې دده ټول زړه راګير كړي . او دا هم هغه زنګ دى چې ددينه نه الله ﷻ تعبير كړې په :

﴿كَلَّا بَلْ رَانَ عَلَى قُلُوْبِهِمْ....﴾

ترجمه : داسې نده ، بلكه د دوى بدو اعمالو ددوى په زړونو زنګ لږولې .

## ۳ . دا ګناه زما په تقدير كې ليكلې وه :

**دريمه شبهه**: اكثر خلق چې يو ګناه وكړي ،او ته يې پرى ملامته كوى نو دې به درته زَر ووايي: زه څه اوكړم ، دا به راسره همداسې په تقدير كې ليكلې وه ، نو ځكه مې وكړه .

**جواب** : هيڅوک هم اول په دې نيت دا ګناه نه كوي چې ګني دا د ماسره په تقدير كې ليكلې ده ، دا خو بيا روستو هسې بَانې جوړوي . .

بل دا چې كه ديو سړي په تقدير باندې دومره پخه عقيده برابره وي ، نو بيا په دُنياوي معاملاتو كې هم په تقدير عقيده ساتل په كار دي ، نو كه يو كس درته مالي يا جاني تاوان اورسوي نو بيا ولې غصه كيږې ؟ او د هغه نه ولې خپل بدل اخلې ؟ دلته دې بيا ولې په تقدير عقيده نشته ؟ دانقصان به هم تاسره په تقدير كې ليكل شوې وو . دلته خو د تقدير نه منكريې . عجيبه ده . صرف د ګناه په ځاى كې درته تقدير رایاد شي ؟

---

(۱) المطففين آيت ۱۴ .

(۲) اخرجه الترمذي في التفسير . تفسير سورة ۸۳ باب ۱ ، والنسائي وابن ماجه ، وابن حبان في صحيحه ، والحاكم ، الترغيب والترهيب ج۴ ص ۴۷ كتاب التوبة والزهد .

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ٤. که په قسمت کښې مې جنت وي نو جنت ته به لاړشم ، او که جهنم وي نو جهنم ته به ځم :

بعضې خلق دا شُبهه کوي : چې په ځان څه له سختي تيروم ، اعمالو ته هيڅ ضرورت نشته ، خير دی که ګناهونه کوم . ځکه که په قسمت کې مې جنت وي نو جنت ته به لاړ شم ، او که په قسمت کې مې جهنم وي نو جهنم ته به لاړ شم .

**جواب** : داسې خلقو ته ويل په کار دي ، چې که يقيني ستا دومره پخه عقيده وي ، نو بيا په دُنياوي معاملاتو کې ولې دومره تکليفونه برداشت کوی ؟

نوکري کوې ، مزدوري کوې ، زمينداري کوې ، فصل اوکرې ، بيا يې اُوريبې ، بيا يې ميده کړې ، بيا يې پخه کړې ، بيا يې خُوله کې واچوې ، بيا وربانديې شُخَوند اووهې .

دې تکليفونو ته هم هيڅ ضرورت نشته . که په قسمت کې دې خوراک وي نو پخپله به درله راشي ، او ستا خيټې ته به لاړ شي . دلته خو دې دا عقيده ده چې ظاهري اسباب هم ضروري دي .

نو دغه شان د جنت ګټلو او جهنم نه د بچ کيدلو د پاره هم اعمالِ صالحه ضروري دي ، او د ګناهونو نه بچ کيدل ضروري دي .

## ٥ . الله ﷻ مستغني دی ، هغه ته زمونږ د اعمالو هيڅ ضرورت نشته :

**پنځمه شُبهه** عوام دا کوي چې الله ﷻ مستغني ذات دی ، هغه ته زمونږ داعمالو هيڅ ضرورت نشته ( که مونږ نيک اعمال کوو نو د هغه په خدائي کې څه زياتې نه راځي ، او که ګناهونه کوو نو دهغه په خدائي کې څه کمې نه راځي ) نو بيا ولې ځان سترې کوو ؟

**جواب** : دا خبره صحيح ده چې الله ﷻ مستغني ذات دی ، زمونږ اعمالو ته هيڅ ضرورت نه لري . خو ددې نيکو اعمالو فائده خو د انسان د پاره ده ، دې خو مستغني نه دی (يعنی دا نيک

(c) ketabton.com: The Digital Library



اعمال چې مقرر شوي، نو دا خو د انسان د فائدې د پاره مقرر شوي، چې ددې په عوض کې به ورته الله ﷻ جنت ورکوي).

ددې خو بعينه داسې مثال دی: لکه يو مهربانه حکيم يا ډاکټر په يو مريض رحم وکړي، دوائي ورته اوښائي، چې دا خوره، په دې کې ستا فائده ده، صحت به دې روغ شي. او د فلاني فلاني شي نه پرهيز کوه. ځکه دا ستا د صحت د پاره نقصاني دی.

او بس دا مريض ووايي: چې زه خو دوائي نه خورم، پرهيز نه کوم. ځکه زما په دوائي خوړلو کې د ډاکټر څه فائده ده؟

نو دا خو د ددې مريض بې وقوفتيا ده چې دا خبره کوي. ځکه که د ډاکټر فائده پکې نشته، نو ددې مريض فائده خو پکې شته.

دغه شان الله رب العزت په بندګانو باندې مهربانه دی، نيک اعمال يې ورته خودلي، چې دا کوئ. په دې کې ستاسو فائده ده، ددې په عوض کې به جنت درکوم، خپله رضا به درکوم.

او فلاني فلاني ګناهونو نه ځان ساتئ، ګني جهنم به مو ځای وي.

او س چې انسان نيک اعمال نه کوي او ګناهونه کوي نو دا خو دده خپل نقصان دی.

## ٦. مونږ د فلاني بزرګ اولاد يو، يا دهغه مريدان يو:

**شپږمه شُبهه** عوامو ته دا کيږي: چې مونږ خو د فلاني بزرګ اولاد يو، يا د هغه مريدان يو، د هغه سره مو محبت دی. نو که مونږ نيک اعمال نه کوو نو خير دی.

دغه شان که مونږ ګناهونه کوو نو هم هيڅ پرواه نشته. بلکه زمونږ ذمه وار هم هغه دی.

**جواب**: که څيرته نيک اعمال کول، او د ګناهونو نه ځان ساتل ضروري نه وی، او تش نسبتونه کافي وی، نو بيا به هيڅ کله رسول الله ﷺ خپلې لور حضرت فاطمې رضی الله عنها ته نه فرمايل:

ای فاطمې ته خپل ځان د جهنم نه بچ کړه، ځکه زه د الله ﷻ څخه هيڅ کفايت (کافي کيدل) ستا د پاره نه شم کولی.[1]

(۱) جزاء الاعمال للتهانوي رحمه الله.

(c) ketabton.com: The Digital Library



نوكله چې دانسان سره د ايمان او نيكو اعمالو سرمايه نوي نوبيا تَش په نسبتونو نه خلاصيږي.

(اوګوره د حضرت نوح عليه السلام ځوي ، د حضرت لوط عليه السلام بي بي ، دحضرت ابراهيم عليه السلام پلار ، او د نبي كريم صلى الله عليه وسلم تره ابوطالب .

د دوی نسبتونه اګر چې د پيغمبرانو سره وو خو چې خپل ايمان او عمل صالح ورسره نه وو ، نو نسبتونه يې په كار رانغلل ) .

البته كه د يوانسان سره ايمان او عمل صالح وي ، دګناهونو نه ځان ساتي ، او دده نسب هم شريف وي ، د ښو خلقو سره يې نسبت هم وي ، نو بيا دده د پاره دا په كار راځي .

## ۷ . موږ نورو ته نصيحت كوو، يا موږ ته ګناه ختمونكي اعمال معلوم دي :

**اوومه شُبهه** داده كومه چې بعضې خُشكه علماؤ ته كيږي : چې زموږ نيكو اعمالو ته هيڅ ضرورت نشته . ځكه موږ دومره ډيرو خلقو ته وعظ ونصيحت كړې چې د هغوی د عملونو كوم ثواب موږ ته رسيږي ، دا هم زموږ د پاره كافي دی ، په دې سره به زموږ ټول ګناهونه معاف شوي وي .

**يا دا شُبهه** : چې موږ كه څومره ګناهونه كوو نو څه پرواه نشته . ځكه موږ ته داسې اعمال معلوم دي چې د هغې په كولو سره د كلونو ګناهونه معاف كيږي :

لكه د عرفې په ورځ روژې سره د دوه ( ۲ ) كالو ګناهونو معاف كيږي ، د عاشورې روژې سره د يو كال ګناهونه معاف كيږي ، يا نور اذكار شو .

**جواب** : كوم عالم چې نورو ته نصيحت كوي ، او خپله پرې عمل نه كوي نو دده دپاره خو په احاديثو كې ډيرې سختې سزاګانې ذكر شوي .

يو حديث كې راځي نبي عليه السلام فرمائي : چې د معراج په شپه زما تيريدل په داسې يو دله اوشو تُقْرَضُ شِفَاهُهُمْ بِمَقَارِيْضَ مِنْ نَارٍ . چې د هغوی شونډې د اُور په قينچې پريكولې شوې . ما د حضرت جبريل عليه السلام نه تپوس وكړو : مَنْ هٰؤُلَاءِ ؟ دا څوک دي ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



نو حضرت جبريل عليه السلام راته او فرمايل :

خُطَبَاءُ أُمَّتِكَ الَّذِيْنَ يَقُوْلُوْنَ مَا لَا يَفْعَلُوْنَ .

دا ستا د امت هغه خطيبان دي چې نورو ته به يې نصيحت کولو خو په خپله به يې هغه کارونه کولو ( يعنې عمل به يې پرې نه کولو ) . (۱)

ددې بلې شُبهې **جواب** دادی : چې دا خبره صحيح ده چې بعضې اعمال داسې شته چې انسان د کلونو ګناهونو ورباندې معاف کيږي ، خو ددې د پاره دا ضروري ده چې :

إِذَا اجْتَنَبَ الْكَبَائِرِ . دا اعمال به هلته فائده ورکوي چې سړې د غټو ګناهونو نه هم ځان ساتي

بل دا چې که صرف دا يو څو اعمال کافي وی، نو ددې نورو احکامو اوَامِرو او نواهيو بيا څه ضرورت وو ؟ بَس په کال کې به مو صرف يوه يا دوه روژې نيوې ، دا به کافي وی ؟ حالانکه داسې نده ، بلکه په نورو اوَامِرو عمل کول ، او د نواهي ؤ نه ځان ساتل هم ضروري دی .

## ۸. د ډيرو چلو او مجاهدو په وجه اوس مونږ ته د اعمالو هيڅ ضرورت نشته :

**اتمه شبهه** داده : کومه چې بې علمه او جاهل پيرانو ته کيږي چې مونږ دومره چلې ايستلي، او دومره مجاهَدې مو کړي چې اوس مونږ رسيدلي يو ، مونږ ته د لمونځ ، روژو او نيکو اعمالو هيڅ ضرورت نشته ، اوس زمونږ خوښه ده چې هر څه کوو .

کله وايي : چې مقصود د الله جل جلاله ذکر دی ، هغه مونږ کوو ، او دې ظاهري مونځونو او نيکو اعمالو ته زمونږ هيڅ ضرورت نشته .

ددينه نه علاوه نوری داسې کفري خبرې کوي چې سړی پرې د ايمان نه خلاصيږي .

**جواب** : دوی ته دا ويل په کار دي ، چې د پيغمبرانو عليهم السلام نه خو څوک زيات الله جل جلاله ته نژدې نه وو الله تعالی پيغمبرانو ته فرمايلي :

---

(۱) اخرجه البخاري في بدء الخلق باب ۱۰ ، ومسلم في الزهد حديث ۵۱ .

﴿يَا أَيُّهَا الرُّسُلُ كُلُوا مِنَ الطَّيِّبَاتِ وَاعْمَلُوا صَالِحًا﴾ . (۱)

ترجمه : اې رسولانو ! تاسو ټول پاکيزه څيزونه خورئ ، او نيک عمل کوئ .

الله تعالى خپل نزدې بندګان پيغمبران هم د نيکو اعمالو د کولو څخه نه دي مستثنى کړي .

دغه شان د صحابه کرامو نه هم څوک زيات بزرګان او اولياء الله نه وو .

ليکن د دې باوجود هغوی د اذکارو سره سره نور اعمال د شريعت هم په پابندۍ سره کول .

اګر چې دوی ته په دنيا کې د جنت خوشخبري رسيدلې وه ، ليکن بيا به ئې هم مونځ ، روژه ، زکوة ، حج ، جهاد او نور اعمال په پوره پابندۍ سره کول ، هر وخت به يې په زړه کې د الله ﷻ خوف وو ، په ژبه به يې استغفار او توبه ويسته (۲)

نو د صحابه ؤ نه روستو خو بيا داسې ګجَابُودي نشته چې هغه ووايي چې ماته د نيکو اعمالو او عباداتو هيڅ ضرورت نشته ، او زه رسيدلې يم .

او که بالفرض پيدا شي نو دا به غټ ګمراه ، مُلحد او لعنتي وي ، چې په خپله به هم ګمراه وي او نور خلق به هم ګمراه کوي .

**خلاصه** دا چې په ګناهونو کولو کې د انسان د دنيا او آخرت نقصانات دي ، انسان د الله ﷻ د غضب او لعنت مستحق ګرځي . د فرشتو د لعنت مستحق ګرځي . او نور بې شماره نقصانات دي پکې .

نو انسان ته په کار دي چې د هر قسمه ګناه نه ځان اوساتي ، که هغه وړه ګناه وي او که لويه .

او که د دې نه کوم ګناهونه شوي وي نو په کار د ه چې د هغې نه په صدق دِل سره توبه اوباسي نو الله ﷻ به يې ګناهونه معاف کړي ، او که حقوق العباد يې ضائع کړي وي نو د توبې سره سره دې هغه ته خپل حق هم اوسپاري ، يا دې ورنه معافي اوغواړي ، نو الله ﷻ به دده مخکې ټول ګناهونه معاف کړي . څکه حديث کې راځي ، نبي عليه السلام فرمائي :

(( اَلتَّائِبُ مِنَ الذَّنْبِ كَمَنْ لَا ذَنْبَ لَهُ )). (۳)

---

(۱) سورة المؤمنون آيت ۵۱ .

(۲) جزاء الاعمال للتهانوي رحمه الله .

(۳) رواه ابن ماجه كتاب الزهد باب ۳۰ والطبراني ورواه ابن ابي الدنيا والبيهقي مرفوعًا ، الترغيب والترهيب ج۴ ص ۴۸ كتاب التوبة والزهد ، مشكوة ج۱ ص۲۲۳ باب الاستغفار والتوبة ، كنز العمال .

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ګناه نه توبه کوونکې داسې دی لکه دسره یې چې ګناه نه وي کړي .

الله رب العزت دې مونږ ټول د هر قسم ګناهونو نه محفوظ کړي ، الله ﷻ دې مونږ ته تور د ګناه کولو توفیق نه راکوي ، او که کوم ګناهونه چې رانه شوي نو اې الله ﷻ ته ډیر غفوررحیم ذات یې ، ته په خپل فضل وکرم سره زمونږ په ګناهونو قلم د عفوې راکاږه ، او مونږ ته آئنده د نیکو اعمالو توفیق رانصیب کړه ، د داسې اعمالو توفیق راکړه په کومو چې ته راضي کیږې .

آمِيْن يَا رَبَّ الْعَالَمِيْن .

وَآخِرُ دَعْوَانَا أَنِ الْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ

(c) ketabton.com: The Digital Library



# په ګناهګارانو باندې د عذاب د نزول نور معتمد او زړه پورې واقعات:

دا يقيني خبره ده چې د ګناه په وجه انسان د الله ﷻ د غضب او لعنت مستحق ګرځي. او کله چې انسان د حد نه تجاوز او سرکشي وکړي، نو الله ﷻ ورته بيا سخته سزا هم ورکوي:

لکه مخکيني قومونو چې کله هم د الله ﷻ نافرماني کړې او د خپل وخت د پيغمبر خبره يې نه وه منلې نو الله ﷻ په مختلف قسمه عذابونو باندې هلاک کړي. الله تعالى فرمائي:

﴿ وَلَقَدْ كَذَّبَ الَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ فَكَيْفَ كَانَ نَكِيرِ ﴾ .(۱)

ترجمه: بيشکه دروغ ګڼلي وو هغه خلقو چې د دوی نه وړاندې وو، پس څنګه شو زما عذاب (په دوی باندې)؟

الله ﷻ د فرعون او دده د قوم باره کې فرمائي:

﴿ كَمْ تَرَكُوا مِن جَنَّاتٍ وَعُيُونٍ ، وَزُرُوعٍ وَمَقَامٍ كَرِيمٍ ، وَنَعْمَةٍ كَانُوا فِيهَا فَاكِهِينَ ﴾ .(۲)

ترجمه: دوی څومره باغونه او چينې پريښودې؟ څومره فصلونه او ښائسته محلونه يې پريښوده؟ او څومره نعمتونه يې پريښوده په کومو کې به چې دوی مزې اخيستونکي وو. (يعنې دې خلقو چې دا الله ﷻ نافرماني وکړه نو الله ﷻ غرق کړه او دا هر څه ورنه پاتې شو).

نو انسان ته په کار دي چې د ددې واقعاتو نه عبرت واخلي او د الله ﷻ د عذاب نه په أمن نه شي. ځکه الله ﷻ په دې قادر دی چې د نافرمانۍ په وجه په مونږ هم عذاب راولي.

الله تعالى فرمائي:

﴿ أَأَمِنتُم مَّن فِي السَّمَاءِ أَن يَخْسِفَ بِكُمُ الْأَرْضَ فَإِذَا هِيَ تَمُورُ ، أَمْ أَمِنتُم مَّن فِي السَّمَاءِ أَن يُرْسِلَ عَلَيْكُمْ حَاصِبًا فَسَتَعْلَمُونَ كَيْفَ نَذِيرِ ﴾ .(۳)

---

(۱) الملک آيت ۱۸.

(۲) الدخان آيت ۲۵ تا ۲۷.

(۳) الملک آيت ۱۶، ۱۷.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ترجمه : آيا تاسو بې ويرې يئ ؟ د هغه الله ﷻ نه کوم چې په اسمان کې دی چې هغه تاسو په زمکه ننباسي . بيا به ناګهانه دا زمکه په لړزيدو شي . آيا تاسو بې ويرې ئي ، د هغه ذات نه کوم چې په اسمان کې دی ، چې دا را اُووروي په تاسو د کانړو باران ؟ پس تاسو ته به زَر معلوم شي چې زما ويرول څنګه دي ؟

دغه وجه ده چې د قرآن څه حصه د مخکيني امتونو په واقعاتو مشتمله ده ، چې په کې د انسانانو د پاره ډېر عبرت او نصيحت پروت دی.

الله ﷻ فرمائي :

﴿ أَفَلَمْ يَسِيرُوا فِي الْأَرْضِ فَيَنظُرُوا كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ الَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ ﴾ . (۱)

ترجمه : آيا هغوی په زمکه کې ندي ګرځيدلي چې کتلې يې وی چې د هغوی نه د مخکې خلقو انجام څنګه شو ؟

بل ځای الله ﷻ فرمائي :

﴿ كَذَٰلِكَ نَقُصُّ عَلَيْكَ مِنْ أَنبَاءِ مَا قَدْ سَبَقَ ﴾ . (۲)

ترجمه : ( اې پيغمبره ! ) همدغه شان مونږ بيانوو تاته د تيرو شوو امتونو ( خاص ) واقعات .

بل ځای الله تعالی فرمائي :

﴿ لَقَدْ كَانَ فِي قَصَصِهِمْ عِبْرَةٌ لِّأُولِي الْأَلْبَابِ ﴾ . (۳)

ترجمه : يقينا د هغوی په واقعاتو کې د خاوندانو دعقل د پاره لوی عبرت دی .

---

(۱) يوسف آيت ۱۰۹ .

(۲) طه آيت ۹۹ .

(۳) يوسف آيت ۱۱۱ .

# په مخکينيو امتونو د عذاب بيان:

که چيرته مونږ په قرآن کريم نظر واچوو نو ځای په ځای به راته پکښې د هلاک شوو قومونو تذکره او واقعات په نظر راشي.

دې واقعاتو باندې علماو مستقل کتابونه ليکلي. لکه د مولانا حفظ الرحمن سيوهاروي رحمه الله کتاب (قصص القرآن) چې په پوره تفصيل سره په کې دا واقعات ذکر دي.

زه به درته مختصرېو څو نمونې پيش کړم.

## د حضرت نوح عليه السلام د قوم انجام:

د حضرت نوح عليه السلام واقعه په قرآن کريم کې درې څلوېښت (۴۳) ځايه ذکر شوې ده[1] ده خپل قوم ته ډېر تبليغ وکړو، ليکن دې بدبخته قوم دده خبره اونه منله، نو الله ﷻ وربانديې يو لوي طوفان راوست چې بغير د يو څو کسانو نه (کوم چې د حضرت نوح عليه السلام سره په کشتۍ کې وو) نور ټول قوم په اوبو کې غرق شو، تر دې چې د حضرت نوح عليه السلام خپل ځوی کنعان او خپله بي بي واهله (کومو چې دده خبره نه منله) دوی هم په دې طوفان کې هلاک شو.

الله ﷻ فرمائي:

﴿ فَفَتَحْنَا أَبْوَابَ السَّمَاءِ بِمَاءٍ مُّنْهَمِرٍ ، وَفَجَّرْنَا الْأَرْضَ عُيُونًا فَالْتَقَى الْمَاءُ عَلَى أَمْرٍ قَدْ قُدِرَ ﴾. (۲)

ترجمه: پس مونږ پرانيستلې دروازې د آسمان په داسې اوبو سره چې ډېرې راتويدونکې وې، او د زمکې نه مو چينې روانې کړې، بيا ټولې اوبه په هغه کار پسې راجمع شوې کوم چې مقدر (تجويز) شوې وو. (يعنی ټول مو په اوبو کې هلاک کړل).

ورپسې روستو الله ﷻ فرمائي:

﴿ وَلَقَدْ تَّرَكْنَاهَا آيَةً فَهَلْ مِنْ مُّدَّكِرٍ ، فَكَيْفَ كَانَ عَذَابِي وَنُذُرِ ﴾. (۳)

---

(۱) خو ډېر تفصيل يې په سورة اعراف، هود، مومنون، شعراء او سورة نوح کې ذکر شوې.

(۲) القمر آيت ۱۱، ۱۲.

(۳) القمر آيت ۱۵، ۱۶.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ترجمه : او بیشکه مونږ پریښنودي دا واقعه یوه نخښه د عبرت د پاره ، پس آیا څوک نصیحت اخیستونکي شته؟ (چې د دې واقعې نه عبرت واخلي ؟) پس څنګه وو زما عذاب او زما ویرول؟

## د حضرت صالح ﷺ د قوم ( ثمودیانو ) انجام :

د حضرت صالح ﷺ د قوم (ثمودیانو ) ذکر په قرآن کریم کې په نهه سورتونو کې شوی .[1] ده هم خپل قوم ( ثمودیانو ) ته ډیر نصیحت وکړو خو دوی هم دده خبره اونه منله . آخر قوم ورنه مطالبه وکړه چې که ته یقیني پیغمبر یې نو د دې غَر نه دلسو ( ۱۰ ) میاشتو بلاربه اُوښه رااُوباسه . حضرت صالح علیه السلام دُعا وکړه ، په غره کې حرکت راپیدا شو ، یو غټ کاڼی اوشلیده ، او د هغې نه د لسو (۱۰) میاشتو بلاربه اوښه را اوتله .

لیکن دې بدبخته قوم بیاهم خبره اونه منله . بیا ورته حضرت صالح علیه السلام وویل : چې دې اُوښې ته نقصان مه رسوئ .

آخر په دې قوم کې یو بدبخته کس دا اُوښه قتل کړه . کله چې حضرت صالح ﷺ خبر شو نو قوم ته یې اوفرمایل :

﴿ تَمَتَّعُوا فِي دَارِكُمْ ثَلَاثَةَ أَيَّامٍ ذَٰلِكَ وَعْدٌ غَيْرُ مَكْذُوبٍ ﴾ .[2]

تاسو په خپلو کورونو کې د ژوند نه درې ( ۳ ) ورځې فائده واخلئ ( درې ورځې روستو به دربانديې د الله ﷻ عذاب راځي ،خو یاد ساتئ ) دا داسې وعده ده چې بالکل دروغ پکې نشته .

دې بدبخته قوم په ځای د دې چې توبه یې ایستې وی اَلټه یې د حضرت صالح علیه السلام د قتل کولو کوشش کولو .

حضرت صالح ﷺ ورته د عذاب علامه هم خودلی وه : چې صبا د زیارت ( جمعرات ) په ورځ به ستاسو د ټولو مخونه تَک زیړ شي ، د جُمعې په ورځ به د ټولو مخونه سره شي ، او د خالي ( هفتې ) په ورځ به د ټولو مخونه تک تور شي او همدا ورځ به ستاسو د ژوند آخیري ورځ وي .[3]

---

(۱) په سورة اعراف ، هود ، حجر ، نمل ، فصلت ، النجم ، القمر الحاقة ، او الشمس کې .

(۲) هود آیت ٦٥ .

(۳) معارف القرآن .

(c) ketabton.com: The Digital Library



او همدا شان بيا اوشو چې د زيارت په ورځ د ټولو مخونه تک زير شو ، خو بيا هم دوی الله ﷻ ته متوجه نه شو او ألټه ټول قوم د حضرت صالح ﷺ د قتلولو په فکر کې وو ، په دويمه ورځ د ټولو مخونه سَره شو ، او په دريمه ورځ د ټولو مخونه تک تور شو ، دوی د خپل ژوند نه مايوسه شو او د عذاب په انتظار وو چې په دې حالت کې په زمکه باندې يوه تيزه زلزله راغله ، او ورسره يو ويروونکې تيز اواز اوشو (حضرت جبريل عليه السلام ورباندې د الله ﷻ په حکم يوه تيزه چغه اووهله) . چې د هغې په نتيجه کې ټول قوم ځای په ځای هلاک شو .

الله رب العزت فرمائي :

﴿ وَأَخَذَ الَّذِينَ ظَلَمُوا الصَّيْحَةُ فَأَصْبَحُوا فِي دِيَارِهِمْ جَاثِمِينَ . كَأَنْ لَمْ يَغْنَوْا فِيهَا ... ﴾ . (۱)

ترجمه : ظالمان يوې تيزې غيبي چغې اونيوه ، نو د سهَر په وخت په خپلو کورونو کې داسې پرمخې پريوتل ګويا چې دوی دغلته د سره اوسيدلي نه وو .

## د حضرت هود ﷺ دقوم ( عاديانو ) انجام :

په قرآن کريم کې د حضرت هود عليه السلام دقوم تذکره په نهه ( ۹ ) سورتونو کې شوې . (۲)

ده هم خپل قوم ته ډير نصيحتونه وکړه ، دده قوم بُت پرست او ظالمان وو . الله ﷻ دوی ته ډير قوت ورکړی وو ، خو دوی د خپل طاقت په نَشه کې ډير مست وو ، او د حضرت هود عليه السلام خبره يې اونه منله ، ايمان يې رانه وړو ، او د ظلم نه وانه اُوخت .

الله ﷻ په دوی دا عذاب راواست چې اووه ( ۷ ) شپې او اته ( ۸ ) ورځې پرې مسلسل داسې سخته تيزه هوا اوچليده چې انسانان او څاوري به په هوا کې اَلوتل او په زمکه به واپس راغورځيده ، او ورسره حضرت جبريل عليه السلام ورباندې تيزه چغه هم اووهله چې په نتيجه کې ( د حضرت هود ﷺ او دده د څو ملګرو نه علاوه نور ) ټول قوم تباه شو .

الله ﷻ فرمائي :

﴿ وَأَمَّا عَادٌ فَأُهْلِكُوا بِرِيحٍ صَرْصَرٍ عَاتِيَةٍ . سَخَّرَهَا عَلَيْهِمْ سَبْعَ لَيَالٍ وَثَمَانِيَةَ أَيَّامٍ حُسُومًا

---

(۱) هود آيت ٦٧ ، ٦٨ .

(۲) په سورة اعراف ، هود ، مومنون ، شعراء ، فصلت ، احقاف ، الزاريات ، القمر او الحاقه کې .

(c) ketabton.com: The Digital Library



﴿ فَتَرَى الْقَوْمَ فِيهَا صَرْعَىٰ كَأَنَّهُمْ أَعْجَازُ نَخْلٍ خَاوِيَةٍ ، فَهَلْ تَرَىٰ لَهُم مِّن بَاقِيَةٍ ﴾ . (۱)

ترجمه : او هر چې عاديان وو نو دوی په داسې تيز باد هلاک کړی شو چې دا باد ډير تُند وو . الله تعالی په دوی باندې دغه تيز باد اووه (۷) شپې او اته (۸) ورځې پرله پسې مقرر کړی وو پس تا به دغه قوم کتلو چې په دې باد کې په زمکه پړمخې داسې راپريوتلي وو ګويا چې د غورځيدلو قجورو ډډی تنې دي .

آيا ته په دوی کې څوک باقي پاتې ويني ؟ (يعنى داسې تباه شو چې يو کس هم په دې ظالمانو کې بچ پاتی نه شو ) .

## د حضرت لوط عليه السلام د قوم انجام :

د حضرت لوط عليه السلام واقعه هم په قرآن کريم کې په څو سورتونو کې ذکر ده . (۲)

دا د حضرت ابراهيم عليه السلام وراره وو ، دې د سَدُوم علاقې ته تللې وو ، او هلته يې خلقو ته د دين دعوت ورکولو ، خو دده قوم ډير سَرکشه ، متکبِره او بداخلاقه وو ، چې په کې ډيره خطرناکه بيماري هم وه : چې د هلکانو سره به يې لواطت کولو ، او دا به يې شرم نه ګڼړله ، بلکه په ښکاره او فخر سره به يې دا کار کولو .

حضرت لوط عليه السلام ډير نصيحت ورته وکړو خو دوی منع نه شو .

( دا واقعه په تفصيل په سورة حِجر پنځمه رکوع او سورة هود کې الله جل جلاله بيان کړی ) .

چې کله فرشتې حضرت لوط عليه السلام ته په انساني (د ځوانانو په ) شکل کې راغلې ، او دده ميلمنې شوې . حضرت لوط عليه السلام چې دا اُوليدې نو وې نه پيژندې چې ګني دا فرښتې دي ، نو ويره ورسره پيدا شوه چې هسې نه زما قوم ددې ميلمنو بې عزتي وکړي .

قوم يې چې خبر شو نو په منډه راغې او د حضرت لوط عليه السلام نه يې دا مطالبه کوله چې داهلکان مونږ ته حواله کړه . ده ورته ډير نصيحت وکړو چې دا زما ميلمانه دي ، تاسو ما مه رَسوا کوئ . تاسو ولې په داسې قبيح عمل کې مبتلاء يئ .

---

(۱) الحاقة آيت ٦ تا ٨ .

(۲) لکه په سورة حجر ، اعراف ، هود ، عنکبوت ، او الشعراء کې .

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغوی ورته وويل : چې تاته بنه پته ده چې مونږ دلته ددې شوقيان يو ، مونږ ته نصيحت مه کوه ، خو دا هلکان مونږ ته حواله کړه .

حضرت لوط ﷺ ډير خفه شو ، فرښتو ورته وويل :

چې ته ويرېږه مه ، مونږ فرښتې يو ، دا خلق تاته هيڅ نقصان نشي د رسولې ، خو ته دا سې وکړه چې کله د شپې څه حصه تيره شي نو د خپل کور خلقو سره ددې ځاى نه اووځه ، او شاته مه راګورئ . باقي ټول قوم به تباه کيږي چې ورسره به ستا بي بي هم وي ، دا به هم په عذاب کې هلاکيږي .

حضرت لوط ﷺ د شپې ورنه اووت ، دده بي بي دنيمائي لارنه واپس راغله ، او د قوم سره په سدُوم کې پاتې شوه .

چې کله سهر شو نو اول ورباندې يوه تيزه چغه اووهل شوه ، بيا حضرت جبريل ﷺ دا ټول قوم سره د آبادۍ پورته کړو ، او اُلټه يې را اُوغورځول ، او د پاسه نه پرې الله ﷻ د کاڼو باران هم رااُوورُول . چې په نتيجه کې ټول قوم تباه شو .

الله ﷻ فرمائي :

﴿ فَأَخَذَتْهُمُ الصَّيْحَةُ مُشْرِقِيْنَ . فَجَعَلْنَا عَالِيَهَا سَافِلَهَا وَأَمْطَرْنَا عَلَيْهِمْ حِجَارَةً مِّنْ سِجِّيْلٍ . إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَآيَاتٍ لِّلْمُتَوَسِّمِيْنَ ﴾ . (۱)

ترجمه : پس د نمر ختو په وخت دوی يو هيبت ناکې چغې اونيوه ، بيا مو ددې کلي پاسنۍ برخه لاندې کړه ( يعنی اُلټه مو راګوزار کړه ) ، او د بَره نه مو پرې ګټ کاڼي ( د پخې خاورې کاڼي ) اُووَرول ، بيشکه په دې واقعه کې نخې د عبرت دي فکر کوونکو دپاره .

---

(۱) الحجر آيت ۷۳ تا ۷۵ .

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د حضرت شعيب عليه السلام د قوم انجام :

په قرآن کريم کې د حضرت شعيب عليه السلام او دهغه د قوم واقعه په تفصيل سره په سورة اعراف ، هود او شعراء کې ذکر ده ، ددينه علاوه په نورو سورتونو کې هم دا واقعه ذکر ده .(۱)

حضرت شعيب عليه السلام چې کوم قوم ته ليږل شوی وو قرآن کريم په بعضو ځايونو کې هغه په اصحابِ مدين سره ذکر کړي ، او بعض ځايونو کې يې د اصحاب الايکة (د بڼ خلق) په نوم سره ذکر کړي .

دې قوم په حضرت شعيب عليه السلام ايمان رانه وړو ، حقوق الله او حقوق العباد يې ضائع کول ، لوټ مار به يې کولو ، او غټه بيماري په کې دا وه چې په ناپ تول کې به يې ټګي کوله .

حضرت شعيب عليه السلام ورته ډير نصيحت وکړو خو دوی اونه منل .

تفسيرِ بحرِمحيط ليکلي چې آخر کې الله ﷻ په دوی دا عذاب راوست چې په دويې دومره سخته ګرمي راغله ګويا چې د جهنم نه دروازه ورته راکلاو شوې ، په هيڅ ځای کې ورته آرام نه ملاويده ، نو دا خلق ټول ځنګل ته اوتختيده . الله جل جلاله هلته يوه وريځ را اوليږله چې د هغې لاندې يخه هوا چليده .

د حضرت شعيب عليه السلام او دده د ملګرو نه علاوه نور ټول قوم هلته په دې نيت راجمع شو چې ددې نه به باران رااووريږي ، الله ﷻ په دوی باندې د وريځې نه اُور رااوورُول ، او ورسره زلزله هم پرې راغله . چې په نتيجه کې ټول قوم تباه شو .

الله جل جلاله فرمائي :

﴿ فَأَخَذَهُمْ عَذَابُ يَوْمِ الظُّلَّةِ إِنَّهُ كَانَ عَذَابَ يَوْمٍ عَظِيمٍ . إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَآيَةً .... ﴾ .(۲)

ترجمه : پس اونيوه دوی لره عذاب د ورځې د سُوري ، بيشکه چې دغه د عذاب ډيره سخته ورځ وه . بيشکه په دې واقعه کې (د خلقو د پاره) نښه د قدرت ده (چې سوچ په کې وکړي نو عبرت ورنه حاصلولی شي) .

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د فرعون او دده د ملګرو انجام :

د حضرت موسی علیه السلام واقعه په قرآن کریم کې په مختلفو سورتونو کې ذکر ده . کله چې ده ته نبوت ملاؤ شو ، نو الله ﷻ ورته حکم وکړو : چې فرعون ته لاړ شه ، هغه سرکشي کړې ده (د خدائي دعوه يې کړې ، ته ورته د توحيد تبليغ وکړه . تفصيل يې په سورة طه کې دی )

حضرت موسی عليه السلام فرعون ته ډير دعوت ورکړو ، معجزې يې هم ورته اوخودې خو ده خبره او نه منله .

اول خو ورباندې الله ﷻ مختلف قسمه عذابونه راوست لکه : قحط سالي ، طوفان ، د ملوخانو عذاب ، د سپږو عذاب او د چينډخانو عذاب . دا عذابونه به يو محدود وخت پورې وو بيا به ختم شو ، څه مهلت به ورکړې شو خو دوی به بيا هم خبره او نه منله ....

د ډيرو مقابلو نه روستو الله ﷻ حضرت موسی ته حکم وکړو چې بني اسرائيل د ځان سره کړه ، او د مصر نه هجرت وکړه ، شام ته لاړ شه .

( تفسير روح المعاني پوره په تفصيل سره دا خبره ذکر کړې ) .

نو حضرت موسی عليه السلام خپل قوم بني اسرائيل د ځان سره روان کړه ، تقريبًا شپږ لکه (۶۰۰۰۰۰) خلق وو ، او د شپې په اوله حصه کې شام طرفته روان شو . فرعون ته چې پته اولږيده چې حضرت موسی عليه السلام اووت ، او ورسره بني اسرائيل هم لاړه ، نو خپل ټول فوج يې راجمع کړو تقريبًا اووه لکه (۷۰۰۰۰۰) سواره وو ، او اويا زره (۷۰۰۰۰) اسونو واله وو ، دوی د حضرت موسی عليه السلام پسې روان شو .

کله چې بني اسرائيلو اوليده چې د شاته نه يو لوي فوج راپسې راغې او مخې ته بحرِ قلزم دی نو ويره ورسره پيدا شوه ، حضرت موسی عليه السلام ته يې وويل :

﴿ إِنَّا لَمُدْرَكُونَ ﴾ . (۱)

ترجمه : مونږ خو ګير شو .

(۱) الشعراء آيت ۶۱ .

(c) ketabton.com: The Digital Library



حضرت موسی علیه السلام ورته تسلي ورکړه :

﴿ كَلَّا إِنَّ مَعِيَ رَبِّي سَيَهْدِينِ ﴾ . (۱)

ترجمه : هرګز داسې نده ، د ماسره خپل رب دی ، هغه به ماته راهنمائي کوي (او زمونږ د نجات څه صورت به راأوباسي) .

الله ﷻ حضرت موسی علیه السلام ته حکم وکړو :

﴿ اِضْرِب بِّعَصَاكَ الْبَحْرَ ﴾ . (۲)

ترجمه : ته په خپله امسا دریاب اووهه .

نو چې حضرت موسی ﷺ په امساباندې دریاب اووهلو نو دولس (۱۲) لارې په کې جوړې شوې . (ځکه بني اسرائیل دولس قبیلې وی) .

ټول په حفاظت سره په دې أوبو کې پورې وتل . کله چې فرعون او د ده لښکر دلته راأورسیدو او ددوی دا حیرانوونکې نظاره یې اولیده (چې أوبه ولاړې دي او لارې په کې جوړی شوې دي) نو فرعون زَر خپل لښکر ته وویل :

دا أوبه چې ولاړې دي نو دا زما د هیبت او یَرې د وجې ولاړې دي . دا یې وویل او په دریاب کې ورګډ شو ، په دې لارو کې دوی هم روان وو ، خو چې کله ټول لښکر په دریاب کې داخل شو نو الله جل جلاله أوبو ته د روانیدو حکم وکړو ، أوبه روانې شوې ، فرعون او ټول لښکریې په أوبو کې غرق شو . (۳)

الله ﷻ فرمائي :

﴿ فَغَشِيَهُم مِّنَ الْيَمِّ مَا غَشِيَهُمْ ﴾ . (۴)

ترجمه : پس پټ کړل دوی د سمندر هغه چې پټ یې کړل دوی (یعنی د سمندر غټ غټ مَوجونه او چَپې په دوی راغلې او ټول یې ډوب کړل) .

(۱) الشعراء آیت ٦٢ .
(۲) الشعراء آیت ٦٣ .
(۳) روح المعاني .
(۴) طه آیت ۷۸ .

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د ابرهه او دده د ملګرو انجام :

په قرآن کريم ، سورة فيل کې الله ﷻ د اصحاب الفيل واقعه ذکر کړی .

دا واقعه تفسير ابن کثير او نورو مفسرينو پوره په تفصيل سره ذکر کړې ، خو زه به يې درته مختصر بيان کړم :

آبرهه چې د يمن ګورنر وو ، ډير ظالم سړی وو ، ده په يمن کې يوه ګرجه جوړه کړې وه او خلقو ته يې حکم کړی وو چې اوس به څوک د يمن نه خانه کعبې ته د حج د پاره نه ځي ، بلکه دلته به راځي ، او ددې ګرجې نه به طواف کوي .

عرب اګر چې بُت پَرست وو ، خو په زړونو کې يې د خانه کعبې او حضرت ابراهيم ﷺ سره ډيره مينه وه . نو د عربو يو کس يمن ته لاړ ، او په هغه ګرجه کې يې اودس ماتې (قضای حاجت) وکړو .

په بعضو رواياتو کې راځي : چې ځنې عربو مسافرو هلته د ګرجې سره په څنګ کې اُور بَل کړی وو چې د هغې په وجه ګرجې ته هم نقصان اورسيده .

ابرهه چې خبر شو نو قَسم يې وکړو چې زه به خامخا خانه کعبه لوټې لوټې کوم ، او يو لوی فوج يې د ځان سره تيار کړو .

د حبشې بادشاه ورته هاتيان هم رااُوليږل ، چې په کې يو غټ هاتي وو خاص د آبرهه د پاره .

چې په دې هاتيانو سره به د خانه کعبې چَت او ديوالونه په زنځيرونو اُوتړي ، او د هاتيانو په زور به يې راکاږي او ختمه به يې کړي .

اَبرهه غټ فوج او ډير هاتيان د ځان سره روان کړه (اوږده واقعه ده) ، په لاره کې اګر چې بعضو خلقو يې مقابله هم وکړه ، خو کامياب نه شو . ځکه دوی ډير زيات وو .....

آخر دا چې ځانونه يې خانه کعبې ته اورسول .

الله ﷻ د خپل قدرت کرشمه اوخوده او دا عذاب يې پرې راوستو چې د سمندر له طرفه ډلې ډلې مرغان راغله چې د ګونـټرې نه په جسم کې واړه وو ، پنجې يې سرې وی . د غه شان مرغان مخکې چيرته نه وو ليدل شوي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



د هر مرغه سره درې (۳) کاڼي وو : يو کاڼي په يو پنجه کې ، دويم کاڼي په دويمه پنجه کې، او دريم په خُله کې . دا ټول مرغان د ابرهه په لښکر راخواره شو ، او په هغوی يې کاڼي وَرول شروع کړه . هر يو کاڼي به داسې کار کولو چې ټوپَک هم هغه شان کار نشي کولې .

په چا به يې چې وَرګوزار کړو نو د بدن نه به يې اووت ، او په زمکه کې به ورننوت . چې په نتيجه کې ټول لښکر ځای په ځای تباه شو .

اَبرهه چونکه ډير ظالم وو ، نو الله ﷻ ورته داسې سزا ورکړه چې هم هلته هلاک نه شو خو په بدن يې داسې زهر ورننوت چې د بدن هر هر اندام يې رژيدو او غورځيدو . يمن ته په داسې حالت کې راوړی شو چې ټول بدن يې ټوټې ټوټې ، رژيدلی او مردار وو. (۱)

الله جل جلاله فرمائي :

﴿ أَلَمْ تَرَ كَيْفَ فَعَلَ رَبُّكَ بِأَصْحَابِ الْفِيلِ . أَلَمْ يَجْعَلْ كَيْدَهُمْ فِي تَضْلِيلٍ . وَأَرْسَلَ عَلَيْهِمْ طَيْرًا أَبَابِيلَ . تَرْمِيهِمْ بِحِجَارَةٍ مِّن سِجِّيلٍ . فَجَعَلَهُمْ كَعَصْفٍ مَّأْكُولٍ ﴾ . (۲)

ترجمه : آيا تا اونه ليده چې ستا رب د هاتيانو واله سره څنګه معامله وکړه ؟ آيا د هغوی تدبيرونه يې ناکامه نه کړل ؟

او الله تعالی په هغوی باندې ټولي ټولي مرغان را اوليږل ، چې ويشتل به يې دوی په داسې کاڼو باندې چې د پخې خټې نه جوړ شوي وو . نو الله ﷻ دوی د خوړَل شوو بُوسو په شان اوګرځول (يعنی ټول يې تباه کړه ) .

## د قومِ سبا د هلاکت واقعه :

قومِ سبا ته الله ﷻ ډير غټ غټ باغونه او نور بې شماره نعمتونه ورکړي وو ، خو چې کله دوی د نعمتونو شکريه اداء نکړه ، او د الله ﷻ نافرماني يې وکړه . نو الله ﷻ فرمايي :

﴿ فَأَرْسَلْنَا عَلَيْهِمْ سَيْلَ الْعَرِمِ ﴾ . (۳)

ترجمه : مونږ ورباندې زُوردار سيلاب رااُوليږه .

(۱) تفسير ابن کثير و معارف القرآن سورة فيل .

(۲) سورة الفيل .

(۳) سورة سبا آيت ۱٦ .

(c) ketabton.com: The Digital Library



نو الله ﷻ ټول قوم، کورونه او باغونه د اوبو په طوفان هلاک کړه.

وروسته الله ﷻ فرمائي:

﴿ ذَٰلِكَ جَزَيْنَاهُم بِمَا كَفَرُوا وَهَلْ نُجَازِي إِلَّا الْكَفُورَ ﴾ . (۱)

ترجمه: دا سزا مونږ دوی ته د ناشکرۍ په وجه ورکړه، او مونږ داسې سزاګانې صرف ناشکره خلقو ته ورکوو. (۲)

ددې نه علاوه په قرآن کريم کې نور د عبرت واقعات هم ذکر شوي لکه:

د قارون په زمکه کې دننوتلو واقعه.

د اصحاب السبت واله واقعه چې د الله ﷻ حکم يې او نه منلو نو الله ﷻ ورنه بيزوګان او خنزيران جوړ کړه.

---

(۱) سورة سبا آيت ۱۷.

(۲) مظهري، ابن کثير.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

﴿ وَقُلْ رَّبِّ زِدْنِيْ عِلْمًا ﴾. طه ۱۱۴.

﴿ يَرْفَعِ اللّٰهُ الَّذِيْنَ آمَنُوْا مِنْكُمْ وَالَّذِيْنَ أُوْتُوا الْعِلْمَ دَرَجَاتٍ ﴾. المجادلة ۱۱.

# دعِلم فضیلت او اَهمیت

تالیف :

اَبُو الشَّمْس مولانا نُوْرُالْهُدیٰ عُفِیَ عَنْهُ
مُدَرِّس دَارُالعلوم فیضُ القُرآن اکاخیل کالونی مردان

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

# د علم فضيلت او اهميت:

نَحْمَدُهُ وَنُصَلِّيْ عَلٰى رَسُوْلِهِ الْكَرِيْمِ .

اَمَّا بَعْدُ فَأَعُوْذُ بِاللهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ . قَالَ اللهُ تَبَارَكَ وَتَعَالٰى فِى الْقُرْآنِ الْمَجِيْدِ وَالْفُرْقَانِ الْحَمِيْدِ :

﴿ وَقُلْ رَّبِّ زِدْنِيْ عِلْمًا ﴾ . (١)

وَقَالَ النَّبِيُّ ﷺ : مَنْ سَلَكَ طَرِيْقًا يَلْتَمِسُ فِيْهِ عِلْمًا سَهَّلَ اللهُ لَهُ طَرِيْقًا إِلَى الْجَنَّةِ . (٢)

وَقَالَ النَّبِيُّ ﷺ : مَنْ يُّرِدِ اللهُ بِهٖ خَيْرًا يُفَقِّهْهُ فِى الدِّيْنِ . (٣)

رَضِيْنَا قِسْمَةَ الْجَبَّارِ فِيْنَا * لَنَا عِلْمٌ وَلِلْجُهَّالِ مَالٌ

فَإِنَّ الْمَالَ يَفْنِيْ عَنْ قَرِيْبٍ * وَإِنَّ الْعِلْمَ يَبْقٰى لَا يَزَالُ

صَدَقَ اللهُ الْعَظِيْمُ .

زما خوږو قدرمنو او عزت منډو مسلمانانو ورونو ! د انسان د پاره د ايمان نه روستو په ټولو نعمتونو کې لوي نعمت عِلم دی ، د دينه بل لوي نعمت نشته . نو چاته چې الله ﷻ دا نعمت ورکړي يا يې د دې نعمت د حصول د پاره قبول کړي نو په کار ده چې دا کس په دې باندې د الله ﷻ

---

(١) طه ١١٤ .

(٢) اخرجه البخاري في العلم ١٠ ، والترمذي في القرآن ١٠ وفي العلم ١٩ ، ٣٥ ، وابن ماجه في المقدمة ١٧ ، واحمد ٢، ٢٥٢ ، ٣٢٥ ، ٤٠٧ . ابوداود (٣٦٤١) ، (٣٦٤٢) ، وابن ماجه (٢٢٣) و ابن حبان (٨٠) ورواه الترمذي (٢٦٨٣) . مشكوة كتاب العلم .

(٣) رواه البخاري في العلم ١٠ ، ومسلم في الامارة ١٧٥ ، والترمذي في العلم ٤ ، ورواه الهيثمي في مجمع الزوائد ١/١٢٨ ، مشكوة كتاب العلم .

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډيره شکريه اداء کړي. [۱]

د همدې مناسبت په وجه غواړم چې په نن مجلس کې درته د علم په اهميت او فضيلت باندې رڼا واچوم، چې د الله ﷻ په نزد د علم څومره لوړه مرتبه او مقام دی.

## د حضرت آدم ؑ د خلافت او تعظيم وجه علم ؤ

د همدې علم په وجه الله ﷻ حضرت آدم عليه السلام ته خلافتِ ربّاني ورکړو، او مسجود الملائکة يې اوګرځول، ددې نه هم معلوميږي چې علم بهترين شئ دی.

قدرمنو! انسان ته دا سوچ په کار دی چې فرشتې اګرچې د نُور نه پيدا شوي، هر وخت د الله ﷻ په عبادت کې مشغوله وي، د الله ﷻ نافرماني نه کوي [۲] او حضرت آدم عليه السلام د خټې نه پيدا شوی، خو بيا هم الله ﷻ فرشتو ته دا حکم کوي چې تاسو حضرت آدم عليه السلام ته سجده د تعظيم وکړئ. آخر ددې څه وجه وه؟

نو ددې وجه صرف دا وه چې حضرت آدم عليه السلام ؑ ته عِلْمُ الْأَسْمَاء (يعنی د شيانو نومونه، د هغې صفات او خواص عِلم) حاصل ؤ، او فرشتو ته دا عِلم حاصل نه ؤ.

---

(۱) امام رازي رحمه الله په خپل تفسير کې ليکلي: چې کله حضرت يوسف عليه السلام د خوبونو د تعبير د عِلم په وجه په خپل ځان باندې د الله ﷻ لوي احسان ګڼل (او فرمايل يې: وَعَلَّمْتَنِي مِن تَأْوِيلِ الْأَحَادِيثِ. يوسف آيت ۱۰۱) فأنتَ يا عالمُ! أمَا تذكرُ منّةَ الله على نفسك حيث علّمك تفسيرَ كتابه. فأيّ نعمةٍ أجلّ ممّا أعطاك الله حيث جعلك مفسّراً لكلامه وسميًا لنفسه وَوارِثًا لنبيّه و داعِيًا لخَلْقه و واعِظًا لعِبَاده وسِراجًا لِأَهل بلاده وقائدًا للخلق إلى جنّتِه وثوابه و زاجِرًا لهم عن نَارِه وعقابه كما جَاء في الحديث: اَلعُلَمَاءُ سَادَةٌ وَالفقهاءُ قادةٌ ومجالِسُهم زيادةٌ. تفسير كبير ج۱ ص ۴۰۲ آيت ۳۱.

(۲) ﴿ وَمَنْ عِندَهُ لَا يَسْتَكْبِرُونَ عَنْ عِبَادَتِهِ وَلَا يَسْتَحْسِرُونَ. يُسَبِّحُونَ اللَّيْلَ وَالنَّهَارَ لَا يَفْتُرُونَ ﴾. الانبياء آيت ۲۰ ،۲۲.

(c) ketabton.com: The Digital Library



( علمي نُکته : حضرت آدم علیه السلام ته چې د کومو شیانو علم خودل شوې وُ په هغې کې مفسرینو مختلف اقوال ذکر کړي . (۱) )

## د امام رازي رحمه الله وینا :

امام رازي رحمه الله په خپل تفسیر کې ډیره عجیبه خبره لیکلې : چې کله آدم علیه السلام ته د مخلوقاتو د نومونو د علم په وجه دومره عزت حاصل شو چې فرشتو ده ته د تعظیم سجده وکړه ، نو اوس چې کوم سړي ته د خالقِ کائنات د ذات او صفاتو علم وي نو آیا هغه به د فرشتو د تعظیم مستحق نه ګرځي ؟ ( خامخا به ګرځي ) بلکه دې خو به د الله ﷻ د طرفه هم د اعزاز و اکرام مستحق ګرځي .

او حضرت یوسف علیه السلام چې د خوبونو د تعبیر د علم په وجه د جیل ( قید خانې ) نه نجات اوموندو ، نو اوس چې یو سړي ته د الله ﷻ د کتاب ( قرآن کریم ) عِلم وي نو آیا هغه به د شهواتو د جیل نه نجات نه مومي ؟ ( بلکه مومي به یې ) . (۲)

بل ځای امام رازي رحمه الله د آیت : ﴿ وَعَلَّمَ آدَمَ الْأَسْمَاءَ كُلَّهَا ﴾ لاندې لیکلي : چې کله الله ﷻ د حضرت آدم علیه السلام شرافت د علم په وجه ښکاره کړو نو که چیرته په کائناتو کې د

---

(۱) وَعَلَّمَ آدَمَ الأَسْمَاءَ كُلَّهَا .( البقرة ۳۱ . ) اي علّمه صفاتَ الأشياءِ ونعوتَها وخواصَها . تفسير كبير ج۱ ص ۲۹۷ آيت ۳. قال ابن عباس وعكرمة وقتادة ومجاهد وابن جُبير : عَلَّمه أَسماءَ جميعِ الأشياء كلَّها جليلها وحقيرها . قرطبي ج۱ ص ۳۲۳ آيت ۳، په تفسير ابن كثير كې دي: علّمه اسماء جميع المخلوقات . ابن كثير ج۱ ص ۷۳ ،

په تفسير كشاف كې دي : اى أَسماء المسمّيات وعلّمه احوالها ومايتعلّق بها من المنافع الدينيّة والدُنيويّة . ج۱ ص۲۷۲ ، په تفسير بيضاوي كې دي : ألهمه معرفة ذوات الاشياء وخواصها وأسماءها وأصول العلم وقوانين الصناعات وكيفية آلاتها . ج۱ ص ۶۱ ،

په احكام القرآن كې دي : علّمه ايّاها بمعانيها اذ لَافضيلة للاسماء دون المعاني ، وهي دلالة على شرف العلم وفضيلته . احكام القرآن ج۱ ص۳۱ .

(۲) مَن علم اسماء المخلوقات وَجَدَ التحيّة من الملائكة فمَن علم ذات الخالق وصفاته أمَا يَجِدُ تحيّة الملائكة ؟ بل يَجد تحيّةَ الربّ ﴿ سَلَامٌ قَوْلًا مِنْ رَبٍّ رَحِيمٍ . يس ۵۸ ﴾ . كبير ج۱ ص ۳۰۲ .

(c) ketabton.com: The Digital Library



الله ﷻ په نزد د علم نه بل شی اشرف وې نو بيا به يې د حضرت آدم عليه السلام شرافت د هغې په وجه ښكاره كړې وې . (۱)

## اولنى وحي :

د علم د اهميت اندازه ددينه هم كيدې شي چې د الله ﷻ په نزد علم دومره محبوب عمل دی چې دې امت ته چې د الله ﷻ د طرفه اولنې كوم پيغام ( وحي ) راغلې د هغې اولنې لفظ هم " إِقْرَءْ " دی ، چې ددې مطلب دی "اولوله" .

يعنى دې امت ته د الله ﷻ د طرفه اولنې پيغام د " لوستلو " تلقين دی .

كه په ظاهره باندې اوكتې شي نود حضرت عيسى عليه السلام او د نبي كريم صلى الله عليه وسلم په مينځ كې تقريبًا پنځه سوه او يواويا ( ۵۷۱ ) كاله زمانه تيره شوې وه .

په عربو كې بُت پرستي او شرک عام وُ ، جهالت دومره عام وُ چې ژوندى لورانې به يې خښولې ، پله يو بل به يې ظلمونه كول ، د يو بل حقوق به يې ضائع كول .

ليكن ددې ټولو خبرو باوجود بيا هم اوله وحي د توحيد متعلق رانغله ، د حقوق العباد متعلق رانغله ، د آخرت متعلق رانغله بلكه اوله وحي " إِقْرَءْ " يعنى د لوستلو متعلق راغله ، چې په دې سره د علم اهميت او عظمت ته غټه اشاره ده . (۲)

ځكه علم خو داسې يوصفت دی چې ددې په وجه انسان د حيواناتو نه ممتاز كرځي ، او د جهالت د تيارو نه رڼا طرفته راكرځي . دغه وجه ده چې اسلام د علم په حصول باندې ډير زور اچولې ، او ددې يې ډير فضيلتونه بيان كړی دی .

---

(۱) هذه الاية دالةٌ على فضلِ العِلم فانّه سبحانه ما أظهر كمال حكمته في خلقة آدم عليه السلام إلّا بأن أظهر علمه، فلوكانَ فى الامكان وجود شيء من العلم أشرف لكان من الواجب اظهار فضله بذلک الشيء لا بالعلم . تفسير كبير ج ۱ ص ۳۹۹ آيت ۳۱ .

(۲) ندائے ممبر ومحراب ج ۳ ص ۱۲۲ .

(c) ketabton.com: The Digital Library



## نبي ﷺ ته هم د عِلم د زياتوالي طلب کولو حکم شوی ؤ :

د الله ﷻ په نزد د عِلم مقام او مرتبه د دينه هم معلوميږي چې رسول الله ﷺ ته يې د علم د زياتوالي طلب کولو حکم کړی ؤ . الله تعالی فرمايي :

﴿ وَقُل رَّبِّ زِدْنِي عِلْمًا ﴾ . (۱)

ترجمه : او وايه (اې پيغمبره !) چې اې ربه ! زما علم زيات کړه .

نو که چيرته د الله ﷻ په نزد د عِلم نه اوچت او محبوب بل شی وې نو بيا به يې خپل پيغمبر ته د هغې د زياتوالي حکم کړی وې (معلومه شوه چې د الله ﷻ په نزد د علم ډيره لويه مرتبه) . (۲)

## د علم د اهمت په باره کې واقعه :

امام رازي رحمه الله په خپل تفسر (تفسير کبير) کې يوه واقعه ذکر کړې : چې يو ځل نبي کريم صلى الله عليه وسلم د يو کس سره د مازيگر د لمانځه نه روستو خبرې کولې ، نو الله ﷻ ورته وحي وکړه : چې د تا سره دا کوم کس ناست دی دده په عُمر کې صرف يو ساعت وخت پاتې دی (بيا به دې وفات کيږي) ، نو نبي عليه السلام ده ته ددې خبر ورکړو ، دې کس سره ډير فکر پيدا شو ، نبي ﷺ ته يې وفرمايل :

يَا رَسُوْلَ اللهِ ! دُلَّنِيْ عَلٰى اَوْفَقِ عَمَلٍ لِيْ فِيْ هٰذِهِ السَّاعَةِ .

اې د الله ﷻ رسوله ! زما د پاره چې په دې وخت کې کوم بهترين عمل وي هغه راته اوښايه (يعنى داسې عمل راته اوښايه چې په دې لږ وخت کې ماته ډيره فائده راکړي او د آخرت خوشحالي راته نصيب شي) .

نبي عليه السلام ورته وفرمايل : إِشْتَغِلْ بِالتَّعَلُّمِ . د علم په زده کړه کې مشغول شه .

نو هغه د علم په زده کړه کې مشغول شو ، او د ماښام نه مخکې وفات شو .

---

(۱) طه ۱۱۴ .

(۲) امام رازي رحمه الله فرمائي : وفيه أَدلّ دليل على نفاسة العلم وعلوّ مرتبته وفرط محبّةِ الله تعالى اِيّاه ، حيث أمر نبيّه بالازدياد منه خاصةً دون غيره . تفسير كبير ج۱ ص ۴۰۷ .

(c) ketabton.com: The Digital Library



راوي وائي :

فَلَوْكَانَ شَيْءٌ أَفْضَلُ مِنَ الْعِلْمِ لَأَمَرَهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِهِ فِيْ ذٰلِكَ الْوَقْتِ .

که چیرته د علم نه بهترین شئ وې نو نبي کریم صلی الله علیه وسلم به ده ته په دې لږ وخت کې د هغې د کولو حکم کړې وې . (۱)

## نبي عليه السلام د تعليم اوتدريس مجلس غوره کړو

عَنْ عَبْدِاللّٰهِ بْنِ عَمْرٍو أَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ ﷺ مَرَّ بِمَجْلِسَيْنِ فِيْ مَسْجِدِهٖ فَقَالَ كِلَاهُمَا عَلٰى خَيْرٍ وَاَحَدُهُمَا اَفْضَلُ مِنْ صَاحِبِهٖ اَمَّا هٰؤُلَاءِ فَيَدْعُوْنَ اللّٰهَ وَيَرْغَبُوْنَ اِلَيْهِ فَاِنْ شَآءَ اَعْطَاهُمْ وَاِنْ شَآءَ مَنَعَهُمْ وَ اَمَّا هٰؤُلَاءِ فَيَتَعَلَّمُوْنَ الْفِقْهَ اَوِ الْعِلْمَ وَيُعَلِّمُوْنَ الْجَاهِلَ فَهُمْ اَفْضَلُ وَاِنَّمَا بُعِثْتُ مُعَلِّمًا ثُمَّ جَلَسَ فِيْهِمْ . (۲)

حضرت عبدالله بن عمرو رضي الله عنه فرمايي : چې يو ځل نبي ﷺ په مسجد نبوي کې په دوه (۲) مجلسونو تيرشو (يو ډلې خلقو د الله ﷻ عبادت کولو او د الله ﷻ نه يې دُعاګانې غوښتې، اودې دويمې ډلې علم زده کولو ) پيغمبر عليه السلام اوفرمايل : دواړه ډلې د خير او فضيلت واله دي ، خو په دې کې دا يوه ډله خلق ددې نورو نه ډير بهتر دي .

ځکه دا اوله ډله خلق د الله ﷻ عبادت کوي ، د الله ﷻ نه دُعاګانې غواړي او د الله تعالى سره چې څه اجرونه او ثوابونه دي د هغې رغبت او اميد لري ، نو اوس که الله ﷻ اوغواړي نو دغه اجرونه او ثوابونه به ورته ورکړي ، او که يې وغواړي نو ورنه منع به يې کړي .

او هر چې دا دويمه ډله ده نو دوی خو ( اول ) فِقه يا علم زده کوي ، بيا يې ناپوهه او جاهل خلقوته ښايي، نو دوی افضل دي ( ځکه دوی دوه عبادتونه کوي : ۱. د علم زده کړه هم عبادت دی ،۲. او بل ته خودل هم عبادت دی . مرقات شرح مشکوة )

---

(۱) انه عليه السلام كان يحدث انسانًا فاوحى الله اليه انه لم يبق من عُمر هذا الرجل الذي تحدثه الاساعةٌ ، وكان هذا وقت العصر فاخبره الرسول بذلك فاضطرب الرجل وقال : يارسول الله ادلني على اوفق عمل لي في هذه الساعة . قال إشتغل بالتعلّم . فاشتغل بالتعلم وقبض قبل المغرب. تفسير كبير ج۱ ص ۲۱۰ آيت ۳۱ .

(۲) رواه الدارمي ، مشكوة كتاب العلم ص۳۶ ط قديمي كتب خانه كراچي ، تنبيه الغافلين ص ۱۹۹ ط بيروت لبنان .

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیا نبي علیه السلام او فرمایل :

إِنَّمَا بُعِثْتُ مُعَلِّمًا . بیشکه زه چې دُنیا ته مبعوث شوې یم نو هم د مُعلِم په حیثیت سره .

بیا نبي کریم ﷺ د دغه (علم حاصلوونکو او خودونکو) ډلې سره کیناست . (۱)

**فائده**: د دې واقعې نه د عِلم د مجلس څومره زیات فضیلت ښکاره شو چې نبي علیه السلام صراحةً او فرمایل چې دا د عِلم واله مجلس ډیر بهتر دی او بیا یې د عابدینو مجلس پرېښود او په خپله د دې علماو په مجلس کې کیناست .

دا ځکه چې د عابد عبادت خو صرف د خپل ځان د فائدې د پاره وي او د عالِم نه ټول امت ته فائده رسي .

## د عِلمي مجلس فضیلت :

نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمایي :

مَا اجْتَمَعَ قَوْمٌ فِيْ بَيْتٍ مِّنْ بُيُوْتِ اللهِ يَتْلُوْنَ كِتَابَ اللهِ وَيَتَدَارَسُوْنَهُ بَيْنَهُمْ إِلَّا حَفَّتْهُمُ الْمَلَائِكَةُ وَنَزَلَتْ عَلَيْهِمُ السَّكِيْنَةُ وَغَشِيَتْهُمُ الرَّحْمَةُ وَذَكَرَهُمُ اللهُ فِيْمَنْ عِنْدَهُ . (۲)

هر کله چې یو قوم د الله ﷻ د کورونو نه په یو کور (جومات یا مدرسه) کې راجمع شي او د الله ﷻ کتاب (قرآن کریم) لولي او خپل مینځ کې یې یو بل ته ښایي ، نو فرښتې (د دوی د عزت او د دوی سره د محبت په وجه) ترې چاپېره کیږي، سکینه (اطمینان او سکون قلبي) وربانديې نازلیږي ، رحمتِ خداوندي وربانديې راوریږي ، او الله تعالی د دغو خلکو ذِکر د هغه (مقربو کرېینو) فرښتو د وړاندې کوي کومې چې د الله ﷻ سره دي .

---

(۱) دلته ملا علي قاري رحمه الله په مرقات شرحه د مشکوة کې لیکلي دي : اشعارٌ بأنهم منه وهو منهم ومن ثَمّ جَلَسَ فيهم . كذا قاله الطيبي . مرقات شرح مشكوة ج۱ ص ۳۰۷ كتاب العلم .

(۲) اخرجه مسلم في الذكر حديث ۳۸ ، وابوداود في الادب باب ٦۰ ، والترمذي في البرّ باب ۹۱ ، وابن ماجه في المقدمة باب ۱۷ ، وابن حبان في صحيحه والبيهقي ، الترغيب والترهيب ج۱ ص ۵۱ كتاب العلم الترغيب في العلم وطلبه .

(c) ketabton.com: The Digital Library



**فائده** : د علم دا فضيلت کافي دی چې فرښتې دوی ته وزرې غوړوي ، په دوی اطمينان او سکون نازليږي او الله ﷻ د دوی تذکره په ملاءِ اعلیٰ کې د مقربو فرښتو د وړاندې کوي .[۱]

## د حضرت لقمان عليه السلام خپل ځوی ته نصيحت

نبي کريم ﷺ فرمايي : چې حضرت لقمان عليه السلام خپل ځوي ته دا نصيحت کړې ؤ :

يَا بُنَيَّ عَلَيْکَ بِمَجَالِسَةِ الْعُلَمَاءِ وَاسْمَعْ کَلَامَ الْحُکَمَاءِ فَإِنَّ اللهَ لَيُحْيِيُ الْقَلْبَ الْمَيِّتَ بِنُوْرِ الْحِکْمَةِ کَمَا يُحْيِي الْأَرْضَ الْمَيْتَةَ بِوَابِلِ الْمَطَرِ .[۲]

اې بچوړيه ! ته په ځان باندې د علماو مجلس لازم کړه ( يعنی د هغوی سره کينه ) او د حکماؤ خبرې اَوره ، ځکه الله ﷻ د حکمت په رڼا سره مړ زړه داسې ژوندې کوي لکه څرنګ چې د باران په اُوبو باندې مړه ( غير آباده ) زمکه راژوندی کوي .

حَيَاةُ الْقَلْبِ عِلْمٌ فَاغْتَنِمْهُ ✽ وَمَوْتُ الْقَلْبِ جَهْلٌ فَاجْتَنِبْهُ

## علم د انبياو ميراث دی

يوه ورځ حضرت ابوهريرة رضي الله عنه د مدينې منورې په بازار تيريده ، هلته اودريده ، او خلقو ته يې وويل : چې اې د بازار خلقو ! په تاسو څه شوي چې تاسو دلته يئ او د رسول الله ﷺ ميراث تقسيميږي ، آيا ورځئ نه ؟ چې تاسو هم ورنه خپله حصه واخلی ؟

هغوی ورنه پوښتنه وکړه چې دا ميراث چيرته تقسيميږي ؟ ده ورته وويل : په جُمات کې .

نو خلق په منډه جُمات ته لاړه ، او حضرت ابوهريرة رضي الله عنه هم هلته ولاړ ؤ . څه وخت پس خلق واپس راغلل ، ده ورنه پوښتنه وکړه چې څه مو وکړه ؟

هغوی ورته وويل : چې اې ابوهريرة رضي الله عنه مونږ خو جُمات ته ننوتو ، په هغې کې خو مونږ او نه ليده چې څه شی تقسيميږي .

---

(۱) الرسول والمعلم ص ۱۰ .

(۲) رواه الطبراني في الکبير ، الترغيب والترهيب ج ۱ ص ۶۳ ، الترغيب في مجالسة العلماء ، احياء العلوم ج ۱ ص ۲۰ کتاب العلم .

(c) ketabton.com: The Digital Library



حضرت ابو هريرة ﷺ ورته په ښتنه وکړه :

وَمَا رَأَيْتُمْ فِي الْمَسْجِدِ أَحَدًا ؟ تاسو په جُمات کې هيڅوک اونه ليده ؟

هغوی ورته وويل :

بَلىٰ رَأَيْنَا قَوْمًا يُصَلُّوْنَ وَقَوْمًا يَقْرَؤُوْنَ الْقُرْآنَ ، وَقَوْمًا يَتَذَاكَرُوْنَ الْحَلَالَ وَالْحَرَامَ .

آو ، مونږ څه خلق اوليده چې لمونځونه يې کول ، او څه خلقو د قرآن مجيد تلاوت کولو او څه خلقو د حلال او حرام تذکره کوله ( يعنې علم يې حاصلول او د حلالو او حرامو متعلق تذکره يې کوله ) .

حضرت ابو هريرة ﷺ ورته اوفرمايل :

وَيْحَكُمْ فَذٰلِكَ مِيْرَاثُ مُحَمَّدٍ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ . (۱)

تعجب دی په تاسو ، همدا د رسول الله ﷺ ميراث دی .

**فائده** : معلومه شوه چې علم د انبياو ميراث دی او علماء د انبياو وارثان دي .

نبي کريم صلى الله عليه وسلم فرمايي :

إِنَّ الْعُلَمَاءَ وَرَثَةُ الْأَنْبِيَاءِ وَإِنَّ الْأَنْبِيَاءَ لَمْ يُوَرِّثُوْا دِيْنَارًا وَّلَا دِرْهَمًا إِنَّمَا وَرَّثُوْا الْعِلْمَ فَمَنْ أَخَذَهُ أَخَذَ بِحَظٍّ وَافِرٍ . (۲)

عُلماء د انبياو وارثان دي ، او انبياء کرامو په ميراث کې درهم او دينار نه دي پريښي ، بلکه هغوی علم په ميراث کې پريښې ، پس چا چې دا حاصل کړو هغه ډيره لويه حصه حاصله کړه .

---

(۱) رواه الطبراني في الاوسط باسناد حسن ، الترغيب والترهيب ج۱ ص ۵۸ كتاب العلم ، تنبيه الغافلين ص ۲۰۶ .

(۲) اخرجه ابوداود في العلم باب ۱ وابن ماجه في المقدمة باب ۱۹ وابن حبان ۸۰ ، ورواه الترمذي في العلم باب ۱۹ ، مشكوة ص ۳۴ كتاب العلم .

په يو روايت کې داسې الفاظ دي : اَلْعُلَمَاءُ وَرَثَةُ الْأَنْبِيَاءِ أَلَا إِنَّ الْأَنْبِيَاءَ لَمْ يُوَرِّثُوْا دِيْنَارًا وَّلَا دِرْهَمًا وَلٰكِنَّهُمْ وَرَّثُوْا الْعِلْمَ فَمَنْ أَخَذَهُ أَخَذَهُ بِحَظِّهِ . اخرجه ابوداود في العلم باب ۱ ، والترمذي في العلم باب ۱۹ ، وابن ماجه في المقدمة باب ۱۷ وابن حبان في صحيحه ، الترغيب والترهيب ج۱ ص ۶۰ .

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د علم يو باب زده کول د زرو (۱۰۰۰) رکعتو قبول شوو نفلو نه ډير بهتر دی

نبي کريم صلى الله عليه وسلم حضرت ابوذر رضي الله عنه ته فرمايي :

يَا اَبَا ذَرٍ لَاَنْ تَغْدُوَ فَتَعَلَّمَ آيَةً مِّنْ كِتَابِ اللهِ خَيْرٌ لَكَ مِنْ أَنْ تُصَلِّيَ مِائَةَ رَكْعَةٍ وَلَاَنْ تَغْدُوَ فَتَعَلَّمَ بَابًا مِّنَ الْعِلْمِ عُمِلَ بِهِ اَوْ لَمْ يُعْمَلْ خَيْرٌ مِّنْ أَنْ تُصَلِّيَ اَلْفَ رَكْعَةٍ . (۱)

اې ابوذره ! (ﷺ) که ته چيرته د سهر په وخت لاړشې او د قرآن کريم يو آيت زده کړې ، نو دا ستا دپاره د سلو (۱۰۰) رکعتونو نفلو نه ډير بهتر دی ، او که ته لاړشې او دعلم يو باب زده کړې ، که په دې عمل شوې وي او که نه ، خو دا ستا د پاره د زرو (۱۰۰۰) رکعتونفلو نه ډير بهتر دی .

**فائده** : په دې حديث کې هم د علم ډير فضيلت بيان شوې ، چې يو باب د علم زده کول د زرو رکعتونو قبول شوو نفلو سره برابر نه دي ، بلکه د هغې نه ډير بهتر دي .

او ورسره دويمه خبره دا هم واضحه شوه چې بعض خلق وايي چې په کوم علم عمل نه وي نو دداسې عِلم په زده کولو کې هيڅ فائده نشته ، نو د دوی دا خبره غلطه ده .

## د مولانا اشرف علي تهانوي رحمه الله تحقيق

مولانا اشرف علي تهانوي رحمه الله په " حيوة المسلمين " کې د دې حديث په تشريح کې ليکلي : چې په دې حديث کې نبي کريم صلى الله عليه وسلم په واضحه طريقې سره اوفرمايل:

عُمِلَ بِهِ اَوْ لَمْ يُعْمَلْ . که په دې علم دده عمل وي او که نه ، خو يو باب د علم زده کول د زرو رکعتونو نفلو نه ډير بهتر دی . او د دې د پاره تهانوي صاحب درې (۳) وجوهات ذکر کړي :

۱. د دين د خبرې په زده کولو سره خودې دجهالت او ناپوهی نه اووت . نو دا هم لوي نعمت دی .

۲. چې کله ورته د دين دا خبره معلومه شوه نو که اوس يې پرې عمل نشته نو آينده وخت کې خو به چيرته پرې عمل وکړي .

---

(۱) رواه ابن ماجه في سننه باسناد حسن الحديث ۲۱۹ ، وابن عبدالبر في جامع البيان ۱/ ۲۵ ، الترغيب والترهيب ج۱ ص ۵۲ كتاب العلم .

(c) ketabton.com: The Digital Library



۳. بل کس ته خو به يې اوښايي، او دا هم د ثواب کار دی. (۱)

## لږ علم د ډېر عمل نه بهتر دی

نبي کريم صلی الله عليه وسلم فرمايي:

قَلِيْلُ الْعِلْمِ خَيْرٌ مِنْ كَثِيْرِ الْعِبَادَةِ. (۲)

لږ علم د ډېر عبادت نه بهتر دی.

## ضروري علم په هر مسلمان باندې فرضِ عين دی

دومره علم زده کول چې په هغې باندې انسان خپل ژوند د الله ﷻ او د رسول ﷺ د احکاماتو مطابق تيروي، دا په هر مسلمان نارينه او ښځينه باندې فرض دی.

پيغمبر عليه السلام فرمايي:

طَلَبُ الْعِلْمِ فَرِيْضَةٌ عَلَى كُلِّ مُسْلِمٍ. (۳)

د علم طلب کول (يعنی د هغې د حاصلولو کوشش کول) په هر مسلمان فرض دی.

په يو روايت کې ورسره د "مُسْلِمَة" لفظ هم شته. (۴)

عَنْ عَلِيٍّ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فِيْ قَوْلِهِ: ﴿ قُوْا أَنْفُسَكُمْ وَأَهْلِيْكُمْ نَارًا ... (۵) ﴾ قَالَ: عَلِّمُوْا أَهْلِيْكُمُ الْخَيْرَ. (۶)

حضرت علي رضي الله عنه د دې آيت ﴿ قُوْا أَنْفُسَكُمْ وَأَهْلِيْكُمْ نَارًا ﴾ په تفسير کې فرمايي: چې تاسو خپل کور واله ؤ ته د خير (يعنی د دين) خبرې اوښايئ.

---

(۱) حيوة المسلمين ص۳۲ الروح الثاني في تحصيل علم الدين وتعليمه.

(۲) رواه الهيثمي في المجمع ۱/۱۲۰ والسيوطي في الدرالمنثور ۱/۳۵۰، والمنذري في الترغيب والترهيب ۱/۱۳.

(۳) رواه ابن ماجه، مشكوة كتاب العلم ص ۳۴، ابن ماجه ص ۲۰ باب فضل العلماء والحثّ على طلب العلم، وروى البيهقي في شعب الايمان الى قوله: مُسلِمٍ. وقال هذا حديث متنه مشهور (على السنة الناس) واسناده ضعيف وان كان معناه صحيحا. مرقات شرح مشكوة ص ۲۸۴.

(۴) مرقاة شرح مشكوة.

(۵) التحريم آيت ۶.

(۶) رواه الحاكم موقوفا وقال صحيح على شرطهما، الترغيب والترهيب ص ۷۰ الترهيب في نشر العلم والدلالة على الخير.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ضروري تنبيه

حضرت مولانا اشرف علي تهانوي رحمه الله په خپل خطبات کې دا خبره ډېره په تفصيل سره ذکر کړې چې بعضې خلق د علم فضائل بيانوي، د قرآن کريم آيتونه او احاديث ذکر کوي خو بيا غلطي دا کوي چې دا ټول فضايل په انګريزي تعليم تطبيقوي او خلقو ته د انګريزي زده کولو ترغيب ورکوي.

نو خبردار! دا سخته دهوکه ده، ځکه د علم چې څومره فضايل په قرآن کريم او احاديثو کې بيان شوي نو د دينه د شريعت علم مراد دی، هغه علم مراد دی چې په هغې سره انسان ته د الله ﷻ معرفت حاصلېږي او په آخرت کې د انسان د پاره فائده مند وي، انګريزي تعليم مراد نه دی (۱)

(البته که چا معتمد عالم په انګريزي کې د قرآن کريم يا احاديثو ترجمه وکړه او يو کس هغه لولي نو بيا په دې کې ثواب شته). (۲)

نو نن صبا چې په سکولونو او کالجونو کې کوم فنون خودلې شي نو دا دغه فرضي علم نه دی، بلکه په دې فنونو کې چې کوم د مسلمانانو د فائدې د پاره وي او په خلاف شرعه امورو مشتمل نه وي نو دا صرف د جواز په مرتبه کې دي. البته که په خلافِ شرعه امورو مشتمل وونو بيا د هغې حصول نا جائز دی. (۳)

## د علم حقيقت

حکيم الاسلام قاري محمد طيب رحمه الله وايي: انسان ته چې انسان وايي دا هلته چې په ده کې داسې علمِ نافِع راشي چې د هغې په وجه دې د حلالو او حرامو، جائز او ناجائز په مينځ کې تميز کولې شي، يعنی په ده کې تقوی، پرهيزګاري او په شريعت باندې عمل راشي.

(۱) د کوم علم فضايل او تاکيد چې په احاديثو کې راغلې د هغې نه علم د شريعت مراد دې: په فتح الباري شرح صحيح البخاري کې ذکر دي: والمرادُ بالعلمِ العِلمُ الشرعيّ الذي يفيد معرفة مايجب على المكلّف من أمر دينه في عباداته ومعاملاته. والعلم بالله وصفاته ومايجب له من القيام بامره وتنزيهه عن النقائص، ومدار ذلک على التفسير والحديث والفقه. (فتح الباري ج۱ ص ۱۹۲ کتاب العلم، مقدمه شامي زکريا ۱/ ۱۲۶ قبيل مطلب في فرض الکفاية وفرض العين، فتاوی محموديه ج۶ ص ۳۲ باب اول: علم کا بيان).

(۲) خطباتِ حکيم الامت ج۲ ص ۱۹۲ موضوع تعميم العلم.

(۳) کشف الباري ج۳ ص ۳۲ کتاب العلم باب فضل العلم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځکه که صرف د يو څو لړو معلوماتو نوم علم وي نو بيا خو په کار ده چې حيوانات هم علماء وي، ځکه بعضو حيواناتو ته هم څه نا څه معلومات وي. الله ﷻ په قرآن مجيد کې فرمايي:

﴿ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِنْ تَتَّقُوا اللَّهَ يَجْعَلْ لَكُمْ فُرْقَانًا ﴾. (۱)

ترجمه: اې مومنانو! که چېرته تاسو د الله ﷻ نه او وېرېږئ او متقيان جوړ شئ نو الله ﷻ به په تاسو کې فُرقان پيدا کړي.

(فُرْقَان: دا هغه داخلي قوت دی چې د دې په وجه انسان د حق او باطل په مينځ کې تمييز کولې شي). (۲)

## په علم او معلوماتو کې فرق دې

حکيم الامت حضرت مولانا اشرف علي تهانوي رحمه الله فرمايي چې علم ځانله شی دی، او معلومات ځانله شی دی، علم د زياتو معلوماتو نوم نه دی، بلکه علم هغه دی چې د هغې په وجه د انسان نه انسان جوړېږي، سړې پرې د الله ﷻ او د هغه د رسول ﷺ پېژندګلي کولې شي، او د دغه معلوماتو په وجه انسان صحيح نتيجې ته رسيدې شي، يعنی په ده کې تقوی، پرهيز ګاري او د سنتو تابعداري پيدا شي، او په خپل علم يې عمل وي نو بيا دا علم دی.

ځکه که صرف په معقولاتو معلومولو سره سړې عالِم کيدې نو بيا خو په کار وه چې اَرسطو او جالينوس لوي لوي علماء وې، که صرف په ادب او عربي ويلو سره سړې عالم کيدې نو په کار دا وه چې ابو جهل او ابو لهب لوي لوي علماء وې ځکه دوی په عربی ښه پوهيده او ډېر فصاحت او بلاغت يې لرل. لهذا معلومه شوه چې علم فقط د ډېرو معلوماتو نوم نه دی.

**مثال**: د مثال په ذريعه دا خبره ښه واضح کيدې شي چې دوه کسان د سيل د پاره ووت، يو يکې ډېر زيات اوګرځيده او ډېرې علاقې يې اوکتې، خو د ده د سترګو نظر کمزورې دی، او دويم کس لږ اوګرځيده، لږې علاقې يې اوکتې خو د ده د سترګو نظر ښه تيز دې.

نو دا اول کس اګر چې ډېر ګرځيدلې، ځايونه يې ډېر ليدلي خو چونکه د نظر د کمزورتيا په وجه د يو شي په حقيقت هم پوره نه دی پوهه شوې، او دا دويم کس اګر چې د لږو علاقو په باره

---

(۱) الانفال آيت ۲۹.

(۲) جواهر حکمت، ---: المدارس ج۱ ص ۳۹۶.

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې معلومات لري خو د نظر د تيز والي په وجه د هرشي په حقيقت پوره پوهه شوې او د هرې علاقې پوره معلومات ورته شته.

دغه شان چې د کوم سړي سره معلومات وي خو بصيرتِ قلبي، تقوی او لِلّهيت ورسره نوي نو دې د اَشياؤ په حقيقت پوره نه پوهيږي او ددې معلوماتو نه کما حقّهٗ فايده نشي اخيستې، ځکه دده بصيرتِ قلبي نشته.

او د چا سره چې بصيرتِ قلبي وي، زړه کې يې تقوی او پرهيزگاري وي او علمِ نافع ورسره وي نو بيا دې د دغه معلوماتو نه پوره فايده اخيستې شي، ځکه دې د اشياؤ په حقيقت باندې ښه پوهيږي. (۱)

دغه وجه ده چې نبي کريم صلی الله عليه وسلم به د علمِ نافع سوال کولو (اَللّٰهُمَّ اِنِّيْ أَسْئَلُكَ عِلْمًا نَافِعًا .... يا الله! زه تا نه د علمِ نافع سوال کوم (۲)).

او د علمِ غير نافع نه به يې پناه غوښته. حکماء وايي:

علمے که راه حق ننمايد جهالت است:

کوم علم چې انسان ته حق لاره نه ښايي هغه جهالت دی.

## علم لوي نعمت دی

حضرت سليمان عليه السلام سره د ټولې دُنيا بادشاهي وه (ځکه هغه دُعا کړې وه:

﴿ رَبِّ اغْفِرْ لِي وَهَبْ لِي مُلْكًا لَّا يَنْبَغِي لِأَحَدٍ مِّنْ بَعْدِي إِنَّكَ أَنْتَ الْوَهَّابُ ﴾ (۳)

---

(۱) التبليغ، تحفة المدارس ج۱ ص ۳۵۰.

(۲) **د علمِ نافع تعريف**: امام غزالي رحمه الله د علمِ نافع تشريح داسې کړې: اَلْعِلْمُ النَّافِعُ مَا يَزِيْدُ فِيْ خَوْفِكَ مِنَ اللهِ... علمِ نافع هغه دې چې په هغې سره ستا په زړه کې د الله ﷻ خوف او ويره زياته شي. او ددې په وجه تا ته په خپلو عيبونو باندې بصيرت حاصل شي، د الله ﷻ معرفت درته نصيب شي، په عباداتو درته توفيق ملاؤ شي، د دُنيا سره دې مينه کمه شي، او آخرت طرف ته دې رغبت پيدا شي، د کومو کارونو په وجه چې ستا نيک اعمال ختميږي په هغې باندې ستا د بصيرت سترګې کلاؤ شي او د شيطان په مکرونو باندې خبردار شې. (تحفة المدارس ج۱ ص ۳۵۴).

(۳) سورة ص آيت ۳۵.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ترجمه : اې ربه ! ماته بخښنه وکړه او داسې بادشاهي راله راکړه چې (په دې زمانه کې ) د ما نه روستو بل هیچاته حاصله نه شي ، بیشکه ته ډیر هبه کوونکې ذات یې . )

لیکن د دې دومره لوي حکومت باوجود هغه بیا هم په حکومت باندې فخر نه کولو بلکه په خپل علم یې فخر کولو ( ځکه هغه ویلي وو :

﴿ يَا أَيُّهَا النَّاسُ عُلِّمْنَا مَنطِقَ الطَّيْرِ وَأُوتِينَا مِن كُلِّ شَيْءٍ إِنَّ هَذَا لَهُوَ الْفَضْلُ الْمُبِينُ ﴾. (١)

ترجمه : اې خلقو ! مونږ ته د مرغانو ژبه ښودل شوې ، او مونږ ته هر قسم څیزونه راکړل شوي، بیشکه همدا ښکاره فضل دی ) .

نو چې کله حضرت سلیمان عليه السلام د مرغانو په ژبه پوهیدلو علم باندې فخر کولو ، نو اوس که یو مسلمان سره د الله جل جلاله د کتاب او احادیثو علم وي نو بیا خو په طریقِ اولی باندې دده د پاره د خوشحالۍ ذریعه ده او لوي نعمت دی . (٢)

نو چاته چې الله جل جلاله دا لوي نعمت ورکړې وي نو ده ته په دې باندې د الله جل جلاله ډیره شکریه په کار ده . د علم په فضیلت کې حضرت علي رضی الله عنه څه اشعار ویلي :

١ . رَضِينَا قِسْمَةَ الْجَبَّارِ فِينَا * لَنَا عِلْمٌ وَلِلْجُهَّالِ مَالُ

٢ . فَإِنَّ الْمَالَ يَفْنِيْ عَنْ قَرِيْبٍ * وَإِنَّ الْعِلْمَ يَبْقىٰ لَايَزَالُ . (٣)

١ . مونږ د الله جل جلاله په تقسیم راضي یو ، چې هغه مونږ ته علم راکړې او جاهلو ته یې مال ورکړې .

٢ . ځکه مال به عنقریب فناء شي ، او علم به همشه باقي وي .

## د الله جل جلاله په نزد د علم مقام

د الله جل جلاله په نزد د علم ، علماو او طلباو ډیر لوي مقام دی نو که دُنیادار خلق د علم اهمیت نه

(١) النمل آیت ١٦ .

(٢) فَافْتَخَرَ ( سلیمان عليه السلام ) بکونه عالمًا بمنطق الطیر . فإذا حَسن من سلیمان أَنْ یفتخرَ بذلک العلم . فلان یحسن بالمؤمن أن یَفتخِرَ بمعرفة ربِّ العالمین کان أحسن . تفسیر کبیر ج١ ص ٢٥٧ آیت ٢١ .

(٣) تعلیم المتعلم فصل في الجدّ والمواظبة والهمّة ، کامیاب طالب علم ص ١٨ ، طلباء کے لے مثالي تدمفه .

(c) ketabton.com: The Digital Library



پیژني ، عالِم یا طالب العلم ته په بنه سترګه نه ګوري نو هیڅ پروا ه نشته ، ځکه مونږ چې د قیامت په ورځ د کوم پروردګار د وړاندې پیش کیږو هغه خو د دې اهمیت پیژني .

## د یو طالب العلم واقعه :

یو طالب مدرسې ته د سبق د پاره روان ؤ ، په لاره کې ورسره د یو دُنیادار ، انګریزي خوان ملاقات وشو ، ورته وې ویل : چې طالبه ! هسې ځان مه ستړې کوه که مُلا شې نو نه خو تا ته څوک نَوکري درکوي ، او نه به درسره څه سهولتونه وي ، او نورې ډیرې خبرې یې ورته وکړې .

طالب چې دا خبرې واوریدې نو زړه یې مات شو ، حوصله یې د لاسه ورکړه . بیا به سبق ته نه تللو ، په کور کې به ناست ؤ .

استاذ یې خبر شو چې دې طالب د انګریزي خوان د غلطو خبرو په وجه علم پریښې ، نو ځکه سبق ته نه راځي . نو دا استاذ یې ډیر هوښیار ؤ ، راغې ، او دې طالب ته یې یو کاڼړې ورکړو او ورته وې ویل چې لاړ شه او هغه مخامخ د سبزۍ دُکان ته ورشه ، د هغه نه دوه کلو ګازرې راوړه ، که روپۍ یې غوښتې نو دا کاڼړې ورکړه .

دې چې هلته ورغې او هغه دُکاندار ګازرې او تللې ، نو د روپو په عوض کې ده ورته دا کاڼړې ورکړو ، هغه دُکاندار ورته وویل : چې یا خو روپۍ راکړه او یا دا ګازرې واپس کیده ، زه په دې کاڼړي څه شی کوم .

دې واپس راغې ، کاڼړې یې راوړو ، استاذ ته یې خبره وکړه ، استاذ ورته وویل چې ته لاړ شه او د فلاني مَنیارۍ واله دُکاندار ته ورشه چې هغه درله په دې کاڼړي څومره شیان درکوي .

دې چې هلته ورغې ، نو هغه ورته وویل چې زه به د دې کاڼړي په عوض کې د زرو (۱۰۰۰) روپو شیان درکړم . دې حیران شو ، واپس راغې او استاذ ته یې دا خبره وکړه .

استاذ ورته وویل : چې ته اوس لاړ شه ، او د فلاني زَرګر دُکان ته ورشه چې هغه درله په دې کاڼړي څومره روپۍ درکوي ، دې چې هغه ته ورغې نو هغه ورته وویل چې زه به درله د دې کاڼړي په عوض کې پنځوس زره (۵۰۰۰۰) روپۍ درکړم . دې نور هم حیران شو .

استاذ ته راغې ، او ورته وې ویل چې جناب ! زه خو په دې راز پوهه نه شوم چې د همدې کاڼړي په عوض کې د سبزۍ واله دُکاندار دوه (۲) کلو ګازرې نه راکولې ، د مَنیارۍ واله راله پرې د زرو روپو شیان راکول ، او زرګر راله پرې پنځوس زره (۵۰۰۰۰) روپۍ راکولې . دا ولې ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



استاذ ورته وويل : چې طالبه ! دا عام کانړی نه دی ، بلکه دا قيمتي کانړی ( هيره ) دی . د سبزی واله دُکاندار نه پیژندو نو ځکه یې پرې درله دوه کلو گازرې هم نه درکولې ، د منیاری واله دُکاندار څه لږ پیژندو نو ځکه یې پرې د زرو روپو شيان درکول ، او زرگر پوره پیژندلو نو ځکه یې پرې پنځوس زره ( ۵۰۰۰۰ ) روپۍ درکولې .

اې طالبه ! دغه شان عِلم هم دی ، دُنيا دار او انگريزي خوان ته ددې د قدر څه پته ده چې د علم څومره لوي اهميت دی ؟

د طالب په پوهه کې خبره راغله ، او دوباره يې د علم زده کړه شروع کړه .

د خدای شان گوره چې يو څو ورځې پس د وخت بادشاه ته يوه مسئله پيښه شوه : هغه خپلې ښځې ته ويلي وو : چې که ته د سپوږمۍ نه زياته ښائسته نه يې نو ته دې په ما باندې په درې (۳) کانو طلاقه يې .

دا مسئله هيچا ته معلومه نه وه ، بادشاه هم دې اُستاذ ته کس راوليږل ، استاذ هم دغه شاگرد ته وويل : چې ته ورشه ، او بادشاه ته دا مسئله بيان کړه چې دا ښځه په تا باندې نده طلاقه ، ځکه انسان د سپوږمۍ نه ښکلې دی . الله تعالى فرمايي :

﴿لَقَدْ خَلَقْنَا الْإِنْسَانَ فِي أَحْسَنِ تَقْوِيمٍ﴾ .(۱)

ترجمه : بيشکه مونږ انسان په ډير ښه صورت پيدا کړی .

دې ورغې ، او د بادشاه د وړاندې يې دا مسئله بيان کړه ، بادشاه خوشحاله شو او ډير لوي انعام يې ورکړو ، سورلي يې ورکړه ، او خلقو ته يې وويل چې دا ډير په عزت سره کور ته ورسوئ

شاگرد حيران شو چې بادشاه دومره ډير انعامات راکړه ، او زما يې ډير قدر وکړو .

**فايده** : بادشاه دده دا دومره عزت ځکه وکړو چې بادشاه ته د علم د قدر پته وه . نو که نن صبا جاهِل خلق عِلم ، علماؤ او طلباؤ ته په ښه سترگه نه گوري ، نو هيڅ پرواه نشته ، ځکه دوی ته د علم قدر څه معلوم دی ؟ قدرِ زر زرگر شناسد ، قدرِ جوهر جوهري

لهذا هر طالب او عالم له دا شکريه پکار ده چې الله جل جلاله په دومره ډيرو مخلوقاتو کې دې د خپل دين د خدمت د پاره وقف کړو . (۲)

---

(۱) التين آيت ۴ .

(۲) خطبات فقير ج۳۲ ص ۱۱۵ .

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د علم باوجود په احساس کمترئ کې مبتلاء کیدل نه دي په کار

حکیم الاسلام قاري محمد طیب رحمه الله فرمايي چې اهلِ علمو ته دا سوچ نه دې په کار چې که زه علم حاصل کړم نو بیا به خوراک د کوم ځای نه خورم، او روپۍ به څنګه پیدا کوم؟ ځکه دا ډیر کمزورې او نامناسبه سوچ دی.

وجه داده چې کله یو کس ته الله ﷻ دا عظیم نعمت (عِلم) ورکړي او دې بیا هم په هغې باندې خوشحاله نه وي، هر وخت د دُنیا پیدا کولو په فکر کې ډوب وي او زړه یې د دُنیا د محبت نه ډک وي نو دا کس خو د قرآن مجید د آیت:

﴿ أَتَسْتَبْدِلُونَ الَّذِيْ هُوَ أَدْنَىٰ بِالَّذِيْ هُوَ خَيْرٌ ﴾ مصداق ګرځي. ځکه چې کله دده سره د علم غوندې اشرف شی شته نو دې بیا د ادنیٰ شی (دُنیا) په حاصلولو کې ولې دومره فکرمند دی؟

دې خو بیا ډیر ناقدره انسان دی، چې د عظیم شئ په مقابله کې اَرزل او کمزورې شی غواړي. دا خو بیا د یهودو غوندې قصه ده چې الله ﷻ ورته د "مَنّ" او "سَلْوىٰ" غوندې ښکلي نعمتونه ورکول، لیکن هغوی سَابه (ساګ)، مسور او پیاز غوښتنه. (۱)

لهذا څوک چې الله ﷻ ددې کار دزده کړې یا خورَولو پاره منتخب کړي نو دوی ته په دې باندې د الله ﷻ ډیره شکریه په کار ده، ځکه عِلم خو د الله ﷻ صفت دی.

## علم د الله صفت دې

حکیم الاسلام قاري محمد طیب رحمه الله فرمايي: چې اهلِ علمو ته الله ﷻ ډیر لوي عزت او مقام ورکړې، ځکه علم خو د الله ﷻ صفت دی نو په چا کې چې علم راشي ګویا دې الله ﷻ خپل نماینده مقرر کړې چې ته زما دا صفت په دُنیا کې خُور کړه.

او مال خو بدلیدونکې او زائله کیدونکې شی دی، او دا د معدې صفت دی.

بل دا چې عِلم انسان د الله ﷻ طرفته بوځي، او مال انسان طُغیان او سرکشۍ طرفته بوځي.

---

(۱) خطبات حکیم الاسلام ج۱ ص۴۵۶.

(c) ketabton.com: The Digital Library



نو اوس ځانته چې الله ﷻ دا لوي نعمت ورکړی وي او دې بیا هم په دې باندې د الله ﷻ شکریه نه اداء کوي او هر وخت یې زړه د دُنیا د محبت نه ډک کړی وي نو یقیني چې دا انسان ډیر بې قدره، ناشکره او کم عقل دی. (۱)

# د علم په برکت زړه ور کیدل

د علم په برکت سره په انسان کې داسې قوت پیدا کیږي چې اګرچې دې ښه کمزوری وي خو بیا هم په ده کې دومره زړه ورتیا راځي چې دې بیا خپله خبره په هر میدان کې پوره داډه طریقې سره کولې شي.

لکه د حضرت سلیمان علیه السلام په باره کې راځي چې کله هُدهُد مارغه غائب و نو حضرت سلیمان عليه السلام او فرمایل:

﴿ لَأُعَذِّبَنَّهُ عَذَابًا شَدِيدًا أَوْ لَأَذْبَحَنَّهُ أَوْ لَيَأْتِيَنِّي بِسُلْطَانٍ مُّبِينٍ ﴾. (۲)

ترجمه: زه به خامخا ده ته سخته سزا ورکړم، یا به یې ذبح کړم، او یا به ماته (د غیر حاضرۍ) څه ښکاره دلیل پیش کوي.

نو چې کله هُدهُد مارغه راغې، دا اګرچې کمزوری مرغه و خو چونکه دده سره د قومِ سبا متعلق علم او معلومات وُ، نو د حضرت سلیمان عليه السلام په وړاندې یې په ډیر زړه ورتیا سره خبره وکړه، او وې ویل:

﴿ أَحَطتُ بِمَا لَمْ تُحِطْ بِهِ ﴾. (۳)

ترجمه: ما احاطه کړې په داسې خبره باندې چې تا احاطه نده کړې په هغې باندې (یعنی ماته داسې یوه خبره معلومه ده چې تاته د سره معلومه نده).

(۱) خطبات حکیم الاسلام ج ۱، تحفة المدارس ج ۱ ص ۴۵۶.

(۲) النمل ۲۱.

(۳) النمل ۲۲

(c) ketabton.com: The Digital Library



**فايده** : اوګوره ! هُدْ هُدْ چې د لږو معلوماتو په وجه يې د حضرت سليمان د وړاندې په کوم انداز کې خبره وکړه ؟ نو که چيرته دده سره د قومِ سبا متعلق معلومات نه وې ، نو چيرته هُدْ هُدْ ، او چيرته د حضرت سليمان عليه السلام د وړاندې داسې زَړه وره خبره کول ؟ (۱)

## عِلم يو قوت دی

علم يو طاقت او يو قوت دی ، چاته چې الله ﷻ دا قوت ورکړې نو هغه بيا الله ﷻ په دُنيا کې سَرلوړې او کاميابه ګرځولې .

حضرت سليمان عليه السلام ته چې د بلقيس راتلو پته اولګيده نو خپلو درباريانو ته يې وويل :

﴿ يَا أَيُّهَا الْمَلَأُ أَيُّكُمْ يَأْتِينِي بِعَرْشِهَا قَبْلَ أَنْ يَأْتُونِي مُسْلِمِينَ ﴾ . (۲)

ترجمه : اې سردارانو ! څوک به له تاسو نه ماته د هغې ( مَلکې ) تخت راوړي ، وړاندې ددې نه چې دوی ماته تابعدار راشي ؟

نو په جِنّاتو کې يو مضبوط جِن ( عفريت ) وويل :

﴿ أَنَا آتِيكَ بِهِ قَبْلَ أَنْ تَقُومَ مِنْ مَقَامِكَ ﴾ . (۳)

ترجمه : زه به تاته د هغې تخت راوړم ، وړاندې ددې نه چې ته د خپل ځای نه پاځې .

( حضرت سليمان عليه السلام اوفرمايل دا خو ډير وخت دی )

﴿ قَالَ الَّذِي عِنْدَهُ عِلْمٌ مِنَ الْكِتَابِ أَنَا آتِيكَ بِهِ قَبْلَ أَنْ يَرْتَدَّ إِلَيْكَ طَرْفُكَ ﴾ . (۴)

ترجمه : وويل هغه کس چې د هغه سره علم د کتاب وُ ، زه به تاته دا تخت ستا د سترګو د رَپ نه هم وړاندې راوړم .

( اکثر مفسرين لکه قرطبي او ابن جرير وايي : چې دا د حضرت سليمان عليه السلام دوست وُ ، يا د هغه د تره ځوي وُ ، اسم اعظم ورته ياد و ) .

---

(۱) فلولا انّ العلمَ أشرف الاشياء والّا فمن أين [illegible] هُد آنْ يتكلّمَ في مجلس سليمان بمثل هذا الكلام . ولذلک يَرى الرجلُ الساقِطُ اذا تَعَلّم العلمَ صارَ نافذَ القولِ عندَ السلاطينِ وما ذلک الا ببركةِ العلم . تفسير كبير ج۱ ص۴۰۷ .

(۲) النمل آيت ۳۸ .

(۳) النمل آيت ۳۹ .

(۴) النمل آيت ۴۰ .

نو د علم په برکت سره الله تعالى ده ته دومره لوي قوت ورکړې ؤ چې د سترګو په رَپ کې يې د بلقيس تخت راأورسول . (۱)

## د علم زده کوونکي د پاره د جنت بشارت

نبي کريم صلى الله عليه وسلم فرمايي :

مَنْ سَلَكَ طَرِيْقًا يَلْتَمِسُ فِيْهِ عِلْمًا سَهَّلَ اللهُ لَهُ طَرِيْقًا إِلَى الْجَنَّةِ . (۲)

څوک چې د علم په طلب کې په يوه لاره باندې ځي نو الله تعالى به دده د پاره د جنت لاره آسانه کړي .

په يو بل حديث کې نبي عليه الصلوة والسلام فرمايي :

مَنْ غَدَا يُرِيْدُ الْعِلْمَ يَتَعَلَّمُهُ لِلّٰهِ فَتَحَ اللهُ لَهُ بَابًا إِلَى الْجَنَّةِ . (۳)

څوک چې د علم د زده کړې په اراده باندې اُووځي او خالص د الله ﷻ د رضا دپاره علم حاصلوي نو الله ﷻ به ده ته د جنت دروازه خلاصه کړي .

ابونعيم په رياضة المتعلّمين کې د نبي کريم صلى الله عليه وسلم يو حديث مبارکه رانقل کړې نبي عليه السلام فرمايي :

مَا مِنْ رَجُلٍ تَعَلَّمَ كَلِمَةً أَوْ كَلِمَتَيْنِ أَوْ ثَلَاثًا أَوْ أَرْبَعًا أَوْ خَمْسًا مِمَّا فَرَضَ اللهُ عَزَّ وَجَلَّ فَيَتَعَلَّمُهُنَّ وَيُعَلِّمُهُنَّ إِلَّا دَخَلَ الْجَنَّةَ .

څوک چې د الله تعالى د فرائضو نه يوه خبره ، يا دوه ، يا درې ، يا څلور ، يا پنځه خبرې زده کړي ، او بيا يې بل ته هم اوښايي ، نو دا کس به ضرور جنت ته داخليږي .

راوي د حديث حضرت ابو هريرة رضى الله عنه فرمايي :

---

(۱) معارف القرآن .

(۲) اخرجه البخاري في العلم ۱۰ ، والترمذي في القرآن ۱۰ وفي العلم ۱۹ ، ۳۵ ، وابن ماجه في المقدمة ۱۷ ، واحمد ۲، ۲۵۲ . ۳۲۵ . ۴۰۷ . ابوداود (۳٦۴۱) ، (۳٦۴۲) ، وابن ماجه (۲۲۳) و ابن حبان (۸۰) ورواه الترمذي (۲٦۸۳) ، مشکوة ص ۳۲ کتاب العلم ، الترغيب ج۱ ص ۵۹ الترغيب في الرحلة في طلب العلم .

(۳) اخرجه ابوداود في العلم باب ۱ والترمذي في العلم باب ۱۹ وابن ماجه في المقدمة باب ۱۷ وابن حبان في صحيحه ، الترغيب والترهيب ج۱ ص ٦۰ کتاب العلم الترغيب في الرحلة في طلب العلم .

(c) ketabton.com: The Digital Library



فَمَا نَسِيتُ حَدِيثًا بَعْدَ إِذْ سَمِعْتُهُنَّ مِنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. (۱)

د دې نه پس چې ما د نبي کريم صلی الله نه کومه خبره اوريدلې، هغه مې هيڅکله نه ده هيره کړې.

## د علم زده کړه د نفلي عباداتو نه بهتره ده

حضرت ابن عباس رضی الله تعالی عنهما فرمايي:

تَدَارُسُ الْعِلْمِ سَاعَةً مِنَ اللَّيْلِ خَيْرٌ مِنْ إِحْيَاءِهَا. (۲)

د شپې لږ ساعت د علم دَرس کول د ټولې شپې د عبادت نه بهتر دی.

يعنی د شپې په لږه حصه کې تعليم او تعلّم د ټولې شپې د عبادت نه ډير بهتر دی.

حضرت ابو الدرداء رضی الله عنه فرمايي:

لَأَنْ أَتَعَلَّمَ مَسْأَلَةً أَحَبُّ إِلَيَّ مِنْ قِيَامِ لَيْلَةٍ. (۳)

زه چې د علم يوه مسئله زده کړم دا ماته د ټولې شپې د عبادت ډيره خوښه ده.

حضرت ابو الدرداء رضی الله عنه فرمايي:

مَنْ رَأَىٰ أَنَّ الْغُدُوَّ إِلَى الْعِلْمِ لَيْسَ بِجِهَادٍ فَقَدْ نَقَصَ فِي رَأْيِهِ وَعَقْلِهِ.

څوک چې دا ګمان کوي چې د علم د پاره سفر کول جهاد نه دی نو د ده په رايه او عقل کې نقصان دی.

حضرت ابو هريرة ﷺ فرمايي:

لَأَنْ أَجْلِسَ سَاعَةً فَأَفْقَهَ أَحَبُّ إِلَيَّ مِنْ أَنْ أُحْيِيَ لَيْلَةَ الْقَدْرِ. (۴)

زه چې د لږ ساعت د پاره کينم او علم زده کړم، نو دا ماته د ليلة القدر د ټولې شپې د عبادت نه ډيره خوښه ده.

---

(۱) رواه ابونعيم واسناده حسن والهندي في الكنز ۲۸۸۵۸ ، الترغيب والترهيب ج۱ ص۵۴ كتاب العلم الترغيب في العلم وطلبه وتعلمه وتعليمه.

(۲) رواه الدارمي مشكوة ص ۳۶ كتاب العلم الفصل الثالث ، احياء العلوم ج۱ ص ۱۹ كتاب العلم.

(۳) تنبيه الغافلين ص ۱۹۹ باب فضل طلب العلم ، احياء العلوم ج۱ ص ۲۱.

(۴) رواه الدارقطني والبيهقي ، الترغيب والترهيب ج۱ ص ۵۸ كتاب العلم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



امام شافعي رحمه الله وايي : طَلَبُ الْعِلْمِ أَفْضَلُ مِنَ النَّافِلَةِ . (۱)
د علم زده کول د نفلي عبادت نه ډير بهتر دي .

ځکه د نفلي عبادت نفع صرف ده ته رسي او د علم زده کولو او خورولو نفع ده ته په دې ژوندکې هم رسي او دده د وفات کيدو نه پس هم ده ته رسي ، او چا ته چې يې خودلې وي او هغوی پرې عمل کوي نو د هغې اجر هم ده ته رسي .

حديث کې راځي :

مَنْ عَلَّمَ عِلْمًا فَلَهُ أَجْرُ مَنْ عَمِلَ بِهِ لَايَنْقصُ مِنْ أَجْرِ الْعَامِلِ . (۲)

چاچې بل چا ته علم اوخوده ، او په دې علم څوک هم عمل کوي نو دا معلِم به هم د هغه سره په ثواب کې شريک وي او د عمل کوونکي په اجر کې به څه کمې هم نه راځي .

په يو بل حديث کې دا شان الفاظ ذکر دي :

مَنْ دَعَا إِلَى هُدًى كَانَ لَهُ مِنَ الْأَجْرِ مِثْلُ أُجُوْرِ مَنْ تَبِعَهُ لَايَنْقُصُ ذَلِكَ مِنْ أُجُوْرِهِمْ شَيْئًا . (۳)

چاچې د نيکۍ کار ته بلنه وکړه ، نو چاچې دده تابعداري وکړه ده ته به د هغوی د ثواب هومره ثواب حاصليږي ، او د هغوی په ثوابونو کې به څه کمې نه کيږي .

## د علم زده کړه او بل ته خودل بهترينه صدقه ده

نبيٌ عليه السلام فرمايي :

أَفْضَلُ الصَّدَقَةِ أَنْ يَتَعَلَّمَ الْمَرْءُ الْمُسْلِمُ عِلْمًا ثُمَّ يُعَلِّمُهُ أَخَاهُ الْمُسْلِمِ . (۴)

---

(۱) احياء العلوم ج۱ ص ۲۱ كتاب العلم .

(۲) رواه ابن ماجه في المقدمة ۲۰ ، واحمد ۵/ ۲۶۹

(۳) هذا الحديث اخرجه ابوداود في السنة باب لزوم السنة ۴۶۰۹ ، ومسلم باب من سنّ سنّة حسنة او سيّئة ومن دعا الى هدى او ضلالة ، والترمذي في العلم ۲۶۷۶ ، وابن ماجه في المقدمة باب من سنّ سنة حسنة او سيئة ۱۹۴ .

ځکه نبي عليه السلام فرمايي : مَنْ سَنَّ فِي الْإِسْلَامِ سُنَّةً حَسَنَةً فَعُمِلَ بِهَا بَعْدَهُ كُتِبَ لَهُ مِثْلُ أَجْرِ مَنْ عَمِلَ بِهَا وَلَايَنْقُصُ مِنْ أُجُوْرِهِمْ شَيْءٌ . مسلم باب من سنّ سنّة حسنة او سيّئة ۶۷۵۶ / ۱۵ ، نسائي باب التحريض على الصدقة ۲۵۵۴ ، ابن ماجه باب من سنّ سنّة حسنة او سيّئة ۱۹۱ .

(۴) رواه ابن ماجه الحديث ۲۴۳ ، والمنذري في الترغيب ۹۸۸ والسيوطي في الدر المنثور ۱/ ۳۳۸ ، والهندي في الكنز ۶۲۵۷ .

بهترينه صدقه داده چې يو مسلمان بنده علم زده کړي او بيايې بل ورور مسلمان ته اوښايي.

نبي کريم صلی الله عليه وسلم حضرت علي رضی الله عنه ته او فرمايل :

لَأَنْ يَهْدِيَ اللهُ بِكَ رَجُلًا وَاحِدًا خَيْرٌ مِنْ حُمْرِ النَّعَمِ . (۱)

که چيرته ستا په وجه الله ﷻ يو کس ته هدايت وکړي ، نو دا ستاد پاره د سرو اوښانو (خيرات کولو) نه ډير بهتر دی .

## علمي مجالس د جنت باغيچې دي

يو پيره رسول الله صلی الله عليه وسلم صحابه کرامو ته او فرمايل :

إِذَا مَرَرْتُمْ بِرِيَاضِ الْجَنَّةِ فَارْتَعُوا .

چې کله تاسو د جنت په باغيچو باندې تيريږئ نو ښه او څريږئ (يعنی ښه فائده ورنه واخلئ) صحابه کرامو پوښتنه وکړه :

مَا رِيَاضُ الْجَنَّةِ ؟

رياض الجنة څه شی دی ؟

نبي عليه السلام ورته اوفرمايل :

مَجَالِسُ الْعِلْمِ . (۲)

د علم مجلسونه دي .

## د علم خورولو فائده انسان ته د مرګ نه پس هم رسيږي

نبي کريم ﷺ فرمايي :

إِذَا مَاتَ ابْنُ آدَمَ انْقَطَعَ عَمَلُهُ إِلَّا مِنْ ثَلَاثٍ : صَدَقَةٍ جَارِيَةٍ ، أَوْ عِلْمٍ يُنْتَفَعُ بِهِ أَوْ وَلَدٍ صَالِحٍ يَدْعُوْ لَهُ . (۳)

(۱) اخرجه البخاري (۲۷۸۳) ومسلم (۲۳۰۲)، وابوداود في العلم ۱۰ ، نزهة الناظرين .

(۲) رواه الترمذي كتاب الدعوات باب ۸۲ ، الحديث ۳۵۰۹، ۳۵۱۰ ، واحمد في مسنده ۳/ ۱۵۰ ، والبيهقي ۱/ ۳۲۲، الترغيب والترهيب ج۲ ص ۲٦۲ الترغيب في حضور مجالس الذكر والاجتماع على ذكر الله .

(۳) رواه مسلم في الوصية ۱۴ و ابوداود في الوصايا ۱۴ والترمذي في الاحكام ۳٦ ، واحمد ۲/ ۳۷۲ ،والنسائي في الوصايا ۸.

(c) ketabton.com: The Digital Library



کله چې یو انسان مړ شي نو د عمل د ثواب سلسله د ده نه منقطع شي، مګر د درې (۳) شیانو د ثواب سلسله بیا هم باقي وي (یعنی د ده د مرګ نه روستو هم د ده پسې د هغې ثواب وررسي): اول صدقه جاریه، دویم هغه عِلم چې د هغې نه نفعه حاصلولې شي، او دریم هغه نیک اولاد چې ده ته دُعاګانې کوي.

په یو بل حدیث کې څه نور تفصیل هم ذکر دې، نبي کریم ﷺ فرمایي:

إِنَّ مِمَّا يَلْحَقُ الْمُؤْمِنَ مِنْ عَمَلِهِ وَحَسَنَاتِهِ بَعْدَ مَوْتِهِ عِلْمًا عَلَّمَهُ وَنَشَرَهُ . وَوَلَدًا صَالِحًا تَرَكَهُ أَوْ مُصْحَفًا وَرَّثَهُ . أَوْ مَسْجِدًا بَنَاهُ . أَوْ بَيْتًا لِابْنِ السَّبِيلِ بَنَاهُ . أَوْ نَهْرًا أَجْرَاهُ . أَوْ صَدَقَةً أَخْرَجَهَا مِنْ مَالِهِ فِي صِحَّتِهِ وَحَيَاتِهِ تَلْحَقُهُ مِنْ بَعْدِ مَوْتِهِ . (۱)

بیشکه مؤمن ته چې د مرګ نه پس هم د کوم عمل یا د نیکیو ثواب رسیږي، په هغې کې اول هغه عِلم دی چې دې یې زده کړي او بیا یې نورو ته هم اورسوي،

دویم: هغه نیک اولاد دی چې ده د خپل ځان نه روستو پریښې وي (او هغه د ده د پاره دُعاګانې کوي)، دریم: هغه قرآن مجید دی چې ده د وارثانو د پاره یې پریښې وي (او هغوی په دې کې تلاوت کوي)،

څلورم: هغه جُمات (مسجد) دی چې ده په خپل ژوند کې جوړ کړې وي، پنځم: هغه کور دی چې د مسافرو د پاره یې جوړ کړې وي، شپږم: هغه نهر دی چې ده جاري کړې وي (یعنی ده کنستې وي)، اووم: هغه صدقه ده چې ده د تندرستی په حالت کې په خپل ژوند کې د خپل مال نه ویستې وي، نو د دې ټولو شیانو اَجر او ثواب به انسان ته د مرګ نه پس هم رسیږي.

## د علم په طلب کولو سره ګناه معاف کیدل

نبي کریم ﷺ فرمایي:

مَا مِنْ عَبْدٍ يَطْلُبُ الْعِلْمَ إِلَّا كَانَ كَفَّارَةً مَا تَقَدَّمَ . (۲)

کوم بنده چې علم طلب کوي نو دا د ده د پاره د مخکیني ګناهونو کفاره ګرځي.

(۱) رواه ابن ماجه باسناد حسن المقدمة باب ۲۰ والبیهقي و رواه ابن خزیمة في صحیحه، الترغیب والترهیب ج ۱ ص ۵۵ الترغیب في العلم وطلبه وتعلمه وتعلیمه، مشکوة ص ۳٦ کتاب العلم الفصل الثالث.

(۲) رواه الترمذي في کتاب العلم باب ٦ والطبراني في الکبیر، الترغیب والترهیب ج۱ ص ۵۳ الترغیب في العلم وطلبه وتعلمه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



حضرت عطاء رحمه الله وايي:

مَجْلِسُ عِلْمٍ يُكَفِّرُ سَبْعِيْنَ مَجْلِسًا مِنْ مَجَالِسِ اللَّهْوِ. (۱)

د علم يو مجلس د اوياو (۷۰) لهوه مجالسو كفاره ګرځي.

## د علم زده كړه بهترين عمل دى

يو كس د نبي كريم صلى الله عليه وسلم نه پوښتنه وكړو:

أَيُّ الْأَعْمَالِ أَفْضَلُ؟

په عملونو كې كوم يو عمل ډير افضل دى؟

نبي كريم ﷺ ورته او فرمايل: اَلْعِلْمُ. يعنى علم بهترين عمل دى.

هغه كس په دويمه پيره او په دويمه پيره همدغه پوښتنه وكړو، نبي كريم صلى الله عليه وسلم ورته همدغه جواب وركړو. بيا هغه سړي عرض وكړو:

يَا رَسُوْلَ اللهِ! عَلَيْكَ السَّلَامُ إِنِّيْ أَسْئَلُكَ عَنِ الْعَمَلِ.

اى د الله رسوله! په تاسو دې سلامتيا وي زه خو پوښتنه درنه د عمل كوم (او تاسو راته جواب كې علم يادوئ).

نبي عليه السلام ورته او فرمايل:

هَلْ يَقْبَلُ اللهُ الْأَعْمَالَ إِلَّا بِالْعِلْمِ. (۲)

الله ﷻ خو صرف هغه عمل قبلوي چې كوم د علم په رڼا كې شوې وي.

په يو روايت كې داسې الفاظ دي:

إِنَّ الْعِلْمَ يَنْفَعُكَ مَعَهُ قَلِيْلُ الْعَمَلِ، وَإِنَّ الْجَهْلَ لَا يَنْفَعُكَ مَعَهُ كَثِيْرُ الْعَمَلِ. (۳)

بيشكه علم به تاته نفعه دركوي اګر چې دده سره لږ عمل وي (يعنى كه لږ عمل هم د علم په رڼا كې اوكړې نو دا به تاته نفعه دركوي)، او جهل به تاته هيڅ نفعه نه دركوي اګر چې دده سره ډير عمل وي.

---

(۱) احياء العلوم ج۱ ص ۲۱ كتاب العلم.

(۲) بستان العارفين لابي الليث لسمرقندي ۳۰۴.

(۳) المستطرف في كل فن مستظرف ص ۲۶ الباب الرابع في العلم والادب وفضل العالم والمتعلم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



حضرت عبدالله بن مبارک رحمه الله د مرګ په حالت کې په بستره پروت ؤ، او يو کس ورسره ناست ؤ، هغه دده د پاره عِلمي مضمونونه ليکل، چا ورنه پوښتنه وکړه چې په دې حالت کې هم تاسو په دې علمي مشغله کې ځان مصروفه کړې؟ ده ورته وويل: چې کيدې شي داسې يو فايده منده خبره راته ملاؤ شي چې د دينه مخکې ما نوې اوريدلې. (۱)

## علم د مال نه په اووه (۷) وجوهاتو سره بهتر دی

حضرت علي رضی الله عنه فرمايي:

اَلْعِلْمُ أَفْضَلُ مِنَ الْمَالِ بِسَبْعَةِ أَوْجُهٍ:

أَوَّلُهَا: اَلْعِلْمُ مِيْرَاثُ الْأَنْبِيَاءِ، وَالْمَالُ مِيْرَاثُ الْفَرَاعِنَةِ.

اَلثَّانِيْ: اَلْعِلْمُ لَايَنْقُصُ بِالنَّفَقَةِ، وَالْمَالُ يَنْقُصُ.

وَالثَّالِثُ: يَحْتَاجُ الْمَالُ إِلَى الْحَافِظِ، وَالْعِلْمُ يَحْفَظُ صَاحِبَهُ.

وَالرَّابِعُ: إِذَا مَاتَ الرَّجُلُ يَبْقَى مَالُهُ، وَالْعِلْمُ يَدْخُلُ مَعَ صَاحِبِهِ قَبْرَهُ.

وَالْخَامِسُ: اَلْمَالُ يَحْصِلُ لِلْمُؤْمِنِ وَالْكَافِرِ، وَالْعِلْمُ لَايَحْصِلُ إِلَّا لِلْمُؤْمِنِ.

وَالسَّادِسُ: جَمِيْعُ النَّاسِ يَحْتَاجُوْنَ إِلَى صَاحِبِ الْعِلْمِ فِيْ أَمْرِ دِيْنِهِمْ وَلَايَحْتَاجُوْنَ إِلَى صَاحِبِ الْمَالِ.

وَالسَّابِعُ: يَقْوِى الرَّجُلُ عَلَى الْمُرُوْرِ عَلَى الصِّرَاطِ، وَالْمَالُ يَمْنَعُهُ. (۲)

علم د مال نه په اووه (۷) وجهو سره افضل دی:

اول: علم د انبياو ميراث دی، او مال د فرعونيانو ميراث دی.

دويم: علم خرچ کولو سره نه کميږي، او مال خرچ کولو سره کميږي.

(۱) نزهة الناظرين فی الاخبار والاخبار والآثار المروية عن الانبياء والصالحين ص ۱۲، تنبيه الغافلين ص ۲۰۰ باب فضل طلب العلم.

(۲) تفسير کبير ج۱ ص۴۰۳ آيت ۳۱.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دريم : مال يو حفاظت كوونكي ته محتاج وي ( چې ددې حفاظت وكړي ) ، او علم د خپل صاحب ( اهلِ علم ) حفاظت په خپله كوي .

څلورم : چې كله انسان مړ شي نو د ده مال دده نه پاتې شي ، او علم د خپل صاحِب ( عالم ) سره قبر ته هم داخليږي ( او په قبر كې هم د ده حفاظت كوي ) .

پنځم : مال مؤمن او كافر دواړو ته حاصليږي ، او علم صرف مؤمن ته حاصليږي .

شپږم : ټول خلق عالِم ته د دين په معامله كې محتاج دي ، او اهلِ علم مالدارانو ته محتاج نه دي .

اووم : د علم په وجه انسان په پُلِ صراط باندې په آسانه تيريږي ، او مال يې منعه كوي ( ځكه دده سره به حساب كتاب كولې شي ) .

امام شافعي رحمه الله فرمايي :

لَيْسَ بَعْدَ الْفَرَائِضِ أَفْضَلُ مِنْ طَلَبِ الْعِلْمِ . (۱)

د فرائضو نه روستو د علم نه بهترين شى بل نشته .

## علم الله ﷻ خپلو خاصو بندګانو ته ورکوي

قدرمنو ! په دنيا كې يو څو شيان ډير مشهور دي : ډاكټري ، انجينري ، او عِلم . خو په دې كې ډاكټري او انجينري په حيواناتو كې هم شته . (۲) ځكه بعضې مرغۍ په اُونو كې داسې نااشنا ، محفوظې او مضبوطې جالې جوړوي چې يو ماهِر او هوښيار انسان يې په مشينرۍ سره هم نشي جوړولې .

دغه رنګې په اطرافو كې يو بوټې دى چې سُنبل ورته وايې او ددې جرړې ته چُوبِ چيني وايي ، دا د زخم د پاره ډير فائده مند دى ، كله چې ځنګلي مرغۍ زخمي شي ( په خپه اولږي ) نو دا مرغۍ دغه بوټې رااُوباسي او خپلې جالې ته يې راوړي ، دهغې سره خپل زخم لږوي ، چې په دې سره د هغې زخم بند كيږي .

(۱) نزهة الناظرين في الاخبار والآثار المروية عن الانبياء والصالحين ص ۱۲ .

(۲) وشرفُ العلمِ لايَخفى على أحدٍ ، إذ هو مختصٌ بالانسانيةِ ، لِأنّ جميعَ الخِصَالِ سِوَى العِلمِ يَشْتَرِكُ فِيهَا الْإنسانُ وسائرُ الحيواناتِ : كالشجاعةِ ، وَالجرأةِ ، وَالقوّةِ وَالجُودِ ، والشفقةِ وغيرها سِوَى العِلمِ . وبه أظْهَرَ اللهُ تعالى فَضْلَ آدم عليه السلام على الملائكةِ وَأمَرَهم بالسجودِ لَهُ . تعليم المتعلم فصل في ماهية العلم والفقه وفضله .

(c) ketabton.com: The Digital Library



په حيوة الحيوان کې ليکلي دي چې د ابابيل مرغۍ (په عربۍ کې ورته خطاف وايي، په ځوماتونو کې اکثره ځانله د ختو نه جاله جوړوي، د دې مرغۍ) بچو ته چې کله د يَرقان بيماري اولګي نو دا مرغۍ يو قسم کاڼې دې هغه راوړي او په خپله جاله کې يې کيدي، چې په دې سره دغه بيماري ختمه شي (ډير خلق دغه جالې لټوي او د دې نه دغه کاڼې را اوباسي).

معلومه دا شوه چې انجينري او ډاکټري په حيواناتو کې هم شته.

البته صرف علم داسې يو شی دی چې داد الله ﷻ صفت دی، دا په حيواناتو کې نشته، بلکه په انسانانو کې هم هرچاته الله ﷻ دا نه ورکوي، صرف هغه بندګانو ته يې ورکوي څوک چې الله ﷻ ته خوښ وي.

## د علم د حصول جذبه فطري ده

د علم د حصول جذبه په هر انسان کې فطرتًا موجوده ده، مثلاً په يو ځای کې څه خلق راجمع وي، نو اوس چې هر څوک راځي نو دا پوښتنه ضرور کوي چې دلته څه شوي؟

نو دا پوښتنه کول دا هم د عِلم د حصول يوه جذبه ده. بلکه که يو سړی په څه کار کې مشغوله وي، نو ډير کرَت يو ماشوم راشي او هغه هم دا معلومول غواړي چې دې دا څه کوي؟ نو دا هم د علم د حصول يوه جذبه ده.

د دينه علاوه د عِلم نور ډير فضيلتونه هم په قرآن کريم او احاديثو کې راغلي دي. لهذا عقلمند کس هغه دی چې هغه د عِلم په زينت سره ځان مزيّن کړي، او خپل زړه د عِلم په رڼا سره منوّر کړي، او د علم د حصول د پاره همت او کوشش وکړي.

ځکه د استقامت، همت او کوشش په وجه انسان خپل منزلِ مقصود ته رسيدې شي او مشکلې مرحلې په آسانه پاس کولې شي.

## د علم د حصول دپاره کوشش په کار دی

الله تعالی فرمايي:

﴿وَالَّذِيْنَ جَاهَدُوْا فِيْنَا لَنَهْدِيَنَّهُمْ سُبُلَنَا﴾.(۱)

---

(۱) العنکبوت آيت ٦٩.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ترجمه : كوم خلق چې زمونږ په لاره کې کوشش کوي نو مونږ به په هغوی د هدايت دروازې خلاصې کړو . (۱)

﴿ إِن تَنصُرُوا اللَّهَ يَنصُرْكُمْ ﴾ . (۲)

ترجمه : که چيرته تاسو د الله ( د دين ) مدد وکړئ نو الله ﷻ به ستاسو مدد وکړي . (۳)

د عربي مقوله ده : مَنْ طَلَبَ شَيْئًا وَجَدَّ وَجَدَ ، وَمَنْ قَرَعَ الْبَابَ وَلَجَّ وَلَجَ . (۴)

څوک چې څه شی طلب کړي او کوشش ( جدّو جهد ) وکړي نو دې به دا شی بيامومي ، او څوک چې دروازه او ټکوي او په دې کې اقدام وکړي (يعني وروړاندې شي ) نو دې به په دې (کور) کې داخل شي .

زمونږ علما او اسلافو د دين د زده کړې د پاره دومره تکليفونه او مشقتونه برداشت کړي چې د نيا د هغې مثال پيش کولو نه عاجزه ده .

امام ابويوسف رحمه الله فرمايي :

اَلْعِلْمُ عِزٌّ لَا ذِلَّ فِيْهِ ، يَحْصِلُ بِذِلٍّ لَا عِزَّ فِيْهِ .

په علم کې داسې عزت دی چې ذلت په کې نشته ، خو حاصليږي په ذلت سره چې عزت پکې نشته . ( يعنی تواضع او عاجزي به په ځان کې پيدا کوې ، او تکليفونه برداشت کوې ).

حضرت عبد الله بن عباس ﷺ فرمايي :

ذَلَلْتُ طَالِبًا فَعززْتُ مَطْلُوْبًا . (۵)

ما د طلب په وخت کې ذِلت اختيار کړو نو ماته د مطلوب په حاصليدو عزت حاصل شو .

---

(۱) حضرت فضيل بن عياض رحمه الله د دې آيت معنی داسې بيانوي : وَالَّذِيْنَ جَاهَدُوْا في طلب العلم لَنَهْدِيَنَّهُمْ سُبُلَ العمل به . کوم خلق چې د علم په طلب کې کوشش کوي نو مونږ به دوی ته په دې باندې د عمل کولو لاره طرفته راهنمايي وکړو . تفسير مظهري سورة عنکبوت آيت ۶۹ ، ومعارف القرآن .

(۲) سورة محمد آيت ۷ .

(۳) دعوات حق ج۱ ص ۶۱۱ .

(۴) تعليم المتعلم ص ۲۹ .

(۵) احياء العلوم ج۱ ص ۲۱ کتاب العلم . .

(c) ketabton.com: The Digital Library



حضرت اصمعي رحمه الله وايي: چې څوک د علم حاصلولو ذلت نه برداشت کوي هغه به ټول عُمر د جهالت او ناپوهي ذِلت برداشت کوي. (١)

## د علم د حصول د پاره تکليفونه برداشت کول

د علم حصول چونکه يو عظيم مقصد دی او په دې مقصد کې د کاميابي او ددې د حصول دپاره د ډيرو قربانيو او کوششونو ضرورت دی.

د دنيا د خلقو په زړونو کې صدارت او وزارت يو لوي مقام لري، ددې د حصول د پاره شپ و روز څومره کوششونه کوي، تکليفونه برداشت کوي، تردې چې جيلونو (محبسونو) ته هم په کې لاړ شي، خو بيا هم په سلو کې نهه نوي فيصده خلق دې مقصد ته اونه رسي، اکثر په کې پانسي (اِعْدَام) شي. حالانکه حقيقت ته سوچ وکړې شي نو د الله ﷻ په نزد د دُنيا وَمَافِيْهَا هيڅ حيثيت نشته، خو بيا هم دا خلق ددې دپاره څومره کوششونه کوي.

او بل طرفته د علم خو د الله ﷻ په نزد ډير لوي مقام دی: علماء د انبياؤ وارثان دي، او کوم خلق چې علم زده کوي اګر چې په شليدلو او کمزورو جامو (کپړو) کې وي خو بيا هم د الله ﷻ په نزد د ډير قدر او عزت خاوندان دي.

تردې پورې حديث کې راځي که چيرته دوی په الله ﷻ باندې د يو کار متعلق قسَم وکړي چې دا کار به کيږي نو الله ﷻ به هغه کار کوي ددې دپاره چې دې په دې قسَم کې دروغجن ثابت نه شي.

نبي عليه السلام فرمايي:

رُبَّ اَشْعَثَ اَغْبَرَ مَدْفُوْعٍ بِالْاَبْوَابِ لَوْ اَقْسَمَ عَلَى اللهِ لَاَبَرَّهُ. (٢)

ډير کرت خوَرو وَرو ويښتانو واله، ګرد آلود کس چې د دروازو نه شړلې شي (يعنی داسې پراګنده حال او په خاورو ککړ کس چې په ظاهره ډير غريب او کمزورې معلوميږي خو د الله ﷻ په نزد به دده دومره لوي مقام وي) که چيرته دې په الله ﷻ باندې قسَم اوکړي (چې دا کار به

---

(١) اسالذه کرام کې آداب وحقوق ص ٥٥. نوټ: همدغه شان قول د امام شافعي رحمه الله نه هم نقل دې. کشکول ص ١٧٤

(٢) رواه مسلم کتاب البر حديث ١٣٨، والجنّة حديث ٣٨. والبخاري ٧ / ١٠. الترغيب والترهيب ج٤ الترغيب في الفقر وقلة ذات اليد وما جاء في فضل الفقراء والمساكين......

(c) ketabton.com: The Digital Library



كيږي ) نو الله ﷻ به د هغه قسَم ضرور پوره كوي ، ( دديٍ د پاره چې دې په دې قسَم كې حانث نه شي ) .

نو چې كله علم يو عظيم مقصد دى نو په كار ده چې انسان ددې د حصول د پاره هم ډېر محنت او خواري وكړي ، او په دې لاره كې كه ده ته څه مشكلات را مخې ته شي نو په كار داده چې دې د استقامت او همت نه كار واخلي او دا مشكلات په خوشحالۍ برداشت كړي .

علماؤ د علم د زده كړې په وخت داسې تكليفونه او مشقونه برداشت كړي چې نن صبا د هغې تصور هم نشي كيدې ، د نمونې د پاره درته د يو څو **علماء كرامو واقعات ذكر كوم :**

# د امام بخاري رحمه الله تكليفونه برداشت كول

۱ . خطيب بغدادي رحمه الله په تاريخ بغداد كې ليكلي چې عمر بن حفص اشقر وايي چې : يو وخت امام بخاري رحمه الله په بصره كې د احاديثو ليكلو په وخت كې څو ورځې مسلسل په سبق كې غير حاضر شو ، مونږ د هغه د معلوماتو د پاره ورغلو ، چې او مو كتلو نو هغه په يوه كوټه كې بربنډ ناست ؤ ، معلومات مو چې وكړو نو پته ! ولږيده چې كله دې د كورنه راتلو نو اُوچه ډوډۍ ( روټۍ ) يې د ځان سره راوړې وه ، په هره ورځ به يې ورنه يوه يوه ډوډۍ خوړه ، او په دې يې گزاره كوله ، چې كله ډوډۍ ختمې شوې ، نو بيا ورسره نوره څه خرچه نوه ، نو خپلې جَامې ( كپړې ) يې مجبورًا خرچ كړې ، او په هغې به يې ځان له خوراك اخيستو ، كله چې هغه جَامې هم ختمې شوې ، او صرف د خپل وجود جامه يې پاتې شوه نو د ډېرې ولږې نه يې هغه هم خرڅه كړه ، نو بيا ورسره د اغوستلو كپړې نه وې نو ځكه په سبق كې غير حاضر و .

عمر بن حفص رحمه الله وايي : چې بيا مونږ ملگرو څه روپۍ راغونډې كړې او دده د پاره مو پرې جَامې واخيستې ، د هغې نه پس به دې بيا سبق ته راتلو ، او احاديث به يې ليكل . [۱]

۲ . د امام بخاري رحمه الله په باره كې دا هم نقل دي چې تر شلو ( ۲۰ ) كالو پورې يې دا معمول و چې په شوا روز كې به يې صرف اووه ( ۷ ) دانې بادام خواره ، او صرف په همدې به يې گزاره كوله . او نوره ټوله توجه به يې د علم د زده كړې طرفته وه ، نو الله رب العزت بيا دومره لوي مقام وركړو چې دده كتاب " صحيح البخاري " اَصَحُّ الْكُتُبِ بَعْدَ كِتَابِ اللهِ او گرځيده .

(۱) تاريخ بغداد ج۲ ص۱۳ ، دعوات حق ج۱ ص۶۱۴ .

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د امام شافعي رحمه الله د دين د پاره مشقت برداشت كول

امام محمد رحمه الله په يوه علاقه كې درس كولو ، نو ديو بل كلي واله خلق ورپسې راغلل ، او ورته وې ويل چې: ته مونږ ته هم د درس د پاره راځه ، ده ورته وويل چې هغه ځاى ډير لرې دى ، او د ماسره دومره وخت نشته چې زه پياده هلته درځم او بيا واپس راځم ، هغوى ورته وويل چې مونږ به درته د يو سورلۍ انتظام وكړو ، تاسو په دې سورلۍ ځئ او راځئ ، نو وخت به مو ډير نه بنديږي . ده ورته وويل چې : ډيره ښه ده . نو دې به په دې سورلۍ باندې هلته هم د درس د پاره تللو . په دې ورځو كې امام شافعي رحمه الله هم د ده خدمت كې حاضر شو او عرض يې وكړو چې جناب ! كه تاسو ماته فلانې كتاب ووايئ نو ډيره به ښه وي ، ده ورته وويل چې زه خو دلته هم درس كوم ، بيا هلته هم ځم ، نو د ماسره خو نور وخت نشته ، تا ته زه دا كتاب په كوم وخت كې ووايم ؟

امام شافعي رحمه الله ورته وويل چې : كله تاسو په سورلۍ باندې سور يئ ، او هغه كلي ته د درس د پاره ځئ ، نو تاسو د سورلۍ د پاسه سبق وايئ ، زه به درسره لاندې پياده منډه وهم ، او ستاسو سبق به اَورَم ، او يادوم به يې .[1]

سبحان الله د دنيا په تاريخ كې هيڅوک هم د علم د طلب باره كې دومره اعلى مثال نه شي پيش كولې بلكه دا خو صرف د اسلام حُسن دې .

## د شاه عبدالقادر رائي پوري رحمه الله واقعه :

شاه عبدالقادر رائي پوري رحمه الله وايي چې كله زه دارالعلوم ته د داخلې د پاره لاړم ، نو داخلې بندې شوې وې ، ناظمِ تعليمات انكار وكړو ، او وى ويل چې مونږ تا ته داخله نه شو دركولې ، ما ورته پوښتنه وكړه چې آخر ولې داخله نه راكوئ ؟

هغه راته وويل چې د مونږ سره دلته په مدرسه كې د مَطبخ او خوراک انتظام نشته ، بلكه ددې خواؤ شاؤ كورونو واله چا ديو ، چا د دوه طالبانو د خوراک ذمه واري اخيستې ده ، نو چې څومره خوراک دلته راځي په هم هغو مره مقدار كې طالبان مونږ داخل كړي دي . بل داسې څه كور ندې پاتې چې هغه ستاسو د خوراک ذمه واري واخلي . لهذا د مونږ سره ستا د پاره د داخلې څه گنجائش نشته .

(۱) خطبات فقير ج ۱۱ ص ۱۹۲ ، اهل دل ج ۱ ص ۲۵۷ .

(c) ketabton.com: The Digital Library



شاه عبدالقادر راي پوري رحمه الله وايي چې ما ورته وويل : که چيرته د خوراک انتظام زه د خپل ځان د پاره پخپله وکړم ، نو آيا بيا به راته تاسو په درس کې د ناستې اجازت راکړئ؟

هغوی وويل چې بيا خو صحيح ده . نو داخله يې راله راکړه .

دې وايي چې زه به ټوله ورځ د طالبانو سره ناست ووم ، او سبق به مو وويل ، او د شپې ناوخته پورې به مو تکرار او مطالعه کوله ، خو چې کله به طالبان ټول اُوده شو نو ما به د استاذ نه اجازت واخيسته او د مدرسې نه بهر به ووتم ، په دې کلي کې د سبزۍ يا فروټو دوه دُکانونه وو ، دا به هم بند شوي وو ، نو زه به هلته لاړم ، او د دُکانونو مخې ته به چې کوم د اَمُونو ، خربوزو يا کيلو پوستکي پراته وو هغه به مې راواخيسته ، رابه مې وړه ، په اُوبو به مې او وينځل ، او بيا به مې خوړل .

نو په شوا روز کې به زما ټول خوراک صرف همدا و ، ټول کال مې په دې پوستکو خوړلو تير کړې ، خو ليکن خپل سبق مې نه دې قضاء کړې . [1]

دا هغه طلباء وو چې د دوی سينې د علم په رڼا سره منوّرې وې ، او د دوی په زړه کې د علم زده کړه د هر شي نه بهتره او قيمتي وه .

## د تقرير خلاصه

د غونډ تقرير خلاصه دا راووته چې علم يوه رڼا ده او داسې يو عظيم صفت دی چې د دې په وجه انسان ته د الله ﷻ معرفت نصيبه کيږي ، د حلالو او حرامو ، جائز او ناجائز تميز پيدا کيږي ، انسان ته د دواړو جهانونو کاميابي ، خوشحالي او ترقي نصيبه کيږي او آخرت طرف ته يې توجه پيدا کيږي .

الله تبارک وتعالی دې مونږ ټولو ته اول د علم حاصلولو توفيق راکړي ، او بيا دې راته پدې علم باندې د عمل کولو او په دې دين باندې د اِستقامت توفيق راکړي .

آمِيْن يَا رَبَّ الْعَالَمِيْن .

وَآخِرُ دَعْوَانَا أَنِ الْحَمْدُ لله رَبِّ الْعَالَمِيْنَ

وَصَلَّى اللهُ تَعَالَى عَلَى خَيْرِ خَلْقِهِ مُحَمَّدٍ وَّآلِهِ وَاَصْحَابِهِ اَجْمَعِيْن

(۱) خطبات فقير ج۱۱ ص ۱۹۰ ، اهل دل کے تڑپا دینے والے واقعات ج۱ ص ۲۶۲ .

(c) ketabton.com: The Digital Library



# فقهي مسائل

## اوله مسئله : د فرضِ عين علم تعين

نبي كريم صلى الله عليه وسلم فرمايي :

طَلَبُ الْعِلْمِ فَرِيْضَةٌ عَلَى كُلِّ مُسْلِمٍ . (۱)

د علم طلب كول (يعنى د هغې د حاصلولو كوشش كول) په هر مسلمان باندې فرض دي .

په يو روايت كې ورسره د "مُسْلِمَة" لفظ هم شته . (۲)

د رسول الله ﷺ د دې فرمان مطابق په هر مسلمان (نارينه او زَنانه) باندې دومره عِلم فرضِ عين دى چې د دې پرې د دين د بُنيادي ضرورتونو نه خبردار شي ، لكه :

۱. د اهلِ سنت والجماعت بُنيادي عقايد پيژندل فرضِ عين دي .

۲. د طهارت ، لمونځ او روژې علم فرضِ عين دى . او په مالدار باندې د زكوة او حج علم هم فرضِ عين دى .

۳. په كومه معامله كې چې انسان د داخليدو اراده لري (لكه : تجارت ، زراعت ، تزوّج وغيره) د دې علم هم په ده باندې فرضِ عين دى . (د دې د پاره چې د ې د حرامو او شبهاتو نه ځان محفوظ كړي) .

۴ . د آفاتِ نفساني (لكه رِيا ، حسد ، عجب او تكبر وغيره) پيژندګلي ، او د دې نه د بچ كيدلو طريقې معلومولو علم هم فرضِ عين دى (ځكه د رِياء په وجه خو انسان د عبادت د ثواب نه محرومه كيږي ، او حسد خو د انسان نيک اعمال داسې سوزوي لكه اُور چې خشاک سوزوي ) ،

همدا رنګې د اخلاص علم هم ضروري دى ، ځكه د عمل صحت په اخلاص باندې موقوف دى

(۱) رواه ابن ماجه ، مشكوة كتاب العلم ص ۳۴ ، ابن ماجه ص ۲۰ باب فضل العلماء والحث على طلب العلم ، وروى البيهقي في شعب الايمان الى قوله : مُسلِم . وقال هذا حديث متنه مشهور (على السنة الناس) واسناده ضعيف وان كان معناه صحيحا . مرقات شرح مشكوة ص ۲۸۴ .

(۲) مرقاة شرح مشكوة .

(c) ketabton.com: The Digital Library



خلاصه دا چې د دې مذکوره شيانو علم په قدر د ضرورت په هر مسلمان نارينه او زنانه باندې فرض عين دى . البته په دې کې تَبَحُّرْ (يعنى پوره مهارت حاصلول) مستحب دي . (۱)

## دويمه مسئله : که والدين بچې د علم نه منع کوي د شغې حکم

ضروري علم په هر مسلمان نارينه او زنانه باندې فرضِ عين دى ( لکه حديث کې راځي :

(۱) قال ابن عابدين : وَاعلم اَنّ تعلّم العلمِ ... اى العِلمُ الموصِل إلى الاخرة او الاعم منه قال العلامي في فصوله من فرائضِ الاسلام تعلّم ما يحتاج اليه العبد في اقامة دينه واخلاص عملِه لله تعالى ومعاشرة عباده ، وفرضٌ على كل مكلّف ومكلّفة بعد تعلّمه علمِ الدّين والهداية تعلّم علمِ الوضوء والغُسل والصّلوةِ والصومِ وعلمِ الزكوة لمن له نصابٌ والحجّ لمن وَجَبَ عليه ، والبيوع على التجّار ليحترزوا عن الشبهات والمكروهات في سائرِ المعاملات ، وكذا اهل الحرف وكلّ من اشتغل بشيء يفرض عليه علمه وحكمه ليمتنعَ عن الحرام فيه . وفي تبيين المحارم لاشكّ في فرضيّة علم الفرائض الخمس وعلم الاخلاص لانّ صحةَ العمل موقوفة عليه ، وعلم الحلال والحرام ، وعلم الرّياء لانّ العابدَ محرومٌ من ثواب عملِه بالرّياء ، وعلم الحسد والعجب إذْ هما يأْكُلَانِ الْعَمَلَ كما تأكل النارُ الحطبَ ...... قوله وهو التَّبَحُّر فى الفقه (مندوب) اى التوسّع فيه ، والاطلاع على غوامضه ، وكذا غيره من العلوم الشرعية وآلاتها . (رد المحتار على الدر المختار ج۱ ص ۳۱، ۳۲ مقدمه ، فتاوى فريديه ج۱ ص ۲۰٦ كتاب العلم .

اِعلم اَنّ تعلّم العلم يكونُ فرض عينٍ وهو بقدر ما يحتاج لدينه ، وفرضُ كفايةٍ وهو ما زاد عليه ومندوبًا والتبحّر فى الفقه وعلم القلب (درمختار على هامش الشامي نعمانيه ص ۲۹ ، ۳۰ فى المقدمة ، فتاوى محموديه ج٦ ص۴۷ باب اول: علم کا بيان ).

په فتح الباري شرح صحيح البخاري کې ذکر دي :

والمراد بالعلم العلمُ الشرعي الّذي يفيدُ معرفة مايجب على المكلّف من أمر دينه في عباداته ومعاملاته والعلم بالله وصفاته ومايجب له من القيام بامره وتنزيهه عن النقائص ومدار ذلک على التفسير والحديث والفقه ( فتح الباري ج۱ ص ۱۹۲ كتاب العلم، مقدمه شامي زكريا ۱/ ۱۲٦ قبيل مطلب في فرض الكفاية وفرض العين ، فتاوى محموديه ج٦ ص ۳۳ باب اول : علم کا بيان ) .

**د فرضِ کفاية علم تعين:** قال ابن عابدين قال في تبيين المحارم وأمّا فرضُ الكِفاية من العلم فهو كلّ علم لايستغني عنه قِوَام امورِ الدّنيا كالطّبّ والحساب والنّحوِ واللغةِ والكلام ....... والمعاني والبديع والبيان ...... وكل هذه آلة لعلم التفسير والحديث . ( ردالمحتار على الدر المختار ج۱ ص ۳۲ مقدمه ) .

(c) ketabton.com: The Digital Library



طَلَبُ الْعِلْمِ فَرِيْضَةٌ عَلَى كُلِّ مُسْلِمٍ .(۱) د علم طلب کول په هر مسلمان باندې فرض دي )

لهذا که والدين خپل بچې د فرضِ عين حاصلولو نه منع کوي نو ددوی اطاعت ضروري نه دی ( ځکه نبي عليه السلام فرمايي : لَا طَاعَةَ لِمَخْلُوْقٍ فِيْ مَعْصِيَةِ الْخَالِقِ .(۲)

د الله ﷻ په نافرمانۍ کې د مخلوق اطاعت صحيح نه دی ) .

البته تَبَحُّرِ عِلمي په ټولو علوموکې فرضِ کفايي دی . نو که والدين سړي منع کوي نو بيا دې نه د والدينو خبره منل ضروري ده .(۳)

## دريمه مسئله : د دين تبليغ فرضِ کفايه دي

خلقو ته د اَوامرو حکم کول او د نَواهيو نه منع کول فرضِ کفايه دي چې د بعضو په کولو سره د نورو غاړه خلاصيږي . په هرکس باندې د فرضِ عين کيدلو رايه خطاء ده . البته د رزايلو او ګناهونو نه ځان ساتل په هرکس باندې فرضِ عين دي .(۴)

## څلورمه مسئله : دُنياوي فنون عِلم نه دي

په قرآن کريم او احاديثو مبارکهؤ کې چې د کوم عِلم فضيلت بيان شوې د هغې نه د شريعت

(۱) رواه ابن ماجه ، مشكوة كتاب العلم ص ۳۴، ابن ماجه ص ۲۰ باب فضل العلماء والحث على طلب العلم ، وروى البيهقي في شعب الايمان الى قوله : مُسلِمٍ . وقال هذا حديث متنه مشهور (على السنة الناس) واسناده ضعيف وان كان معناه صحيحا . مرقات شرح مشكوة ص ۲۸۴ .

(۲) رواه في شرح السنّة ، مشكوة ۳۲۱/ ۲ كتاب الامارة الفصل الثاني .

(۳) فتاوى محموديه ج۶ ص ۳۶ باب اول : علم كا بيان )

(۴) لما قال حجةُ الاسلام ابوبكر احمد بن علي الرازي الجصاص رحمه الله : قال ابوبكر قد حَوَتْ هذه الاية معنيين : احدهما وجوب الامر بالمعروف والنهي عن المنكر والاخر انّه فرضٌ على الكفاية . ليس بفرضٍ على كلّ أحدٍ في نفسه اذا قام به غيره لقوله تعالى (ولتكن منكم امة) وحقيقتُه تقتضي البعض دون البعض فدلّ على انّه فرضٌ على الكفاية اذا قام به بعضهم سقط عن الباقين . (احكام القرآن ج۲ ص ۳۱۵ باب فرض الامر بالمعروف ......

وقال العلامة شهاب الدين آلوسي رحمه الله : منشاءُ الخلاف في ذلك انّ العلماء اِتّفقُوا انّ الامر بالمعروف والنهي عن المنكر من فروض الكفاية . (روح المعاني ج۴ ص ۲۱ سورة آل عمران ومثله في الاكليل في استنباط التنزيل ص ۵۶ سورة آل عمران) . فتاوى حقانيه ج ۲ ص ۴۲۸ .

(c) ketabton.com: The Digital Library



عِلم مراد دی ، هغه علم مراد دی چې په هغې سره انسان ته د الله ﷻ معرفت حاصلیږي او د الله ﷻ د راضي کولو طريقې پرې معلوميږي ، په فتح الباري شرح صحیح البخاري کې ذکر دي

وَالْمُرَادُ بِالعِلْمِ : اَلعِلْمُ الشَّرْعِيُّ الَّذِيْ يُفِيْدُ مَعْرِفَةَ مَايَجِبُ عَلَى الْمُكَلَّفِ مِنْ أَمْرِ دِيْنِهِ فِيْ عِبَادَاتِهِ وَمُعَامَلَاتِهِ، وَالعِلْم بِاللهِ وَصِفَاتِهِ وَمَايَجِبُ لَهُ مِنَ الْقِيَامِ بِأَمْرِهِ وَتَنْزِيْهِهِ عَنِ النَّقَائِصِ، وَمَدَارُ ذٰلِکَ عَلَى التَّفْسِيْرِ وَالحَدِيْثِ وَالفِقْهِ . (۱)

البته که چا معتمد عالم په انګريزي کې د قرآن کريم يا احاديثو ترجمه وکړه او يو کس هغه لولي نو بيا په دې کې ثواب شته . (۲)

نو نن صبا چې په سکولونو او کالجونو کې کوم فنون خودلې شي نو دا دغه فرضي عِلم نه دی، بلکه دا د فنونو په مرتبه کې دي ، اوس په دې فنونو کې چې کوم د مسلمانانو د فائدې د پاره وي او په خلاف شرعه امورو مشتمل نه وي نو دا صرف د جواز په مرتبه کې دي . البته که په خلافِ شرعه امورو مشتمل وو نو بيا د هغې حصول نا جائز دی . (۳)

**نوټ** : دُنياوي علوم فنون زده کول څه منعه نه دي بلکه دا هم د ژوند ضرورت دی ، ددې زده کول هم د ضرورت په درجه کې جائز دي . بلکه امام غزالي رحمه الله په احياء العلوم کې ذکر کړي دي چې د کومو دُنياوي علومو او فنونو د نه زده کولو په وجه چې اجتماعي خرابي لازميږي او د مسلمانانو د کمزورتيا سبب ګرځي نو دا زده کول هم فرضِ کفايي دي لکه علمِ طب، حساب، زمينداري ، سياست او د کپړو جوړول وغيره . (۴)

البته دا د ژوند مقصد ګرځول نه دي په کار، ځکه مقصودي عِلم خو صرف د شريعت عِلم دی چې په دې سره انسان ته د دواړو جهانو کاميابي نصيبه کيږي.

---

(۱) فتح الباري ج۱ ص ۱۹۲ کتاب العلم، مقدمه شامي زکريا ۱/ ۱۲۶ قبيل مطلب في فرض الکفاية وفرض العين ، فتاوى محموديه ج۶ ص ۳۴ باب اول : علم کا بيان .

(۲) خطباتِ حکيم الامت ج۲ ص ۱۹۴ موضوع تعميم العلم .

(۳) کشف الباري ج۳ ص ۴۴ کتاب العلم باب فضل العلم .

(۴) احياء العلوم ص ۱۶ بحواله اسلام کي نشأة ثانيه قرآن کي نظر مين ، لداي ممبر ومحراب ج۳ ص ۱۲۰ .

(c) ketabton.com: The Digital Library



بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

# د علم د اهميت متعلق نور معتمد واقعات

**نوټ** : د علم د اهميت متعلق مې نور بهترين ، د عبرت نه ډک او معتمَد واقعات رانقل کړي ، چې هره واقعه د سرو زرو په اُوبو د ليکلو لائقه ده . اميد دی چې مقررين حضرات د دې واقعاتو نه هم استفاده وکړي ، او د دې په بيانولو سره په خلقو کې علمي جذبه راپورته کړي او د خلقو په زړونو کې د علم اهميت او قدر پيدا کړي .

دا ټول واقعات مې د درې ( ۳ ) غټو عنوانونو په ضمن کې ذکر کړي دي ، هغه عنوانات دا دي :

**۱ . د علم د حصول شوق . ۲ . د علم د زده کړې دپاره سفرونه کول .**

**۳ . د علم په زده کړه کې خواري او محنت کول .**

اوس راځو د واقعاتو تفصيل ته .

# د علم د حصول شوق

## د امام ابو يوسف رحمه الله د علم سره شوق

د امام ابو يوسف رحمه الله په باره کې راځي چې کله د ده د امام ابو حنيفه رحمه الله نه د فقهې زده کړه کوله نو په دې زمانه کې د ده ځوي وفات شو ، د ده سره فکر شو چې که زه په دې کې ځان مصروفه کړم نو بيا خو رانه سبق قضاء کيږي .

نو ده خپلو ورونو ته وويل چې : زه به يې جنازه وکړم ، خو بيا به يې دفن تاسو کړئ ، ځکه زه غواړم چې د مانه د خپل استاذ سبق قضاء نه شي .[1]

## د زنکدن په حالت کې علمي مشغله

ابراهيم بن الجراح رحمه الله وايي چې کله امام ابو يوسف رحمه الله بيمار و (په کومه بيمارۍ کې چې دې وفات شوې وُ ) نو زه د هغه بيمارپُرسۍ ته ورغلم ، ما اوکته چې په هغه باندې بې هوشي راغلې وه ، څه وخت پس يې سترګې راوغړولې نو زه يې وليدم ، د مانه يې پوښتنه وکړه

---

(۱) آداب المتعلمين ص ٦٢ ، طلبه کے لئے تربيتي واقعات ص ۱۲۲ ، اهل دل کے تڑپادینے والے واقعات ج۳ ص ۱۹۰

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې اې ابراهيم! د حاجي دپاره رَمْيُ الجِمَار (د شيطانانو ويشتل) د سورلۍ په حالت کې بهتر دي، او که پياده حالت کې؟

ما ورته وويل: رَاكِبًا (يعنى د سورلۍ په حالت کې بهتر دي)، ده را ته وويل:

لَا. (داسې نده). ما ورته وويل: مَاشِيًا (يعنى پياده حالت کې ويشتل افضل دي). هغه

راته وويل: لَا (داسې نده). بيا هغه په خپله وويل چې د کومې رَمْي (ويشتلو) نه روستو بله

رَمْي وي نو هغه پيدل کول بهتر دي، او د کومې رَمْي نه روستو چې بله رَمي نه وي هغه د

سورلۍ په حالت کې بهتره ده.

ابراهيم وايي چې: ماته د مسئلې معلوميدو په نسبت ډير تعجب په دې خبره پيدا شو چې امام ابويوسف رحمه الله د دې دومره سختې بيمارۍ باوجود هم د عِلمي مذاکرې سره څومره شوق لري.

د دې نه پس زه ورنه راروان شوم، چې څنګه دروازې ته را ورسيدم، نو د کور نه د ښځو د ژړا آواز راغې، معلومات مو چې وکړو نو امام ابويوسف رحمه الله وفات شوې وُ. (۱)

(دلته علماو ليکلي چې ده په دې وخت کې دا مسئله ځکه چيړله چې ده ته پته وه چې شيطان انسان ته په آخري وخت کې راځي او د ګمراه کولو کوشش يې کوي، نو ده ځان ديو عِلمي مسئلې په معلومولو کې مصروفه کړې وُ (۲)).

## د امام محمد رحمه الله د علم د حصول شوق

امام محمد رحمه الله د امام شافعي رحمه الله استاذ دی، امام شافعي رحمه الله وايي چې يوه شپه زه د امام محمد رحمه الله سره ميلمه شوم، نو ده د ماخوستن د لمانځه نه پس ډيوه بَله کړه، او کتاب يې خلاص کړو، مطالعه يې وکړه، بيا يې ډيوه مړه کړه، او څملاست.

څه وخت پس بيا راپاڅيد، ډيوه يې بَله کړه او د کتاب څه حصه يې اوکته، بيا يې ډيوه مړه

(۱) تعليم المتعلم فصل في التوكل، تحفة المدارس ج۳ ص ۴۸۳، اهل دل کے تڑپا دینے والے واقعات ج۱ ص ۲۵۹.

(۲) اهل دل کے تڑپا دینے والے واقعات ج۱ ص ۲۵۹.

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړه او ځملاست.[۱]

امام شافعي رحمه الله وايي چې زه تولله شپه ويښ وم، ما وشمارل چې دې اوولس (۱۷) پيرې د شپې راپاڅيد، ډيوه به يې ولږوله، کتاب به يې اوکت، او بيا به يې ډيوه مړه کړه او ځه به ملاستو.

کله چې سهر شو نو ما ورته پوښتنه وکړه چې جناب! تاسو خو د شپې اوولس (۱۷) پيرې راپاڅيدلي وئ نو تاسو به خُوب څنګه کړې وي؟

ده راته وويل چې زه خو دشپې اوده شوي نه يم، بلکه ما به چې کتاب وکتلو او بيا به ځملاستم نو په دې وخت کې به ما د مسائلو استنباط کولو، نو نن شپه ما د زرو (۱۰۰۰) مسائلو جوابونه تلاش کړه.

الله أکبر کبيراً. ديته د علم شوق وايي چې د خُوب په نسبت ورته په علمي مشغله کې مزه زياته معلوميږي، نو الله ﷻ خو ځکه بيا دومره غټ مقام هم ورکړې وُ.

## د بقيع بن مخلد رحمه الله د علم شوق

بقيع ابن مخلد رحمه الله چې کله د اندلس نه شپږ (٦) مياشتې په مشقت سره سفر وکړو او د احاديثو زده کولو دپاره د امام احمد بن حنبل رحمه الله ښار ته داخل شو، نو ورته معلومه شوه چې د وخت بادشاه په امام احمد رحمه الله باندې د احاديثو په بيانولو پابندي لږولې ده.

ابن مخلد رحمه الله د امام احمد رحمه الله د کور پوښتنه وکړه، کله چې هلته ورغې، هغه ورته وويل چې: په ما باندې خو د حديثو بيانولو پابندي لږيدلې ده.

ده ورته وويل چې: جناب! ما خو شپږ مياشتې په ډير تکليف سره سفر راکړې، صرف ددغې احاديثو د زده کړې د پاره، نو ته څه طريقه وکړه، او ماته احاديث ووايه.

امام احمد بن حنبل رحمه الله ورته وويل چې: ددې خو بل هيڅ صورت نشته، صرف داصورت دی چې ته دسوال ګري په شکل راځه، حديث اوره، او بيا واپس ځه.

(۱) **نوټ**: دا ډيوه يې ددې د وجې مړه کوله چې تيل عبث و نه سوزي، ځکه چې ددې ځملاستو په وخت کې به ده د مسائلو استنباط کولو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ابن مخلد به په هره ورځ د سوال کري په شکل راتلو او احاديث به يې اوريده ، ده په دغه طريقې سره دري سوه ( ۳۰۰ ) احاديث ياد کړه ، بيا چې کله د امام احمد بن حنبل رحمه الله درس پابندي ختمه شوه نو باقي احاديث يې ورنه بيا ياد کړل . (۱)

## د امام مسلم رحمه الله د مطالعې شوق

د امام مسلم رحمه الله متعلق مشهوره واقعه ده چې يو پيره دده نه چا د درس په دوران کې د يو حديث متعلق پوښتنه وکړه ، ده ته په هغه وخت کې دا حديث ياد نه ؤ ، کورته چې راغې ، نو د حديث د تلاش کولو دپاره کيناست ، او مطالعه يې کوله ، دې وخت کې دې اوړې هم ؤ ، په څنګ کې ورسره د کهجورو غټه ټوکرۍ پرته وه ، ده به د هغې نه يوه يوه کهجوره راخيسته او خوړه به يې ، په مطالعه کولو کې دومره مستغرق شوې ؤ چې ده ته د سره دا پته او نه لږيده چې ما څومره کهجورې وخوړې .

د ډيرو قجورو خوړلو په وجه بيمار شو ، آخر دا چې وفات شو .

سبحان الله ! د مطالعې کولو دومره شوقي ؤ چې د خوراک اندازه هم ورته نه لږيده چې ما څومره کهجورې او خوړې . (۲)

## د علامه ابن جوزي رحمه الله د مطالعې شوق

۱ . د علامه ابن جوزي رحمه الله هم د مطالعې سره ډير شوق ؤ ، دې وايي چې ما د مدرسه نظاميې د غونډې کُتب خانې مطالعه کړې ده ، حالانکه په هغې کې شپږ زره ( ۶۰۰۰ ) کتابونه وو ، دغه شان ما کتب الحنفية ، کتب الحميدي ، کتب عبدالوهاب او کتب ابي محمد چې څومره کتب خانې زما په وَس کې وې ما د هغې ټولو مطالعه کړې ده . (۳)

۲ . ابن جوزي رحمه الله پخپله وايي چې د طالبۍ په زمانه کې کتابونو مطالعه کولو سره دومره شوق و که چيرته زه ووايم چې ما په طالبۍ کې شل زره ( ۲۰۰۰۰ ) کتابونه مطالعه کړي نو دا څه بعيده نه ده ، ما ته به په دې کتابونو کې د خپلو اسلافو حالات ، اخلاق ، عالي همت ، د

(۱) تحفة المدارس ج۱ ص۴۸۶ .

(۲) ظفر المحصلين، تحفة المدارس ج۱ ص ۴۱۳ ، خطبات فقير ج۸ ص ۱۰۳ ، اهل دل کے تڑپا دینے والے واقعات ج ۱ ص ۲۵۷ .

(۳) تحفة المدارس ج۲ ص ۵۳۰ .

(c) ketabton.com: The Digital Library



عبادت ذوق او داسې نادر علوم حاصلیده چې دا به بغیر د مطالعې کولو نه نشو حاصلیدې. (۱)

## د علامه جاحظ بصري رحمه الله علمي شوق

علامه جاحظ رحمه الله د لغت لوي امام او مشهور عالم ؤ، دده د علم او مطالعې سره دومره شوق و چې ټول عمر یې په مطالعه کولو کې تیر کړې ؤ، په آخیري عُمر کې چې کله فالج ووهلو، نو بیا یې هم د مطالعې کولو نه زړه نه صبریده. د ځان نه ګیر چاپیره به یې ډیر کتابونه د یو بل د پاسه ایښي وو، او د کتابونو لوي اَمبار یې جوړ کړې ؤ، ده به د هغې نه یو یو کتاب راخیسته او د هغې مطالعه به یې کوله، یوه ورځ دا کتابونه په ده راولویده، او د هغې لاندې ګیر شو او هم هلته وفات شو. سبحان الله. د یته د علم او مطالعې شوق وایي. (۲)

## د یو طالب العلم د مطالعې سره سخته مینه

په کتابونو کې د یو طالب واقعه لیکلې ده چې یوه شپه دده سره په کور کې د ډیوې تیل نه ؤ، دې ډیر خفه ؤ، اتفاقًا په دې لاره باندې د بادشاه جلوس (قافله) تیریده، د هغوی سره رڼاګانې او فانوسونه وو، ده کتاب راواخیست او د هغوی سره ملګرې شو، په لاره باندې یې کتاب کتلو، تر دې پورې چې دا جلوس د بادشاه محل ته اورسیده، دې هم محل ته ورننوت، (ځکه په ځان پوهه نه و او مطالعه کولو کې مستغرق و)، بادشاه چې دې ولیده، نو خادمینو ته یې حکم وکړو، چې دې مه منعه کوئ، پرې یې دئ چې دې خپل کتاب وګوري.

تر دې پورې چې دا جلوس د بادشاه خاص خلوت خانې ته اورسیده، دې هم هلته ورا ورسیده او هماغه شان په خپله مطالعه کولو کې مصروف ؤ، بادشاه چې دده د مطالعې دا شوق وکتلو نو ډیر حیران شو.

کله چې دا طالب د مطالعې نه فارغ شو، کتاب یې بند کړو او اخوا دیخوا یې اوکته، نو خپل ځان یې د بادشاه په محل کې اولیده، دې ډیر وویریدو، بادشاه ورته تسلي ورکړه چې یریږه مه.

ما چې ستا د مطالعې شوق او استغراق ولید، نو دتا سره مې ډیره مینه پیدا شوه اوس زه غواړم چې ستا د پاره پوره وظیفه (تنخواه) مقرر کړم، ددې د پاره چې ته په فارغه زړه سره خپله زده کړه وکړې.

---

(۱) تذکرة الحفاظ. طلباء کے لیے مثالی تحفه ص.

(۲) تحفة المدارس ج۲ ص ۵۳۰.

(c) ketabton.com: The Digital Library



طالب ورته وويل چې زه د تنخواه په اخيستلو خپل ځان نه پابند کوم ، بلکه زه آزاد ژوند خوښوم ، البته که ته ماته فائده رارسول غواړې او دما سره احسان کول غواړې ، نو ماته کلدنا کله دا تکليف وي چې د ماسره دډيوې تيل ختم شي نو بيا د مانه مطالعه پاتې کيږي ، لهذا ته يو دُکاندار ته حکم وکړه چې ماته د ډيوې تيل راکوي او هغه به بيا مياشت پس د روپو مطالبه د تا نه کوي ، بادشاه همداسې وکړه او طالب يې ډير په عزت رخصت کړو . (۱)

## د شاه عبدالعزيز رحمه الله علمي شوق

د حضرت شاه ولي الله محدث دهلوي رحمه الله آخيري عُمر ؤ ، يوه ورځ دده ځوي حضرت شاه عبدالعزيز رحمه الله د قرآن کريم دَرس ورکولو ، د دَرس په دوران کې ده د ځکلو اُوبه وغوښتې ، يو طالب په منډه کورته راغې او وې ويل چې شاه عبدالعزيز صاحب د ځکلو اوبه غواړي . شاه ولي الله مجدث دهلوي رحمه الله چې دا واوريده ، نو ډير خفه شو ، او ډير په خفګان يې وويل : افسوس ! زما د خاندان نه د علم نُور او ادب ختم شوې ( ځکه د قرآن کريم د درس په وخت بلاضرورته اُوبه ځکل د ادب خلاف دي ) .

د کور والا ( بي بي ) ورته وويل چې جناب ! ته دومره زر فيصله مه کوه ، زه به اوس اندازه ولږوم ، نو په يو ګلاس کې يې اُوبه واچولې او په هغې کې يې سَرکه هم واچوله ( سَرکه چونکه تَروشه وي او خوَند يې هم بدل وي ) دا يې دې طالب ته ورکړې ، طالب چې کله دا اُوبه وَروړې او شاه صاحب ته يې ورکړې نو هغه وځکلې .

کله چې د درس نه روستو کورته راغې نو مور ورنه پوښتنه وکړه : بچيه ! اُوبه دې وځکلې ؟ ده ورته وويل چې آو . مور ورته وويل چې خوَند يې څنګه و ؟ ده ورته وويل چې مورې زه خو يې په خوند نه يم پوهه شوې ، ځکه زه په درس کې مشغول وم .

نو دې مور يې شاه ولي الله محدث دهلوي رحمه الله ته وويل چې : وګوره . ما درته نه ويل چې ده د بې ادبۍ د وجې نه اُوبه نه دي ځکلي ، بلکه سخته تنده ورته لږيدلې وه ، او ضرورت يې ورته ؤ ، او دا ورته جائزوې ، لهذا زمونږ د خاندان نه اَدب نه دې ختم شوې ، شاه ولي الله چې دا واوريده نو ډير خوشحاله شو او دا دُعا يې وکړه :

(۱) تحفة المدارس ج۲ ص ۵۴۰ ، ۵۴۶ .

(c) ketabton.com: The Digital Library



اې الله ! زما په خاندان کې علم او ادب هميشه باقي وساته .(۱)

## د علامه ابن تيميه رحمه الله دسبق سره مينه

علامه ابن تيميه رحمه الله د طالب علمۍ په زمانه کې د علم د زده کړې سره دومره شوق ؤ چې کله به دٰه د خپلو ملګرو سره د سبق تکرار کولو ، او دٰه ته به د قضاء حاجت ضرورت پيښ شو ، نو دٰه به خپلو ملګرو ته وويل : چې زٰه بيت الخلاء ته ځم ، تاسو مهرباني وکړئ او تکرار په اوچت آواز سره کوئ ، ځکه په بيت الخلاء کې خو زٰه په ژبه سبق نه شم ويلې ، نو کم از کم په غوږونو خو به ستاسو سبق اورَم ، نو تکرار به هم رانه نٰه ځي او وخت به مې هم نه ضائع کيږي .(۲)

## د مولانا انورشاه کشميري رحمه الله علمي حرص

علامه انورشاه کشميري رحمه الله په خپل مرضِ وفات کې دومره سخت بيمار او کمزوري شوې ؤ چې ډاکټرانو دې د ناستې نه منعه کړې ؤ ( ځکه ډاکټرانو ورته ويلي وو چې په ناستې سره به ستا تکليف نور هم زياتيږي ) .

خو ليکن دٰه به د دې تکليف باوجود بيا هم د ډيوې رڼا ته د کتاب مطالعه کوله ، کوم شاګردان چې ورسره ناست وو هغوی ورته وويل : جناب ! چې کله تاسو ډاکټرانو منعه کړي يئ او تکليف هم دې درته ، نو بيا ولې دومره ځان سترې کوئ ؟ تاسو ته خو څه داسې دَرس هم نه دې درپه غاړه چې ګني د هغې دپاره مطالعه کوئ ، او کومه عِلمي نُکته خو هم د تاسو نه پټه نه ده چې ګني تاسو هغه ګورئ ؟ او که کومه مسئله تاسو خامخا ګورئ نو مونږ ته ووايئ ، مونږ به يې درله وګورو او تاسو ته به يې بيان کړو .

نو علامه انورشاه کشميري رحمه الله ورته په جواب کې وويل : ستاسو خبره صحيح ده چې څه خاص نُکته او مشکله مسئله نشته چې ګني زٰه هغه ګورم ، خو دا خپله عِلمي تنده مې نه ماتيږي ، د دې سره څه وکړم ؟

نو د علم داسې تنده ده چې ټول عمر نه ختميږي ، حديث کې راځي :

(۱) خطبات فقير ج۸ ص ۱۰۴ ، اهل دل کے تړپا دلنے والے واقعات ج۱ ص ۲۶۱ .

(۲) ذيل طبقات الحنابلة ۱ / ۲۷۸ ، الترجمة الذهبية لاعلام آل تيميه ۱۵ ، اهل دل کے تړپا دلنے والے واقعات ج۳ ص ۱۹۱

(c) ketabton.com: The Digital Library



مَنْهُوْمَانِ لَايَشْبَعَانِ مَنْهُوْمٌ فِي الْعِلْمِ لَايَشْبَعُ مِنْهُ ، وَمَنْهُوْمٌ فِي الدُّنْيَا لَايَشْبَعُ مِنْهَا . (۱)

دوه (۲) حرص کوونکي سړي داسې دي چې د هغوی خيټې نه ډکيږي : ۱ . په علم کې حرص کوونکې ، چې د هغه خيټه هيڅ کله نه ډکيږي . ۲ . د دُنيا حرص کوونکې ، چې د هغه خيټه هم هيڅ کله نه ډکيږي .

## د علامه منذري رحمه الله د احاديثو سره مينه

د علامه حافظ منذري رحمه الله په باره کې راځي چې ده به د احاديثو درس ورکولو ، يو ورځ دده ځوي وفات شو ، نو خلقو ته يې وويل چې : دده جنازه به همدلته په مدرسه کې وکړو ، ځکه زه بيا د احاديثو درس کوم .

علماء ليکي چې د جنازې کولو نه روستو د سنتو په نيت باندې د مدرسې دروازې پورې ورسره لاړ ، دده په سترګو کې اُوښکې راغلې او وې ويل چې : د احاديثو دَرس او شوق ما منعه کوي چې زه د دې سره مخکې لاړشم ، بيا راواپس شو او د احاديثو درس يې وکړو . (۲)

---

(۱) رواه البيهقي ، مشكوة كتاب العلم .

(۲) طبقات الشافعية الكبرى ۸ / ۲۶۰ ، اهل دل کے تڑپا دینے والے واقعات ج۳ ص ۱۹۰ .

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د علم د زده کړې د پاره علمي سفرونه کول

زمونږ اسلافو د علم د زده کړې د پاره اوږده اوږده سفرونه کړي او ډير مشقتونه يې برداشت کړي، بلکه د يو يو حديث زده کولو د پاره يې په سوونو ميله لرې سفر کړي، کله به يې چې د هغه استاذ نه حديث واوريده، نو واپس به خپل ځاى ته راغي.

## دحضرت ابو ايوب انصاري ﷺ د يو حديث د پاره څلويښت ورځې سفر کول

د احاديثو په کتابونو کې ذکر دي چې کله حضرت ابو ايوب انصاري ﷺ (کوم چې لس ۱۰ کاله د نبي کريم صلى الله عليه وسلم په خدمت کې هم پاتې شوي ؤ) ته دا پته ولږيده چې يو حديث فلاني صحابي ته معلوم دى او ماته نه دى معلوم (دده په زړه کې دا شوق ؤ چې د هغه نه دا حديث واورم) هغه صحابي چونکه ډير لرې اوسيده، نو دده د ځان د پاره اُوښه واخيسته، په هغې يې څلويښت (۴۰) ورځې مسلسل سفر وکړو، هلته چې ورورسيدو نو د هغه صحابي نه يې هغه يو حديث واوريده، او واپس د هغې ځاى نه راروان شو، هغه حديث دا دى:

اَللّٰهُ فِيْ عَوْنِ الْعَبْدِ مَادَامَ الْعَبْدُ فِيْ عَوْنِ أَخِيْهِ.(۱)

الله تعالى تر هغه وخته پورې د بنده مدد کوي، ترڅو پورې چې بنده د خپل ورور مسلمان مدد کوي.

همدا رنګې حضرت جابر رضى الله عنه جليل القدر صحابي دى، ده هم صرف د يو حديث معلومولو د پاره دمشق ته سفر کړې ؤ.(۲)

## صرف د حديث سَند اوچتولو د پاره نهه سوه ميله لرې سفر کول

يو محدث وايي چې د يو حديث په باره کې ماته دا معلومه شوه چې دا حديث فلاني عالم ته معلوم دى، همدا حديث اګر چې ماته هم معلوم ؤ خو چونکه د هغه سَند اوچت ؤ (يعنى د هغه او د نبي کريم ﷺ په مينځ کې واسطې کمې وې)، لهذا زه صرف د سَند اوچتولو د پاره د هغه

---

(۱) حواله د حديث داده: اخرجه مسلم في الذكر حديث ۳۷، وابوداود في الادب باب ۶۰، والترمذي في الحدود باب ۳ وابن ماجه في المقدمة باب ۱۷، الترغيب والترهيب ج۳ ص ۲۶۲ الترغيب في قضاء حوائج المسلمين. دعوات حق لمولانا عبدالحق رحمه الله ج۱ ص ۶۱۰.

(۲) دعوات حق لمولانا عبدالحق رحمه الله ج۱ ص ۶۱۰.

(c) ketabton.com: The Digital Library



پسې روان شوم ، تقريبًا نهه سوه (۹۰۰) ميله مزل مې وکړو ، چې کله هغه ته وراورسيدم ، د هغه نه مې حديث واوريده ، او دوباره راروان شوم . (۱)

## د امام ابوحاتم رازي رحمه الله علمي سفرونه کول

امام ابو حاتم رازي رحمه الله په خپلو حالاتو کې ليکلي چې کله ما په اول ځل باندې د شلو (۲۰) کالو په عُمر د خپل کلي (رَيْ) نه عِلمي سفر شروع کړو ، نو اووه (۷) کاله مسلسل مې عِلمي سفرونه کول ، او دا سفرونه مې ټول پياده کړي .

اووه (۷) کاله پس چې کله خپل وطن (رَيْ) ته راغلم ، څه وخت پس مې بيا دوباره علمي سفر شروع کړو ، او درې (۳) کاله مې نور هم سفرونه وکړه .

تقريبًا شپږزره (۶۰۰۰) کلوميټره پياده سفر ما شمار کړې دی ، ددې نه روستو ما بيا د سفر شمار ل پريښوده .

څو څو پيرې د کوفې نه بغداد ته پياده تللې يم ، دغه رنګې د مکې نه مدينې ته ، او د مدينې نه مصر ته هم بار بار پياده تللې يم ، همدغه شان د مصر نه رَمْلې ته ، او د رَمْلې نه مختلفو علاقو لکه بيت المقدس ، عسقلان ، او طبريې ته پياده تللې يم .

همدارنګې د رملې نه دمشق ته ، د دمشق نه حمص ته ، د حمص نه انطاکيه ته ، او د انطاکيه نه طرطوس ته پياده تللې يم .

بيا د طرطوس نه دوباره حمص ته صرف ددې د پاره راغلم چې په حمص کې د ابواليمان د حديث څه حصه د اوريدو نه رانه پاتې شوې وه ، هغه مې چې واوريده نو د حمص نه دوباره بيستان ته راروان شوم ، بيا د بيستان نه رُقې ته ، او د رُقې نه بغداد ته راغلم .

او دا ټول سفرونه مې پياده کړي وو . (۲)

---

(۱) خطبات فقير ج۱۱ ص ۱۹۲ .

(۲) سير اعلام النبلاء ۱۳ / ۲۵۵ ، صبر و استقامت کے پيکر ، طالب کيلئے مثالي تحفه ص ۲۷۳ .

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د علم په زده کړه کې خواري او محنت کول

علم چونکه يو عظيم نعمت دی او دا نعمت انسان ته هله حاصليږي چې دې په دې کې ښه خواري او محنت وکړي. ځکه بغير د خوارۍ او محنت نه انسان ته نه خو په دُنيا کې کاميابي ممکن ده، او نه په آخرت کې، الله تعالى فرمايي:

﴿ لَيْسَ لِلْإِنْسَانِ إِلَّا مَا سَعَىٰ ﴾. (۱)

ترجمه: نشته د انسان دپاره مګر هغه څه چې ده يې کوشش وکړو.

بل ځای الله ﷻ فرمايي:

﴿ وَالَّذِينَ جَاهَدُوا فِينَا لَنَهْدِيَنَّهُمْ سُبُلَنَا... ﴾. (۲)

ترجمه: څوک چې زمونږ د دين په لاره کې کوشش کوي نو مونږ به ورته خپلې لارې وښايو.

امام مالک رحمه الله فرمايي:

اَلْعِلْمُ شَيْءٌ لَا يُعْطِيْكَ بَعْضَهُ حَتّٰى تُعْطِيَهُ كُلَّكَ.

علم داسې يو شی دی چې دې به تا ته بعضې حصه د هغه وخته پورې درنه کړي ترڅو چې تا ده ته غونډ ځان نه وي وقف کړې.

د محنت په باره کې يو شاعر وايي:

۱. بِقَدْرِ الْكَدِّ تُكْتَسَبُ الْمَعَالِيْ ❁ مَنْ طَلَبَ الْعُلٰى سَهِرَ اللَّيَالِيْ

۲. تَرُوْمُ الْعِزَّ ثُمَّ تَنَامُ لَيْلًا ❁ يَغُوْصُ الْبَحْرَ مَنْ طَلَبَ اللَّآلِيْ

۳. عُلُوُّ الْكَعْبِ بِالْهِمَمِ الْعَوَالِيْ ❁ وَعِزُّ الْمَرْءِ فِيْ سَهَرِ اللَّيَالِيْ

۴. وَمَنْ رَامَ الْعُلٰى مِنْ غَيْرِ كَدٍّ ❁ اَضَاعَ الْعُمْرَ فِيْ طَلَبِ الْمُحَالِيْ (۳)

---

(۱) النجم آیت ۳۹.

(۲) العنکبوت آیت ۶۹. حضرت فضيل بن عياض رحمه الله د دې آيت معنى داسې بيانوي: وَالَّذِيْنَ جَاهَدُوْا فِيْ طلب العلم لَنَهْدِيَنَّهُمْ سُبُلَ العمل به. کوم خلق چې د علم په طلب کې کوشش کوي نو مونږ به دوی ته په دې باندې د عمل کولو لارو طرفته راهنمايي وکړو. تفسير مظهري سورة عنکبوت آيت ۶۹، ومعارف القرآن.

(۳) تعليم المتعلم فصل فى الجدّ والمواظبة والهمّة.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱. د محنت (او مشقّت) په اندازه باندې اوچت مقام حاصلولې شي، پس څوک چې اُوچته مرتبه طلب کوي نو هغه به شپې ويښې تيروي.

۲. ته اراده د عزت (او اُوچتوالي) لرې، خو (عجيبه داده چې) ته بيا اُوده کيږې، (خُوبوند کوې، داسې خو هيڅ کله نه شي کيدې چې انسان بغير د شَب بيدارۍ او محنت نه اُوچته مرتبه حاصله کړې) ځکه کوم کس چې ملغلرې طلب کوي نو هغه په درياب کې غُوپې وهي.

۳. اُوچتوالې د شرافت (او بزرګۍ) په اُوچتو همتونو سره وي، او د انسان عزت په شب بيدارۍ (د شپې محنت کولو) کې دې.

۴. کوم کس چې بغير د محنت (او خوارۍ) نه اراده د اوچتوالي لري، نو دې انسان ديو محال شي په طلب کې خپل عُمر ضايع کړو.

امام شافعي رحمه الله فرمايي:

اَلْجِدُّ يُدْنِيْ كُلَّ اَمْرٍ شَاسِعٍ * وَالْجِدُّ يَفْتَحُ كُلَّ بَابٍ مُغْلَقٍ (۱)

کوشش هر مشکل کار آسانوي، او کوشش هره بنده دروازه خلاصوي.

## د حضرت ابوهريرة ﷺ ولږه برداشت كول

د تعليم په دوران کې حضرت ابوهريرة رضى الله عنه د ډيرې ولږې د لاسه څو څو پيرې بې هوشه شوې وُ، خلقو به ورباندې دا ګمان وکړو چې ګني په ده باندې د مِرګو بيمارې راغلې ده، نو دوى به کوشش کولو چې دې په هوش کې راشي (حالانکه په ده باندې به د مِرګو بيمارې نه وه، بلکه د ډيرې ولږې د لاسه به بې هوشه شوې وُ).

## دامام بخاري رحمه الله مشقت برداشت كول

د امام بخاري رحمه الله کتاب (صحيح البخاري) ته چې د اَصَحُّ الْكُتُبِ بَعْدَ كِتَابِ اللهِ شرف حاصل شوې دى، نو ده هم د طالب علمۍ په دوران کې ډير تکليفونه او مشقتونه برداشت کړي دي، يو ځل په يو سفر کې ورباندې دومره غُربت راغې چې د خوراک ورته نور هيڅ نه

(۱) تعليم المتعلم فصل في الجد والمواظبة والهمة، تحفة الطلباء والعلماء ص ۱۵۶، طلباء کے لیے مثالي تحفه ص ۷۳.

(c) ketabton.com: The Digital Library



حاصليده ، درې (۳) ورځې مسلسل يې دځنګل د اُونو په پاڼو او بوټو خوړلو باندې ګزاره کوله .(۱)

زمونږ اسلافو او مشائخو ته چې الله ﷻ دومره لوي مقام ورکړې وُ ، دوی هم دعلم د حصول په وخت ډير محنت ، مشقتونه او تکاليف برداشت کړي دي ، د همدغه محنت په برکت سره دوی غټ غټ کتابونه ليکلي چې تر قيامته پورې خلق ورنه استفاده کوي .

## د امام طبري رحمه الله محنت

دامام طبري رحمه الله نه چا پوښتنه وکړه چې حضرت ! تاسو ته دا بې شماره علوم څنګه حاصل شو ؟ نو ده ورته وويل :

كُنْتُ اَنَامُ عَلَى الْبَرَارِيْ ثَلَاثِيْنَ سَنَةً .

ديرش (۳۰) کاله چيرته زه په بستره نه يم اُوده شوې ، بلکه ما به د بسترې په ځای ځانته بورۍ اچوله ، او په هغې به اوده کيدم .

## د امام ابوحاتم رازي رحمه الله مشقت برداشت کول

۱. د فنِّ حديث اوچت امام علامه ابوحاتم رازي رحمه الله خپله واقعه بيانوي چې زه د طالب علمۍ په زمانه کې څوارلس (۱۴) کاله په بصره کې پاتې شوې يم ، يو پيره دومره غُربت راباندې راغې چې خپلې جامې (کپړې) مې خرڅې کړې ، او په هغې مې ګزاره کوله ، کله چې کپړې راسره ختمې شوې ، نو دوه ورځې راباندې مسلسل وَلږه تيره شوه ، آخر مجبور شوم او يو دوست ته مې خپل حال ښکاره کړو ، نو د خوش قسمتۍ نه د هغه سره يو درهم و ، هغه ما ته نيم درهم راکړو نو ما بيا په هغې ګزاره وکړه .(۲)

۲. دامام ابوحاتم رازي رحمه الله په حالاتو کې راځي ، دې په خپله د دې بيان کوي ، چې يو ځل مونږ درې (۳) ملګري په علمي سفر باندې ووتو ، د ځان سره مو د خوراک څه شيان راواخيستل ، مونږ سمندري سفر شروع کړو ، په کشتۍ کې کيناستو ، درې مياشتې مونږ سفر کولو ، د خوراک چې راسره څه وو هغه هم ختم شو ، دعاګانې مو کولې ، آخر دا چې يوې اُوچې

(۱) تذکرۀ الحفاظ، لدا یے ممبرومحراب ج۳ ص ۱۳۵ .

(۲) تذکرۀ الحفاظ ، لدا یے ممبرومحراب ج۱ ص ۱۲۷ .

(c) ketabton.com: The Digital Library



علاقې ته ورسيدو، مونږ د کشتۍ نه ښکته شو او پيدل سفر مو شروع کړو، د خوراک هم راسره څه نه وو، آخر د ډيرې ولږې او تندې د وجې زمونږ يو ملګرې بيهوشه شو، او راپريوت، مونږ چې هر څومره هغه وخوځول خو هغه په هوش کې نه راتلو، مونږ مجبورًا هغه په هماغه ځاى پريښود، او مخکې روان شو، (چې که چيرته څه کورونه په نظر راشي نو د هغوى نه به ددې کس د پاره څه خوراک او څکاک راوړو).

مزل مو کولو، آخر دا چې زه هم د ډيرې ولږې او تندې د لاسه راپروتم، په خپو کې مې هيڅ قوت د تللو نه و.

زمونږ هغه دريم ملګري زه هم پريښودم او په وړاندې يې سفر شروع کړو (ددې دپاره چې که چيرته څوک پيداشي او ددوى د پاره ورنه خوراک او اُوبه راوړي).

کله چې دا دريم ملګرې څه مخکې لاړو، نو هغه ډير لرې څه کسان وليده چې هغوى د سمندري کشتۍ نه د لږ وخت دپاره راکوز شوي وو، ده هغوى ته په څادر خوزولو سره اشاره وکړه، هغوى چې ده ته راغله، نو ده ورته خبره وکړه (چې زما دوه ملګري د ولږې او تندې نه بې هوشه دي).

ابوحاتم رازي رحمه الله وايي چې ما وکتل چې خلق ماته په خوله کې اُوبه راچوي، ما چې څه اُوبه وڅکلې، نو په ماکې څه نا څه قوت راپيداشو او راپورته شوم.

ما هغوى ته وويل چې: شاته د مونږ نه يو بل ملګرې هم د ولږې او تندې د لاسه بې هوشه پروت دى، دوى هغه له هم ورغله، هغه ته يې هم په خوله کې اُوبه واچولې او څه خوراک يې ورته ورکړو، هغه هم چې کله په هوش کې راغې، نو مونږ درې واړه ددې کشتۍ والاو سره لاړو، دوى زمونږ ډير عزت وکړو، او څه خوراک يې هم راله راکړو. (۱)

## د شيخ عبدالقادر جيلاني رحمه الله مشقت برداشت کول

شيخ عبدالقادر جيلاني رحمه الله د خپلې طالبۍ واقعه بيانوي چې کله ما سبق ويل نو په بغداد کې دومره ګراني وه، او په ما باندې دومره غُربت و چې څو څو ورځې به ما خوراک او نه کړو خو خپل سبق مې بيا هم نه دى قضاء کړې.

(۱) صبرو استقامت کے پیکر، طلباء کےلئے مثالي تحفه ص ۲۷۲.

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې کله به رابانديې وَلږه زياته شوه نو بيا به مې په لاره کې کتل چې که چا څه شي خوړلي وي او د هغې پوستکي پراته وي نو زه به هغه راواخلم، او به يې وينځم، او په هغې به ګوزاره وکړم، مابه دا پوستکي راواخيسته، هغه به مې اووينځل او د هغې په خوراک به مې خپله ګوزاره کوله.

يوه ورځ چې کله ډير وږې شوم نو په دې نيت را ووتم چې په لاره کې به څه پيدا کړم او راوابه يې خلم، خو چې هر څومره وګرځيدم هيڅ شی مې پيدا نه کړو، ماته پته ولږيده چې د مانه مخکې کوم بل غريب په دې لاره تير شوې او د شيانو پوستکي هغه راټول کړي دي.

شيخ عبدالقادر جيلاني رحمه الله وايي چې کله زه په بغداد کې ''عطر بازار'' ته ورسيدم او هلته يو جُمات (مسجد ياسين) ته ورننوتم، نو د ډيرې ولږې د لاسه مې نور هيڅ حرکت نه شو کولې، زه د جُمات په يو ګُنج (ګُټ) کې کيناستم او د خپل مرګ انتظار مې کولو.

ناڅاپه دې جُمات ته يو ځوان راننوت چې په لاس کې ورسره تازه روټۍ او سَره کړې غوښه هم وه، دې هم په جُمات کې ماته مخامخ کيناست او خوراک يې شروع کړو.

کله به چې هغه خپلې خُولې ته نَوړۍ اوچتوله نو د ډيرې ولږې د لاسه به بې اختياره زما خُوله هم کلاويده، مابه ځان ښه کنټرول کړو او خپل ځان مې ښه ملامته کړو چې اې عبدالقادره! دا ته څه کوې؟

دا دُعا مې وکړه چې يا الله! يا خو زما دخوراک انتظام وکړې، او يا راته په حياء او پَرده کې مرګ راولې.

ناڅاپه ددې ځوان په ما باندې نظر اولږيده، او راته وې ويل چې ورو ره! راشه، ډوډۍ اُوخوره. ما اِنکار وکړو. هغه راته قَسَم راکړو چې راشه ډوډۍ اوخوره. زه ورغلم او په قلاره قلاره مې ورسره ډوډۍ خوړه.

هغه رانه پوښتنه وکړه چې ته د کوم ځاى يې؟ ستا څه نوم دى؟ او دلته څه کوې؟

ما ورته وويل چې زه د ''جيلان'' يم، او دلته د علم حاصلولو د پاره راغلې يم.

هغه راته وويل چې زه خو هم د جيلان يم. او پوښتنه يې رانه وکړه: چې آيا ته خو د عبدالقادر په نوم يو کس نه پيژنې؟ چې د جيلان اوسيدونکې دى، او د ابوعبدالله صومعي درويش نمسې دى؟ ما ورته وويل چې هغه کس زه په خپله يم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



کله چې هغه دا خبره واوریده نو رنګ یې زیړ شو ، او وې ویل : په الله قسم ، ستا مور ماته ستا د پاره څلوېښت دینار راکړي وو ، خو زه چې بغداد ته راغلم نو ما ته ډیر تلاش کړې خو ما هیڅ چرته هم ته پیدا نه کړې ، آخر دا چې د ماسره خپله خرچه هم ختمه شوه ، او نن دریمه ورځ ده چې ما هم څه نه دي خوړلي ، دومره ولږې راخیستې ووم چې ماته مرداره خوراک هم جائز وه ، خو نن مې ستا په دې دینارو کې په یو څو دیناره باندې ځان له خوراک راواخیستو ، نو زه د تا نه معذرت غوارم ، دا همدا ستا په روپو اخیستل شوې خوراک دی ، نو ته دا ډیر په اطمینان او خوره ، او دا باقي مانده دینار درواخله .

عبدالقادر جیلاني رحمه الله وايي چې ما هغه ته تسلي ورکړه چې خفه کیږه مه ، تا ډیر ښه کار کړې . کله چې مونږ دواړو اوخوړه نو ما بیا هغه ته د خرچې د پاره څه دیناره هم ورکړه او هغه مې په ډیر عزت سره رخصت کړو .(۱)

## د امام ابن جوزي رحمه الله محنت

امام ابن جوزي رحمه الله یو کرت په ممبر باندې وویل چې ما په دې خپلو ګوتو باندې دوه زره (۲۰۰۰) جلدونه کتابونه لیکلي دي .

ده به د احادیثو لیکلو په وخت کې چې کله د کرکي (لرګي) قلم ځان له جوړول نو هغه پوستکي به یې جمع کول ، ددې نه دومره ډیر پوستکي جمعه شوي وو چې د مرګ په وخت یې وصیت وکړو چې ماته د غسل اوبه په دې پوستکو ګرمې کړئ . کله چې دې وفات شو نو ده له یې د غسل اوبه په دې پوستکو ګرمې کړې ، او پوستکي دومره ډیر وو چې بیا هم زیاتي شو .(۲)

## په درې دیرش (۳۳) کاله کې صرف اته (۸) مسئلې زده کول

امام غزالي رحمه الله په خپل مشهور کتاب " احیاء العلوم " کې د حاتم اصم رحمه الله واقعه ذکر کړې ، چې یوه ورځ ده نه خپل استاذ شقیق بلخي رحمه الله پوښتنه وکړه ، چې اې حاتمه ! تا د ماسره څومره وخت د علم په زده کړه کې تیر کړو ؟

---

(۱) صبر واستقامت کے پیکر ص ۱۰۷ .

(۲) علماے سلف بلداے ممبرومحراب ج۳ ص ۱۳۶ .

(c) ketabton.com: The Digital Library



ده ورته وويل چې درې ديرش (۳۳) کاله. استاذ ورنه پوښتنه وکړه چې په دې درې ديرش کاله کې تا د مانه څه زده کړه؟ ده ورته وويل: اته (۸) مسئلې.

استاذ ويل: إِنَّا لِلَّهِ وَإِنَّا إِلَيْهِ رَاجِعُونَ. زما خو دتاسره غونډ عمر تير شو، او تا صرف د مانه اته (۸) مسئلې زده کړي؟

ده ورته وويل چې استاذ صاحب! دروغ درته نه شم ويلې، په دې دومره زمانه کې مې صرف همدغه اته مسايل زده کړي دي نور مې هيڅ نه دي زده کړي.

استاذ ورته وويل چې ته هغه اته (۸) مسايل بيان کړه چې زه يې واورم.

نو حاتم اصم رحمه الله ورته شروع شو:

۱. ما چې کله دې مخلوقاتو ته اوکته، نو هر چا د يو شي سره محبت کول، خو چې کله به دې مړ شو نو هغه شئ به ورنه پاتې شو، نو ما د نيکو اعمالو سره محبت شروع کړو (او نيک اعمال مې کول)، ځکه که زه وفات شم نو دا نيک اعمال به د ماسره قبر ته هم ځي. (د مانه به نه جدا کيږي).

استاذ ورته وويل چې دا خو دې ډيره ښه مسئله زده کړې. خو نورې دې کومې مسئلې زده کړي؟ هغه هم راته ووايه. ده ورته وويل:

۲. کله چې ما چې د الله ﷻ دې قول ته نظر وکړو چې الله تعالی فرمايي:

﴿ وَأَمَّا مَنْ خَافَ مَقَامَ رَبِّهِ وَنَهَى النَّفْسَ عَنِ الْهَوَى . فَإِنَّ الْجَنَّةَ هِيَ الْمَأْوَى ﴾ (۱)

ترجمه: پس څوک چې د خپل رب د وړاندې د اودريدلو نه ويريدلې وي، او خپل نفس يې د خواهشاتو نه منعه کړې وي نو يقيناً دده دپاره جنت ځای د اوسيدو دی.

نو ما د ځان سره سوچ وکړو چې د الله جل جلاله په کلام کې هيڅ شک وشبه نشته، لهذا ما هم په زړه کې د الله ﷻ نه ويره پيدا کړه، د خواهشاتو نه مې ځان منعه کړو، او نيک اعمال مې شروع کړه. (چې الله ﷻ ماله هم جنت را کړي).

۳. ما چې دې مخلوقاتو ته نظر وکړو، نو ما وليده چې د هر چا سره څه قيمتي شی وي نو دې د هغې ډير حفاظت کوي او په يو محفوظ ځای کې د ځان د پاره ږدي، خو ما چې د قرآن کريم دې آيت ته وکته چې الله تعالی فرمايي:

(۱) النازعات آيت ۴۰، ۴۱.

(c) ketabton.com: The Digital Library



﴿ مَا عِندَكُمْ يَنفَدُ وَمَا عِندَ اللَّهِ بَاقٍ ﴾ . (۱)

ترجمه : څه چې د تاسو سره دي نو هغه به ختم (فناء) شي ، او څه چې د الله ﷻ سره دی هغه باقي پاتې کيدونکي دي .

لهذا د ماسره چې څه قيمتي شی ؤ ، ما هغه الله ﷻ ته حواله کړو (يعنی خيرات مې کړو) ددې دپاره چې دا زما د پاره محفوظ شي .

۴ . ما په دې مخلوقاتو کې نظر وکړو نو چا په مال سره فخر کولو ، چا په حسَب و نسَب سره فخر کول او دا يې د ځان د پاره د عزت شی ګڼلو چې ګڼي په دې سره به زه معزز شم ، خو ما چې د الله ﷻ دې قول ته وکته چې الله تعالی فرمايي :

﴿ إِنَّ أَكْرَمَكُمْ عِندَ اللَّهِ أَتْقَاكُمْ ﴾ . (۲)

ترجمه : بيشکه په تاسو کې د الله ﷻ په نزد زيات عزت مند هغه کس دی ، چې هغه په تاسو کې زيات پرهيزګاروي .

نو ما هم تقوی په ځان کې پيدا کړه چې زه هم د الله ﷻ په نزد عزت مند شم .

۵ . ما چې په دې مخلوقاتو کې نظر وکړو نو دوی کې بعضې په بعضې نورو باندې لعنت وايي ، د يو بل سره عداوت کوي ، او د بل مسلمان سره چې څه نعمت او ګوري نو دې دا نه برداشت کوي. ددې ټولو خبرو جرړه حسَد دی ، نو ما د الله جل جلاله دې قول ته وکته چې الله تعالی فرمايي :

﴿ نَحْنُ قَسَمْنَا بَيْنَهُم مَّعِيشَتَهُمْ فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا ﴾ (۳)

ترجمه : هم مونږ ددوی روزي په دُنيا کې د دوی په مينځ کې تقسيم کړې ده .

نو زه پوهه شوم چې کله تقسيم د الله ﷻ د طرفه دی نو بيا زه د خلقو سره حسَد او عداوت ولې وکړم ، لهذا ما حسَد او عداوت پريښود .

(۱) النحل آيت ۹۶ .
(۲) الحجرات آيت ۱۳ .
(۳) الزخرف آيت ۳۲ .

(c) ketabton.com: The Digital Library



٦. ما په دې مخلوقاتو کې نظر وکړو نو په دوی کې بعضې په بعضې نورو باندې ظلم و زياتې کوي، يو بل په ناحقه قتلوي، او د يو بل سره سخته دشمني کوي. نو ما د الله جل جلاله دې قول ته وکتل چې الله تعالى فرمايي:

﴿ إِنَّ الشَّيْطَانَ لَكُمْ عَدُوٌّ فَاتَّخِذُوهُ عَدُوًّا ﴾. (۱)

ترجمه: بيشکه شيطان ستاسو د پاره دُشمن دی، نو تاسو دې په دُښمنی ونيسئ (يعنی د شيطان سره دښمني کوئ).

نو زه پوهه شوم چې زما اصلي دُښمن شيطان دی، ځکه الله تعالى فرمايي چې دې ستاسو ښکاره دشمن دی نو ما د خلقو سره دښمني پريښوده، او صرف دا شيطان مې په دُښمنی ونيوه.

٧. ما چې دې مخلوقاتو ته نظر وکړو نو ما وليده چې هر کس د رزق په تلاش کې دومره ځان مشغوله کړي چې د حلال و حرام، جائز او ناجائز تميز نه کوي، بلکه شپه او ورځ يې په ځان يوه کړي وي، خو صرف ځان له څه راپيدا کوي. نو ما د الله تعالى دې قول ته اوکتل چې الله ﷻ فرمايي:

﴿ وَمَا مِنْ دَآبَّةٍ فِي الْأَرْضِ إِلَّا عَلَى اللَّهِ رِزْقُهَا ﴾ (۲)

ترجمه: او د زمکې په مخ هيڅ تلونکې جاندار (ذي روح) داسې نشته چې د هغه روزي د الله ﷻ په ذمه نه وي. (يعنی د هر جاندار روزي د الله ﷻ په ذمه ده).

نو زه پوهه شوم چې زه خو هم د هغه ذي روح (سادار) نه يم چې د هغوی د روزی ذمه داري الله ﷻ په خپله ذمه اخيستې ده.

لهذا په ما باندې چې د الله تعالى کوم فرائض او احکام وو نو ما ځان هغې طرف ته متوجه کړو، او چې زما کوم شی د الله ﷻ په ذمه و نو ما د هغې دير فکر پريښود.

٨. ما چې په مخلوقاتو کې نظر وکړو نو ټولو خلقو په مختلفو شيانو توکّل کولو: چا په خپل اولاد توکّل کولو، چا په تجارت توکّل کولو، او چا په زراعت توکل کولو، يعنی هر مخلوق په يو بل مخلوق باندې توکّل کولو.

---

(۱) سورة فاطر آيت ٦.

(۲) سورة هود آيت ٦.

(c) ketabton.com: The Digital Library



نو ما د الله ﷻ دې قول ته وکته چې الله تعالی فرمايي :

﴿ وَمَنْ يَتَوَكَّلْ عَلَى اللَّهِ فَهُوَ حَسْبُهُ ﴾ . (۱)

ترجمه : او څوک چې په الله ﷻ باندې توکّل (بهروسه) کوي ، نو الله تعالی يوائې هغه لره کافي دی .

لهذا ما يوائې په الله ﷻ باندې توکّل او اعتماد وکړو ، او الله ﷻ زما د پاره کافي هم دی.
شقيق بلخي رحمه الله چې کله د خپل شاګرد ( حاتم اصم رحمه الله ) دا اته (۸) خبرې واوريدې کومې چې ده په درې ديرش (۳۳) کاله کې زده کړې وې ، نو ورته وې ويل :
اې حاتمه ! تا ته دې الله تعالی په دې باندې د عمل کولو توفيق درکړي ، ما د تورات ، انجيل ، زبور او د قرآن مجيد په ټولو علومو باندې نظر اچولی نو دا اته خبرې ( د عمل په اعتبار سره ) د ټولو کتابونو نچوړ او خلاصه ده ، چا چې په دې باندې عمل وکړو ګويا ده په ټولو کتابونو باندې عمل وکړو . ( ځکه دا اته خبرې د ټولو نيکو کارونو د پاره اساس دی ) . (۲)
نو په کار ده چې هر طالب العلم د حاتم اصم رحمه الله غوندې په خپل علم باندې عمل وکړي او د خپل ژوند د پاره دغه شان قيمتي خبرې مشعلِ راه او ګرځي .

## د طالب علمۍ په دوران کې اکثر تکليفونه وي

د طالب عِلمۍ په دَوران کې اکثر په طالب باندې ډير تکليفونه او مصيبتونه راځي ، کله مالي تکليفونه وي ، او کله بدني . بعض وخت خو ديته خبره اورسي چې انسان ته قُوْت لَا يَمُوْت رزق هم نه ملاويږي . وَلږه ، تنده او د خلقو خبرې طالب ديته مجبور کړي چې دده زړه مات شي او همت يې کمزورې شي .

خبردار ! په داسې موقعو کې انسان ته صبر ، استقامت ، استقلال او کلک همت په کار دی ، ځکه چې کله د انسان حوصله اوچته وي نو که اوس په ده باندې هر څومره تکليفونه راځي په دې سر دده په عَزم او اراده کې نور هم مضبوطتيا راځي ، او نور هم مقصود طرف ته متوجه کيږي .

---

(۱) الطلاق آيت ۳ .

(۲) احياء العلوم ج ۱ ص ۹٦ کتاب العلم الباب السادس .

(c) ketabton.com: The Digital Library



قدرمنو ! كه چيرته زمونږ اسلافو دغه محنتونه او مشقتونه نه وې برداشت كړي نو اهلِ اسلام ته به څنګه د امام بخاري ، امام ابوحنيفه او تهانوي رحمهم الله غوندې كسان نصيبه شوي وو ؟ دا خو د هغوی د محنت بركت دی چې د هغوی د كتابونو نه نن هم خلق استفاده كوي.

علماء فرمايي :

لَايُسْتَطَاعُ الْعِلْمُ بِرَاحَةِ الْجِسْمِ . (۱)

د جسم په راحت سره علم نه حاصليږي .

# د نابينا كسانو علمي كارنامې

د همدغه علمي جذبې او عالي همت په بركت باندې د اُمت هغه خلقو هم غټې كارنامې كړې كوم چې په ستركو باندې معذوره وو .

ابوالعباس رازي رحمه الله نابينا ؤ ، ځان سره يې سوچ وكړو چې كه ستا ستركې نشته نو خپې خو دې شته ، راشه د علم پسې ووځه ، او علم حاصل كړه ، نو د خپل وطن نه د علم زده كولو پسې اووت او د دوه زرو (۲۰۰۰) ميله نه زيات علمي سفرونه يې وكړه .(الله ﷻ ورنه ډير لوي عالم جوړ كړو ) . (۲)

همدارنګې يو بل نابينا مشهور شاعر ابوالعلاء معرّی كوم چې د څلورو كالو په عمر كېړوند شوې ؤ ، ده هم ډير علمي سفرونه كړي وو ، او ډير كتابونه يې هم ليكلي . صرف په فنِ ادب كې يې يو كتاب '' الايا والغصون '' په سلو (۱۰۰) جلدونو كې ليكلې . (۳)

همدارنګې حمّاد بن زيد نابينا عالم ؤ ، څلور زره (۴۰۰۰) احاديث ورته داسې ياد وو چې يو روايت كې به هم نه خطاء كيده . (۴)

(۱) تحفة العلماء والطلباء ، طلباء كے لئے مثالي تحفه ص ۲۷۴.

(۲) نابينا علماء ص ۲۹ ، ندائے ممبرومحراب ج۳ ص ۱۳۷ .

(۳) نابينا علماء ص ۲۳ ، ندائے ممبرومحراب ج۳ ص ۱۳۷ .

(۴) نابينا علماء ص ۱۷ ، ندائے ممبرومحراب ج۳ ص ۱۳۷ .

(c) ketabton.com: The Digital Library

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

﴿ قُلْ هَلْ يَسْتَوِي الَّذِيْنَ يَعْلَمُوْنَ وَالَّذِيْنَ لَا يَعْلَمُوْنَ ﴾. الزمر آیت ۹ .

﴿ يَرْفَعِ اللّٰهُ الَّذِيْنَ آمَنُوْا مِنْكُمْ وَالَّذِيْنَ أُوْتُوا الْعِلْمَ دَرَجَاتٍ ﴾ . المجادلة ۱۱ .

﴿ إِنَّمَا يَخْشَى اللّٰهَ مِنْ عِبَادِهِ الْعُلَمَاءُ ﴾ . فاطر ۲۸ .

# د عُلماو او طلباو مقام


تالیف :

اَبُوالشَّمْس مولانا نُوْرُالْهُدیٰ عُفِيَ عَنْهُ

مُدَرِّس دَارُالعلوم فیض القُرآن اکاخیل کالونی مردان

(c) ketabton.com: The Digital Library



بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

# د علماو او طلباو مقام :

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ نَحْمَدُهُ وَنَسْتَعِيْنُهُ وَنَسْتَغْفِرُهُ وَنُؤْمِنُ بِه وَنَتَوَكَّلُ عَلَيْه، وَنَعُوْذُ بِاللهِ مِنْ شُرُوْرِ اَنْفُسِنَا وَمِنْ سَيِّئَاتِ اَعْمَالِنَا مَنْ يَّهْدِهِ اللهُ فَلَا مُضِلَّ لَهُ وَمَنْ يُّضْلِلْهُ فَلَا هَادِيَ لَه، وَنَشْهَدُ اَنْ لَّا اِلٰهَ اِلَّا اللهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيْكَ لَهُ وَنَشْهَدُ اَنَّ سَيِّدَنَا وَنَبِيَّنَا وَمَوْلَانَا مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُوْلُه ،

اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ. قَالَ اللهُ تَبَارَكَ وَتَعَالٰى فِي الْقُرْآنِ الْمَجِيْدِ وَالْفُرْقَانِ الْحَمِيْدِ :

﴿ قُلْ هَلْ يَسْتَوِى الَّذِيْنَ يَعْلَمُوْنَ وَالَّذِيْنَ لَا يَعْلَمُوْنَ اِنَّمَا يَتَذَكَّرُ اُولُوا الْاَلْبَابِ ﴾ . (۱)

وقال تعالى : ﴿ يَرْفَعِ اللهُ الَّذِيْنَ آمَنُوْا مِنْكُمْ وَالَّذِيْنَ اُوْتُوا الْعِلْمَ دَرَجَاتٍ ﴾ . (۲)

وقال تعالى : ﴿ اِنَّمَا يَخْشَى اللهَ مِنْ عِبَادِهِ الْعُلَمَاءُ . ﴾ . (۳)

وَقَالَ النَّبِيُّ ﷺ : مَنْ يُّرِدِ اللهُ بِهِ خَيْرًا يُفَقِّهْهُ فِي الدِّيْنِ . (۴)

وَقَالَ النَّبِيُّ ﷺ : اَلْعُلَمَاءُ وَرَثَةُ الْاَنْبِيَاءِ وَاِنَّ الْاَنْبِيَاءَ لَمْ يُوَرِّثُوْا دِيْنَارًا وَلَا دِرْهَمًا اِنَّمَا وَرَّثُوا الْعِلْمَ فَمَنْ اَخَذَهُ اَخَذَ بِحَظٍّ وَافِرٍ (۵)

صَدَقَ اللهُ الْعَظِيْمِ .

---

(۱) الزمر آيت ۹ .

(۲) المجادلة ۱۱ .

(۳) سورة فاطر ۲۸ .

(۴) رواه البخاري في العلم ۱۰ ، ومسلم في الامارة ۱۷۵ ، والترمذي في العلم ۴ ، ورواه الهيثمي في مجمع الزوائد ۱ ۱۲۸ ، مشكوة كتاب العلم .

(۵) اخرجه البخاري في العلم ۱۰ ، والترمذي في القرآن ۱۰ وفي العلم ۱۹ ، ۳۵ ، وابن ماجه في المقدمة ۱۷ ، واحمد ۲ ، ۲۵۲ ، ۳۲۵ ، ۴۰۷ . ابوداود (۳٦۴۱) ، (۳٦۴۲) ، وابن ماجه (۲۲۳) و ابن حبان (۸۰) ورواه الترمذي (۲٦۸۴) مشكوة كتاب العلم .

(c) ketabton.com: The Digital Library



محترمو مسلمانانو وروڼو ! علم داسې يو عظيم صفت دی چې د دې په وجه انسان په ټولو مخلوقاتو کې معزز او مشرّف ګرځي، زړه يې د معرفتِ الهي په مقدّسه رڼا باندې منوّر ګرځي او انسان ته په دُنيا او آخرت کې خوشحالي، ترقي او کاميابي نصيب کيږي .

لهذا د دې علم سره چې د چا هم، او د څه شي هم واسطه راغلې نو الله تعالى هغه ته ډير لوي مقام او لويه مرتبه ورکړې . د دې د وجې نه په قرآن کريم او احاديثو کې د علماو او طلباو ډير زيات فضيلت بيان شوې :

# د علماو مقام

## الله ﷻ د علماؤ درجې اوچتوي

الله تبارک وتعالى فرمايي :

﴿ يَرْفَعِ اللهُ الَّذِيْنَ آمَنُوْا مِنْكُمْ وَالَّذِيْنَ أُوْتُوا الْعِلْمَ دَرَجَاتٍ ﴾ . (۱)

ترجمه : الله تعالى به په تاسو کې د مومنانو او اهل علمو درجې اوچتې کړي .

په دې آيت مبارکه کې د علماو فضيلت بيان شوې، ځکه په دې کې الله ﷻ اول د عامو مومنانو د درجو اوچتوالې ذکر کړې چې پکې علماء هم داخل دي، بيا يې د تعميم نه روستو په خصوصيت سره د اهلِ علمو د درجو اوچتوالې ذکر کړې، چې دا د اهلِ علمو دپاره لوي فضيلت دی .(۲)

دلته امام رازي رحمه الله فرمايي :

فَوَجَبَ أَنْ يَّكُوْنَ الْعُلَمَاءُ أَفْضَلُ النَّاسِ . (۳)

دا خبره واجب (او ثابته) ده چې علماء دې په ټولو خلقو کې افضل وي .

## د عالم درجه په عامو مومنانو باندې اووه سوه (۷۰۰) درجې زياته ده

حضرت ابن عباس رضي الله عنهما فرمايي :

لِلْعُلَمَاءِ دَرَجَاتٌ فَوْقَ الْمُؤْمِنِيْنَ بِسَبْعِ مِائَةِ دَرَجَةٍ مَابَيْنَ الدَّرَجَتَيْنِ مَسِيْرَةَ خَمْسِ مِائَةِ عَامٍ (۴)

---

(۱) المجادلة آيت ۱۱ .

(۲) كشف الباري ج۳ ص ۴۳ كتاب العلم باب فضل العلم .

(۳) تفسير كبير ج۱ ص ۴۰۰ آيت ۳۱ .

(۴) احياء العلوم ج۱ ص ۱۵ الباب الاول في فضل العلم والتعليم والتعلم . . .

د علماو فضيلت په عامو مومنانو باندې اووه سوه (۷۰۰) درجې زيات دی ، او د هرو دوه درجو په مينځ کې د پنځه سوه (۵۰۰) کاله په مقدار مسافت دی .

## د عالِم فضيلت په عابِد باندې زيات دی

نبي کريم ﷺ فرمائي:

فَضْلُ الْعَالِمِ عَلَى الْعَابِدِ سَبْعُوْنَ دَرَجَةً بَيْنَ كُلِّ دَرَجَتَيْنِ حُضْرُ الْفَرَسِ سَبْعِيْنَ عَامًا . (۱)

د عالم فضيلت په عابد باندې اويا (۷۰) درجې زيات دی ، او د هرې دوه درجو په مينځ کې د آس د اَويا (۷۰) کاله منډې په اندازه مسافت دی .

ددې وجه داده چې په معاشره کې کله بدعات او رسومات پيداشي نو په هغې باندې صرف عالم پوهيږي نو خلق به ورنه منع کړي ، او د عابد توجّه خو صرف خپل عبادت ته وي ، او دې په دې بدعاتو او رسوماتو پوهيږي هم نه . لهذا د عالم مرتبه د عابد نه اوچته ده . (۲)

نبي کريم صلی الله عليه وسلم فرمايي :

فَضْلُ الْعَالِمِ عَلَى الْعَابِدِ كَفَضْلِيْ عَلَى أَدْنَاكُمْ . (۳)

دعالم فضيلت په عابد باندې دومره دی لکه زما فضيلت په تاسو کې په يو ادنٰی کس باندې.

بل حديث کې راځي :

فَضْلُ الْعَالِمِ عَلَى الْعَابِدِ كَفَضْلِ الْقَمَرِ لَيْلَةَ الْبَدْرِ عَلَى سَائِرِ الْكَوَاكِبِ . (۴)

د عالم فضيلت په عابد باندې داسې دی لکه د څوارلسمې شپې سپوږمۍ فضيلت په باقي ستورو باندې .

---

(۱) رواه الهيثمي فى المجمع ۱ ۱۲۲ ، والزبيدي فى الاتحاف ۱ ۲۸۳ ، ۷ ۲۵۷۱ ، والتبريزي في مشكاة المصابيح ۲۱، ۲۱۴ ، الترغيب والترهيب ج ۱ ص ۵۷ كتاب العلم ، تفسير كبير ج۱ ص ۴۰۱ ايت ۳۱ ، المتجر الرابح في ثواب العمل الصالح ص ۱۸ ابواب العلم ، ثواب العلم والعلماء وفضلهم .

(۲) الترغيب والترهيب ج۱ ص ۵۷ كتاب العلم .

(۳) رواه الترمذي كتاب العلم باب ۱۹ وقال حديث حسن صحيح ، ورواه البزار من حديث عائشة ، الترغيب والترهيب ج ۱ ص ۵٦ ، مشكوة ص ۳۴ كتاب العلم الفصل الثالث .

(۴) اخرجه البخاري فى العلم ۱۰ ، والترمذي فى القرآن ۱۰ وفى العلم ۱۹ ، ۳۵ ، وابن ماجه فى المقدمة ۱۷ ، واحمد ۲، ۲۵۲ ، ۳۲۵ ، ۴۰۷ . ابوداود (۳٦۴۱) ، (۳٦۴۲) ، وابن ماجه (۲۲۳) و ابن حبان (۸۰) ورواه الترمذي (۲٦۸۳) .

(c) ketabton.com: The Digital Library



## واقعه :

يو ځل د نبي كريم صلى الله عليه وسلم نه د بني اسرائيلو د يو دوه (۲) كسانو متعلق پوښتنه اوشوه چې په دې كې يو كس عالم ؤ ، ده به چې فرض مونځ وكړو نو بيا به كيناست او خلقو ته به يې د دين تعليم وركولو ، او دې دويم كس به د ورځې هميشه روژه نيوه او د شپې به يې ټوله شپه د الله ﷻ عبادت كولو . نو آيا په دې دواړو كې كوم كس بهتر و ؟ نبي عليه السلام ورته اوفرمايل :

فَضْلُ هذَا الْعَالِمِ الَّذِيْ يُصَلِّيْ الْمَكْتُوْبَةَ ثُمَّ يَجْلِسُ فَيُعَلِّمُ النَّاسَ الْخَيْرَ عَلَى الْعَابِدِ الَّذِيْ يَصُوْمُ النَّهَارَ وَيَقُوْمُ اللَّيْلَ كَفَضْلِيْ عَلَى أَدْنَاكُمْ . (۱)

ددغه عالم فضيلت كوم چې صرف فرض مونځ وكړي او بيا كيني خلقو ته علم ښائي دده فضيلت په هغه عابد باندې چې د ورځې روژه نيسي او د شپې ټوله شپه د الله ﷻ عبادت كوي دومره زيات دی لكه زما فضيلت په تاسو كې په يو ادنی كس باندې .

## عالم او غير عالم سره برابر نه دي

الله تعالی فرمايي :

﴿ قُلْ هَلْ يَسْتَوِي الَّذِيْنَ يَعْلَمُوْنَ وَالَّذِيْنَ لاَ يَعْلَمُوْنَ ﴾ . (۲)

ترجمه : ته ووايه (اې پيغمبره !) چې كوم خلق پوهيږي او كوم نه پوهيږي آيا دوی برابر دي؟

په آيت كې "هَلْ" د پاره د استفهام انكاري دی . يعنی پوه خلق او ناپوهه خلق دواړه برابر نه دي. (۳)

امام رازي رحمه الله فرمايي :

فِيْهِ تَنْبِيْهٌ عَظِيْمٌ عَلَى فَضِيْلَةِ الْعِلْمِ . (۴)

(۱) رواه الدارمي ، مشكوة كتاب العلم .
(۲) الزمر آيت ۹ .
(۳) تفسير مظهري الزمر آيت ۹ ، اعراب القرآن ج۵ ص ۱۴۴ الزمر آيت ۹ .
(۴) تفسير كبير ج۱ ص ۴۲۹ الزمر آيت ۹ .

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دې آيت کې د علم په فضيلت باندې لويه تنبيه ده .

يعنې لکه څرنګ چې رڼا او تياره ، ړوند او بينا برابر نه دي دغه شان عالم او غير عالم هم برابر نه دي ، بلکه عالِم ته الله ﷻ ډير لوي مقام ورکړې .

نبي عليه السلام فرمايي :

إِنَّ مَثَلَ الْعُلَمَاءِ فِي الْأَرْضِ كَمَثَلِ النُّجُومِ يُهْتَدَىٰ بِهَا فِي ظُلُمَاتِ الْبَرِّ وَالْبَحْرِ فَإِذَا انْطَمَسَتِ النُّجُومُ أَوْشَكَ أَنْ تَضِلَّ الْهُدَاةُ . (۳)

يقينًا د علماو مثال د آسمان د ستورو په شان دی ، د ستورو په وجه خلق په اُوچه او لمده کې لارې معلوموي ، نو که چيرته ستوري بې نُوره شي (يعنی د ستورو رڼا ختمه شي) نو قريبه ده چې د مسافرو نه به لاره ورکه شي . دغه شان که علماء نه وي نو خلق به د هدايت لاره پرېږدي او ګمراه به شي .

وجه داده چې علم نُور دی ، حديث کې راځي : اَلْعِلْمُ نُوْرٌ . علم رڼا ده . او جهالت تياره ده .
نو رڼا او تياره څنګه برابرېدې شي ؟

## الله ﷻ د خپلې او د فرښتو د ګواهۍ سره د علماؤ ګواهي هم يو ځای ذکر کړې

الله تبارک وتعالی فرمايي :

﴿ شَهِدَ اللّٰهُ أَنَّهُ لَآ إِلٰهَ إِلَّا هُوَ وَالْمَلَائِكَةُ وَأُولُوا الْعِلْمِ ... ﴾ . (۲)

ترجمه : الله ﷻ په دې ګواهي ورکړې ده چې د هغه نه سِوا بل هيڅوک معبود نشته او فرشتې او د علم والا هم په دې ګواه دي .

په دې آيت کې هم د علماو ډير فضيلت بيان شوې ځکه الله ﷻ د خپلې ګواهۍ سره په دويمه مرتبه کې د فرشتو د ګواهۍ ذکر کړې ، او په دريمه مرتبه کې يې د علماؤ د ګواهۍ ذکر کړې .

(۱) رواه احمد المسند ۳ ۱ ۱۲۶ الترغيب والترهيب ج۱ ص ۵۶ کتاب العلم ، کنزالعمال ج۱۰ ص ۱۵۱ .
(۲) آل عمران آيت ۱۸ .

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د حافظ ابن کثير رحمه الله وينا

حافظ ابن کثير رحمه الله وايي:

وَهٰذِهِ خُصُوْصِيَّةٌ عَظِيْمَةٌ لِلْعُلَمَاءِ فِيْ هٰذَا الْمَقَامِ. (۱)

په دې آيت کې د علماؤ ډير لوي خصوصيت بيان شوې. (چې الله ﷻ د خپلې او فرښتو د ګواهۍ سره د علماؤ ګواهي هم ذکر کړې). (۲)

## د عالم ذکر په دويمه مرتبه کې

په يو بل آيت کې الله ﷻ علماء په دويمه مرتبه کې ذکر کړې، الله تعالی فرمايي:

﴿ قُلْ كَفَىٰ بِاللّٰهِ شَهِيْدًا بَيْنِيْ وَبَيْنَكُمْ وَمَنْ عِنْدَهُ عِلْمُ الْكِتَابِ .. ﴾. (۳)

ترجمه: ورته ووايه اې پيغمبره! چې الله تعالی زما او ستاسو په مينځ کې کافي ګواه دی، او هغه کس ګواه دې چې د هغه سره د کتاب علم وي (يعنی علماء).

## د علماؤ مغفرت

نبي عليه السلام فرمايي: چې الله رب العزت به د قيامت په ورځ علماو ته او فرمايي:

إِنِّيْ لَمْ أَجْعَلْ عِلْمِيْ وَحِلْمِيْ فِيْكُمْ إِلَّا وَأَنَا أُرِيْدُ أَنْ أَغْفِرَ لَكُمْ عَلَى مَا كَانَ مِنْكُمْ وَلَا أُبَالِيْ. رواه الطبراني باسناد جيد. (۴)

ما چې تاسو په خپل علم او حِلم سره مشرف کړي وئ نو دا صرف د دې د پاره چې زه ستاسو مخکيني ګناهونه معاف کړم، او زه د دې هيڅ پرواه نه لرم. (ځکه زه مستغني او بې نيازه يم).

---

(۱) تفسير ابن کثير ج۲ ص ۲۲ آل عمران آيت ۱۱۸.

(۲) معارف القرآن آل عمران آيت ۱۸.

(۳) الرعد آيت ۴۳.

(۴) قال في المجمع (۱/ ۱۲۶): "رواه الطبراني في الكبير ورجاله موثقون"، رواه ابن كثير في التفسير ۵/ ۲۶۷ والسيوطي في الدار ۱/ ۲۶۷ والسيوطي في الدر ۱/ ۳۵۰ ومثل هذا الحديث في احياء العلوم ج۱ ص ۱۸ كتاب العلم الباب الاول في فضل العلم والتعليم والتعلم ..... الترغيب والترهيب ج۱ ص ۵۷ كتاب العلم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د امام محمد رحمه الله د مغفرت واقعه

مولانا اشرف علي تهانوي رحمه الله يوه واقعه ذکر کړې چې کله امام محمد رحمه الله وفات شو ، نو د وفات نه روستو چا په خوب کې اوليده ، پوښتنه يې ترې وکړه : چې څه حال دی ؟

هغه ورته وويل چې : کله زه د الله ﷻ دوړاندې پيش شوم ، نو الله رب العزت راته اوفرمايل: اې محمد ! اوغواړه ، څه چې غواړې . ما ورته وويل چې اې الله ! زما مغفرت وکړه .

الله ﷻ راته اوفرمايل : که چيرته مونږ تاته عذاب درکول غوښتې نو مونږ به تاته علم نه و درکړې ، مونږ خو تاته علم ددې د پاره درکړې و چې مونږ ستا مغفرت کول غوښتل . لهذا مغفرت خودې شوې ، نور څه رانه اوغواړه . (۱)

## د سيبويه د مغفرت واقعه

امام سيبويه رحمه الله په عقايدو کې معتزلي ؤ ، خو چې کله دې وفات شو ، نو يو عالِم دې په خوب کې اوليده ، پوښتنه يې ورنه وکړه چې الله ﷻ درسره څه معامله وکړه ؟

ده ورته وويل چې الله ﷻ راته اوفرمايل : چې اې سيبويه ! د مغفرت مستحق نه يې ، خو صرف د يوې خبرې په وجه مې مغفرت درته وکړو ، هغه دا چې تا زما نوم ( الله ) ته أَعْرَفُ الْمَعَارِفُ ويلې و .

نو تا زما د نوم عزت کړې و ( چې ديته دې أعرفُ الْمَعَارِفُ ويلې و ) نو مونږ ستا عزت وکړو او مغفرت مو درته وکړو .

حالانکه سيبويه دا خبره د نحوي تحقيق په بناء کړې وه ، خو ليکن الله ﷻ دومره قدردان ذات دی چې په دې وړه خبره يې هم دده مغفرت وکړو .

ريښتيا ده چې : رحمتِ حَق بهانه مې جُويد . (د الله ﷻ رحمت بهانې ګوري) . (۲)

(۱) خطبات حکيم الامت ج۲ ص ۱۷۷ موضوع تعميم العلم .

(۲) خطبات حکيم الامت ج۲ ص ۳٦٦ موضوع : اکبرالاعمال .

(c) ketabton.com: The Digital Library



# علماء د الله ﷻ نه ويريږي

الله تعالی فرمايي :

﴿ إِنَّمَا يَخْشَى اللَّهَ مِنْ عِبَادِهِ الْعُلَمَاءُ .. ﴾ . (۱)

ترجمه : بيشکه د الله ﷻ په بندګانو کې د الله ﷻ نه علماء ويريږي .

په دې آيت کې هم د علماؤ فضيلت بيان شوی ، چې دوی د الله ﷻ نه ويريږي .

او ورسره دا خبره هم ددې آيت نه معلوميږي : چې علماء جنّتيان دي .

ځکه په دې آيت کې په طريقې د حصرسره دا خبره بيان شوې چې علماء د الله ﷻ نه ويريږي (۲)

په يو بل آيت کې الله ﷻ اول د جنت تذکره کړې ، بيا ورپسې فرمايي :

﴿ ذَٰلِكَ لِمَنْ خَشِيَ رَبَّهُ ﴾ . (۳)

ترجمه : دا جنت د هغه چا د پاره دی چې د خپل رب نه ويريږي .

بل ځای الله تعالی فرمايي :

﴿ وَلِمَنْ خَافَ مَقَامَ رَبِّهِ جَنَّتَانِ ﴾ . (۴)

ترجمه : څوک چې د خپل رب په وړاندې د اودريدلو نه ويريږي د هغه د پاره دوه باغونه دي.

نو د اول آيت نه معلومه شوه چې علماء د الله ﷻ ويريږي ، د دويم او دريم آيت نه معلومه شوه چې د چا په زړه کې د الله ﷻ ويره وي هغه د جنت مستحق دی .

---

(۱) فاطر ۲۸ .

(۲) ځکه په آيت کې إِنَّمَا استعمال شوې، او إِنَّمَا د حصر د پاره راځي . تفسير کبير ج۱ ص۲۰۲ .

(۳) البينة آيت ۸ .

(۴) الرحمن آيت ۴۶ .

(c) ketabton.com: The Digital Library



نو معلومه شوه چې علماء د جنت مستحقين دي . (۱)

# اهلِ علمو ته دُعا

نبي عليه السلام فرمايي :

إِنَّ اللهَ وَمَلٰئِكَتَهُ وَأَهْلُ السَّموٰاتِ وَالأَرْضِ حَتَّى النَّمْلَةَ فِي جُحْرِهَا وَحَتَّى الْحُوْتَ فِي الْبَحْرِ لَيُصَلُّوْنَ عَلَى مُعَلِّمِي النَّاسِ الْخَيْرَ . (۲)

بيشکه الله تعالى ، د هغه فرښتې ، او د آسمانونو او زمکې ټول مخلوقات ، تر دې چې ميږي په خپلې سوړې کې ، او مَيَان ( کبان ) په سمندر کې د هغه کس د پاره د خير دُعا کوي کوم چې خلقو ته د خير ( علم ) ښودنه کوي .

په يو روايت کې دي :

وَإِنَّ الْعَالِمَ لَيَسْتَغْفِرُ لَهُ مَنْ فِي السَّموٰاتِ وَمَنْ فِي الْأَرْضِ حَتَّى الْحِيْتَانِ فِي الْمَاءِ . (۳)

---

(۱) دا خبره امام رازي رحمه الله په خپل انداز کې داسې بيان کړې چې : علماء جنتيانْ دي . لانّ العلماءَ مِن اَهلِ الخشيةِ . ومَنْ كانَ مِن اَهلِ الخَشْيَةِ كَانَ مِنْ اَهلِ الجنةِ . فَالْعُلَمَاءُ مِنْ اَهلِ الْجَنَّةِ . فَبَيَانُ اَنّ العلماء مِنْ اَهل الخشيةِ قوله تعالى ﴿ إِنَّمَا يَخْشَى اللهَ مِن عِبَادِهِ الْعُلَمَاءُ ﴾ . وَبَيَانُ اَنَّ اهلَ الخَشْيَةِ مِنْ اهلِ الجنةِ قولُهُ تعالى : ﴿ ذَٰلِكَ لِمَنْ خَشِيَ رَبَّهُ ﴾ وقوله تعالى : ﴿ وَلِمَنْ خَافَ مَقَامَ رَبِّهِ جَنَّتَانِ ﴾ ، تفسير كبير ج۱ ص ۴۰۶ آيت ۳۱ ،

وربسې بيا امام رازي رحمه الله فرمايي : اَنّ ظاهرَ الايةِ يَدُلُّ على اَنّه ليس لِلجنةِ اهلٌ إلّا العلماءُ . وذلک لِاَنّ كلمةَ إِنَّمَا لِلحصر فهذا يَدلُّ على اَنّ خشيةَ اللهِ لاتحصلُ إلّا لِلعلماءِ . والايةُ الثانيةُ وهي قوله : ﴿ ذَٰلِكَ لِمَنْ خَشِيَ رَبَّهُ ﴾ دالةٌ على اَنّ الجَنّةَ لِاَهلِ الخَشْيَةِ . وَكَوْنُهَا لِاَهلِ الخَشْيَةِ يُنافي كَوْنَهَا لِغيرِهِمْ . فَدَلّ مجموعُ الايتَيْنِ على اَنّه ليس لِلْجَنّة اهلٌ اِلّا الْعُلَمَاءُ . تفسير كبير ج۱ ص ۴۰۷ آيت ۳۱ .

(۲) رواه الترمذي ۲۶۸۶ ، وقال حسن صحيح ، ورواه الطبراني في المعجم الكبير ۸/ ۲۷۸ ، والدارمي ۱/ ۷۷ ، مشكوة ص ۳۴ كتاب العلم .

(۳) اخرجه ابوداود في العلم باب ۱ ، والترمذي في العلم باب ۱۹ ، وابن ماجه في المقدمة باب ۱۷ ، وابن حبان في صحيحه والبيهقي في الشعب ، الترغيب والترهيب ج۱ ص ۵۱ كتاب العلم .

(c) ketabton.com: The Digital Library



بېشكه دعالم د پاره د مغفرت دُعاغواړي هغه ( مخلوقات ) كوم چې اسمانونو كې دي (يعنې فرشتې ) ، او هغه (مخلوقات) كوم چې په زمكه كې دي ، تردې چې كوم مَيان ( كَبَان ) په اُوبو كې دي (هغوى هم دده دپاره د مغفرت دُعا غواړي ) .

## رسول الله ﷺ هم اهلِ علمو ته دُعا كړې

نبي كريم صلى الله عليه وسلم اهلِ علمو ته دا دُعا كړې :

نَضَّرَ اللّٰهُ امْرَأً سَمِعَ مِنَّا شَيْئًا فَبَلَّغَهُ كَمَا سَمِعَهُ فَرُبَّ مُبَلَّغٍ أَوْعَىٰ مِنْ سَامِعٍ . (۱)

الله تعالى دې تروتازه ( يعنې خوشحاله او باعزته ) لري هغه كس چاچې زما څه خبره واوريده، او څنګه يې چې اوريدلې وه هم هغه شان يې بل ته اورسوله ، ځكه اكثر هغه خلق چې چاته دا خبره رسولې شي هغه د اوريدونكي نه زيات ياد لرونكې وي .

په يو بل حديث كې داسې دُعا راغلې :

نَضَّرَ اللّٰهُ عَبْدًا سَمِعَ مَقَالَتِيْ فَحَفِظَهَا وَ وَعَاهَا وَأَدَّاهَا فَرُبَّ حَامِلِ فِقْهٍ غَيْرُ فَقِيْهٍ وَرُبَّ حَامِلِ فِقْهٍ إِلٰى مَنْ هُوَ أَفْقَهُ مِنْهُ . (۲)

الله ﷻ دې هغه بنده تروتازه لري چاچې زما څه خبره واوريده ، بيا يې هغه ياده كړه او محفوظه يې اوساتله ، او چې څنګه يې اوريدلې وه ، هم هغه شان يې نورو خلقو ته اورسوله ، ځكه ډير كرَت اوچتوونكې د عِلم فقيه نه وي (يعنې پوهه نه وي) ، او ډير كرَت اوچتوونكې د علم دا حديث هغه چاته وراُورسوي چې هغه دده نه زيات فقيه (پوهه) وي .

حضرت عبدالله بن عباس ﷺ فرمايي چې په يو موقع نبي كريم ﷺ داسې دُعا وكړه :

اَللّٰهُمَّ ارْحَمْ خُلَفَائِيْ . اې الله ! زما په خلفاؤ رحم وكړې .

مونږ ورته پوښتنه وكړه : يَارَسُوْلَ اللّٰهِ ! وَمَنْ خُلَفَاءُكَ ؟

اې د الله ﷻ رسوله ! ستا خليفه ګان څوک دي ؟

(۱) اخرجه ابوداود في العلم باب ۱۰ ، والترمذي في العلم باب ۷ وقال الترمذي حديث حسن صحيح ، الترغيب والترهيب ج۱ ص ۶۱ الترغيب في سماع الحديث وتبليغه ، ورواه ابن حبان وابن ماجه والدارمي عن ابي الدرداء ، مشكوة ص ۳۵ كتاب العلم .

(۲) رواه احمد والترمذي وابوداود وابن ماجه والدارمي عن زيد بن ثابت ورواه الشافعي والبيهقي في المدخل ، مشكوة ص ۳۵ كتاب العلم .

نو نبي عليه السلام او فرمايل:

اَلَّذِيْنَ يَأْتُوْنَ مِنْ بَعْدِيْ يَرْوُوْنَ اَحَادِيْثِيْ وَيُعَلِّمُوْنَهَا النَّاسَ .(۱)

(زما خلفاء هغه خلق دي) كوم چې زما نه روستو راځي، زما احاديث (او زما سنت) روايت كوي، او بيا يې نورو ته ښايي.

## د قيامت په ورځ به د علماؤ سياهي د شهيدانو په وينې دَرنه وي

نبي عليه السلام فرمايي:

يُوْذَنُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ مِدَادُ الْعُلَمَاءِ وَدَمُ الشُّهَدَاءِ فَيَرْجَحُ مِدَادُ الْعُلَمَاءِ عَلٰى دَمِ الشُّهَدَاءِ .(۲)

د قيامت په ورځ به د علماؤ (د قلم) سياهي او د شهيدانو وينې تَلَلې (تول كولې) شي، نو د علماو سياهي به د شهيدانو په وينو دَرنه شي.

ددې وجه يو عالم دا ذكر كړې چې دا سياهي به ځكه دَرنه وي چې يو خو د جهاد فضيلت په عِلم معلوميږي، دويم دا چې د جهاد شروط او حدود هم د علم په وجه معلوميږي، دريم دا چې په جهادِ شرعي او د بل چا سره په جګړه كولو كې فرق هم د علم په وجه معلوميږي، څلورم دا چې د جهاد فرضِ عين او فرضِ كفايي په مينځ كې فرق هم صرف د علم په وجه معلوميږي.(۳)

## په معاشره كې د علماؤ مقام

حضرت ابن عباس رضى الله عنه فرمايي:

لَوْلَا الْعُلَمَاءُ لَصَارَ النَّاسُ كَالْبَهَائِمِ .(۴)

كه چيرته علماء نه وې نو خلق به د څارپيانو غوندې ګرځيدلي وې.

ځكه د دوى د تعليم په وجه خلق د حيوانيت د حَد نه اوځي او انسانيت په كې راځي.

(۱) رواه الطبراني فى الاوسط، الترغيب والترهيب ج۱ ص ٦٢ الترغيب في سماع الحديث وتبليغه... كنزالعمّال ج۱ ص ۲۲۱.

(۲) رواه مسلم ۲۲۸۲، واحمد ۴/ ۳۹۹ والسيوطي فى الدر المنثور ۳ ۱ ۲ ۷، المتجر الرابح في ثواب العمل الصالح ص .

(۳) الرسول والعلم ص ۲۹ دكتور يوسف للقرضاوي).

(۴) قزويني مفيد العلوم ومبيد الهموم ص ۲۱٦ الباب الثاني في فضيلة السلطان. همدغه رنګې قول د حضرت حسن رحمه الله نه نقل دي: لَوْلَا الْعُلَمَاءُ لَصَارَ النَّاسُ مِثْلَ الْبَهَائِمِ. احياء العلوم ج۱ ص ۲۴ فضيلة التعليم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بعضې علماء فرمايي:

اَلْعُلَمَاءُ سُرُجُ الْاَزْمِنَةِ، كُلُّ وَاحِدٍ مِصْبَاحُ زَمَانِهِ يَسْتَضِيْءُ بِهِ اَهْلُ عَصْرِهِ. (۱)

علماء د خپلې زمانې ډيوې دي، هر عالم د خپلې زمانې د پاره (روښانه) ډيوه ده چې دده نه د دغه زمانې خلق رڼايي حاصلوي (يعنی دده د هدايت په وجه خلق په اسلامي احكاماتو منوّر او روښانه وي).

يحی بن معاذ رضی الله عنه فرمايي:

اَلْعُلَمَاءُ اَرْحَمُ بِاُمَّةِ مُحَمَّدٍ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ آبَائِهِمْ وَاُمَّهَاتِهِمْ.

علماء د رسول الله ﷺ په امت باندې د دوی د پلارانو او مورانو نه هم زيات مهربانه دي.

چا ورنه پوښتنه وکړو چې دا څنګه؟ نو ده ورته ووېل:

لِاَنَّ آبَاءَهُمْ وَاُمَّهَاتِهِمْ يَحْفَظُوْنَهُمْ مِنْ نَارِ الدُّنْيَا، وَهُمْ يَحْفَظُوْنَهُمْ مِنْ نَارِ الْاٰخِرَةِ. (۲)

ځکه د دوی پلاران او موراني دوی د دُنيا د اُور نه بچ کوي، او علماء دوی د آخرت د اُور نه بچ کوي. (يعنی د علماو په وجه دوی د جهنم د اُور نه محفوظ پاتې کيږي).

حضرت موسی عليه السلام الله ﷻ ته عرض وکړو:

اَلٰهِيْ مَنْ اَحَبُّ النَّاسِ اِلَيْكَ؟

اې الله! تا ته په خلقو کې ډير محبوب څوک دی؟

الله ﷻ ورته او فرمايل: عَالِمٌ يَطْلُبُ الْعِلْمَ. (۳)

هغه عالم چې علم طلب کوي.

## د علماو ضرورت

دا دُنيا د اَضدادو مجموعه ده: که دلته ګرمي شته نو يخني هم شته، که دلته خزان شته نو بهار هم شته، که دلته اَزغي شته نو ګل هم شته، که دلته کافر شته نو مؤمن هم شته.

(۱) احياء العلوم ج۱ ص ۲۴ فضيلة التعليم، تنبيه الغافلين.

(۲) احياء العلوم ج۱ ص ۲۴ فضيلة التعليم.

(۳) المستطرف في كلّ فنّ مستظرف ص ۲۵ الباب الرابع في العلم والادب وفضل العالم والمتعلم.

(c) ketabton.com: The Digital Library


لهذا که دلته جاهِل شته نو د عالِم وجود هم ضروري دي ، که دلته ګمراهۍ طرفته رابلونکي خلق شته نو حق طرفته د رابلونکو علماو وجود هم ضروري دي ، که دلته د فرعون او قارون وارثان شته نو د رسول الله صلی الله علیه وسلم د وارثانو ( علماؤ ) وجود هم ضروري دی .

بلکه که زه دا ووایم چې د دُنیا دبقاء د پاره هم د علماو وجود ضروري دي نو دا به څه بې دلیله خبره نه وي .

ځکه دا دُنیا چې آباده ده نو دا د الله ﷻ د عبادت په وجه آباده ده ، ( لکه څرنګ چې په حدیث کې راځي: لَاتَقُوْمُ السَّاعَةُ حَتّٰى يُقَالَ اَللّٰه اَللّٰه ) .

او عبادت بغیر د عِلم نه نشي کیدې ، او علم بغیر د علماو نه نشي حاصلیدې .

معلومه شوه چې د دُنیا او آخرت د کامیابۍ د پاره د علماو وجود ډیر ضروري دی .

# عالم به د قیامت په ورځ شفاعت کوونکې وي

نبي کریم ﷺ فرمايي :

يُجَاءُ بِالْعَالِمِ وَالْعَابِدِ فَيُقَالُ لِلْعَابِدِ اُدْخُلِ الْجَنَّةَ وَيُقَالُ لِلْعَالِمِ قِفْ حَتّٰى تَشْفَعَ لِلنَّاسِ . (۱)

د قیامت په ورځ به عالم او عابد راوستې شي ، عابد ته به وویل شي چې جنت ته داخل شه ، او عالم ته به وویل شي چې ته او دریږه ، او د خلقو د پاره شفاعت وکړه .

په یو بل حدیث کې ورسره دا هم شته چې عالم ته به وویل شي :

اُثْبُتْ حَتّٰى تَشْفَعَ بِمَا اَحْسَنْتَ اَدَبَهُمْ . (۲)

ته په خپل ځای اوسه او د خلکو سفارش کوه ، ځکه چې تا په دُنیا کې د دوی ښه اصلاح کړې وه

## د فقیه درجه

نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمايي :

فَقِيْهٌ وَاحِدٌ اَشَدُّ عَلَى الشَّيْطَانِ مِنْ اَلْفِ عَابِدٍ . (۳)

(۱) رواه الاصبهاني وغيره ، الترغيب والترهيب ج۱ ص ۵۷ الترغيب فى العلم وطلبه وتعلمه وتعليمه .

(۲) رواه الاصبهاني وغيره ، الترغيب والترهيب ج۱ ص ۵۷ الترغيب فى العلم وطلبه وتعلمه وتعليمه .

(۳) اخرجه الترمذي فى العلم باب ۱۹ ، وابن ماجه فى المقدمة الحديث ۲۲۲ والطبراني فى المعجم الكبير ۱۱/۷۸ ، الترغيب والترهيب ج۱ ص ۵۷ كتاب العلم ، مشكوة ص ۳۴ كتاب العلم .

(c) ketabton.com: The Digital Library



يو فقيه ( عالمِ دين ) په شيطان باندې د زرو (۱۰۰۰) عابدانو نه زيات سخت او درُوند دی.

يعنى كهٔ يو طرفته زر ( ۱۰۰۰ ) عبادت گزاروي او بل طرفته يو عالم وي نو بيا هم ددې يو عالم مرتبه په دوی اوچته ده .

ځکه د عالم زړه د نُورِ الهي په مقدسه رڼا سره مُنوّر وي ، دده ذهن د علم او معرفت د طاقت نه ډک وي ، نو که چيرته شيطان په خلقو باندې د خپل مکرو فريب جال خور کړي ، خلق په خواهشاتِ نفسانيو کې مبتلاء کړي او د خلقو د گمراه کولو کوشش اوکړي ، نو چې عالِم د شيطان په دې مکرو فريب باندې خبر شي نو دې خلق د شيطان د دې گمراهی نه خبردار کړي ، او داسې تدبيرونه ورته اوښايي چې په هغې سره خلق د شيطان د هرې حملې نه محفوظ شي .

ددې برخلاف هغه عابد چې صرف عبادت کوي او د علم او معرفت نه په ميلونو لرې وي ، نو ده ته دا پته نه وي چې شيطان انسان په څه طريقې سره گمراه کوي ؟ نو دې خو په ظاهره عبادت کوي خو د لاعلمی په وجه د شيطان په مکرو فريب کې نښتې وي او دده ټول کوشش اکثر د شيطان د گمراهی په وجه ضايع شي . (۱) نو ځکه د يو عالم مرتبه په زرو عبادت کوونکو باندې اوچته ده .

بل دا چې علم د الله ﷻ صفت دی ، او الله ﷻ خو بادشاه حقيقي دی نو په چا کې چې علم راغې نو په ده کې د بادشاه صفت راغې ، او عبادت خو د غلامانو صفت دی .

اوس که يو طرفته زر ( ۱۰۰۰ ) غلامان وي او بل طرفته يو بادشاه وي نو دا زر واړه غلامان د بادشاه مرتبې ته نه شي رسيدې . (۲)

نبي کريم صلى الله عليه وسلم فرمايي :

مَنْ يُّرِدِ اللهُ بِهٖ خَيْرًا يُّفَقِّهْهُ فِي الدِّيْنِ . (۳)

---

(۱) مظاهرِ حق شرح مشكوة ج۱ كتاب العلم .

(۲) خطبات فقير ج۸ ص ۷۱ .

(۳) رواه البخاري في العلم ۱۰ ، ومسلم في الامارة ۱۷۵ ، والترمذي في العلم ۴ ، ورواه الهيثمي في مجمع الزوالد ۱ /۱۲۸ ، مشكوة كتاب العلم .

علامه سندهي رحمه الله فرمايي چې په " خَيْرًا " کې تنوين د تعظيم د پاره دی ، يعنى : من يرد الله به خيرًا عظيمًا يفقهه في الدين . حاشية السندي على صحيح البخاري ج۱ ص ۴۴ ، ۴۵ ، وحاشية السندي على ابن ماجه ج۱ ص ۱۴۳ المقدمة باب فضل العلماء والحث على طلب العلم رقم الحديث ۲۲۰ ، كشف الباري ج۳ ص ۲۹۰ باب من يرد الله به خيرًا يفقهه في الدين .

(c) ketabton.com: The Digital Library



چاته چې الله ﷻ د خير (او نيکۍ) اراده وکړي نو ده ته په دين کې پوهه ورکړي.

ددې حديث نه هم د علم او علماو ډير فضيلت معلوميږي، چې الله تعالى کوم سړي ته د خير او ښيګړې اراده وکړي نو هغه ته د علم او په دين کې د پوهې دا لوي نعمت ورپه بَرخه کړي.

## په مخ د زمکه فقهاء او علماء اولياء الله دي

د امام ابوحنيفه او امام شافعي رحمهما الله نه داسې نقل دي:

إِنْ لَمْ يَكُنِ الْعُلَمَاءُ أَوْلِيَاءَ اللهِ تَعَالَى فَلَيْسَ لِلّهِ وَلِيٌّ. (۱)

که چيرته علماء د الله ﷻ وليان او دوستان نه شي نو بيا خو د الله ﷻ څوک ولي نشته. (بلکه د الله ﷻ وليان يقيني علماء دي).

## انسان صرف هغه دی چې علم ورسره وي

د حضرت عبد الله بن مبارک رحمه الله نه چا پوښتنه وکړه:

مَنِ النَّاسُ؟ انسانان څوک دي؟

ده ورته وويل: اَلْعُلَمَاءُ. (انسانان) علماء دي. (۲)

ددې قول د لاندې امام غزالي رحمه الله په احياء العلوم کې څه عجيبه خبره ذکر کړې: چې حضرت عبد الله بن مبارک رحمه الله غيرِ عالم (جاهِل) د انسانانو نه او نه ګرځول، ځکه انسان چې د نورو حيواناتو نه ممتاز او اشرف ګرځي نو دا صرف د علم په وجه اشرف ګرځي.

ځکه که د جسم د قوت په اعتبار سره اوګورې نو بيا خو اوښ د انسان نه قوي دی، که د هډوکو د مضبوطتيا په اعتبار سره اوګورې نو بيا خو د هاتي هډوکي د ده نه مضبوط دي، که د زړه وَرتيا په اعتبار سره اوګورې نو زمرې خو د ده نه ډير زړه وَر دې، که د خوراک په اعتبار سره اوګورې نو ليوه (ثور) خو د ده نه ډير خوراک کوي. (۳)

معلومه دا شوه چې انسان د نورو حيواناتو نه ممتاز دی نو هغه صرف د علم په وجه سره ممتاز دی

(۱) نزهة الناظرين فى الاخبار والآثار المروية عن الانبياء والصالحين ص ۱۳.

(۲) احياء العلوم ج ۱ ص ۱۹ كتاب العلم، المتجر الرابح فى ثواب العمل الصالح ص ۱۹ ابواب العلم.

(۳) نزهة الناظرين فى الاخبار والآثار المروية عن الانبياء والصالحين ص ۱۳.

(c) ketabton.com: The Digital Library



نبي عليه السلام فرمايي :

اَلنَّاسُ كُلُّهُمْ مَوْتیٰ اِلَّا الْعَالِمُوْنَ . (۱)

خلق ټول مړه دي مګر علماء ژوندي دي (يعنى د كومو خلقو سره چې علم نه وي هغوى په منزله د مړو دي او علماء په منزله د ژوندو دى).

## د علماؤ تعظيم په كار دي

نبي كريم صلى الله عليه وسلم فرمايي :

تَعَلَّمُوا الْعِلْمَ وَتَعَلَّمُوْا لِلْعِلْمِ السَّكِيْنَةَ وَالْوَقَارَ وَتَوَاضَعُوْا لِمَنْ تَعَلَّمُوْنَ مِنْهُ . (۲)

علم زده كړئ، او د علم دپاره سكينه او وقار زده كړئ، او د چا نه چې علم زده كوئ د هغه د وړاندې عاجزي او ادب كوئ.

په دې حديث شريف كې د علم د زده كولو او د استاذانو د ادب كولو امر دى. (۳)

قدرمنو! دا خبره په تجربې سره ثابته ده چې څومره د انسان په زړه كې د استاذ ادب زيات وي او استاذ دده نه خوشحاله وي نو دومره دې انسان ته ډير علم نصيبه كيږي او دده په علم كې به بركت وي. (۴)

نو د علماؤ ادب ډير ضروري دى، حديث كې راځي :

لَيْسَ مِنْ اُمَّتِيْ مَنْ لَمْ يُجِلَّ كَبِيْرَنَا ، وَيَرْحَمْ صَغِيْرَنَا ، وَيَعْرِفْ لِعَالِمِنَا . (۵)

څوک چې زمونږ د مشرانو تعظيم نه كوي، زمونږ په كشرانو رحم نه كوي او زمونږ د عالمانو قدر نه كوي نو هغه زما اُمّتي نه دې (يعنى كامل امتي نه دى).

د نبي كريم صلى الله عليه وسلم د حقوقو په باره كې الله ﷻ مومناتو ته حكم كړې :

﴿ يَا أَيُّهَا الَّذِيْنَ آمَنُوْا لَا تُقَدِّمُوْا بَيْنَ يَدَيِ اللهِ وَرَسُوْلِهِ وَاتَّقُوا اللهَ إِنَّ اللهَ سَمِيْعٌ عَلِيْمٌ .

(۱) تفسير كبير ج۱ ص ۴۱۰ آيت ۳۱.

(۲) رواه الطبراني في الاوسط، الترغيب والترهيب ج۱ ص ۶۵ الترغيب في اكرام العلماء واجلالهم وتوقيرهم.

(۳) اصلاح القلاب ص ۲۸۲.

(۴) اصلاح القلاب ص ۲۸۲، اساتذه كرام كې آداب وحقوق ص ۲۳.

(۵) رواه احمد في البر باب ۱۵ باسناد حسن، والطبراني والحاكم الا انه قال: " لَيْسَ مِنَّا "

(c) ketabton.com: The Digital Library


يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَرْفَعُوا أَصْوَاتَكُمْ فَوْقَ صَوْتِ النَّبِيِّ وَلَا تَجْهَرُوا لَهُ بِالْقَوْلِ كَجَهْرِ بَعْضِكُمْ لِبَعْضٍ أَنْ تَحْبَطَ أَعْمَالُكُمْ وَأَنْتُمْ لَا تَشْعُرُونَ ﴾ . (۱)

ترجمه : اې مومنانو ! تاسو د الله (ﷻ) او د هغه د رسول (ﷺ) نه (په هيڅ کار کې) ځان مه وړاندې کوئ ، او د الله ﷻ نه او ويريږئ ، بيشکه الله ﷻ ډير اوريدونکې ، ښه پوهه دی .

اې مومنانو ! تاسو خپل آوازونه د نبي کريم صلى الله عليه وسلم د آواز د پاسه مه اوچتوئ ، او مه د هغه سره ( داسې ) په زوره خبرې کوئ ، لکه ( څرنګ ) چې تاسو د يو بل سره په زوره خبرې کوئ ، هسې نه چې ستاسو ټول عملونه ضايع شي او تاسو پرې خبر هم نه يئ .

﴿ إِنَّمَا الْمُؤْمِنُونَ الَّذِينَ آمَنُوا بِاللَّهِ وَرَسُولِهِ وَإِذَا كَانُوا مَعَهُ عَلَى أَمْرٍ جَامِعٍ لَمْ يَذْهَبُوا حَتَّى يَسْتَأْذِنُوهُ ﴾ . (۲)

بشکه مؤمنان هغه خلق دي چې د الله او د هغه په رسول يې ايمان راوړې ، او هر کله چې دوی د پيغمبر عليه السلام سره په يو اجتماعي کار راجمع شوي وي نو تر څو يې چې د نبي عليه السلام نه اجازت نه وي اخيستې تر هغې وخته پورې دوی نه ځي .

لَا تَجْعَلُوا دُعَاءَ الرَّسُولِ بَيْنَكُمْ كَدُعَاءِ بَعْضِكُمْ بَعْضًا ﴾ . (۳)

(اې مومنانو ! ) تاسو د رسول الله ﷺ بلنه داسې (معمولي) مه ګڼرئ ، لکه څرنګ چې تاسو په خپل مينځ کې يو بل رابلئ .

په دې پاس آيتونو کې د نبي کريم صلى الله عليه حقوق بيان شوي ، او علماء خو هم د نبي کريم ﷺ وارثان دي ، د دې د وجې د علماو هم ادب په کار دی . (۴)

امام قرطبي رحمه الله په خپل تفسير ( تفسير قرطبي ) کې د آيت : ، يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَرْفَعُوا أَصْوَاتَكُمْ فَوْقَ صَوْتِ النَّبِيِّ .... د لاندې ليکلي چې په دې آيتونو کې مسلمانانو ته د

---

(۱) الحجرات آيت ۱ ، ۲ .

(۲) النور آيت ۶۲ .

(۳) النور آيت ۶۳ .

(۴) التبليغ کولر العلوم ج۱۲ ص ۱۴۱ .

(c) ketabton.com: The Digital Library



پيغمبر عليه السلام د تعظيم امر دی .... او د نبي عليه السلام د وړاندې آواز بنکته ساتلو امر دې ، بيا روستو فرمايي :

وَكَرِهَ بَعْضُ الْعُلَمَاءِ رَفْعَ الصَّوْتِ فِيْ مَجَالِسِ الْعُلَمَاءِ تَشْرِيفًا لَهُمْ إِذْ هُمْ وَرَثَةُ الْأَنْبِيَاءِ .(۱)

بعضې علماء وايي : چې علماء چونکه د انبياؤ وارثان دې لهذا د ددې علماو د شرافت د وجې نه ددوی په مجلس کې هم آواز اوچتول (او په زوره خبرې کول) مکروهه دي .

## صحابه کرامؓ او د استاذ ادب

صحابه کرامو او تابعينو هم د خپلو عالمانو او استاذانو ډير ادب کړې .

لکه په بخاري شريف کې د حضرت ابن عباس رضي الله عنه نه نقل دي چې کله به ما د يو عالم صحابي نه څه حديث معلومول غوښتل نو چې د هغه کورته به ورغلم ، نو هغه ته د دروازې ټکولو نه به مې ځان ساتلو ، آواز به مې هم ورته نه کولو ، د دروازې نه بهر به مې ورته انتظار کولو ، کله به چې هغه پخپله بهر تشريف راوړو ، هغه وخت به مې ترې حديث معلوم کړو ، هغه به چې زه په داسې حالت کې اوليدم نو راته به يې اوفرمايل : اې د نبي کريم صلی الله عليه وسلم د تره ځويه ! دروازه دې راته ولې نه ټکوله ؟

نو ما به ورته اوفرمايل : عالم په خپل قوم کې داسې وي لکه نبي په خپل امت کې ، او الله تعالی د نبي عليه السلام په شان کې دا هدايت فرمايلي دي :

﴿ وَلَوْ أَنَّهُمْ صَبَرُوا حَتَّى تَخْرُجَ إِلَيْهِمْ لَكَانَ خَيْرًا لَهُمْ ﴾ (۲)، (۳)

ترجمه : که چيرته دوی صبر کړې وې ، تردې پورې چې (اې پيغمبره !) ته دوی ته راوتلې وې نو دا به د دوی په حق کې ډيره بهتره وه .

وَذَكَرَ أَبُوْحَيَّانَ كَرَاهَةَ الرَّفْعِ أَيْضًا بِحَضْرَةِ الْعَالِمِ .(۴)

(۱) قرطبي ج۱٦ ص ۲٦۰ الحجرات آيت ۲ .

(۲) پوره آيت داسې دې ، الله تعالی فرمايي :﴿إِنَّ الَّذِينَ يُنَادُونَكَ مِنْ وَرَاءِ الْحُجُرَاتِ أَكْثَرُهُمْ لَا يَعْقِلُونَ وَلَوْ أَنَّهُمْ صَبَرُوا حَتَّى تَخْرُجَ إِلَيْهِمْ لَكَانَ خَيْرًا لَهُمْ وَاللَّهُ غَفُورٌ رَحِيمٌ﴾ . الحجرات آيت ۴ ، ۵ .

(۳) معارف القرآن بحواله قرطبي الحجرات آيت ۴ ، ۵ .

(۴) روح المعاني ج۱۳ ص ۲۰۷ .

(c) ketabton.com: The Digital Library



ابو حيان هم دا خبره ذکر کړې چې د علماو په مجلس کې آواز اوچتول (او په زوره خبرې کول) مکروهه دي.

د پاس آيت: ﴿ إِنَّمَا الْمُؤْمِنُونَ الَّذِينَ آمَنُوا بِاللَّهِ وَرَسُولِهِ وَإِذَا كَانُوا مَعَهُ عَلَىٰ أَمْرٍ جَامِعٍ لَمْ يَذْهَبُوا حَتَّىٰ يَسْتَأْذِنُوهُ ﴾ نه دا خبره هم معلومه شوه چې طالب العلم به د استاذ د خدمت نه د هغه د اجازت نه بغير نه ځي. (۱)

مولانا اشرف علي تهانوي رحمه الله هم دا خبره واضحه کړې چې د اهلِ علمو سره هم دد ې آدابو لحاظ په کار دی. (۲)

## په خبرو کې هم د ادب لحاظ په کار دي

الله جل جلاله مومنانو ته فرمايي:

﴿ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَقُولُوا رَاعِنَا وَقُولُوا انْظُرْنَا ﴾. (۳)

ترجمه: اې مومنانو تاسو (د پیغمبر ﷺ خپل ځان طرفته ته رامتوجه کولو دپاره) د "رَاعِنَا" لفظ مه وايئ، بلکه (ددې په ځای) د "وَانْظُرْنَا" لفظ وايئ.

اگر چې د "رَاعِنَا" او "أُنْظُرْنَا" دواړو معنی په عربۍ کې يو ده، خو چونکه يهودو دا لفظ د غلط مطلب دپاره استعمالول، ځکه په عبراني ژبه کې ددې معنی خيرې دي.

يا به دې يهوديانو ورسره "ي" پيدا کړه نو "رَاعِيْنَا" به يې ورنه جوړ کړو، بيا به هم معنی غلطه راوته، د مسلمانانو خو دا مطلب نه وُ، خو بيا هم الله ﷻ د ظاهري ادب لحاظ ساتلو د وجې مسلمانان د "رَاعِنَا" لفظ ويلو نه منع کړه. (۴)

معلومه شوه چې په شريعت کې د ادب ډير لحاظ ساتل شوي.

(۱) اصلاح القلاب ص ۲۷۷، اساتذه کرام کې آداب وحقوق ص ۲۹.

(۲) بيان القرآن سورة حجرات.

(۳) البقرة آيت ۱۰۴.

(۴) معارف القرآن البقرة آيت ۱۰۴.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# حضرت موسی علیه السلام ته تنبیه

حضرت موسی علیه السلام يو پيره خپل قوم ته تقرير كولو ، ډير فصيح وبليغ او معجزانه اندازكي تقرير يې وكړو او خلق هم ډير متأثره شو ، په دې كې يو كس دده نه پوښتنه وكړه :

مَنْ أَعْلَمُ النَّاسِ الْيَوْمَ . نن صبا په مخ د زمكه د ټولو نه لوي عالم څوک دی ؟

( حضرت موسی علیه السلام سوچ وكړو كه زه اووايم چې د مانه ښه عالم بل كس شته ، نو بني اسرائيل خو هسې هم بهانه ګر قوم دی ، نو بيا به دوی وايي چې كله د تا نه لوي عالم شته نو مونږ به د هغه نه راهنمايي حاصلوو ، نو بيا به دا خلق د عِلم او وحي نه محرومه شي )

نو حضرت موسی علیه السلام جواب وركړو : أَنَا أَعْلَمُ . زه د ټولو نه لوي عالم يم .

او دا خبره د حضرت موسی علیه السلام صحيح هم وه ، ځكه د حضرت موسی علیه السلام مقصد دا ؤ چې په علمِ شريعت او احكامو كې زه لوي عالم يم ، او دا خبره صحيح هم وه ، ځكه دې پيغمبر ؤ ، او په هغه وخت كې دده نه لوي پيغمبر بل نه ؤ ، او د حضرت خضر علیه السلام مرتبه په علمِ باطن كې هم دده نه زياته نه وه .

ځكه د حضرت خضر علیه السلام سره علمِ باطن او علم لدُني ؤ ، او د حضرت موسی علیه السلام سره د شريعت علم ؤ ، او علم باطن خو د شريعت يو جزء دی ، ځكه شريعت خو د احكامِ ظاهره ؤ او احكامِ باطنه و دواړو د مجموعې نوم دی .

نو چې حضرت موسی علیه السلام په علمِ شريعت كې د ټولو نه لوي عالم ؤ ، نو په علمِ باطن كې به هم د حضرت خضر علیه السلام نه لوي عالم و .

بل دا چې د حضرت موسی عليه السلام په زړه كې خو د تكبر او لويې هيڅ احتمال نه و ، او نه يې دا خبره د تكبر د وجې كړې وه بلكه حقيقت و .

خو ليكن الله ﷻ ته دغه خبره خوښه نه شوه ، ځكه د ادب تقاضا دا وه چې دا يې د الله ﷻ په عِلم حواله كړې وې ، او داسې يې ويلي وې :

الله ﷻ په دې ښه پوهيږي چې په ټول مخلوق كې زيات عالِم څوک دی .

نو حضرت موسی علیه السلام ته په دې زورَنه ورکړې شوه [۱] (پوره تفصيل په معارف القرآن سورة کهف کې موجود دی). معلومه شوه چې په شريعت کې دا ادب ډير لحاظ ساتل شوې دی.

## د علمي اختلاف باوجود د يو بل ډير ادب کول

د حضرت عبدالله بن عباس ﷺ او د حضرت زيد ﷺ په مينځ کې اګر چې څه علمي اختلاف هم ؤ، خو بيا به يې هم د يو بل د ادب ډير لحاظ ساتل.

يو کرَت حضرت زيد رضی الله عنه راروان و، نو حضرت ابن عباس رضی الله عنه د هغه د سورلۍ مهار ونيوه او پَيَاده ورسره لاندې روان ؤ، حضرت زيد ﷺ ورته وويل چې اې د نبي کريم صلی الله عليه وسلم د تره ځويه! تاسو مهار پرېږدئ، او داسې مه کوئ (ځکه دا خوبې ادبي ده).

حضرت ابن عباس رضی الله عنه ورته وويل: چې مونږ ته همدا خودلي شوي دي چې د علماؤ او مشرانو تعظيم کوئ.

حضرت زيد ﷺ ورته وويل چې تاسو خپل لاس رانزدې کړئ، ده چې لاس ورنزدې کړو نو هغه ښکل (چَپ) کړو، او وې ويل چې مونږ ته همدا حکم شوې چې د پيغمبر عليه السلام اهلِ بَيتو سره به همداسې سلوک کوئ. [۲]

## د حضرت علي ﷺ وينا

حضرت علي ﷺ فرمايي:

أَنَا عَبْدُ مَنْ عَلَّمَنِيْ حَرْفًا وَاحِدًا اِنْ شَاءَ بَاعَ ،وَإِنْ شَاءَ أَعْتَقَ ، وَإِنْ شَاءَ اِسْتَرَقَّ . [۳]

---

(۱) عن ابي بن کعب رضي الله عنه عَنِ النَّبِيِّ ﷺ قَالَ: قَامَ موسى خطيبًا في بني اسرائيل فَسُئِلَ: أَيّ النَّاسِ أَعْلَمُ؟ فَقَالَ: أَنَا أَعْلَمُ . فَعَتَبَ اللهُ عَلَيْهِ ، إِذْ لَمْ يَرُدَّ الْعِلْمَ إِلَيْهِ . فَأَوْحَى اللهُ إِلَيْهِ أَنَّ عَبْدًا مِنْ عِبَادِيْ بِمَجْمَعِ الْبَحْرَيْنِ هُوَ أَعْلَمُ مِنْكَ .......... الترغيب والترهيب ج۱ کتاب العلم ، الترهيب من الدعوى فى العلم والقرآن . ومثل هذا الحديث اخرجه البخاري في العلم باب ۴۴ ، والانبياء باب ۲۶ ، والتفسير سورة ۱۸ . ومسلم فى الفضائل حديث ۱۸۰ .

(۲) کنزالعمال ۷ / ۳۷ ، عيون الاخبار ۱ / ۱۱۲ مختصر تاريخ دمشق ۲۲۷۱۲ ، البداية والنهاية ۸ / ۳۳۱ .

(۳) تعليم المتعلم ص ۳۱ فصل في تعظيم العلم واهله .

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه د هغه چا غلام يم چا چې ماته يو حرف ښودلې ، او س د هغه خوښه ده كه هغه ما خرڅوي يا ما آزاده وي يا ما همداسې ( د خدمت دپاره ) غلام ساتي ( دا اختيار هغه ته حاصل دى ) .

## حديث د جبريل ؑ

د حديث د جبريل نه هم دا معلوميږي چې حضرت جبريل عليه السلام هم د صحابه كرامو د وړاندې نبي كريم صلى الله عليه وسلم ته د اَلتَّحيّات په شكل كې په ادب سره ناست ؤ ، او صحابه كرامو ته يې دا اوخوده چې د استاذ د وړاندې دغه شان كيناستل په كار دي .

د صحابه كرامو په باره كې راځي : چې دوى به هم د نبي كريم صلى الله عليه وسلم د وړاندې داسې په ادب ناست وو ګويا چې د دوى په سَرونو باندې مرغۍ ناستې دي .

## امام اعظم ابوحنيفه رحمه الله او د استاذ ادب

دامام اعظم ابوحنيفه رحمه الله په زړه كې د خپل استاذ ( حماد رحمه الله ) دومره قدر او احترام و چې ترڅو پورې امام صاحب ژوندې و تر هغې وخته پورې يې د خپل استاذ كور ته خپې نۀ وې غزولې . حالانكه د امام صاحب او حماد رحمه الله د كور په مينځ كې ډيره فاصله وه ( تقريبًا اووه كوڅې په مينځ كې وې ) خو بيا به هم ده د هغه د ادب لحاظ ساتلو . (۱)

دامام صاحب د استاذ ( حمادبن سلمه رحمه الله ) بي بي ( عاتكه ) وايي چې امام ابوحنيفه رحمه الله به مونږ له د بازار نه سبزي راوړه ، مالوچ به يې راله صفا كول ، او نور ډير خدمتونه به يې كول . (۲)

## مولانا عبدالقدوس ګنګوهي رحمه الله او د استاذ ادب

حضرت مولانا شاه عبدالقدوس ګنګوهي رحمه الله چې وړوكې ؤ ، نو د وړوكوالي نه يې په زړه كې د خپل استاذ ډير زيات ادب ؤ ، استاذ هم ده ته د خپل ځوي په سترګه كتل ، دې به كور ته دننه تلو راتلو .

---

(۱) امام ابوحنيفه كے حيرت انگيز واقعات ص ۱۳۱ بحواله عقود الجمان ص ۲۹۳ ، اساتذه كرام كے آداب وحقوق ص ۷۵

(۲) آداب المتعلمين ص ۳۹ .

يوه شپه کورته شپې پيشو راغله ، ټوله ډوډۍ (روټۍ) يې اوخوړه ، او لوخي يې هم رااوغورځول . سهر د استاذ بي بي استاذ ته وويل : چې د کوم طرف نه بيګاه د شپې پيشو راغلې وه او ټوله ډوډۍ يې خوړلې .

استاذ صاحب عبدالقدوس ته وويل : بچيه ! ته اوګوره ، چې په کوم ځای دا پيشو راننوځي هغه ځای بند کړه ، ده چې اوکتل نو د دروازې سره يو سورې ؤ ، ده داګمان وکړو چې ګنې پيشو په دې ځای راننوځي ، نو ده هغه سورې بند کړو .

په دويمه شپه بيا پيشو راغله او بيا يې هم ټوله ډوډۍ اوخوړه ، او لوخي يې هم رااوغورځول ، سهر د استاذ بي بي بيا استاذ ته شکايت وکړو چې بيګاه خو بيا پيشو راغلې وه .

نو استاذ صاحب بيا عبدالقدوس ته وويل چې بچيه ! ته يو نظر واچوه چې دا پيشو په کوم ځای راننوځي ؟ ځکه دا خو بيګاه بيا راغلې وه او نقصان يې کړې دی .

عبدالقدوس ډير خفه شو او تلاش يې شروع کړو چې ده ځای معلوم کړي ، بل ځای چيرته سورې نه ؤ ، خو صرف يو ځای کې يو سورې و چې په هغې به د کورنه د باران اُوبه وتلې .

ده چې دا اوليده نو پوهه شو چې پيشو په همدې سوري کورته ننوځي . ماسخوتن چې خلق اوده شو ( دې چونکه بهر جُمات کې ځملاستو ) ، نو ده ته دا خبره وريا ده شوه ، دې راغې او څه شي يې کتلو ، چې په دې سوري کې يې کيدي ، خو هيڅ شئ پيدا نه شو .

آخر دا چې ده د بهر طرفنه دې سوري ته خپل سَر کيښود ، او همدلته اوده شو ، ځکه د ده په زړه کې د خپل استاذ دومره ادب و چې ده دا نه غوښتل چې نن شپه دې بيا پيشو د ننه کورته لاړه شي او ده ته دې نقصان اورسوي .

د خدای شان ګوره چې په دغه شپه ډير باران اوشو ، په کوم سوري چې به د کور اُوبه وتلې هغه سورې خو ده بند کړې و ( ځکه ده ورته د بهر طرفنه خپل سَر ايښې و ) نو د کور اُوبه د ننه جمعه شوې ..

د استاذ بي بي چې اوکته چې اُوبه جَمعه دي ، او سورې د بهر طرف نه بند دې ، نو دې دا ګمان وکړو چې ګنې بهر دې سوري ته څه کانړې يا بل شئ ايښې دې ، نو د بانړس يو لرګې يې رااوخيست ، او په دې سوري کې يې اووهلو ، خو بيا هم اُوبه رواني نه شوې .

(c) ketabton.com: The Digital Library



بل طرفته دې طالب دا سوچ وکړو چې کني پيشو دننه کورته ننوتې ، اوس دوباره د وتلو او تيختې کوشش کوي ، نو ځکه په خپلو پنجو باندې زما سَر وهي . نو ده خپل سَر ته نور هم زُور ورکړو چې پيشو او نه تختي .

دې طرفته د استاذ بي بي دا کمان وکړو چې کني دې سوري ته د آخوا طرفنه غټ کانړې دی ځکه نه لرې کيږي .

آخر دا چې دې بي بي په زوره سره دا بانړس په دې سوري کې ور اووهل ، چې په دې سره د عبدالقدوس سَر زخمي شو او وينه ورنه روانه شوه ، د سَر د زخمي کيدو په وجه ده خپل سَر راديخوا کړو ، او د سخت زخم د وجې نه په ژړا شو ، سلګۍ يې وهلې او د دروازې سره ولاړ وُ ، استاذ يې چې دا سلګۍ واوريدې نو په منډه ورته راغې ، او آواز يې ورته وکړو :

عبدالقدوس بچيه ! څه اوشو ؟ ولې ژاړې ؟

عبدالقدوس په تياره کې ولاړ وُ ، استاذ ته رانږدې شو ، استاذ چې اوکته چې په تياره کې يخنۍ ته ولاړ دې اوسختې سلګۍ وهي، نوحيران شو چې آخر څه وجه ده چې دومره سختې سلګۍ وهي ؟

نو په سَر يې ورله لاس رابنکود ، چې وې کته نو سَر يې سخت زخمي وُ ، پوښتنه يې ورنه وکړه چې دا ولې ؟ هغه ورته خپله خبره وکړه .

استاذ پوهه شو چې ددې وړوکي طالب په زړه کې د خپل استاذ د خدمت دومره غټه جذبه ده چې خپل سَر يې سوري ته اينبې وُ ، چې کني يبا چيرته پيشو کورته داخله نه شي او استاذ ته تکليف اُونه رسوي ، تردې چې دده سَر هم په کې زخمي شو .

نو استاذ دې طالب ته د زړه د اخلاصه څه دُعاګانې وکړې ، يوه په کې دا هم وه چې :

اې الله ! زما دې رُوحاني بچي ته داسې عزت او عظمت ورکړې چې په ټوله دُنيا کې دده مِثل نه وي .

نو الله ﷻ دغه دُعا داسې قبوله کړه ، چې روستو ددې عبدالقدوس نه داسې يو لوي عالم ، متّقي ، پرهيزګار او وليّ الله جوړ شو چې مثال يې هم نه وُ ، چې هر کس يې د حضرت مولانا عبدالقدوس ګنګوهي رحمه الله په نوم سره پيژني . (۱)

---

(۱) اهلِ علم کي زندګي ص ۳۷۰ ، اهلِ دل کے تڑپادینے واقعات ج ص ، اساتذہ کرام کے آداب وحقوق ص ۸۳.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د استاذ د ځوي ادب کول

صاحب د هدايې امام برهان الدين رحمه الله يو واقعه بيان کړې چې د بخارى په علماؤ کې يو لوي عالم ؤ ، طالبانو ته يې درس ورکول ، خو د درس په دوران کې به ناګهانه پاڅيده ، بيا به کيناست ، څو پيرې يې داسې وکړه .

شاګردانو ورنه پوښتنه وکړه چې تاسو ولې د درس په دوران کې پاځئ او کينئ ؟

هغه ورته وويل چې زما د استاذ وړوکې ځوي دى هغه بهر د هلکانو سره په کوڅه کې لوبې کوي ، خو چې کله هغه دروازې ته را اورسي ، ماته را مخامخ شي ، او زه يې او ګورم ، نو زه د خپل استاذ د تعظيم په وجه د هغه ځوي ته اودريږم . (۱)

يو شاعر وايي :

کن ابن من شئت واکتسب ادبًا ✤ يغنيک محموده من النسب

إنّ الفتى من يقول ها أنا ذا ✤ ليس الفتى من يقول کان ابي .(۲)

## د عالم سره د ناستې فضيلت

فقيه ابو الليث ثمرقندي رحمه الله فرمايي چې څوک د يو عالم مجلس ته لاړشي او دې د هغه نه څه زده هم نه کړي ، خو بيا هم ده ته اووه (۷) عزتونه حاصليږي :

۱. د طالب علمانو درجه ورته حاصليږي .(دا هم لوي سعادت دى) .

۲. ترڅو پورې چې دې په دې مجلس کې ناست وي تر هغه وخته پورې دې د ګناهونو نه بچ وي .

۳. کله چې دې د کورنه را ووځي نو په ده باندې د الله ﷻ رحمتونه راوريږي .

۴. کله چې دې په دې مجلس کې کيني نو په علماو چې کوم رحمتونه راوريږي د هغوى په برکت ده ته هم دا رحمت رسيږي .

---

(۱) تعليم المتعلم ص ۲۷ ، اساتذه کرام کے آداب وحقوق ص ۸۰ .

(۲) المستظرف في کل فن مستظرف ص ۲۹ .

۵. ترڅو پورې چې ده غوږ نیولی وي تر هغې وخته پورې دده د پاره نیکۍ لیکلې کیږي.

۶. فرښتې د خوشحالۍ نه په دې مجلس واله باندې خپلې وزرې خوروي نو دی هم په هغوی کې شامل وي.

۷. دې چې کوم قدم اوچتوي او ږدي، هغه دده د پاره د ګناهونو کفاره ګرځي، درجې یې پرې اوچتیږي، او په نیکیو کې یې اضافه کیږي. (۱)

## د عالم مخ ته کتل عبادت دی

نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمایي:

اَلنَّظَرُ فِيْ وَجْهِ الْعَالِمِ عِبَادَةٌ، وَالنَّظَرُ فِي الْكَعْبَةِ عِبَادَةٌ، وَالنَّظَرُ فِي الْمُصْحَفِ عِبَادَةٌ. (۲)

د عالم مخ ته کتل عبادت دې، کعبې ته کتل عبادت دی، او قرآن کریم ته کتل عبادت دی.

فقیه ابو اللیث ثمرقندي رحمه الله دد ې حدیث نه روستو لیکلي: که چیرته د علم په مجلس کې د عالم د ملاقات نه علاوه بله هیڅ فایده نه وي نو بیا هم هر عقلمند د پاره لازم دي چې ددې حرص وکړي (او د عالم په مجلس کې حاضر شي) ځکه د عالم مخ ته کتل ځانله مستقل عبادت دی.

نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمایي: چې ما د حضرت جبریل علیه السلام نه پوښتنه وکړه:

أَيُّ الْأَعْمَالِ أَفْضَلُ لِأُمَّتِيْ؟ زما د امت د پاره بهترین عمل کوم یو دی؟

نو هغه راته اوفرمایل: اَلْعِلْمُ. علم بهترین علم دې. ما بیا ورنه پوښتنه وکړه:

ثُمَّ أَيٌّ؟ بیا وروسته کوم عمل بهتر دی؟ هغه راته اوفرمایل:

اَلنَّظَرُ إِلَى الْعَالِمِ. عالم ته کتل. ما بیا ورنه پوښتنه وکړه:

ثُمَّ أَيٌّ؟ بیا ددې پسې بل کوم عمل بهتر دی؟ هغه راته اوفرمایل:

---

(۱) قال الفقیه رحمه الله: مَنْ انتهی الی العالم وجلس معه ولا یقدرُ علی أنْ یحفظَ العلمَ فله سبع کراماتٍ: اوّلها ینال فضل المتعلّمین. والثاني: مادام جالسًا کان محبوسًا عن الذنوب والخطایا. والثالث: اذا خرَجَ من منزله تَنْزِلُ علیه الرحمة. والرابع: اذا جلس عنده فتنزلُ علیهم الرحمةُ فتصیبه ببرکتهم. والخامس مادام مستمعًا تُکتَبُ له الحسنةُ. والسادس: تحف علیهم الملائکةُ باجنحتها رضًا وهو فیهم. والسابع: کلُّ قدمٍ یَرفعُه ویَضَعُه یکونُ کفارةً للذنوب ورفعًا للدرجات له وزیادة في الحسنات. (تنبیه الغافلین ص ۲۰۵ باب فضل مجالس العلم).

(۲) تنبیه الغافلین ص ۲۰۷ باب فضل مجالس العلم، المقاصد الحسنة ص ۲۵۱،

(c) ketabton.com: The Digital Library



زِيَارَةُ الْعَالِمِ . دعالم ملاقات كول.

بيا يې اوفرمايل :

وَمَنْ كَسَبَ الْعِلْمَ لِلّٰهِ وَاَرَادَ بِهِ صَلَاحَ نَفْسِهِ وَصَلَاحَ الْمُسْلِمِيْنَ وَلَمْ يُرِدْ بِهِ عَرَضًا مِنَ الدُّنْيَا فَأَنَا كَفِيْلُهُ بِالْجَنَّةِ . (۱)

كوم كس چې د الله ﷻ د رضا دپاره علم حاصل كړي ، او دده اراده په دې علم سره د خپل ځان او د مسلمانانو اِصلاح وي ، او څه دُنيوي عرض يې نه وي نو زه دداسې كس د پاره د جنت ضامن يم

## د علماؤ سره د محبت فائده

كوم كس چې د اهلِ علمو سره محبت او تعلق ساتي نو اګر چې دده اعمال به د هغوى په شان نه وي خو بيا به هم د قيامت په ورځ ددې انسان حشر ددې علماو سره كيږي . دا خبره زه د ځان نه نه كوم بلكه دا سردارِ دوجهان محمّدٌ رّسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي: چې د انسان حشر به د قيامت په ورځ د هغه چا سره وي چې د چاسره يې محبت وي .

حضرت انس بن مالك ﷛ فرمايي چې يو كس رسول الله ﷺ ته راغې او ورته وې ويل :

يَارَسُوْلَ اللهِ ! مَتَى السَّاعَةُ ؟ اې د الله ﷻ رسوله ! قيامت كله دى ؟

نبي عليه السلام ورته اوفرمايل : مَا اَعْدَدْتَ لِلسَّاعَةِ ؟ تا قيامت ته څه تيار كړي دي ؟

ده ورته وويل : حُبُّ اللهِ وَرَسُوْلِهِ . ( نور مې څه خاص نه دي تيار كړي خو ) په زړه كې مې د الله ﷻ او د هغه د رسول ﷺ سره محبت شته .

نبي عليه السلام ورته اوفرمايل :

اَنْتَ مَعَ مَنْ اَحْبَبْتَ . ته به دقيامت په ورځ د هغه چا سره يې د چا سره چې دې په دُنيا كې محبت وي .

حضرت انس رضى الله عنه فرمايي :

فَمَا فَرِحْنَا بَعْدَ الْإِسْلَامِ فَرَحًا اَشَدَّ مِنْ قَوْلِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "فَاِنَّكَ مَعَ مَنْ اَحْبَبْتَ"

(۱) تفسير كبير ج۱ ص ۳۰۹ آيت ۳۱ .

(c) ketabton.com: The Digital Library



د اسلام راورو نه روستو مونږ په بل هيڅ شئ دومره نه وو خوشحاله شوي څومره چې د نبي کريم صلی الله عليه وسلم په دې وينا خوشحاله شو چې " ته به د قيامت په ورځ د هغه چا سره يې د چا سره چې دې محبت وي ". بيا حضرت انس رضي الله عنه او فرمايل :

فَأَنَا اُحِبُّ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهُ ، وَأَبَا بَكْرٍ وَعُمَرَ . فَأَرْجُوْا اَنْ اَكُوْنَ مَعَهُمْ وَاِنْ لَمْ اَعْمَلْ بِأَعْمَالِهِمْ .(۱)

زه د الله جل جلاله او د هغه رسول صلی الله عليه وسلم سره محبت کوم ،او د حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه او حضرت عمر رضي الله عنه سره هم محبت کوم ، نو زه دا اميد لرم چې د قيامت په ورځ به زه هم د دوی سره يم اگر چې ما د دوی په شان اعمال نه دي کړي .

## د عالم وفات کيدل لويه حادثه ده

نبي کريم صلی الله عليه وسلم فرمايي :

مَوْتُ الْعَالِمِ مُصِيْبَةٌ لَا تُجْبَرُ . وَثُلْمَةٌ لَاتُسَدُّ وَهُوَ نَجْمٌ طُمِسَ .مَوْتُ قَبِيْلَةٍ اَيْسَرُ مِنْ مَوْتِ عَالِمٍ (۲)

د عالم مرګ داسې مصيبت دی چې د هغې تدارک نه شي کيدې ، او داسې نقصان دی چې نه شي پوره کيدې ، او هغه داسې ستورې دی چې رڼا يې ختمه شي . د غونډې قبيلې مرګ د يو عالم د مرګ نه آسان دی ( يعنی د پوره قبيلې مرګ دومره غټ نقصان او خفګان نه دی لکه د يو عالم مرګ ) .

نبي عليه السلام فرمايي :

إِنَّ اللّٰهَ لَايَقْبِضُ الْعِلْمَ اِنْتِزَاعًا يَنْتَزِعُهُ مِنَ الْعِبَادِ وَلٰكِنْ يَقْبِضُ الْعِلْمَ بِمَوْتِ الْعُلَمَاءِ حَتّٰى إِذَا لَمْ يَبْقَ عَالِمٌ . اِتَّخَذَ النَّاسُ رُءُوْسًا جُهَّالًا فَسُئِلُوْا فَأَفْتَوْا بِغَيْرِ عِلْمٍ فَضَلُّوْا وَاَضَلُّوْا . (۳)

---

(۱) مسلم كتاب البر والصلة والاداب ، باب المرء مع من احب ۲۶۶۷۲ / ۱۶۳ . په بخاري شريف کې دا رنګې حديث ذکر دی: عَن عبدالله (بن مسعود رضي الله عنه) قَالَ : جَاءَ رَجُلٌ إِلى رَسُوْلِ اللّٰهِ صلى الله عليه وسلم فَقَالَ : يَارَسُوْلَ اللّٰهِ كَيْفَ تَرَى فِي رَجُلٍ اَحَبَّ قَوْمًا وَلَمَّا يَلْحَقْ بِهِمْ ؟ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صلى الله عليه وسلم " اَلْمَرْءُ مَعَ مَنْ أَحَبَّ " . اخرجه البخاري في الادب باب علامة الحب في الله عزوجل ۶۱۶۸، و ۶۱۶۹، مسلم باب المرء مع من احب ۶۶۷۵ / ۱۶۵ .

(۲) اخرجه ابوداود في العلم باب ۱ ، والترمذي في العلم باب ۱۹ ،وابن ماجه ماجه في المقدمة باب ۱۷ ، الترغيب والترهيب ج۱ ص ۶۰ الترغيب في الرحلة في طلب العلم .

(۳) اخرجه البخاري في العلم باب كيف يقبض العلم ؟ ( ۱۰۰ ) ومسلم باب رفع العلم وقبضه وظهور الجهل والفتن في آخر الزمان ۶۷۵۲ ، ( ۲۶۷۳ ) ،والترمذي في العلم باب ماجاء في ذهاب العلم ۲۶۵۴ ، وابن ماجه في المقدمة باب اجتناب الرای والقياس ۴۰ ، مشكوة كتاب العلم ، نزهة الناظرين ص ۱۴ .

(c) ketabton.com: The Digital Library



الله تعالى به په (آخيري زمانه کې) علم داسې نه اُوچتوي چې کني د خلقو (د زړه او دماغو) نه يې اُوباسي، بلکه علم به د علماو په ختميدلو اوچت کړي، تردې چې هيڅوک عالم به (په مخ د زمکه) پاتې نه شي، نو خلق به جاهلان خپل پيشوايان جوړ کړي، د هغوى نه به د مسئلو پوښتنې کوي، هغوى به په غير د علم نه فتوىٰ ورکوي، نو په خپله به هم گمراه شي او نور خلق به هم گمراه کړي.

حضرت عمر رضى الله عنه فرمايي:

مَوْتُ اَلْفِ عَابِدٍ قَائِمِ اللَّيْلِ صَائِمِ النَّهَارِ أَهْوَنُ مِنْ مَوْتِ عَالِمٍ بَصِيْرٍ بِحَلَالِ اللهِ وَحَرَامِهِ.(۱)

زر (۱۰۰۰) هغه عابدان چې هغوى ټوله شپه د الله ﷻ عبادت کوي او د ورځې روژې نيسي، د دوى ټولو مرگ د هغه يو عالم په نسبت آسان دى کوم چې حلال او حرام پيژني. (يعنى د دې زرو عبادت کوونکو مرگ دومره غټ نقصان او غم نه دى څومره چې د دې يو عالم مرگ نقصاني او لوي غم دى).

ځکه د عابد عبادت د خپل ځان د پاره وي او د عالم ژوند د ټولو انسانانو د دُنيا او آخرت د کاميابۍ د پاره وي.

د حضرت سعيد بن جبير رحمه الله نه پوښتنه اوشوه:

مَا عَلَامَةُ هَلَاكِ النَّاسِ ؟ د خلقو د هلاکت نښه څه ده؟

ده ورته ووېل: هَلَاكُ عُلَمَائِهِمْ. چې کله د دوى علماء وفات شي، (او خلق په گمراهۍ کې مبتلاء شي، نو دا غټه نښه د دوى د هلاکت ده). (۲)

## د علماو پورې ټوقې کوونکې کس منافق دى

په مخ د زمکه داسې بدبخته خلق هم شته چې علماو ته په سپک نظر گوري، نو خبردار! کوم کس چې عالم ته د علم په وجه يا حافظ ته د حفظ په وجه سپک گوري نو دا خو کُفر دى، د ده ته د ايمان تازه کول په کار دي، ځکه علم او قرآن کريم ته سپک کتل خو کفر دى.(۳)

(۱) احياء العلوم ج۱ ص ۲۱ کتاب العلم، نزهة الناظرين فى الاخبار والآثار المروية عن الانبياء والصالحين ص ۴۱.

(۲) نزهة الناظرين ص ۱۴.

(۳) نوټ: د دې خبرې پوره تفصيل روستو په "فقهي مسايلو" کې اوگوره.

(c) ketabton.com: The Digital Library



نبي کريم صلى الله عليه وسلم فرمايي :

ثَلَاثٌ لَا يَسْتَخِفُّ بِهِمْ إِلَّا مُنَافِقٌ : ذُوالشَّيْبِ فِي الْإِسْلَامِ وَذُوالْعِلْمِ وَإِمَامٌ مُقْسِطٌ . (۱)

درې ( ۳ ) کسان داسې دي چې د دوی سپکاوی صرف منافق سړی کوي ( يعنی دد ي درې کسانو پورې چې څوک ټوقې او مسخرې کوي هغه منافق دې ) هغه درې کسان دا دي :

( اول ) هغه کس چې په اسلام کې سپين ګيرې شي . (دويم ) : عالم . او ( دريم ) عادل بادشاه .

کوم کس چې په دُنيا کې علماؤ ته نقصان رسوي ، نو الله ﷻ داسې کس ته په دُنيا کې هم سخته سزا ورکوي ، ځکه علماء خو د انبياؤ وارثان دي ( اَلْعُلَمَاءُ وَرَثَةُ الْأَنْبِيَاءِ ).

علماء د الله ﷻ وليان او بزرګان دي . او د الله ﷻ ولي ته نقصان رسول د انسان د اخيرې خاتمې د خرابيدو خطره لري ، حديث قدسي دی الله تعالى فرمايي :

مَنْ عَادَىٰ لِيْ وَلِيًّا فَقَدْ آذَنْتُهُ بِالْحَرْبِ . (۱)

څوک چې زما د يو دوست سره دشمني کوي زه داسې کس ته اعلانِ جنګ کوم .

لهذا علماؤ ته د نقصان رسوونکو خلقو انجام به درته د يو څو واقعاتو په رڼا کې بيان کړم :

## علماؤ ته د تکليف رسوونکو خلقو سزا

فقيه ابو الليث ثمرقندي رحمه الله ذکر کړي دي چې حضرت ابوبکر صديق ؓ فرمايي :

ما يو ځل خوب وليده چې رسول الله صلى الله عليه وسلم راغې او زه يې د لاس نه اونيوم او راته وې فرمايل : خپل نظر اوچت کړه او دوزخ ته اوګوره . ماچې پورته اوکته ، نو ما اوليده چې د ګناهګارانو يو جماعت په عذاب کې مبتلاء دی ، مخونه يې د خنځير په شکل کې وو ، د جهنميانو وينې او زوې يې څکلې او په اُور کې سوزيدل .

---

(۱) رواه الطبراني في الكبير وقد حسنها الترمذي لغير هذا المتن ، الترغيب والترهيب ج ۱ ص ٦٥ .

(۲) بخاري شريف . په يو حديث کې داسې الفاظ دي : مَنْ آذَى لِيْ وَلِيًّا فَقَدْ آذَنْتُهُ بِالْحَرْبِ . اخرجه البخاري ٦١٣٧ .

(c) ketabton.com: The Digital Library



ما د نبي عليه السلام نه پوښتنه وکړه چې اې د الله رسوله ! دا څوک دي چې په دومره لوی عذاب کې گرفتار دي ؟ نبي عليه السلام راته اوفرمايل : چې دا هغه خلق دي چې د وی به علماؤ ته تکليف رسول ، او په غير د توبې نه مړه شوي دي ، نو ځکه يې اوس دا انجام دی .

## د مرزا مظهر جانِ جانان د قاتل بدترين انجام

د دهلي د بادشاه يو وزير ؤ ، چې رافضي المذهب ؤ ، هغه د قاضي ثناء الله پاني پتي رحمه الله پير او مرشِد مرزا مظهر جانِ جانان په ناحقه باندې په تمانچه اوويشتو ، مرزا صاحب په هماغه ځای شهيد شو ، د هغه د وفات نه پس د دهلي بادشاه د شپې خوب اوليده چې زه په يو ځنگل کې ولاړ يم ، او د ماسره دا وزير هم دی ، مونږ کته چې ناڅاپه د ځنگل د يو طرف نه دُوړې او گرد را پورته شو ، کله چې دا گرد ختم شو نو ما اوليده چې په يوه سورلۍ باندې يو کس سور دې او ددې سورلۍ واگې مرزا صاحب نيولي دي ، کله چې دوی ماته رااورسيده ، او ما معلومات وکړو چې دا د سورلۍ واله کس څوک دی ؟ نو راته وويل شو چې دا خو حضرت حسين رضی الله عنه دی .

حضرت حسين رضي الله عنه د مرزا صاحب نه پوښتنه وکړه چې ستا قاتِل څوک دی ؟ ده وزير طرفته اشاره وکړه چې زما قاتِل دا وزير دی ، حضرت حسين رضي الله عنه يو غشي رااوويست ، او دا وزير يې په دې غشي باندې په ځيگر اوويشت .

بادشاه د شپې د خوب نه راپاڅيده ، حيران ؤ ، په تادۍ يې يو کس اوليږل چې ته لاړ شه ، او وزير په جلتۍ راوله چې زه ورنه معلومات وکړم ، چې دا څه تماشه ده ؟

هغه کس چې هلته ورغې ، نو خلقو ورته وويل چې د وزير په ځيگر کې ناڅاپه درد پيدا شوې ، نشي تللې ، کله چې سهر شو نو وزير مړ شوې .

## امام اعظم ابوحنيفه رحمه الله پسې د بد رد ويلو سزا

د يو کس په باره کې راځي چې ده تقرير کولو ، او د استهزاء په شکل يې وويل چې د امام صاحب نه خو زه هم ښه يم ، هغه په څه پوهيده ، هغه ته خو صرف اويا ( ۷۰ ) احاديث ياد وو ، ماته خو د هغه نه ډير ياد دي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



يو چا بل نيک عالم ته دا خبره وکړه ، هغه فورًا وويل چې ددې کس آخيري انجام به دا وي چې دې به مرتد کيږي ، يوه جُمعه روستو دغه کس مرزايي شو ، د خلقو د وړاندې ذليل و رسوا شو او خلقو اوشړل .

ددې نه پس خلق دې نيک عالم ته راغله او پوښتنه يې ورنه وکړه چې تاته څنګه معلومه شوې وه چې دا سړې به کافر کيږي ؟ هغه ورته وويل چې کله تاسو ماته وويل چې دې سړي د امام اعظم ابو حنيفه رحمه الله ډيره ګستاخي کړې ، نو زما په نزد خو امام صاحب د الله ﷻ ولي دې ، او حديث قدسي دې ، الله رب العزت فرمايي :

مَنْ عَادَىٰ لِيْ وَلِيًّا فَقَدْ آذَنْتُهُ بِالْحَرْبِ. (۱)

څوک چې زما د يو ولي سره دشمني کوي نو زه هغه ته اعلانِ جنګ کوم .

نو چې کله دې سړي ته د الله ﷻ د طرفه اعلانِ جنګ اوشو ، او په جنګ کې هر فريق دا غواړي چې د مقابِل نه اعلی شی قبض کړي ، او د الله ﷻ په نزد خو د ايمان نه بل اعلی شی نشته ، نو ما د ځان سره سوچ وکړو چې اوس ددې کس سره ايمان نشي پيدا کيدې . نو ځکه مې تاسو ته ويلي وو چې دا سړې به آخر مرتد کيږي . (۲)

## د عالم د توهين سخته سزا

د دارالعلوم ديوبند مهتمِم حضرتِ مولانا قاري محمد طيب رحمه الله وايي : چې يو کرت حضرت مولانا نانوتوي رحمه الله شاه جهان پور ته تشريف وې وړو ، او د اسلام د حقانيت په باره کې يې خلقو ته ډير ښه وعظ او نصيحت وکړو .

کله چې د هغه ځای بې دينه خلقو ته پته اولږيده چې د خلقو په زړونو کې د مولانا نانوتوي رحمه الله ډير قدر وعزت پروت دی ، نو دده د بدنامولو د پاره يې مختلف طريقې وکړې خو کامياب نه شو .

آخر دوی داسې پروګرام جوړ کړو چې په خپلو ملګرو کې يې يو کس ته کفن ورواغوست ، او هغه کس ته يې وويل چې کله د جنازې دوه تکبيرونه اوشي نو ته به زَر راپاڅې ، نو د نانوتوي

(۱) بخاري شريف .

(۲) کتاب مولوي داؤد غزنوي ص ۱۹۱ .

(c) ketabton.com: The Digital Library



رحمه الله پورې به خلق او خاندي ، او دې به او شرميږي چې د ژوندي سړي جنازه يې وکړه .

کله چې دوی داسې ترتيب برابر کړو نو دا کس يې په کټ کې واچول ، رايې وړو ، او نانوتوي رحمه الله ته يې وويل چې جناب ! تاسو په دې مړي باندې جنازه وکړئ .

ده ورته ډير عُذر پيش کړو چې ما دپاره دا جنازه مناسب نه ده ، زه يې نه کوم . خو هغوی د خُولې چالاکي وکړه او ورته وې ويل چې تاسو به يې خامخا کوئ .

د هغه ځای ګواه خلق وايي چې مولانا صاحب يو طرفته ولاړ ؤ ، مونږ د هغه مخ ته کتل . نو مخ يې د غصې نه تک سور ؤ ، او په مخ يې د خفګان اثرات ښکاريده .

کله چې هغوی ډير اصرار وکړو نو دې جنازې ته ورمخکې شو ، کله چې ده دوه (۲) تکبيره وکړه ، نو د شاته نه خپلو ملګرو دې کس ته ټوخي کول چې راپاځه ، خو دې نه راپاڅيدو .

کله چې جنازه ختمه شوه نو مولانا صاحب په غصه کې وويل چې دا اُوس نه شي راپاڅيدې . او نور ورنه روان شو .

کله چې خلقو هغه اوکتلو نو واقعي مړشوې ؤ ، زَر ټولو رامنده کړه ، او د مولانا صاحب نه يې معافي اوغوښته ، او ډيرو خلقو په هما غه ځای توبه وويسته . (۱)

نو د علماو او نيکانو د بې عزتۍ نه ځان ساتل په کار دي . نبي کريم ﷺ فرمايي :

رُبَّ اَشْعَثَ أَغْبَرَ مَدْفُوْعٍ بِالْاَبْوَابِ لَوْ أَقْسَمَ عَلَى اللهِ لَأَبَرَّهُ . (۲)

ډير کرت خوَرو وَرو وېښتانو واله ، ګرد آلود کس چې د دروازو نه شړلې شي (يعنی داسې پراګنده حال او په خاورو ککړ کس چې په ظاهره ډير غريب او کمزورې معلوميږي خو دالله ﷻ په نزد به دده دومره لوي مقام وي ) که چيرته دې په الله ﷻ باندې قسَم اوکړي ( چې دا کار به کيږي ) نو الله ﷻ به د هغه قسَم ضرور پوره کوي ، او دې به قسَم کې د حانِث کيدلو نه بچ کوي . (۳)

---

(۱) سوانح قاسمي ۲/ ۷۰ ، عبرت الكيز واقعات ص ۱۵۲ .

(۲) رواه مسلم كتاب البر حديث ۱۳۸ ، والجنّة حديث ۴۸ . والبخاري ۷ / ۱۰ . الترغيب والترهيب ج ۴ الترغيب في الفقر وقلة ذات اليد وما جاء في فضل الفقراء والمساكين ......

(۳) دعوات حق لمولانا عبدالحق ج۱ ص ۵۹۷ .

(c) ketabton.com: The Digital Library



يو شاعر وايي :

هَر بيشه گمان مبر كه خاليست ❁ شايد كه پلنگ خفته باشد

په هر ځنګل دا ګمان مه کوه چې ګنې دا خالي دې ، کيدې شي په دې کې زمرې اُوده وي .

نو دغه رنګې دې غريب علماؤ او طلباؤ ته هم په غلط نظر مه ګوره ، ځکه په دوی کې لوي لوي بزرګان او اولياء الله شته ، دوی ته په نقصان رسولو سره به خپل آخرت برباد کړې .

## د بزرګانو او نيکانو نه د مخ اړوونکي ګس انجام

د هند مشهور عالم مولانا خواجه غريب نواز رحمه الله فرمايي چې يو کس ؤ ، کله به يې چې څوک بزرګ يا نيک سړې اوليده نو خپل مخ به يې ورنه واړول . ځکه دده د نيکانو او علماو سره سخت عداوت ؤ ، هغوی ته يې کتل هم نه خوښول .

کله چې دې مړ شو او قبر ته يې کوز کړو ، نو خلقو په قبر کې دده مخ قبلې طرف ته واړول ، خو دده مخ به واپس د قبلې نه رااوګرځيده ، خلقو ډير کوشش وکړو خو قبلې ته به يې مخ نه برابريده ، خلق ډير خفه وو ، په دې کې يو هاتفي آواز ورباندې اوشو :

اې خلقو ! تاسو هسې ځان مه ستړې کوئ ، دې په همدې حالت کې پريږدئ . ځکه ده به په دُنيا کې زما د محبوب بندګانو ( نيکانو خلقو ) نه مخ اړولو او د هغوی سره به يې بُغض کولو ، نن دده همدا سزا ده چې زما د رحمت نه به لرې وي ، او د قيامت په ورځ چې راپاڅي نو په داسې شکل کې به راپاڅي چې دده صورت به د خَر وي .

**فائده** : معلومه شوه چې علماو ته سپک کتل يا د دوی توهين کول غټه بدبختي ده .

محترمو ! که چيرته دغه اهلِ حق علماء نه وې نو بيا به خلق د حلال او حرام ، جائز او ناجائز مسائلو نه چا خبرول ؟

که دغه علماء نه وې نو بيا د ملحدينو او باطلو ډلو مقابله چا کوله ؟

که دغه علماء نه وې نو بيا به دغه ظالم بادشاهان د دين د تحريف نه چا منعه کول ؟

دا خو د علماو برکت دی چې په هر دور کې دوی د باطل مقابله کړې ، او د رسول الله صلی الله عليه وسلم په ښائسته تعليماتو يې دُنيا منوّره او روښانه کړې .

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د اهلِ علمو سره دَ احسان کولو فایده

په شریعت کې د د اهلِ علمو سره د احسان کولو ډېر زیات فضایل راغلي ، هم دُنیوي فایدې ، او هم اُخروي فایدې .

دُنیوي یوه فایده یې داده چې کوم کس د اهلِ علمو سره احسان کوي نو الله ﷻ به د دې کس ځوي یا نمسې عالِم کوي .

امام سدید الدین شیرازي رحمه الله فرمایي چې زمونږ مشائخو ویلي دي :

مَنْ اَرَادَ اَنْ يَكُوْنَ اِبْنُهُ عَالِمًا فَيَنْبَغِيْ اَنْ يُرَاعِيَ الْغُرَبَاءَ مِنَ الْفُقَهَاءِ وَيُكْرِمَهُمْ وَيُطْعِمَهُمْ وَيُعَظِّمَهُمْ وَيُعْطِيَهُمْ شَيْئًا . فَاِنْ لَمْ يَكُنْ اِبْنُهُ عَالِمًا كَانَ حَفِيْدُهُ عَالِمًا . (۱)

څوک چې دا اراده لري چې د ده ځوي دې عالم شي نو ده له په کار دي چې د غریبانانو فقهاؤ او علماؤ خیال اوساتي ، د دوی عزت او تعظیم وکړي او دوی ته ( د خوراک د پاره ) څه ورکړي . نو که په څه وجه د ده ځوي عالِم نه شي نو د ده نمسې به عالِم کیږي .

(۱) تعليم المتعلم فصل في تعظيم العلم واهله ص ۳۲ .

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د طالب العلم مقام

محترمو مسلمانانو ! زمونږ په شريعت کې د علم زده کوونکي ( طالب العلم ) هم ډير غټ مقام دي :

## فرښتې طالب العلم ته خپلې وزرې غوړوي

نبي کريم صلى الله عليه وسلم فرمايي :

إِنَّ الْمَلَائِكَةَ لَتَضَعُ أَجْنِحَتَهَا لِطَالِبِ الْعِلْمِ رِضًا بِمَا يَصْنَعُ . (۱)

بيشکه فرښتې د طالب العلم د پاره خپلې وزرې غوړوي ( يعنى دده د وړاندې عاجزي او تواضع کوي (۲) ) ځکه دوی د طالب دده کار نه راضي او خوشحاله وي .

## د امام قرطبي رحمه الله تحقيق

امام قرطبي رحمه الله په خپل تفسير کې د آيت ﴿ قَالَ يَا آدَمُ أَنبِئْهُم بِأَسْمَائِهِمْ ﴾ د لاندې ليکي : چې د حضرت آدم عليه السلام د علم په وجه چې کله الله ﷻ فرښتو ته د سجدې کولو حکم وکړو نو فرښتو هغه ادب اخيستې ، نو اوس هم چې فرښتې په يو انسان کې علم او ګوري نو دوی د هغه د وړاندې عاجزي کوي ، او خپلې وزرې ورته غوړوي ، ځکه دوی د طالب العلم ددې کار نه راضي او خوشحاله وي . (۳)

---

(۱) اخرجه البخاري فى العلم ۱۰ ، والترمذي فى القرآن ۱۰ وفى العلم ۱۹ ، ۳۵ ، وابن ماجه فى المقدمة ۱۷ ، واحمد ۲، ۲۵۲ ، ۳۲۵ ، ۴۰۷ . ابوداود (۳۶۴۱ ) ، (۳۶۴۲ ) ، وابن ماجه ( ۲۲۳ ) و ابن حبان (۸۰ ) ورواه الترمذي ( ۲۶۸۳ ) .

(۲) لَتَضَعُ اَجْنِحَتَهَا : اي تخضع وتتواضع . قرطبي ج ۱ ص ۳۳۰ .

قال الخطابي في معنى " وضعها أجنحتها " ثلاثة اقوال : احدها : انه بسط الاجنحة . الثاني : انه بمعنى التواضع تعظيمًا لطالب العلم . الثالث : أنّ المرادَ به النزول عند مجالس العلم وترک الطيران . نزهة الناظرين فى الاخبار المروية عن الانبياء والصالحين ص ۸ .

(۳) امام قرطبي رحمه الله فرمايي : وانما تفعلُ ذلک لاهلِ العلمِ خاصةً من بين سائر عيال الله . لانّ الله تعالى ألزمها ذلک في آدم فتأدّبَتْ بذلک الادب . فلمّا ظهرَ له علم في بشرٍ خضَعَتْ له و تَوَاضَعَتْ وتذلّلتْ إعظامًا لِلعلم واهله ورضى منهم بالطلب له والشغل به . قرطبي ج۱ ص ۳۳۰ آيت ۳۳ .

(c) ketabton.com: The Digital Library



وړستي امام قرطبي رحمه الله فرمايي :

هذا في الطُّلَّابِ مِنْهُمْ فَكَيْفَ بِالْأَحْبَارِ مِنْهُمْ وَالرَّبَّانِيِّيْنَ مِنْهُمْ . (۱)

دا د فرښتو وزرې غوړول او عاجزي کول خو د طالب العلم د عزت او تعظيم دپاره دي نو اوس د علماو او خداپرستو اهلِ علمو به څومره لوي شان وي ؟

حضرت صفوان بن عسّال المراديّ رضی الله عنه فرمايي چې يو ورځ زه نبي کريم صلی الله عليه وسلم ته راغلم ، دې په جُمات کې ناست وُ . او يو سُور څادر ته يې تکيه وهلې وه ، ما ورته وويل :

يَا رَسُوْلَ اللهِ ! إِنِّيْ جِئْتُ أَطْلُبُ الْعِلْمَ . اې د الله رسوله ! زه راغلی يم د علم د زده کړې د پاره .

نو نبي عليه السلام راته او فرمايل :

مَرْحَبًا بِطَالِبِ الْعِلْمِ إِنَّ طَالِبَ الْعِلْمِ لَتَحَفُّهُ الْمَلَائِكَةُ بِأَجْنِحَتِهَا ثُمَّ يَرْكَبُ بَعْضُهُمْ بَعْضًا حَتَّى يَبْلُغُوْا السَّمَاءَ الدُّنْيَا مِنْ مَحَبَّتِهِمْ لِمَا يَطْلُبُ . (۲)

د طالب العلم د پاره مبارکي ده ، بيشکه طالب العلم فرښتې په خپلو وزرو کې راګيروي ، بيا دا فرښتې دومره ډيرې راشي چې يو بل د پاسه تر آسمانه پورې اورسيږي ، دا ځکه چې دا طالب کوم شئ ( علم ) طلب کوي فرښتې د هغې سره محبت کوي .

**فائده** : سبحان الله . د علم څومره لوي مقام دی چې ددې په وجه د طالب العلم د تعظيم دپاره فرښتې خپلې وزرې غوړوي .

**تنبيه** : په مذکوره احاديثوکې هيڅ شک وشُبه نشته ،ځکه چاچې په داسې معتمدو احاديثوکې شک وشُبهه کړې هغوی ته الله ﷻ په دُنياکې هم سخته سزا ورکړې .ددې په باره کې درته يو دوه (۲) واقعې بيانوم :

(۱) قرطبي ج۱ ص ۳۳۰ آيت ۳۳ .

(۲) رواه الطبراني في المعجم الكبير ۸/ ۶۴ ، والهيثمي في المجمع ۱ / ۱۳۱ ، والهندي في الكنز ۲۸۸۲۷ ، وابن ماجه الحديث ۲۲۶ ، واحمد في مسنده ۲۴۰/۴ والبيهقي ۲۸۲/۱ والدارقطني ۱۹۷/۱ وابن حبان في صحيحه والحاكم وقال صحيح الاسناد . الترغيب والترهيب ج۱ ص ۵۲ كتاب العلم .

(c) ketabton.com: The Digital Library



## په حديث پورې د مسخره كوونكي سړي سزا

يو عالم د پيغمبر عليه السلام دا حديثِ مباركه بيانول چې نبي ﷺ فرمايي :

مَامِنْ خَارِجٍ مِّنْ بَيْتِهِ فِيْ طَلَبِ الْعِلْمِ إِلَّا وَضَعَتْ لَهُ الْمَلَائِكَةُ أَجْنِحَتَهَا رِضًا بِمَا يَصْنَعُ .(۱)

كوم كس چې د علم په طلب كې د كور نه اوځي نو دده ددې كار نه فرښتې دومره خوشحاله وي چې ده ته خپلې وزرې غوړي .

نو يو زنديق كس چې دا حديث واوريده نو هغه د ريشخَند او استهزاء په شكل وويل چې زه به نن په خپلو څپلو كې ميخونه لږوم ، او په زوره به خپې په زمكه راپريدم ، ددې دپاره چې د فرښتو وزرې ماتې شي .

كله چې ده دغسې كار وكړو او په زوره يې زمكه په خپو اووهله ، نو ناڅاپه په زمكه رااوغورځيده ، او ځاى په ځاى يې خپې شَلې (گډې) شوې ، او يو څو ورځې روستو يې په خپو باندې خوړُونكې خطرناكه بيماري اولږيده .

چاچې دا واقعه نقل كړې هغه وايي چې ما اوليده چې دغه كس د ذِلت په حالت كې په يو ځاى كې پروت وُ ، او په همدغه حالت كې مړ شو .(۲)

لهذا په دې احاديثو كې هيڅ شك و شُبه په كار نه ده .

## په حديث كې د شك كوونكي كس انجام

ابن منده اصفهاني رحمه الله چې د علمِ حديث لوي امام دى او بې شميره كتابونه يې ليكلي دي ، دې وايي چې زه يو ځل شام كې يو محدِث (د احاديثواستاذ) ته د علم حاصلولو دپاره لاړم، كله چې هغه ته ورغلم نو ما اوليده چې هغه په خپل مخ باندې يوه پَرده اچولې وه ، او احاديث يې بيانول .

ابن منده رحمه الله وايي چې كله ما دا اوليده نو زه حيران شوم چې په دې مخ يې دا پَرده ولې اچولې ده ؟ كله چې هغه د احاديثو درس ختم كړو ، او هغه ته پته اولږيده چې ابن منده راغلې

(۱) اخرجه الترمذي في العلم باب ۱۹ ، وابن ماجه في المقدمة باب ۱۷ ، وابن حبان في صحيحه والحاكم وقال صحيح الاسناد. الترغيب والترهيب ج۱ ص ۵۹ الترغيب في الرحلة في طلب العلم .

(۲) عبرت الكيز والعات ص ۱۴۱ .

(c) ketabton.com: The Digital Library



دې ، نو زه يې را اوغوښتم ، او راته وې ويل چې اې ابن منده ! تاته پته شته چې ما په دې خپل مخ باندې دا پرده ولې اچولې ده ؟

ما ورته وويل چې ماته هيڅ پته نشته . هغه راته وويل : چې يوه ورځ زه د يو مشر استاذ (شيخ الحديث) په درس کې ناست ووم ، هغه د پيغمبر عليه السلام احاديث بيانول ، کله چې هغه دې حديث ته را اورسيده چې نبي عليه السلام فرمايي :

أَمَا يَخْشَىٰ أَحَدُكُمْ إِذَا رَفَعَ رَأْسَهُ مِنْ رُكُوعٍ أَوْ سُجُودٍ قَبْلَ الْإِمَامِ أَنْ يَجْعَلَ اللهُ رَأْسَهُ رَأْسَ حِمَارٍ أَوْ يَجْعَلَ اللهُ صُوْرَتَهُ صُوْرَةَ حِمَارٍ . (۱)

کوم کس چې په تاسو کې د امام نه مخکې سَر را اوچتوي نو آيا هغه د الله ﷻ نه نه ويريږي چې الله ﷻ ده ده سَر د خره اوګرځوي ، يا د ده صورت په شان د صورت د خره اوګرځوي ؟

دې محدث وويل : چې کله ما دا حديث واوريد ، نو زما په زړه کې شک پيدا شو : چې دا څنګه کيدې شي چې د يو انسان سَر د خره اوګرځي ؟

نو چې د شپې اوده شوم ، او سَهر راپاڅيدم نو زما سَر د خره ګرځيدلې و .

د هغې نه روستو ما هيچاته خپل سَر نه دې ښکاره کړې ، اګر چې طالبانو ته احاديث بيانوم خو هر وخت مې په خپل سَر باندې پرده اچولې وي .

خو اې ابن منده ! ته راته لوي عالم معلوميږې ، زه تاته قَسَم درکوم چې تر څو پورې زه ژوندې يم ته به هيچاته دا حال نه وائې ، او چې کله زه وفات شم نو بيا خلقو ته دا ووايه چې : خبردار ! د احاديثو اوريدو په وخت په ډير ادب کينئ ، او په احاديثو کې هيڅ قسمه شک و شُبه مه کوئ (ګني الله ﷻ به ډيره سخته سزا درکړي) .

ابن منده وايي چې ما ورسره دا کلکه وعده وکړه چې ستا تر ژوند پورې به هيچاته دا حال نه وايم ، نو هغه د خپل مخ نه پرده لرې کړه ، ما اوليده چې لاندې بدن يې د انسان وُ ، او سَر يې د خره وُ . (۲)

---

(۱) اخرجه البخاري في الاذان باب ۵۳ ، ومسلم في الصلاة حديث ۱۱۵ ، ۱۱٦ ، ۱۱۹ ، وابوداود في الصلاة باب ۷۵ ، والترمذي في الجمعة باب ٥٦ ، والنسائي في الامامة باب ۳۸ ، وابن ماجه في الامامة باب ۴۱ . الترغيب والترهيب ج۱ ص ۱۹۷ الترهيب من رفع الماموم راسه قبل الامام في الركوع والسجود .

(۲) عبرت الكيز والعات ص ۱۴۰ .

(c) ketabton.com: The Digital Library



فايده: قدرمنو! تاسو واوريده چې د پيغمبر ﷺ په يو حديث کې يې شک او کړو نو الله رب العزت ورته په دُنيا کې د عبرت د پاره سزا ورکړه.

بهر حال خبره دا شروع وه چې د علم حصول دومره عظيم مقصد دې او دومره زيات فضيلت لري چې طالب العلم ته فرشتې خپلې وزرې غوړوي.

## طالب العلم ته د حج ثواب ملاويدل

نبي عليه السلام فرمايي:

مَنْ غَدَا إِلَى الْمَسْجِدِ لَا يُرِيدُ إِلَّا أَنْ يَتَعَلَّمَ خَيْرًا أَوْ يُعَلِّمَهُ كَانَ كَأَجْرِ حَاجٍّ تَامًّا حَجَّتُهُ.(۱)

څوک چې جُمات ته صرف د دې د پاره لاړ شي چې دې په جُمات کې د خير خبره (يعنې علم) زده کړي، يا يې بل ته اوښايي، نو ده ته به د يو کامل حج ثواب حاصليږي.

## د علم د زده کړې په وخت د وفات کيدونکي کس مرتبه

نبي کريم صلى الله عليه وسلم فرمايي:

مَنْ جَاءَ أَجَلُهُ وَهُوَ يَطْلُبُ الْعِلْمَ لَقِيَ اللهَ وَلَمْ يَكُنْ بَيْنَهُ وَبَيْنَ النَّبِيِّيْنَ إِلَّا دَرَجَةُ النُّبُوَّةِ.(۲).

چاته چې مرګ په داسې حالت کې راشي چې دې علم طلب کوي نو دې به الله تعالى ته په داسې حال کې مخامخ کيږي چې ده او د پيغمبرانو په مينځ کې به صرف يوه درجه فرق وي، هغه درجه د نبوت ده.

---

(۱) رواه الطبراني في المعجم الكبير ۸ / ۱۱۲ والبيهقي في المجمع ۱ / ۱۲۲، ۱۲۳ والهندي في الكنز ۲۸۸۵۹ / قال في المجمع ۱ /۱۲۳ : رواه الطبراني في الكبير ورجاله كلّه موثقون. الترغيب والترهيب ج۱ ص ۵۹ الترغيب في الرحلة في طلب العلم.

(۲) رواه الطبراني في الاوسط، والهيثمي في المجمع ۱ / ۱۲۳، والزبيدي في الاتحاف ۱ / ۱۰۰. مشكوة ص ۳٦ كتاب العلم الفصل الثالث، الترغيب والترهيب ج۱ ص ۵۳ كتاب العلم، هكذا في احياء العلوم ج۱ ص ۲۱ كتاب العلم.

په يو روايت کې داسې الفاظ دي: فَبَيْنَهُ وَبَيْنَ النَّبِيِّيْنَ دَرَجَةٌ وَاحِدَةٌ فِي الْجَنَّةِ. ده او د نبيانو په مينځ کې به صرف د يوې درجې فرق وي او هغه فرق مرتبه د نبوت ده. مشكوة كتاب العلم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په يو بل حديث کې راځي ، نبي ﷺ فرمايي :

إِذَا جَاءَ الْمَوْتُ لِطَالِبِ الْعِلْمِ وَهُوَ عَلَى هٰذِهِ الْحَالَةِ مَاتَ وَهُوَ شَهِيْدٌ .(۱)

کله چې طالب العلم ته مرګ راشي او دې د علم په طلب کې وي نو دې شهيد دې، او د ده مرګ د شهادت دې .

**نو کله چې د علم د زده کولو دومره ډير فضيلت دی نو په کار ده چې هر کس د علم د زده کولو سره مينه پيداکړي او دې کې ښه خواري او محنت وکړي .**

## د علم حاصلولو شوق

د علامه ابن تيميه رحمه الله د ژوند په حالاتو کې علماؤ ليکلي چې د وخت بادشاه د ده نه څه فتوی اوغوښته ، خو ده ورنه کړه ، نو بادشاه دې په جيل کې واچول . درې (۳) ورځې پس يو ځوان د بادشاه دربار ته راغې ، بادشاه دخپلو وزيرانو سره ناست ؤ ، دې ځوان ډير په سلګو ژړل ، چاچې به هم دده مخ ته اوکتل ، نو دده په مخ کې د علم رڼا ښکاريده ، په دربار کې چې څومره خلق ناست وو د ټولو دا خواهش و چې بادشاه دې دده تمنّی او آرزو پوره کړي ، او د بادشاه زړه هم دا غوښته چې دده مقصود دې پوره کړې شي .

نو بادشاه ورنه پوښتنه وکړه : چې اې ځوانه ! ولې دومره زيات ژاړې ؟ که تا ته څه تکليف وي چې زه يې لرې کړم ، او که ستا څه ضرورت وي چې زه يې پوره کړم .

نو دې ځوان ورته په ژړا کې وويل : چې ما يو درخواست راوړې دی ، که تاسو دا کار وکړو نو ډيره به ښه وي : هغه دا چې ته ما جيل ( محبَس ) ته اوليږه .

کله چې بادشاه دا خبره واوريده نو ډير حيران شو ، او پوښتنه يې ورنه وکړه : چې ته جيل ته ولې ځې ؟ په جيل کې خو ډير تکليفونه او سختې دي .

ده ورته وويل چې جناب ! تاسو زما استاذ ( علامه ابن تيميه رحمه الله ) په جيل کې اچولې دې ، او نن دريمه ( ۳ ) ورځ ده چې زما سبقونه قضاء شوي دي . نو که ته ما جيل ته اوليږې نو خير دی زه خو به د جيل تکليفونه برداشت کړم ، خو د خپل استاذ نه به هلته سبق وايم .

---

(۱) رواه البزار والطبراني في الاوسط ، الترغيب والترهيب ج۱ ص ۴ ٥ کتاب العلم .

(c) ketabton.com: The Digital Library



سبحان الله ! ديته د علم شوق وايي چې د جيل تکليفونو برداشت کولو ته تيار دي خو سبق قضاء کيدل نه خوښوي . (۱)

## د طالب العلم مقام

د الله ﷻ په نزد باندې د طالب العلم ډير لوي مقام دې ، ځکه کوم کس چې په دې پُرفتن دَور کې خپل ځان د علم د حصول د پاره وقف کړي نو يقينًا دغه کس ډير زيات خوش نصيبه دی ، او د الله ﷻ په نزد غوره کس دی .

الله رب العزت فرمايي :

﴿ ثُمَّ أَوْرَثْنَا الْكِتَابَ الَّذِينَ اصْطَفَيْنَا مِنْ عِبَادِنَا ... ﴾ . (۲)

ترجمه : بيا مونږ د کتاب وارثان هغه خلق جوړ کړه کوم چې مونږ په خپلو بندګانو کې غوره کړي وو .

نبي عليه السلام فرمايي :

مَنْ خَرَجَ فِيْ طَلَبِ الْعِلْمِ فَهُوَ فِيْ سَبِيْلِ اللهِ حَتّٰى يَرْجِعَ . (۳)

کوم کس چې د ( کور نه د ) علم حاصلولو د پاره اووځي ، نو ترڅو پورې چې هغه کور ته را واپس شوې نه وي تر هغې وخته پورې دې د الله ﷻ په لاره کې دې .

يعنی کوم ثواب چې يو مجاهِد ته د الله ﷻ په لار ( يعنی جهاد ) کې حاصليږي ، نو دغه ثواب د دين طالب العلم ته هم حاصليږي .

ځکه لکه څرنګ چې يو مجاهِد د اِعلاءِ کلمةُ الله او د دين د سَربُلندۍ د پاره ميدان جهاد ته را اوځي ، نو دغه رنګې طالب العلم هم د دې مقصد د پاره علم حاصلوي چې د عِلم د رڼا په وجه د

(۱) اهل دل کے تڑپادینے والے واقعات ج۱ ص ۲۶۰ ، وخطبات فقیر ج۱۰ ص ۸٦ .

(۲) سورة فاطر آيت ۳۲ .

(۳) رواه الترمذي كتاب العلم باب ۲ وقال حديث حسن ، الترغيب والترهيب ج۱ ص ٦۰ الترغيب في الرحلة في طلب العلم ، مشكوة ص ۳۳ كتاب العلم .

(c) ketabton.com: The Digital Library



عالَم نه د جهالت تیارې ختمې کړي، د الله ﷻ دین په ټوله دُنیا کې خور کړي، او خلق د شیطان د مکرو فریب نه خبر دار کړي . (۱)

نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمایي :

خَيْرُكُمْ مَنْ تَعَلَّمَ الْقُرْآنَ وَعَلَّمَهُ . (۲)

په تاسو کې بهترین هغه کس دې چې قرآن کریم زده کړي او بیا یې بل ته اوښایي .

سفیان ثوري رحمه الله فرمایي :

که چیرته نیت صفا وي نو د طالب العلم نه بهترین بل څوک نشته . (۳)

معلومه شوه چې د الله ﷻ په نزد د طالب العلم ډیر لوي مقام دی، تردې چې که دې د الله ﷻ نه څه دُعا اوغواړي نو الله ﷻ دده دُعاء هم نه رَد کوي، بلکه قبلوي یې .

## د طالب العلم د دُعا قبلیدو واقعه :

سلطان محمود غزنوي رحمه الله یو عادل بادشاه تیرشوې دې ، دده په زړه کې د یو درې (۳) خبرو معلومولو باره کې ډیر شوق ؤ :

۱ . اوله خبره دا چې زه خو د سبکتګین ځوي یم ، سبکتګین خو مخکې بادشاه نه ؤ ، بلکه یو فوجي ؤ ، بیا روستو بادشاه شو . نو آیا زه یقیني د هغه ځوي یم او که نه ؟

---

(۱) مظاهرِحق شرح مشکوة ج۱ کتاب العلم .

(۲) رواه البخاري في فضايل القرآن باب ۲۱ ، وابو داود في الوتر باب ۱۴ ، ۱۵ ، ۱۹ ، والترمذي في ثواب القرآن باب ۱۵ ، وابن ماجه في المقدمة باب ۱۶ ، ومسلم ، واحمد ۱/ ۸۵، ۹۶ ، الترغيب والترهيب ج۲ کتاب قراءة القرآن الترغيب في قراءة القرآن ....

**علمي نکته**: په دې حدیث شریف کې د زده کوونکي ( طالب ) ذکر مخکې شوې ، او د ښوونکي ( معلِم ) ذکر روستو شوې ، ددې یو څو وجوهات دي : ۱ . ظاهري ترتیب دادې چې اول یو شئ زده کولې شي او بیا روستو ښودلې شي ، نو ددې ترتیب په وجه دلته هم د متعلم تذکره مخکې شوې . ۲ . طالب تکلیفونه ډیر برداشت کوي ، ځکه استاذ ته څه نا څه تنخواه یا سهولت وي، او طالب ته خو په زده کړې یوه روپۍ هم نه ملاویږي . ۳ . متعلِم د زده کړې دپاره سفرونه کوي ، کله یو ځای ته او کله بل ځای ځي . نو طالب د سفر تکلیفونه برداشت کوي ، او استاذ خو ډیر سفرونه نه کوي . نو ځکه په حدیث کې د طالب ذکر مخکې اوشو او د معلم ذکر روستو اوشو . (خطبات فقیر ج۳۲ ص۸۳ ) .

(۳) خطبات فقیر ج۱۱ ص۱۸۸ .

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲. دويمه خبره دا چې د دين مختلفې شعبې دي په دې کې د ټولو نه بهترينه شُعبه کومه يوه ده؟ او په امت کې د ټولو نه بهترين خلق څوک دي؟

۳. دريمه خبره دا چې د ډير وخت نه ماته د نبي کريم صلي الله عليه وسلم زيارت په خُوب کې نه دې نصيبه شوې، نو که دا راته حاصل شي نو ډيره به ښه وي.

يوه ورځ دې په يوه کوڅه کې ګرځيده، نو يو طالب العلم يې اوليده چې ديو کورمخې ته څه رڼا ده، هغې ته ناست دی، او خپل کتاب ګوري. ده ورنه پوښتنه وکړه چې اې طالبه! ته په جُمات کې ولې کتاب نه ګورې؟

هغه ورته وويل چې په جُمات کې د رڼا څه انتظام نشته، او دلته د دې کور مخې ته رڼا ده نو ځکه دلته کتاب ګورم.

ده ورته وويل چې بچيه! ته لاړ شه، او د نن نه پس به زه تا له د رڼا مستقل انتظام وکړم.
طالب العلم چې دا خبره واوريده نو دُعا يې ورته وکړه چې:

يا الله! د دې کس د زړه مرادُونه او آرزو ګانې پوره کړې.

سلطان محمود غزنوي رحمه الله چې کور ته راغې او اُوده شو، نو په خوب کې يې د نبي کريم صلى الله عليه وسلم سره ملاقات او شو، پيغمبر ﷺ ورته او فرمايل:

اې د سبکتګين ځويه! تا زما د يو وارِث عزت وکړو، الله تعالى دې تا په دُنيا او آخرت کې عزت مند کړي.

سبحان الله! د دې طالب العلم د دُعاؤ په برکت د ده درې (۳) واړه مرادونه پوره شو، او درې واړه خبرې يې حَل شوې.

ځکه يو خو يې په خُوب کې د نبي کريم ﷺ سره ملاقات هم اوشو، دويم: ده د خپل نسب باره کې شک و چې زه د سبکتګين ځوي يم او که نه؟ هغه شک يې هم ختم شو، ځکه نبي ﷺ ده ته فرمايلي وو: اې د سبکتګين ځويه!

او دريمه خبره هم ورته معلومه شوه چې د دين بهترينه شُعبه تعليم او تَعلّم ده، او په مخ د زمکه بهترين خلق علماء او طلباء دي، ځکه علماء د انبياء وارثان دي. (۱)

معلومه شوه چې د دين زده کوونکو طالبانو د الله ﷻ په نزد ډير لوي مقام دی.

(۱) خطبات فقير ج۱۰ ص۸۲.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د خواجه باقي بالله رحمه الله د دين د طالبانو نه د دُعا درخواست

خواجه باقي بالله رحمه الله چې د مجدد الف ثاني رحمه الله پير او مُرشد دی، او ډير لوي بزرګ تيرشوي دی، يو ورځ دده مريد دده د وړاندې ووېل: چې زمونږه شيخ خو دومره لوي بزرګ دی چې بې شميره مريدان يې دي او ډير کرامتونه يې دي.

دې هلته چپ ولاړ ؤ، او هغه مريد يې د دې تعريف کولو نه منع نه کړو.

ددې نه منع کولو په وجه الله ﷻ په دوی دا امتحان راوست چې په ده د قبض کيفيت راغې او ټول کيفيات يې ختم شو.

(ځکه چې د يو چا مرتبه څومره اوچته وي نو که دده نه معمولي غلطي اوشي نو هم ده ته په هغې باندې تنبيه ورکولې شي. ځکه حَسَنَاتُ الْاَبْرَارِ سَيِّآتُ الْمُقَرَّبِيْنَ)

چونکه دده چپ پاتې کيدل او مريد د تعريف نه نه منع کول ظاهري خُود پَسندي معلوميږي اګر چې په حقيقت کې دده په زړه کې څه عُجب او لوي نه وه، خو الله ﷻ پرې بيا هم امتحان راوست، څو ورځې مسلسل ده الله ﷻ ته اوژړل، او دُعا يې وکړه چې يا الله! د مانه څه غلطي شوې؟ چې د هغې په وجه په ما باندې دا حالت راغلې؟

آخر دا چې په خُوب کې ورته اوخودې شو چې د دې خبرې په وجه در باندې دا حالت راغلې.

او اوس ددې حَل دا دی چې تا ته نزدې يوه مدرسه ده، په هغې کې واړه واړه طالبان دي، د قرآن کريم حفظ کوي، او په ديني زده کړه کې مشغول دي. ته ورشه، او د هغوی نه د ځان دپاره دُعا اوغواړه، نو دوباره به درته هر څه نصيبه شي.

کله چې دې سهر راپاڅيد، او مدرسې ته ورغې، نو هلته ټول استاذان او شاګردان ده ته د عزت د وجې پاڅيده چې حضرت خواجه صاحب تشريف راوړو.

دې چې هلته کيناست، نو په سترګو کې يو اُوښکې راغلې او وې ويل: تاسو ته خو زه ډير لوي بزرګ ښکارم او راته پاڅيدئ، خو زما حالت دا دی چې ما ته په خُوب کې دا حکم اوشو چې ته لاړشه او ددې طالبانو نه د ځان دپاره دُعا اوغواړه.

نو اې طالبانو! د الله ﷻ په نزد ستاسو ډير لوي مقام دی، تاسو ما ته دُعا وکړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بيا دې وړو وړو طالبانو ټولو په شريکه خواجه صاحب ته دُعا وکړه، او الله تعالى دوی ته هغه مخکيني کيفيات ټول دوباره ورکړه. (۱)

## د احاديثو په طالبانو د انواراتو راوريدل

۱. شاه ولي الله محدِّث دهلوي رحمه الله فرمايي چې يو کرت زه د حج دپاره لاړم، بيا د نبي کريم صلى الله عليه وسلم روضې مبارکې ته د سلام دپاره حاضر شوم، هلته ما اوليده چې کوم د احاديثو طالب العلم به د سلام دپاره روضې مبارکې ته راغې، نو دنبي کريم ﷺ د زړه مبارک نه به د نمرد شُعاؤ په شان رڼا ګانې راوتې او د دې طالب زړه به يې منوّر کولو. (۲)

۲. ابراهيم بن ادهم رحمه الله يو ډير لوي صوفي او بزرګ تير شوی، دې د کشَف خاوند وُ، دې قسَم کوي چې زما دې په الله قسم وي چې کله د قرآن کريم يا احاديثو زده کوونکي وړوکي طالب هم په يوه لاره روان وي، نو ما ته د کشَف په ذريعه دا معلومه شوې چې د دې ديني طالب په وجه په دې ټوله علاقه باندې رحمتونه راوريږي. (۳)

## د تقرير خلاصه

خلاصه دا چې عِلم داسې يو عظيم صفت دی چې د دې سره د چا هم او د څه شئ هم واسطه راغلې، الله تعالى هغه ته ډير لوي عزت و شرافت ورکړې او په مخلوقاتو کې يې معزز او اَفضل ګرځولې: دغه وجه ده چې په شريعت کې د علماؤ او طلباؤ ډير لوي مقام بيان شوې.

الله تبارک وتعالى دې مونږ ټولو ته هم د عِلم حاصلولو او په علم باندې د عمل کولو توفيق راپه برخه کړي، او الله تعالى دې زمونږ د ټولو په زړونو کې د اهلِ علمو او دين سره محبت پيدا کړي او ورسره دې د دين د خدمت توفيق هم رانصيبه کړي.

آمِيْن يَا رَبَّ الْعَالَمِيْن.

وَآخِرُ دَعْوَانَا أَنِ الْحَمْدُ لله رَبِّ الْعَالَمِين

وَصَلَّى اللهُ تَعَالىٰ عَلىٰ خَيْرِ خَلْقِهٖ مُحَمَّدٍ وَّآلِهٖ وَاَصْحَابِهٖ اَجْمَعِيْن

---

(۱) خطبات فقير ج۱۱ ص۲۰۷.

(۲) اهل دل کے تڑپا دینے والے واقعات ج۳ ص ۱۸۳.

(۳) بحواله ډاکټر شير علي شاه صاحب دامت برکاتهم العاليه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# فقهي مسائل

## اوله مسئله : علماؤ سره د بُغض لرونکي او دوی ته د کنځل کوونکي کس حکم :

د الله ﷻ په نزد د علماؤ ډیره لویه مرتبه او لوي مقام دې . الله رب العزت فرمايي :

﴿ قُلْ هَلْ يَسْتَوِى الَّذِيْنَ يَعْلَمُوْنَ وَالَّذِيْنَ لَا يَعْلَمُوْنَ ﴾ . (۱)

ترجمه : ته ووایه ( اې پیغمبره ! ) چې کوم خلق پوهیږي او کوم نه پوهیږي آیا دوی برابر دي ؟ ( یعنی عالم او غیر عالم برابر نه دي ) .

او نبي کریم صلی الله علیه وسلم علماء د انبیاؤ وارثان ګرځولي ، نبي ﷺ فرمايي :

اَلْعُلَمَاءُ وَرَثَةُ الْأَنْبِيَاءِ . (۲) علماء د انبیاؤ وارثان دي .

لهذا ! بغیر د څه دُنیوي سبب او جُرم نه د یو عالم اِهانت کول ، او هغه ته کنځل کول د کفر سبب دې . ملا علي قاري رحمه الله فرمايي :

مَنْ اَبْغَضَ عَالِمًا مِنْ غَيْرِ سَبَبٍ دُنْيَوِيٍّ اَوْ اُخْرَوِيٍّ فَيَكُوْنُ بُغْضُهُ لِعِلْمِ الشَّرِيْعَةِ وَلَاشَكَّ فِيْ كُفْرِ مَنْ اَنْكَرَهُ فَضْلًا عَمَّنْ اَبْغَضَهُ . (۳)

کوم کس چې د یو عالم سره بغیر د دُنیوي یا اُخروي سبب نه بُغض کوي نو دده دا بُغض په حقیقت کې د دې علمِ شریعت سره دی ، او کوم کس چې دا علمِ شریعت بَد ګڼي نو د هغه په کُفر کې هیڅ شک نشته ، او س چې ورسره بُغض کوي نو هغه خو په طریقِ اولیٰ سره کافر دی .

علامه طاهر بن عبد الرشید البخاري رحمه الله فرمايي :

مَنْ اَبْغَضَ عَالِمًا مِنْ غَيْرِ سَبَبٍ ظَاهِرٍ خِيْفَ عَلَيْهِ الْكُفْر . (۴)

---

(۱) الزمر آیت ۹ .

(۲) اخرجه ابوداود فی العلم باب ۱ وابن ماجه فی المقدمة باب ۱۹ وابن حبان ۸۰ ، ورواه الترمذي في العلم باب ۱۹ ، مشکوة ص ۳۴ کتاب العلم .

(۳) شرح فقه اکبر ص ۱۷۳ .

(۴) عالمګیري ج ۲ ص ۲۷۰ ط مکتبه فریدیه ، خلاصة الفتاوی ج ۴ ص ۳۸۸ کتاب الفاظ الکفر ، فتاوی حقانیه ج ۳ ص ۱۱۹

(c) ketabton.com: The Digital Library



كوم كس چې د يو عالم سره په غير د څه ظاهري سبب نه بُغض كوي نو دا يَره ده چې په دې سره دا سړې كُفر ته اوو ځي .

البته كه د څه دنيوي وجوهاتو په بناء باندې يو كس د عالم سره بُغض وحسد كوي يا دهغه اِهانت كوي نو دا كس گناهگار فاسق او فاجر دى . (۱)

## دويمه مسئله : ديني كتابونو ته بې اودسه د لاس وروړلو حكم

كه چيرته په يو كتاب كې قرآني آيتونه زيات وي نو بيا به دا كتاب بې اودسه نه شي راخيستې ( ځكه قرآن كريم ته بې اودسه لاس وروړل صحيح نه دي ، الله تعالى فرمايي :

﴿ لَا يَمَسُّهُ إِلَّا الْمُطَهَّرُونَ ﴾ (۲) لاس نه شي وروړلې دې قرآن ته مگر پاكان .

او نبي عليه السلام فرمايي : لَا يَمَسُّ الْقُرْآنَ إِلَّا طَاهِرٌ . (۳)

قرآن كريم ته به صرف پاک كس لاس وروړي ) .

البته كه په دې كتاب كې قرآني آيتونه كم وي او نور عبارتونه په كې زيات وي نو بيا يې بې اودسه كس هم راخيستې شي ، په شامي كې ذكر دي :

إِنْ كَانَ التَّفْسِيْرُ أَكْثَرَ لَا يَكْرَهُ ، وَإِنْ كَانَ الْقُرْآنُ أَكْثَرُ يَكْرَهُ . (۴)

كه چيرته په دې كتاب كې د قرآن كريم په نسبت تفسير زيات و نو بيا يې بې اودسه راخيستل مكروهه نه دي، او كه د قرآن كريم آيتونه په كې زيات وو نو بيا يې بې اودسه راخستل مكروهه دي .

---

(۱) فتاوى حقانيه ج۳ ص ۱۱۹ .

(۲) الواقعه آيت ۷۹ .

(۳) اعلاء السنن ج۲ ص ۲٦۸ ، تفسير معارف القرآن ج۸ ص ۲۸۷ ، فتاوى رشيديه ص ۲۲۱ .

(۴) شامي ج۱ ص ۱۷۷ ، فتاوى عثماني لمولانا محمد تقي عثماني دامت بركاتهم العالية ج۱ ص ۲۱۲ كتاب العلم والتاريخ والطب .

(c) ketabton.com: The Digital Library



بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

# د اهلِ علمو دپاره د عبرت نه ډک نور معتمَد واقعات

**نوټ** : د علماو او طلباو د پاره مې د عبرت نه ډک نور معتمَد واقعات هم ذکر کړي دي چې د هغې په اوريدو سره په انسان کې په دين باندې استقامت، تواضع، عاجزي، استغناء او اَدب پيداکيږي او د علم د حصول سره نور هم شوق پيداکيږي او ورسره په خپل عِلم باندې دعمل کولو توفيق هم نصيبه کيږي.

دا واقعات مې د پنځو (۵) غټو عنواناتو په ضمن کې ذکر کړي دي، هغه عنوانات دا دي:

**۱. د اهلِ علمو دپاره استقامت په کار دی. ۲ . د اهلِ علمو د پاره احتياط په کار دی.**
**۳ . د اهلِ علمو دپاره تواضع او عاجزي په کار ده. ۴ . د علم سره ادب په کار دی.**
**۵ . د علم سره استغناء په کار ده. اوس راځو د واقعاتو تفصيل ته.**

# د اهلِ علمو دپاره استقامت په کار دی

د اهلِ علمو دپاره په کار دي چې که په دوی باندې ددين په لاره کې څه تکليفونه يا امتحانات راشي، ياد باطل سره مقابله راشي نو دوی ته په کار دي چې د استقامت نه کار واخلي، خپل همت اونه بايلي. ځکه که مونږ د خپلو اسلافو تاريخ ته اوګورو نو دوی ددې دين د حفاظت دپاره ډير تکليفونه او سختۍ برداشت کړي، خو بيا هم د حق خبرې نه نه دي اووختي، او هميشه د پاره د باطل په مقابله کې د غره غوندې مضبوط پاتې شوي.

دنمونې دپاره درته د يو څو علماو د قربانيو تذکره کوم.

# د شيخ الهند حضرت مولانا محمود الحسن ديوبندي رحمه الله قرباني

شيخ الهند حضرت مولانا محمود الحسن ديوبندي رحمه الله د دين دپاره ډيرې قربانۍ ورکړي دي، دده د ژوند په حالاتو کې علماؤ ليکلي چې کله دې وفات شو، او چاورته غُسل ورکولو، نو هغه دده په ملا باندې د زخمونو غټې غټې نښې اوليدې، دده د خپلوانو او کوروالو نه يې ددې په باره کې پوښتنه وکړه چې دا زخمونه دده په ملا باندې د څه شي په وجه پيدا شوي وو؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو هيچاته دا معلومه نه وه ، ټول حيران وو چې څنګه ده تر آخر وخته پورې خپل کوروالې ته هم حال نه دې ويلې .

حضرت مولانا حسين احمد مدني رحمه الله چې کله د ده د وفات نه خبر شو ، نو په جنازه کې د شرکت دپاره راغې ، خلقو د ده نه پوښتنه وکړه چې د ده په مَلا باندې د زخمونو دا غټې غټې نښې د څه شئ وې ؟ نو د حضرت مدني رحمه الله په سترګو کې اوښکې راغلې او وې ويل :

چې دا خو يو پټ راز ؤ ، او حضرت زه منعه کړې وم چې زما په ژوند کې به ته هيچا ته دا نه وايې ، نو ځکه ما هم تر اوسه پورې هيچا ته نه دي ويلي اوس خو چونکه هغه وفات شوې دی لهذا زه به درته د دې زخمونو وجه بيان کړم :

کله چې زه او مولانا صاحب د مالټا په جيل (محبَس) کې وو ، نو فرنګيانو به مولانا صاحب ته دومره سختې سزاګانې ورکولې چې د هغې په وجه به يې په بدن باندې زخمونه جوړ شو ، تردې چې فرنګيانو به دې په اَنګار (سکروټو) باندې د پاسه څملول او صرف دا يوه مطالبه به يې ورنه کوله چې ته صرف دومره ووايه چې زه د فرنګيانو مخالف نه يم .

ده به ورته ويل چې زه هيڅ کله داسې نه شم ويلې . نو دوی به نوره سزا هم ده ته ورکړه .

کله به چې دې د شپې خپل ځای ته د خوب د پاره راغې ، نو د زخمونو د لاسه به نه شو اُوده کيدې ، مونږ به چې د ده دا حالت اوليده نو ډير به خفه شو . مونږ يو ورځ ورته په ژړا کې وويل چې حضرت ! امام محمد رحمه الله خو کِتَابُ الحِيَلُ ليکلې ، نو آيا تاسو سره داسې يوه حيله نشته چې تاسو پرې د سزا نه بچ شې ؟ حضرت او فرمايل چې : نه .

څو ورځې مسلسل به دا سختې سزاګانې ورکولې شوې ، آخر يوه ورځ يو فرنګي ورته وويل چې محمود ! دا په تا څه شوي ؟ ته صرف دومره ووايه چې زه د فرنګيانو مخالف نه يم ، نو مونږ به تا پريږدو . ده ورته وويل چې زه دا ځکه نه وايم چې زه د الله جل جلاله د دفتر نه خپل نوم کټ کول ، او ستاسو په دفتر کې نوم ليکل نه غواړم .

حضرت مدني رحمه الله وايي چې يو ورځ مونږ اوليده چې ده ته ډيره سخته سزا ورکړې شوې وه ، نو مونږه يو څو د ده شاګردانو (کوم چې د ده سره په جيل کې وو) ده ته په شريکه دا وويل چې حضرت ! تاسو څه حيله وکړئ او د دې سزا نه ځان بچ کړئ .

نو د حضرت شيخ الهند رحمه الله په مخ باندې د غصې آثار ښکاره شو او وې ويل :

(c) ketabton.com: The Digital Library



اې حسين احمد ! آيا تاته زه څنګه ښکارم ؟ زه خو د حضرت بلال رضي الله عنه روحاني ځوي يم ، د حضرت خبيب رضي الله عنه روحاني ځوي يم ، د حضرت سميه رضي الله عنها روحاني ځوي يم ،

زه خو د امام مالک رحمه الله روحاني ځوي يم ، دچا مخ چې تور کړې شو او په مدينه منوره کې او ګرځولې شو ،

زه دخو دامام اعظم ابوحنيفه رحمه الله روحاني ځوي يم ، د چا جنازه چې د جيل نه را اووته ،

زه خو د امام احمد بن حنبل رحمه الله روحاني ځوي يم ، چاته چې دومره ډيرې کوړې ورکړې شوې وې چې که چيرته دا کوړې يو هاتي ته ورکړې شوې وې نو هغه به هم نه وې برداشت کړې ،

زه خو د مجدد الف ثاني رحمه الله روحاني ځوي يم ، څوک چې دوه کاله د ګواليار په قلعه کې بندي شوې ؤ ،

زه خو د شاه ولي الله رحمه الله روحاني ځوي يم ، د چا لاسونه چې د مړوند سره نزدې مات کړې شو او بيکاره شو .

اې حسين احمده ! آيا زه د دې فرنګيانو د وړاندې خپل شکست اومنم ؟ هرګز نه . زما د جسم نه به روح اووځي خو د زړه نه به مې ايمان هيڅکله اونه اوځي .

الله جل جلاله دې دغه شان استقامت هر عالم ته ورکړي چې په اخلاص باندې د دين خدمت وکړي ، او دهيچا د وړاندې حق خبره پټه نه کړي . (۱)

## د حضرت مولانا غلام غوث هزاروي رحمه الله د دين دحفاظت دپاره قرباني

حضرت مولانا غلام غوث هزاروي رحمه الله د مسئله ختم نبوت د پاره بې شميره قرباني ورکړي ، او بې انتهاء تکليفونه يې برداشت کړي:

يو پيره دده يو ځوان ځوي سخت بيمار شو ( هسپتال کې يې ورله علاج کولو ) ، آخر داچې يوه ورځ ورته ډاکټرانو ووئيل : مولانا ستا ددې ځوي نور د مونږ سره هيڅ علاج نشته ، دې به صرف د مابنامه پورې ژوندې وي ، بيا به وفات کيږي نو دې کورته بوځه .

(۱) خطبات فقير ج۸ ص ۸۰ .

(c) ketabton.com: The Digital Library



ده چې خپل ځوي کورته راوست ، نو دهغه خدمت ته ولاړ ؤ ، په دې کې بهر نه چا د کور دروازه راواټکوله ، مولانا چې ورواووت ، نو بهر يو بوډا سړی ولاړ ؤ ، د سلام نه روستو ده ورته پوښتنه وکړه : بابا ! څنګه راغلې يې ؟ خير خو دی ؟

هغه ورته وويل چې خير چيرته دی ، زمونږ علاقې ته يو قادياني راغلی ، خلقو ته تقريرونه کوي ، ټول خلق يې ګمراه کړل او ته دادې په کور کې بې غمه ناست يې . مولانا صاحب چې دا خبره واوريده نو په سترګو کې يې اوښکې راغلې (چې څنګه د رسول الله صلی الله عليه وسلم ځه اُمّتيان د يو قادياني په خبرو ګمراه شو ؟ ) کورته راننوت او خپلې کوروالې ته يې وويل :

بي بي ! زما بيګ چيرته دی ؟ هغې ورله بيګ راواخيست ، ده بيګ په لاس کې راواخيست او روان شو .

بي بي چې دا اوليده نو رامنډه يې کړه او دې يې د شاطرف لمن نه ونيوه او ورته وې ويل: مولانا ! ستا د ځوان بچي د مرګ آخيري وخت دی ، ته دا په دې حالت کې چاته پريږدی او چيرته ځې؟ مولانا آسمان طرفته اوکته ، په سترګو کې يې اوښکې راغلې او راروان شو .

دې بيمار ځوي ورته آواز وکړو : پلاره ! زه خو صرف د ماښامه پورې ستاسو ميلمه يم ، ته لږ انتظار وکړه چې زما روح اووځي ، ته ما په دې حالت کې چاته پريدې ؟ او چيرته ځې ؟

مولانا ورغې او خپل ځوي يې په تندي ښکل (چَپ) کړو ، وې ژړل او ورته وې ويل :

بچيه ! زه خو د محمد رسول الله صلی الله عليه وسلم د دين د حفاظت د پاره روان يم ، نور زما او ستا ملاقات به په قيامت کې په حوضِ کوثر باندې کيږي . دايې وويل او نور روان شو .

دې ځوي يې تر آخره پورې د مولانا صاحب پسې شاته کتل .

کله چې مولانا صاحب اډې ته اورسيده او په کاډي کې کيناست ، نو څه خلقو رامنډې وهلې او ويل يې چې مولانا ! ستاسو ځوي وفات شو ، د هغه جنازې ته راشه .

مولانا صاحب په دغه وخت کې آسمان طرفته اوکته ، په ژړا شو او دې خلقو ته يې وويل چې جنازه کول فرضِ کفايه ده او د رسول الله صلی الله عليه وسلم اُمت د ګمراهۍ نه بچ کول فرضِ عين دي . نو زه څنګه فرضِ عين پريږدم او فرضِ کفايي ته لاړ شم ؟

بيا د دې ځای نه روان شو ، کله چې هلته علاقې ته وراورسيده ، نو مولانا صاحب ته الله ﷻ کاميابي ورکړه ، هغه قادياني اوتختيده او خلق د ګمراهۍ نه بچ شو .

(c) ketabton.com: The Digital Library



مولانا صاحب چې کله درې (۳) ورځې پس خپل کورته راغې، نو بي بي يې په ژړا کې ورته وويل چې کله ته روان وې نو ستا ځوي تر آخره پورې د تاپسې شاته کتل او ويل يې چې کله مې پلار راشي نو هغه ته زما سلام ووايه.

مولانا صاحب چې دا واوريده نو په سترګو کې يې اوښکې راغلې، فورًا پاڅيده، قبرته يې ورغې او دا دُعا يې وکړه:

يا الله! د ختمِ نبوت په وسيله زما دده ځوي قبر د جنت د باغيچو نه يوه باغيچه اوګرځوې.

دده دُعا کولو نه پس کورته راغې، د شپې په خُوب کې يې د خپل ځوي سره ملاقات اوشو، پوښتنه يې ورنه وکړه (چې په څه حال کې يې؟) هغه ورته وويل:

په الله قسم چې د ختمِ نبوت په وسيلې سره الله رب العزت زما قبر د جنت د باغيچو نه يوه باغيچه ګرځولې ده. (۱)

## د مولانا اشرف علي تهانوي رحمه الله استقامت

يو کرَت حضرت مولانا اشرف علي تهانوي رحمه الله داسې يوې علاقې ته لاړو چې هلته بې دينه خلق زيات وو، تهانوي صاحب د اِصلاح په غرض يوې جلسې ته تقرير کولو، د تقرير په دوران کوم بې دينه کس د کاغذ يو چيټ (پَرچه) ورکړو، چې په هغې کې درې (۳) خبرې ليکلې شوې وې: اوله دا چې ته کافر يې. دويمه دا چې ته ولدِ زنايې (يعنې د زِنا نه پيدا شوې يې). دريم دا چې خبرې په سرې توب کوه.

تهانوي رحمه الله چې دا چيټ اوکتو، نو د غونډې جلسې د وړاندې يې وويل چې دا چيټ چا راليږلې او په دې کې يې درې(۳) خبرې ليکلې دي:

اوله دا چې ته کافر يې. نو تهانوي صاحب خلقو ته وويل چې زه خو مسلمان يم، خو که دده په کې شک وي نو زه ستاسو د وړاندې بيا کلمه طيبه وايم، نو بنه په زوره يې کلمه طيبه وويله او وې ويل چې اوس خو مسلمان شوم کنه؟

دويمه خبره دې کس دا ليکلې چې ته د زِنا نه پيدا شوې يې. نو تهانوي صاحب وويل چې جناب! زما د مور او پلار نکاح خو شوې وه او هغه ګواهان خو اوس هم موجود دي، که چاته ضرورت وي نو زه به ورته آدرس ورکړم، هلته دې ورشي او د هغوی نه دې معلومات وکړي.

---

(۱) ياد ګار واقعات ص ۷۴.

(c) ketabton.com: The Digital Library



او دريمه خبره دې کس داليکلې چې ته خبرې په سرې توب کوه ، نو تهانوي صاحب ورپل چې جناب ! زه خو څه چانده نه غواړم چې گني په سړي توب خبرې وکړم ، بلکه زه خو دالله ﷻ د رضا دپاره د دين خبرې کوم او د شريعت مطابق خبرې کوم . نو په دې کې څه نقصان دی ؟

بيا تهانوي رحمه الله په غونډ وعظ کې د بې دينه خلقو د اصلاح خبرې وکړې. (۱)

لهذا د علماو د پاره داستقامت نه کار اخيستل په کار دي ، چې په دوی کې به د تحمّل او برداشت ماده وي، چې د خلقو اصلاح په ښه طريقې سره وکړې شي .

(۱) خطبات فقير ج۲۹ ص ۱۳۳ .

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د اهلِ علمو د پاره احتیاط په کار دی

د اهلِ علمو د پاره ډیر د احتیاط ژوند تیرول په کار دي ، ځکه دې خو د قوم د پاره مقتدا او راهنما وي نو که چیرته دده نه څه نازیبا حرکات او شي نو په دې سره د اهلِ علمو په سپینه جامه باندې تور داغ لږي او د دین د نقصان سبب ګرځي .

## حسن بصري رحمه الله ته د یوماشوم نصیحت

حضرت حسن بصري رحمه الله وایي چې یوه پیره ماته یو وړوکي ماشوم نصیحت کړې ؤ ، زه هغه تراوسه پورې نه شم هیرولې ، چا ورنه پوښتنه وکړه چې جناب ! څه نصیحت یې درته کړې ؤ ؟

ده ورته وویل : چې یوه ورځ زه جُمات ته د لمانځه د پاره روان ووم ، باران شوې ؤ ، په لاره کې ختې وې ، مخامخ یو ماشوم راروان ؤ ، ما ورته وویل چې بچیه ! احتیاط کوه چې او نه خوییږې هسې نه چې نقصان درته اورسي .

هغه راته وویل چې جناب ! خبره دې صحیح ده ، زه خو احتیاط کوم ، خو ته هم احتیاط کوه. ځکه که چیرته زه او خوییږم نو نقصان یې صرف ماته رسي ، او که ته او خوییږې نو نقصان یې غونډ امت ته رسي .[1]

## د امام بخاري رحمه الله احتیاط

د امام بخاري رحمه الله مشهوره واقعه ده کومه چې علامه عجلوني رحمه الله رانقل کړې ، چې یو کرت ده په کشتۍ کې سفر کولو ، دده سره د روپو یوه تیلۍ وه چې په هغې کې شپږ زره (۶۰۰۰) دیناره وو ، (ده د جیب نه دا تیلۍ د څه مقصد د پاره راویستې وه) نو یو غَل دده سره دا تیلۍ اولیده او د تیلۍ رنګ یې هم معلوم کړو ، کشتۍ چې څه اندازه مخکې لاړه نو دې غل په کشتۍ کې سخت شور جوړ کړو ، چې د ما سره یوه تیلۍ وه ، دغه رنګ یې دی ، په هغې کې ډیر شی دیناره وو ، هغه رانه چا پټه کړه .

د کشتۍ واله خلقو ورته وویل چې شور مه کوه ، د ټولو تالاشي واخله ، معلومه به شي چې هغه د چا سره ده .

---

(۱) خطبات فقیر ج۸ ص ۱۱۶ .

(c) ketabton.com: The Digital Library



کله چې غَل تالاشي شروع کړه ، د نورو ټولو تالاشي يې اول وکړه او په آخر کې يې د امام بخاري رحمه الله تالاشي هم وکړه ،خو تيلۍ يې د هيچا سره پيدا نه کړه .

کله چې کشتۍ غاړې ته اورسيده ، امام بخاري رحمه الله ورنه کوز شو او آخوا علاقې طرف ته روان شو ، نو دا غل هم شاته ورپسې روان شو ، په لاره کې يې اول خو ورنه معافي اوغوښته، بيا يې ورته وويل چې جناب ! د تاسره خو هغه تيلۍ وه نو تا هغه څه کړه ؟ ما خو د تاسره پيدا نه کړه .

امام بخاري رحمه الله ورته وويل چې کله تا اعلان وکړو چې د مانه چا تيلۍ پټه کړې او دا رنګ يې دی ، نو زه پوهه شوم چې ته خو زما هغه تيلۍ يادوې او هغې ته دې چَل جوړ کړې ، ما د ځان سره سوچ وکړو چې که چيرته دې د ماسره دا تيلۍ بيامو ځي نو بيا به خلق په ما باندې د غَل ګمان کوي ، د نبي کريم صلی الله عليه وسلم په احاديثو باندې به داغ اولږي او بيا به د مانه هيڅوک احاديث نه زده کوي .

زه چونکه د کشتۍ په غاړه ناست ووم ، نو ما هغه تيلۍ درياب ته اوغورځوله ، چې خير دی که دا شپږ زره (۶۰۰۰) ديناره ضايع شي هيڅ پرواه نه کوي خو چې په ما باندې د غَل تهمت اونه لږي او د نبي کريم صلی الله عليه وسلم په احاديثو باندې داغ اونه لږي .

غَل چې دا خبرې واوريدې نو ډير حيران شو (او ځان سره يې سوچ وکړو چې دې کس د رسول الله ﷺ د احاديثو سره دومره مينه د ه چې خپل دينار يې ضايع کړه خو خپل ځان يې د غلا د تهمت نه محفوظ کړو ) . [1]

(۱) امداد الباري ج۱ ص ۴۶۱ ، تحفة المدارس ج ۱ ص ۴۱۲ ، اهل دل کے تڑپا دینے والے واقعات ج۳ ص ۱۷۳ .

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د اهلِ علمو دپاره تواضع او عاجزي په کار ده

د اهلِ علمو د پاره تواضع او عاجزي هم ډيره ضروري ده ځکه چې په چاکې تواضع او عاجزي پيدا شي نو الله رب العزت ده ته ډير لوي مقام ورکوي ، نبي کريم ﷺ فرمايي :

مَنْ تَوَاضَعَ لِلّٰهِ رَفَعَهُ اللّٰهُ .(۱)

چاچې د الله ﷻ د پاره تواضع وکړه الله تعالى به هغه اوچت کړي .

(تواضع ديته وايي چې انسان ته خپل ځان وړوکې (کمزورې) معلوميږي او بل ورته د ځان نه بهتر معلوميږي ، يعنې بل مسلمان ته سپک نه ګتل) .

## د مولانا اشرف علي تهانوي رحمه الله تواضع

حضرت مولانا اشرف علي تهانوي رحمه الله چه کوم کال د دارالعلوم ديوبند نه فارغيده ، نو د دارالعلوم ديوبند انتظاميې واله د دوره حديث طالبانو ته د دستاربندۍ دپاره د يوې جلسې جوړولو اراده وکړه .

تهانوي صاحب چې خبر شو ، نو دې او څه نور ملګري خپل استاذ شيخ الهند رحمه الله ته راغله ، هغه ورنه پوښتنه وکړه : اشرف علي ! څنګه راغلي يئ ؟ ده ورته وويل چې حضرت ! مونږ خبرشوي يو چې د مدرسې واله زمونږ د دستاربندۍ دپاره د جلسې پروګرام جوړولو اراده لري ، نو که چيرته زمونږ غوندې د نالائقه طالبانو دستاربندي اوشي نو هسې نه چې د دارالعلوم ديوبند بدنامي اوشي .

لهذا تاسو دوی منعه کړئ چې دا پروګرام اونه کړي . کله چې شيخ الهند رحمه الله دا خبره واوريده نو په جَلال کې راغې او وې ويل :

اشرف علي ! تاسو خو اوس د خپلو استاذانو د وړاندې يئ نو ځکه تاسو ته خپل ځان نه معلوميږي ، خو چې کله مونږ نه يو ، نو بيا به صرف همدا تاسو يئ .

واقعي چې بيا داسې يو وخت راغې چې الله رب العزت مولانا اشرف علي تهانوي رحمه الله او دده ملګري د ځلانده ستورو په شان په دُنيا روښانه کړه ، او لوي مقام يې ورته ورکړو .(۲)

---

(۱) الترغيب والترهيب ج۳ ص۳۵۱ الترغيب في التواضع ، والترهيب من الكبر ....

(۲) اشرف السوانح ص ۳۱ ، خطبات فقير ج۱٦ ص ۱۵۲ . اهل دل کے تڑپا دينے والے واقعات ج۴ ص ۲۰٦ .

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د مولانا رشيد احمد ګنګوهي رحمه الله تواضع

يو کرت حضرت مولانا رشيد احمد ګنګوهي رحمه الله طالبانو ته د حديث درس ورکولو، په دې کې ناڅاپه باران شروع شو، طالبانو خپل خپل کتابونه راواخيستل، او کمرو ته يې منډې کړې، مولانا رشيد احمد ګنګوهي رحمه الله خپل دَسمال (رومال) خور کړو، او په هغې کې يې د طالبانو څپلۍ واچولې، دسمال يې راغونډ کړو او په خپل سَر باندې يې کيښود، او کمرو طرفته راغې (ددې دپاره چې د طالبانو څپلۍ په اُوبو لمدې نه شي).

طالبانو چې کله اوليده، چې حضرت ټولې څپلۍ په سَر رااينيي، نو په جلتۍ سره راغله او ورته وې ويل: حضرت! دا بې ادبي ده، مونږ به يې په خپله راوړو، ده ورته وويل:

بچو! تاسو خو ټوله ورځ په قَالَ اللهُ او قَالَ الرَّسُوْل کې لګيا يئ، نو زه رشيد احمد چې ستاسو څپلۍ رانه وړم نو نور به زه څه اوکړم؟ (۱)

## د بايزيد بسطامي رحمه الله تواضع

حضرت بايزيد بسطامي رحمه الله ته چې الله ﷻ دومره لوي مقام ورکړې وُ، نو دا ځکه چې دې خپله واقعه بيانوي چې يو پيره ددې ښار خلقو وويل: ډير وخت شوې چې باران نه دې شوې، داسې معلوميږي چې په دې ښار کې څوک ګناهګار کس دی د هغه د ګناهونو په وجه الله ﷻ د رحمت باران بَند کړې دی (نو په کار ده چې دغه ګناهګار ددې ښار نه اووځي). دې وايي چې ما کله دا خبرې واوريدې نو ما په زړه کې سوچ وکړو چې اې بايزيده! اوس تاته په دې ښار کې د اوسيدو حق نشته، ځکه دغه ګناهګار خو همدا ته يې، چې ستا په وجه الله ﷻ په نورو خلقو باران نيولې.

نو ما خپل ځان د نورو په نسبت کمزورې او ګناهګار اوګڼل، او د ښار نه اووتم، ددې عاجزۍ په وجه الله ﷻ راله دا دومره لوي مقام راکړې.

(۱) اکابر ديوبند کيا تھے؟ ص ۸۹، طلباء کے لئے مثالي تحفه ص ۲۹۸ اهل دل کے تڑپا دينے والے واقعات ج۲ ص ۲۲۸.

(c) ketabton.com: The Digital Library



(مَنْ تَوَاضَعَ لِلّٰهِ رَفَعَهُ اللّٰهُ .(۱)

چاچې د الله ﷻ د پاره تواضع وکړه نو الله ﷻ به هغه اوچت کړي ) .

## د حاجي امداد الله مهاجر مکي رحمه الله تواضع .

حضرت مولانا حاجي امدادالله مهاجر مکي رحمه الله ته يو کس راغې او ورته وې ويل چې فلانکي بزرګ چې چاته بيعت ورکوي نو اول استخاره کوي ،بيايې خپل مريد جوړوي او تاسو هر کس ته وظائف ورکوئ او هر کس خپل مريد جوړوئ ، دا ولې ؟

ده ورته وويل چې زه هر کس ته بيعت ددې د وجې ورکوم چې که چيرته صبا د قيامت په ورځ زما مريدان ما اوګوري ، چې زه جهنم طرفته روان يم ، نو کيدې شي په دې مريدانو کې داسې کس وي چې هغه الله ﷻ ته زما شفاعت اوکړي او د هغه د شفاعت په وجه جنت ته لاړ شم . (نو ځکه هر کس ته وظايف ورکوم ) .

## دامام اعظم ابوحنيفه رحمه الله تواضع

د امام اعظم ابو حنيفه رحمه الله په وخت کې دوه علماء وو ، ديو نوم زرعه قاص ؤ ، او دبل نوم عمربن زر ؤ ، دوی چونکه مشران علماء وو ، ددې وجې نه دامام اعظم ابوحنيفه رحمه الله بودۍ مور ته به چې څه مسئله پيښه شوه نو دې به چې ددې دوه مشرانو علماو نه پوښتنه وکړه نو بيا به يې زړه مطمئن شو .

دې به امام صاحب ته وويل چې ما فلانکي عالم ته بوځه چې زه ورنه د مسئلې پوښتنه وکړم ، نو امام صاحب به دا په اُوښ سوره کړه ، او په خپله به يې دأوښ مهار اونيوه . او پيادل به ورسره روان ؤ ، خلقو به چې دا اوليده نو حيران به شو چې دا په اُوښ څوک دی چې امام صاحب پياده ورسره روان دې ؟ چونکه په دغه ورځو کې امام صاحب درس ورکولو ، نو په زرها و شاګردان يې وو ، هغوی به په لاره کې ورته ادبًا ولاړ وو او امام صاحب به په خاموشۍ سره تيريده .

کله به چې امام صاحب د هغه عالم کورته اورسيده ، دروازه به يې ورته اوټکوله ، هغه به راووت ، ده به ورته وويل چې زما بودۍ مور راغلې ده او د تاسو نه ديوې مسئلې پوښتنه کوي ،

(۱) الترغيب والترهيب ج۳ ص۳۵۱ الترغيب في التواضع ، والترهيب من الکبر ....

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډير کرت به داسې اوشو چې دې مور به يې ورنه د مسئلې پوښتنه وکړه ،هغوی ته به د دې مسئلې جواب نه و معلوم ، نو دوی به د امام صاحب نه پوښتنه وکړه ، امام صاحب به په قلاره ورته جواب وکړو (چې دده مور يې وانه وري) ، دې علماو به بيا په زوره باندې دده مورته جواب ورکړو ، کله به چې دې دا جواب ددوی د خُولې نه واوريده نو زړه به يې مطمئن شو .

په امام صاحب کې دومره تواضع او عاجزي وه چې ټول عُمر يې د مور سره د اتکليف برداشت کول ، خو هيڅ کله يې مورته دا نه دي ويلي چې : موريې ! ته چې کومو علماو ته د مسئلې معلومولو د پاره ورځې هغوی خو د مانه ددې پوښتنه کوي . دا هغه تواضع ، عاجزي او ادب ؤ چې ددې به وجه دده نه امام اعظم (لوي امام) جوړ شوې ؤ ، [1]

(۱) القصاص المذكرين ۱ / ۳۱۰ ، تحذير الخواص ۱ / ۲۳۱ ، تاريخ بغداد ۱۳ / ۳۶۶ ، الاسرار المرفوعة ۱ / ۷۱ ، الطبقات السنية في تراجم الحنفية ۱ / ۳٦ ، اهل دل كے تڑپا دينے والے واقعات ج۲ ص ۲۰۲ .

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د علم سره اَدب په کار دی

د اهلِ علمو دپاره ضروري ده چې په دوی کې به ادب وي ، ځکه چې په کوم سړي کې ادب نه وي هغه ته خو اول د سره علم نه نصيبه کيږي او که بيا څه زده کړي نو د هغې نه کَمَاحَقَّهُ فائده نشي حاصلولې ، او نه دده په علم کې برکت وي ، بل دا چې اَلدِّيْنُ كُلُّهُ اَدَبٌ دين خو ټول ادب ادب دی .

حضرت جابر رضي الله عنه فرمايي چې نبي كريم صلى الله عليه وسلم د اُحد شهيدانو لره دوه دوه کسان په يو يو قبر کې دفن کول ، نبي عليه السلام به د صحابه کرامو نه پوښتنه وکړه : أَيُّهُمَا أَكْثَرُ أَخْذًا لِلْقُرْآنِ ؟ په دې دواړو کې چاته قرآن كريم ډير ياد دی ؟

نو چې چا طرفته به اشاره اوشوه (چې ده ته قرآن كريم ډير ياد دی ) نو هغه به يې په لحد کې مخکې دفن کولو . (١)

ددې حديث نه هم معلومه شوه چې نبي كريم صلى الله عليه وسلم هم د اهلِ علمو د تعظيم لحاظ ساتلې دی .

دغه وجه ده چې په شريعت کې د ادب ډير لوي مقام دی ، زمونږ اسلافو ته چې الله ﷻ په علمي ميدان کې دومره غټ مهارت ورکړې ؤ د هغې غټه وجه ادب هم ؤ .

## د علامه انورشاه كشميري رحمه الله ادب

حضرت مولانا مفتي كفايت الله رحمه الله يو پيره طالبانو ته درس ورکولو ، نو د طالبانو نه يې پوښتنه وکړه : چې دا راته ووايئ چې د مولانا انورشاه كشميري رحمه الله نه علامه كشميري څنګه جوړ شو ؟ (يعنى دومره لوي علّامه او عالم ورنه څنګه جوړ شو ؟ )

د کومو طالبانو چې د تفسير سره شوق و هغوی وويل : جناب ! هغه غټ مفسِرؤ نو ددې د وجې ورته علامه ويلې شي ، د چا چې د احاديثو سره شوق ؤ هغوی وويل چې هغه ډير غټ

(١) عن جابر رضي الله عنه انّ النبي صلى الله عليه وسلم كان يَجمعُ بين الرّجلَين من قَتلَى أُحُدٍ (يعنى في قبر واحد) ثُمَّ يقول : أَيُّهُمَا أَكْثَرُ أَخْذًا لِلْقُرْآنِ ؟ فَإِذَا أُشِيْرَ إِلى أَحِدِهِمَا قَدَّمَهُ فِي اللَّحْدِ. اخرجه البخاري في الجنائز باب ٧٣ ، ٧٦ ، ٧٩ ، والمغازي باب ٢٦ ، الترغيب والترهيب ج١ كتاب العلم ، الترغيب في اكرام العلماء واجلالهم وتوقيرهم .....

(c) ketabton.com: The Digital Library



محدث ؤ ، د چاچې شاعرۍ سره شوق ؤ هغوی وویل چې هغه ښه شاعر ؤ ځکه په عربۍ کې یې هم اشعار شته .

په آخر کې مفتي کفایت الله رحمه الله وویل چې یو ځل ما پوښتنه د انورشاه کشمیري رحمه الله نه په خپله وکړه چې جناب ! تاسو نه دا دومره لوی علّامه څنګه جوړ شو ؟ ده ورته وویل: چې دا ټول هر څه دادب په وجه دي . ځکه ما به داستاذانو ډیر زیات ادب کولو ، او همدارنګې د کتاب مې هم ډیر ادب کولو ، چې په ځان پوهه شوې یم چیرته مې هم کتاب بې اودسه نه دې راخیستې ، د بخاري شریف مطالعه چې به مې کوله او حاشیه به مې کتل غوښتل نو کتاب به مې خان ته نه راتاوول ، بلکه زه به د حاشیې کتلو دپاره تاویدم ، چیرته مې دقرآن کریم د پاسه داحادیثو کتاب نه دې ایخې او د احادیثو دپاسه مې دفقهې کتاب نه دې ایخې او دفقهې دپاسه مې د تاریخ کتاب نه دې ایخې .

نو چې کله دومره ادب سړي کې وي نو خامخا زړه یې منوّر کرځي او د الله ﷻ په نزد مقبول کرځي .

## د شیخ الاسلام مولانا حسین احمد مدني رحمه الله ادب

د شیخ الاسلام مولانا حسین احمد مدني رحمه الله په حالاتو کې ذکر دي چې کله دې د خپل استاذ شیخ الهند مولانا محمود الحسن رحمه الله سره د مالټا په جیل کې قید ؤ ، سخته یخني وه ، شیخ الهند رحمه الله به چې کله شپې د تهجدو دپاره راپاڅیده نو اُوبه به سختې یخې وې .

نو مولانا حسین احمد مدني رحمه الله یو تدبیر وکړو چې د اُوده کیدو په وخت به یې په یو لوخي کې اُوبه راوړې او د سجدې په حالت کې به څملاست ، دا لوخې به یې د خپلې خیټې او دواړو څنګلو په مینځ کې کیښوده ، د تهجدو تر وخت پورې به اُوبه څه اندازه لږې کرمې شوې وې ( ځکه لوخې به د هر طرف نه بند ؤ ، د خیټې او لاسونو د ګرمائش په وجه به اُوبه لږې ترمې شوې وې ) ، نو ده به دا اُوبه دتهجدو په وخت خپل استاذ ته وروړې ، هغه به پرې اودس وکړو .

یوه شپه حضرت مدني رحمه الله بیمار ؤ ، او ستړې ؤ ، اُوبه یې راوړې ، خو خُوب ورباندې غلبه وکړه ، اُوده شو ، اُوبه یې دخیټې او لاسونو مینځ کې نه وې ایښې .

(c) ketabton.com: The Digital Library



د تهجدو په وخت چې شيخ الهند صاحب راپاڅيد او په دې اُوبو يې اودس وکړو نو سختې يخې وې، د حضرت مدني رحمه الله نه يې پوښتنه وکړه : دا اُوبه دې د هماغه ځای نه راوړې وې د کوم ځای نه به چې دې مخکې راوړې ؟

ده ورته وويل جناب ! نن د ما نه څه اندازه غفلت شوې ؤ ځکه اُوبه ګرمې نه دي .

نو شيخ الهند رحمه الله ته پته اولګېده چې ده تر اوسه پورې دومره تکليف برداشت کولو چې ټوله شپه به د سجدې په حالت کې پروت و چې دا اُوبه ګرمې شي او بيا به يې ماته راوړې .(نو ډير خوشحاله شو او دُعا يې ورته وکړه ) . (۱)

## د شيخ الهند مولانا محمود الحسن ديوبندي رحمه الله ادب

شيخ الهند مولانا محمود الحسن ديوبندي رحمه الله له چې الله ﷻ دومره لوي علم او کمال ورکړې ؤ نو داهم د خپل استاذ د اَدب او عزت په وجه ؤ .

د دارالعلوم ديوبند باني او مهتمم مولانامحمد قاسم نانوتوي رحمه الله يوه شپه د خپلو شاګردانو (مولانا محمود الحسن ديوبندي ، مولانا فخر الحسن ګنګوهي او مولانا احمد حسن امرد هوي رحمهم الله ) سره د ديوبند په مدرسه کې ناست ؤ .

حضرت نانوتوي رحمه الله خبرې کولې ، د خبرو په دوران کې يې د خپل يو مريض ذکر وکړو چې پته نه لري هغه مريض به څنګه شوې وي ؟

دا مريض په نانوته کلي کې پروت ؤ ( نانوته کلې د ديوبند نه ډير لرې ؤ ، او لاره هم ټوله په ځنګل کې تللې وه ، او سخته تياره هم وه ) .

حضرت نانوتوي رحمه الله چې دا خبره وکړه ، مجلس ختم شو او ټول خواره شو ، نو د شيخ الهند مولانا محمود الحسن رحمه الله عُمر په دغه وخت کې کم ؤ ، دې د ډيرې مالدارې کورنۍ ؤ ، ډيرو نعمتونو کې پالل شوې ؤ ، خو دده په زړه کې د خپل استاذ دومره قدر ؤ چې د شپې پټ نانوته کلي ته پياده روان شو ، د يخنۍ موسم و ، سخته تياره وه ، لاره هم ټوله په ځنګل کې تللې وه ، د مارانو لړمانو او نورو ضررې شيانو خطره هم وه ، خو چونکه دده په زړه کې د خپل استاذ ډير قدر ؤ ، نو دې په همدغه شپه کې نانوتې ته لاړ ، هلته يې د مريض حال معلوم کړو او بيا په همدې شپه کې واپس ديوبند ته راغې ، د سهر آذان سره ديوبند ته رااورسيده .

---

(۱) اهل دل کے تڑپا دینے والے واقعات ج۳ ص ۱۹۴ .

کله چې د سهر مانځه ته مولانا نانوتوي رحمه الله راغې نو ده ورته د هغه مريض حال ووېل. استاذ يې ډير خوشحاله شو او ډيرې دُعاګانې يې ورته وکړې. (۱)

## د استاذ ادب داسې په کار دی

هارون رشيد بادشاه خپل ځوی د تربيت د پاره حضرت اصمعي رحمه الله ته اوليږل، څه وخت پس هارون رشيد بادشاه د ځوي ليدلو ته راغې، نو وې کته چې حضرت اصمعي رحمه الله اودس کوي، خپې وينځي او دا شهزاده ورته اُوبه اچوي.

هارون رشيد حضرت اصمعي رحمه الله ته ووېل: جناب! ما خو دا خپل بچې د تربيت د پاره راليږلې ؤ نو که چيرته تاسو ده ته تربيت او ادب خودې نو څومره به ښه وه. هغه ورته ووېل چې داخو دادې ماته اُوبه را اچوي، دا ادب کافي دی.

هارون رشيد ورته ووېل چې جناب! که چيرته تاسو ده ته دا حکم کړې وې چې په يو لاس دې درته اُوبه اچوي او په بل لاس دې ستاسو خپه وينځي نو دا به ډيره ښه وه، (ځکه دا به پوره ادب ؤ). (۲)

## د استاذ خپلې په سر اېښودل

دکوم استاذ نه چې سړې علم حاصلوي نو په کار ده چې دې د هغه ډير قدر او عزت وکړي، د هغه نه دُعاګانې واخلي او د هغه وجود د خپل ځان د پاره يو لوي نعمت اوګڼي.

شيخ الهند حضرت مولانا محمود الحسن ديوبندي رحمه الله د "تحريک ريشمي رومال" په وخت حرمينو شريفينو ته د تللو اراده وکړه، دې ورځو کې دده په ځای باندې په دارالعلوم ديوبند کې بخاري شريف علامه انورشاه کشميري رحمه الله دَرس کوله.

يوه ورځ شيخ الهند صاحب ديوبند ته راغې، په کټ کې کيناست او په ګرمۍ کې يې د يو کتاب مطالعه کوله.

انورشاه کشميري رحمه الله په دَرس کې مشغول ؤ، هغه چې دې اوليده، نو طالبانو ته يې ووېل: تاسو لږ انتظار وکړئ، زه راځم، نو دې راغې او د شيخ الهند رحمه الله دوړاندې کيناست او وې ويل:

---

(۱) دعوات حق لمولانا عبدالحق رحمه الله ج۱ ص ۶۰۵.

(۲) تعليم المتعلم ص ۲۴، آداب المتعلمين ۳۹.

(c) ketabton.com: The Digital Library



جناب ! چې کله تاسو دلته وئ نو مونږ ته به چې څه ضرورت او مشکل رامخې ته شو نو تاسو ته به راغلو ، ستاسو د علم او دُعاؤ نه به مستفید شو ، اوس چې تاسو د دې ځای نه دهجرت اراده لرئ ، نو زمونږ د سَر هغه سورې خو به ورک شي ، مونږ به بیا چاته رجوع کوو؟

انورشاه کشمیري رحمه الله دا الفاظ وویل او په ژړا شو ، ډیر زیات یې اوژړل . شیخ الهند رحمه الله ورته تسلّي ورکړه او ورته وې ویل :

انورشاه ! چې کله دلته زه ووم نو تاسو او نورو خلقو به ماته رجوع کوله ، اوس چې زه نه یم نو بیا به خلق د علم د حصول او دُعاګانو دپاره تاسو ته رجوع کوي ، شیخ الهند رحمه الله ورته نورې ډیرې د تسلی خبرې هم وکړې .

کله چې شاه صاحب لاړ ، نو شیخ الهند رحمه الله د ځان سره سوچ وکړو چې دوی سره خو دخپل استاذ د دُعاؤ ډیر لوې قدر دی ، او زه نن د لوې کار دپاره ځم ، خو زما په سَر باندې په دې وخت کې د اُستاذ د دُعاؤ سورې نشته ( ځکه په دې وخت کې دده ټول استاذان وفات شوي وو )

دا سوچ یې کولو نو خپل استاذ حضرت مولانا نانوتوي رحمه الله ورته رایاد شو ( کوم چې مخکې وفات شوې ؤ ) په سترګو کې یې اُوښکې راغلې ، راپاڅید او نیغ د نانوتوي رحمه الله کور ته راغې ، دروازه یې اووهله او آوازیې وکړو : اَمّا جي ! زه محمود الحسن یم ، که چیرته په کور کې د حضرت نانوتوي رحمه الله څپلی وي نو مهرباني وکړئ او ماته یې راولیږئ .

نو د کور نه یې ورته د نانوتوي رحمه الله څپلی رااولیږلې . شیخ الهند رحمه الله د استاذ څپلی په خپل سَر کیښودې او دا دُعا یې وکړه :

اې الله ! اوس په دې وخت کې خو زما سَر باندې د یو استاذ سورې هم نشته ( ټول وفات شوي ) خو اې الله ! ما د خپل استاذ څپلی په سَر باندې ایښې ، د دې نسبت په وجه زما حفاظت وکړې او ما په خپل مقصد کې کامیاب کړې . دا دُعا یې وکړه او واپس راروان شو .[1]

## د مولانا اشرف علي تهانوي رحمه الله ادب

مفتي اعظم پاکستان حضرت مولانا مفتي محمد شفیع رحمه الله وایي چې مولانا اشرف علي تهانوي رحمه الله څو څو پیرې دا خبره کړې چې ما خو د علم د حصول په وخت نه څه ډیر محنت کړې او نه مې د خارجي کتابونو مطالعه ډیره کړې ، خو بیا هم چې الله ﷻ راته د دې دین

(۱) خطبات فقیر ج۸ ص ۱۰٦ .

(c) ketabton.com: The Digital Library



د خدمت توفيق راکړي ، نو دا صرف د خپلو استاذانو د دُعاؤ او خدمت برکت دی چې تر آخره پوري مې يو استاذ هم د خپل ځان نه د لږ وخت دپاره هم نه دی خفه کړي .

او حضرت تهانوي رحمه الله به اکثر د يو شاعر دا شعر ويل :

نه کتابون سے ،نه کالج سے ، نه زَر سے پيدا

علم هوتا ہے بزرگوں کي نظر سے پيدا . (۱)

## هر استاذ ته د قدر په نظر کتل په کار دي

د مدرسه مظاهر العلوم صدرِ مدرِس شاه عبدالرحمن محدث پاني پتي رحمه الله په باره کي راځي چې کله دې د طالب علمۍ په زمانه کې د پاني پت نه سهارنپور ته تللو نو د ټولو استاذانو نه يې رخصت راواخيستو ، خو صرف د يو استاذ نه يې رخصت را وانه خيستو د کوم نه چې ده ابتدايي واړه کتابونه ويلي وو .

کله چې دې سهارنپور ته لاړ او کتابونه يې شروع کړه ، نو سبقونه يې نه يادېده ، څو ورځې مسلسل دغه شان تيرې شوې . آخر يې ذهن ته خبره راغله ، چې کله زه د پاني پت نه راتلم ، نو د هغه يو استاذ نه مې رخصت نهٔ اخيستې ، کيدې شي دا د سبق نه يادېدل د هغې اثر وي .

نو هغه استاذ ته يې يو خط اوليکه او په هغې کې يې معذرت اوغوښتو .

استاذ ته چې خط اورسيده ، نو هغه ورته په جواب کې رااوليکل چې کله ته د دې ځای نه تللې نو د نورو استاذانو نه دې رخصت واخيستو او د مانه دې وانه خيستو ( نو زما زړه ته خفګان راغې ) اوس چې تاسو معذرت بيان کړو نو زه هم درته د زړه نه دُعا کوم .

کله چې ده ته دا خط اورسيده ، نو د رسيدو سره ذهني سکون ورته ملاؤ شو او سبق به يې هم بيا ښه يادېده . (۲)

معلومه شوه چې يو کس که د يو استاذ نه وړوکې کتاب هم ويلي وي خو بيا هم د هغه قدر او اَدب کول په کار دي او هغه ته سپَک کتل نه دي په کار .

---

(۱) اساتذه کرام کے آداب وحقوق ص ۵۴ ، تحفة المدارس ج۱ ص ۳۳۷ .

(۲) آداب المتعلمين ص ۳۱ .

(c) ketabton.com: The Digital Library



الله رب العزت فرمايي :

﴿ إِنَّمَا الْمُؤْمِنُونَ الَّذِينَ آمَنُوا بِاللَّهِ وَرَسُولِهِ وَإِذَا كَانُوا مَعَهُ عَلَى أَمْرٍ جَامِعٍ لَمْ يَذْهَبُوا حَتَّى يَسْتَأْذِنُوهُ ﴾. (۱)

ترجمه : بيشكه مومنان هغه خلق دي چې په الله ﷻ او د ده په رسول يې ايمان راوړو ، او هر کله چې دوی د پيغمبر عليه السلام سره په يو اجتماعي کار راټول شوي وي ، نو د وی تر هغه وخته پورې نه ځي ترڅو يې چې د پيغمبر ﷺ نه اجازت نه وي اخيستې .

د دې آيت نه بعضې علماؤ دا خبره هم معلومه کړې چې د استاذ د خدمت نه به هم بغير د هغه د اجازت نه نه ځي ، البته که هغه اجازت وکړي نو بيا خير دې تللې شي (که دا اجازت صراحتًا وي او که دلالةً ) (۲)

## امام مالك رحمه الله او د احاديثو ادب

امام مالک رحمه الله يو پيره د احاديثو دَرس کولو ، نو د درس په دوران کې يې د مخ رنګ څو پيرې بدل ( سُور ) شو ، د درس نه روستو يو شاګرد ورنه پوښتنه وکړه چې جناب ! د دَرس په دوران کې به ستاسو په رنګ کې تغير راتلو د دې څه وجه وه ؟ هغه ورته ووېل چې د دَرس په دوران کې زه لړم يوولس (۱۱) پيرې اوچيچلم ، خو د احاديثو د اَدب په وجه پانه ځيدم .

تاسو اوګورئ چې هغه لړم څه شو ؟ او مړيې کړئ ، هغوی چې تلاش وکړو نو غټ لړم يې پيدا کړو او مړيې کړو . (۳)

## د احاديثو د ادب په وجه مقبوليت

امام بخاري رحمه الله فرمايي چې ما دا کتاب ( صحيح البخاري ) د شپږ لکه (۶۰۰۰۰۰ ) احاديثو نه منتخب کړې او په دې کې مې اووه زره دوه سوه او پنځه اويا (۷۲۷۵) احاديث

---

(۱) النور آيت ۶۲ .

(۲) اصلاح القلاب ص ۲۷۷ ، اساتذه کرام کے آداب وحقوق ص ۲۹ .

(۳) حضرت تهانوي رحمه الله کے پسنديده واقعات ص ۷۲ .

(c) ketabton.com: The Digital Library



راجمع کړي . د هرحديث ليکلو په وخت مې تازه غسل کړې او دوه رکعته لمونځ مې کړې .(۱)

دا خو ددې احاديثو دادب برکت دی چې الله ﷻ ده ته او دده کتاب ته داسې مقبوليت ورکړو چې د قرآن کريم نه وروستو په دويمه مرتبه کې ددې کتاب مقام دی .

## د بې ادبۍ په وجه انسان دعلمي فيض نه محرومه کيږي

حضرت مولانا قاري محمد طيب رحمه الله وايي چې ډير داسې فضلاء راته معلوم دي چې هغوی سبقونه په دارالعلوم ديوبند کې ويلي او ښه د استعداد خاوندان وو ، خو چونکه د خپلو استاذانو سره يې د بې ادبۍ معامله کوله ، نو کله چې د دارالعلوم ديوبند نه فارغ شو نو د علم د خدمت نه محروم شو ، محدِث يا مفسِّر ورنه جوړ نه شو بلکه څوک دُکانداري کوي ، او څوک ګاډي چلوي .

او ډير داسې کسان راته معلوم دي چې عِلمي استعداد به يې ډير کم ؤ ، خو چونکه د ادب او خدمت ماده په کې دومره ډيره وه چې شپه او ورځ به يې د اُستاذانو خدمت کولو ، اوس مونږ ګورو چې د همدغه خلقو نه الله ﷻ د دين ډير لوي خدمت اخلي . دا مقبوليت دوی ته د ادب او خدمت په وجه حاصل شوې . (۲)

## د استاذ د بې ادبۍ په وجه د علم نه محرومه کيدل

مولاناعبدالواحد رحمه الله د دارالعلوم ديوبند فاضل دی ، دې وايي چې زما يو سبقي ملګرې ؤ ، ډير زيات تکړه او ذهين ؤ ، مونږ دواړو په دارالعلوم ديوبند کې په وړه دوره (درجه موقوف عليه ) کې سبقونه ويل . يوه ورځ استاذ د هداية رابع درس ورکول ، نو دې طالب په يوه مسئله کې په استاذ باندې اعتراض وکړو ، استاذ ورته جواب ورکړو خو دده تسلي او نه شوه ، نو ده هدايه راواخيسته ، او استاذ طرفته يې ور اُوويشته ، او وې ويل : چې دداسې تدريس څه فائده ؟ دا شان هدايه خو زه هم درس کولې شم ، بلکه ددې نه يې ښه درس کولې شم

(۱) تحفة المدارس ج۱ ص ۳۳۰ .

(۲) خطباتِ حکيم الاسلام ج۳ ص ۲۷۸ .

(c) ketabton.com: The Digital Library



دټولو طالبانو د وړاندې يې دې استاذ ته نورې ډيرې خبرې هم وکړې ، استاذ بالكل چُپ ناست و ، هيڅ يې اونه ويل ، دا طالب لاړ او سبق يې مكمل پرېښود .

مولانا عبدالوحد رحمه الله وايي چې ډيره زمانه پس يوه ورځ زه په بناريه كې په يوه كوڅه كې تيريدم ، نو ناڅاپه مې يو كس اوليد ه چې غاړې ته يې د لرگې وړوكې صندوقچه اچولې وه ، په هغې كې سگرټ ، نَسوار او پَان پراته وو ، دې په كوڅو كې گرځيده او دا يې خرڅول .

ما چې ورته په ژوَر نظر اوكته ، نو ما اوپيژنده چې دا خوزما هماغه درسي ملگرې دی ، چا چې د كتاب او دأستاذ بې عزتي كړې وه .

چونكه گيره يې خريلې وه ، او شكل يې مكمل بَد رنگ شوې ؤ ، نو ځكه ما پوره او نه پيژنده ، د خبرو نه روستو ما ورته د هغه استاذ د بې ادبۍ واقعه رايادة كړه ، نو هغه خپل سَر ښكته كړو او ډير په افسوس يې وويل :

مولانا صاحب ! ته چې نن ما په دې بَد حالت كې گورې نو دا صرف او صرف د همغه بې ادبۍ نتيجه ده چې ما د كتاب او استاذ بې عزتي كړې وه . دا خبره يې وكړه ، او نور روان شو . (۱)

## علماء د انبياؤ وارثان دي

علامه توكل شاه انبالوي رحمه الله ډير لوي بزرگ تير شوې ، ده ته الله ﷻ ډير مال ودولت هم وركړې ؤ ، دې ډير زيات سخي ؤ ، عام اعلان يې كړې ؤ چې څوک غريب وي ، مسافر وي او يا ضرورت مند وي هغه دې راځي او زما په دسترخوان دې مُفت د الله ﷻ د رضا د پاره خوراک كوي . نو په سوونو غريبانان به په هره ورځ دده خانقاه ته راتله او مفت خوراک به يې كولو .

يوه شپه ده په خُوب كې د نبي كريم صلى الله عليه وسلم سره ملاقات اوشو ، دې ډير خوشحاله شو ، پيغمبر عليه السلام ورته اوفرمايل توكل شاه ! ته خو په هره ورځ د الله ﷻ دعوت كوې خو زما دعوت دې هيچرې او نه كړو .

كله دې چې راويښ شو ، نو په سوچ كې پريوت چې ددې خُوب څه تعبير دی ؟ ډيره ژړا او زاري يې الله ﷻ ته اوكړې ، او د الله ﷻ نه يې دا سوال كولو چې ددې خُوب په مطلب پوهه شم .

---

(۱) طلباء كے لے مثالي تحفه ص ۳۶۸ .

(c) ketabton.com: The Digital Library



آخر دا چې الله رب العزت ده ته په زړه کې دا خبره ورواچوله ، او د ځان سره يې سوچ وکړو چې زه کومو غريبانانو ته د الله ﷻ د رضا دپاره خوراک ورکوم نو ګويا دا خو د الله ﷻ د پاره شو .

او د نبي کريم صلى الله عليه وسلم وارثان خو علماء ، طلباء او حفظان دي ، ما خو دوی ته هيڅ کله دعوت نه دې کړې ، نو ځکه ماته نبي کريم صلى الله عليه وسلم او فرمايل چې تا خو زما (يعنى زما د وارثانو ) دعوت نه دې کړې .

نو ده د غونډ ښار علماء ، طلباء او حافظان راجمع کړه او هغوی له يې هم غټ دعوت وکړو ، (ګويا دا د نبي عليه السلام دعوت شو ) .(۱)

---

(۱) خطبات فقير ج ۵ ، طلباء کے لئے مثالي تحفه ص ۲۹۸.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د علم سره استغناء په کار ده

حکیم الاسلام حضرت مولانا قاري محمد طیب رحمه الله وایي :

اهلِ علمو ته په کار دي چې دوی د خپل عِلم عزت وکړي ، نو په دې سره به د دوی عزت هم پخپله پیدا شي ، او چې دوی د خپل عِلم عزت په خپله نه کوي نو په دې سره خُود به خُود د دوی هم بې حُرمتي او عزتي راځي .

اوس د علم عزت په استغناء او توکّل علی الله کې دی ، نو څومره چې اهلِ علم خپل ځان دُنیا دارو ته محتاجه ګڼړي او د دوی نه طمعه ساتي ، هم دومره اندازه کې به دوی ذلیله کیږي .

او که په اهلِ علمو کې استغناء پیدا شي نو بیا به دُنیادار خلق په خپله د دوی د وړاندې عاجزي کوي او د دوی خدمت به کوي . (۱)

حضرت عبدالله بن مسعود رضی الله عنه فرمایي :

لَوْ أَنَّ اَهْلَ الْعِلْمِ صَانُوْا الْعِلْمَ وَ وَضَعُوْهُ عِنْدَ أَهْلِهِ لَسَادُوْا بِهِ أَهْلَ زَمَانِهِمْ وَلٰكِنَّهُمْ بَذَلُوْهُ لِاَهْلِ الدُّنْيَا لِيَنَالُوْا بِهِ مِنْ دُنْيَاهُمْ فَهَانُوْا عَلَيْهِمْ . (۲)

که چیرته اهلِ علمو ( علماؤ ) د ( خپل ) علم حفاظت کولې او علم یې د هغې اهل ( یعنی د علم قدرداني کوونکو خلقو ) مخکې کیښودې ، نو بیشکه دوی به د دې علم په وجه د دُنیاوالو سرداران جوړشوي وې ، خولیکن علماؤ داسې اونه کړل بلکه هغوی علم په دُنیادارو ( یا حاکمانو د وخت ) باندې د دُنیا د حصول دپاره خرڅ کړو چې د دې په وجه سره دغه علماء د دې دُنیا دارو په نظر کې سپَک ( او ذلیله ) شو .

حکیم الامت حضرت مولانا اشرف علي تهانوي رحمه الله فرمایي : زه دا په یقین سره وایم چې که چیرته اهلِ علم په الله ﷻ باندې توکّل او اعتماد وکړي او خپل ځانونه د دُنیادارو نه مستغني اوګرځوي نو الله تعالی به د غیبو نه د دوی امداد کوي ، او هر کس به دوی ته محتاج وي .

---

(۱) خطبات حکیم الاسلام ج۱ ، تحفة المدارس ج۲ ص۳۳٦ ، ۳۲۰ .

(۲) رواه ابن ماجه و رواه البیهقي في شعب الایمان عن ابن عمر . مشکوة کتاب العلم حدیث ۵۹ .

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځکه په دُنيا کې هر کس دين ته خامخا محتاج دی (او که څوک وايي چې زه دين ته محتاج نه يم نو دې خو بيا د سره مؤمن نه دی) او دين خو د اهلِ علمو نه زده کيږي.

معلومه شوه چې هر کس علماو ته خامخا په دين کې محتاج دی، لهذا علماو ته استغنى په کار ده. (١)

بل دا چې د طمعې او لالچ سره د انسان د علم برکت هم ختميږي، حضرت عمر رضی الله عنه د حضرت کعب الاحبار ﷺ نه پوښتنه وکړه:

مَا أَخْرَجَ الْعِلْمَ مِنْ قُلُوْبِ الْعُلَمَاءِ ؟

کوم شئ د علماو د زړونو نه علم اُوباسي ؟

حضرت کعب ﷺ ورته جواب ورکړو: اَلطَّمُعُ. طمعه او لالچ. (٢)

يعنی کله چې د علماو په زړونو کې طمعه، لالچ، او د جاه وجلال محبت پيدا شي، نو په دې سره به د دوی د زړونو نه د علم نُور، عظمت او برکت اوځي. او د دوی زړونه به بيا په حقيقي رڼا سره نه منوّر کيږي. (٣)

## د حضرت سالم رحمه الله استغناء

که چيرته مونږ د خپلو اکابرينو ژوند ته نظر وکړو نو مونږ ته به معلومه شي چې په دوی کې څومره اندازه استغناء وه.

د حضرت عمر ﷺ نمسی حضرت سالم رحمه الله يوه کرَت مکې معظمې ته لاړ، او هلته يې د خانه کعبې نه طواف کولو، په مطاف کې ورسره د وخت بادشاه هشام بن عبد الملک يو ځای شو هشام ورته ووېل: جناب! که تاسو ته څه ضرورت وي نو ماته ووايه، زه به درله هغه ضرورت پوره کړم. ده ورته ووېل:

هشامه! چې کله زه د بيت الله مخامخ ولاړ يم او په دې حال کې زه د غيرُالله نه مدد غواړم، نو دا زما دپاره ډيره د شرم خبره ده. په کار خو داده چې زه دلته صرف د الله ﷻ نه مدد اوغواړم.

(١) دعوات عبديت، تحفة المدارس ج١ ص ٣٣٦.

(٢) رواه الدارمي، مشكوة كتاب العلم.

(٣) مظاهرِ حق شرح مشكوة كتاب العلم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هشام چې دا خبره واوریده نو لاجوابه شو، او روان شو.

کله چې حضرت سالم رحمه الله طواف پوره کړو، او د حرم شریف نه بهر اووت، نو هلته بهر ورته هشام ولاړ ؤ، بیا ورته رامخې ته شو، او ورته وې ویل: اې سالمه! اوس خو ته بهر رااووتې، نو اوس خو رانه څه اوغواړه چې زه یې درکړم. ده ورته وویل:

د تا نه څه شئ اوغواړم، دین، که دُنیا؟

(هشام ته خو پته وه چې دې ډیر لوي عالِم او بزرګ دی، علم خو ورسره شته) نو ده ورته وویل چې دُنیا رانه اوغواړه. حضرت سالم رحمه الله ورته وویل:

اې هشامه! کوم ذات چې دا دُنیا پیدا کړې ده ما ترا وسه پورې د هغه نه دُنیا نه ده غوښتې، نو د تا نه یې څنګه اوغواړم؟

هشام چې دا خبره واوریده نو رنګ یې زیړ شو او په مخه روان شو.

دیته استغناء وایي چې د وخت بادشاه ته هم ځان محتاجه نه ګنړي.(۱)

## د مولانا قاسم نانوتوي رحمه الله استغناء

د دارالعلوم دیوبند باني حضرت مولانا محمد قاسم نانوتوي رحمه الله یو پیره ریاست رامپور ته لاړو، کله چې هلته نواب کلب علي خان د ده د راتګ نه خبر شو، نو ده پسې یې خپل یو خاص کس رااولیږل، او ورته وې ویل چې مولانا صاحب ته اووایه چې تاسو دلته راشئ.

مولانا صاحب ورته حیله جوړه کړه چې زه د باندې یو کس یم، په شاهي آدابو نه پوهیږم، کیدې شي څه بې ادبي رانه اوشي. (نو ځکه نه درځم).

نواب صاحب ورته دوباره کس رااولیږل، او ورته وې ویل چې خیر دی تاسو د شاهي آدابو نه مستثنیٰ یئ، خو تاسو صرف راشئ، ځکه زما ستاسو د لیدلو ډیر شوق دی.

مولانا صاحب ورته فورًا وویل: عجیبه ده، د لیدلو شوق ستاسو دی او ملاقات ته زه درشم؟ ستاسو په خپو باندې خو څه نکریزې نه دي، تاسو راشئ کنه؟ نو مولانا صاحب هلته ورنه رغې.(۲)

(۱) تحفة المدارس ج۲ ص ۳۴۲، اهل دل کے تڑپا دینے والے واقعات ج۲ ص ۱۰۷.

(۲) منقول از اشراف التنبیه، حکایات اولیاء للتهانوي رحمه الله ص ۲۱۳.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

# د درودِ شریف فضیلت او اهمیت:

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ وَحْدَهٗ ط، وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى مَنْ لَّا نَبِيَّ بَعْدَهٗ ط، وَلَا رَسُوْلَ بَعْدَهٗ ط، وَهُوَ خَاتَمُ النَّبِيِّيْنَ ط، وَعَلٰى آلِهٖ وَاَصْحَابِهٖ اَجْمَعِيْنَ ط، وَعَلٰى مَنْ تَبِعَهٗ وَتَبِعَهُمْ بِاِحْسَانٍ اِلٰى يَوْمِ الدِّيْنِ ط. اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ. قَالَ اللّٰهُ تَبَارَكَ وَتَعَالٰى فِي الْقُرْآنِ الْمَجِيْدِ وَالْفُرْقَانِ الْحَمِيْدِ:

﴿إِنَّ اللّٰهَ وَمَلٰٓئِكَتَهٗ يُصَلُّوْنَ عَلَى النَّبِيِّ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا صَلُّوْا عَلَيْهِ وَسَلِّمُوْا تَسْلِيْمًا﴾ (۱)

وَقَالَ النَّبِيُّ ﷺ: مَنْ صَلّٰى عَلَيَّ صَلَاةً وَاحِدَةً صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ عَشْرًا. (رواه مسلم وابوداو والنسائي والترمذي وابن حبان في صحيحه). (۲)

وَقَالَ النَّبِيُّ ﷺ: اَلْبَخِيْلُ مَنْ ذُكِرْتُ عِنْدَهٗ فَلَمْ يُصَلِّ عَلَيَّ. (رواه النسائي وابن حبان في صحيحه والحاكم وصححه الترمذي). (۳)

صَدَقَ اللّٰهُ الْعَظِيْمُ.

زما خوږو قدرمنو او عزت منو مسلمانانو ورونو! کوم آیتِ مبارکه چې ما په خطبه کې تلاوت کړو په دې کې الله تعالی مسلمانانو ته دا حکم کړی چې تاسو په نبي کریم صلی الله علیه وسلم باندې درود و سلام لیږئ، خو ددې نه یې تعبیر په داسې انداز سره وکړو چې اول الله تعالی خپل او د فرښتو ''صلاة'' د نبي علیه السلام دپاره بیان کړو او بیا یې عامو مؤمنانو ته دا حکم وکړو چې تاسو هم په نبي علیه السلام باندې درود لیږئ.

---

(۱) الأحزاب آیت ٥٦.

(۲) اخرجه ابوداود في الوتر باب ٦٢، والنسائي في الاذان باب ۳۷ والسهو باب ٥٥، ومسلم في الصلاة، الترغيب والترهيب ج۲ ص ۳۲۳ الترغيب في اكثار الصلوة على النبي ﷺ ط. مكتبة الحرمين الشرفين كوئته.

(۳) اخرجه الترمذي في الدعوات باب ۱۰۰، والبيهقي في الشعب ج۲ ص۲۱۳ رقم: ۱٥٦٦، واحمد في المسند ج۱ ص۲۳۱ رقم: ۱۷۲۸، والحاكم في المستدرک ج۱ ص۷۳۴ رقم: ۲۰۱٥، وقال عقبه هذاحديث صحيح الاسناد ولم يخرجاه ر وافقه الذهبي، كنزالعمال، الترغيب والترهيب ج۲ ص ۳۳۲ الترغيب في اكثار الصلوة على النبي ﷺ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



نو كوم كار (په نبي ﷺ باندې درود) چې الله ﷻ او د هغه فرښتې كوي نو په كار داده چې عام مؤمنان خو يې په طريقِ اولیٰ سره وكړي، ځكه په دوی باندې خو د نبي كريم صلی الله عليه وسلم بې شميره احسانات دي.

بل دا چې په دې آيت كې د عامو مسلمانانو هم ډير لوي فضيلت او غوره والې ثابت شو، ځكه چې الله تعالى دوی د ځان سره په هغه كار كې شريک كړل كوم چې دې پخپله او د هغه فرښتې كوي (چې هغه په نبي ﷺ باندې درود ليږل دي). (۱)

قدرمنو! په قرآن مجيد كې الله تعالى ډير احكامات ذكر كړي لكه: لمونځ، روژه، زكوة، حج، جهاد وغيره. او د ډيرو پيغمبرانو تعريفونه يې هم بيان كړي، خو ليكن په هيڅ يو حكم او اعزاز كې يې دا ندي فرمايلي چې ګني دا كار زه هم كوم نو تاسو يې هم كوئ.

بلكه دا اعزاز صرف او صرف د سيّد الكونين، فخرِ دوجهان مُحَمَّدٌ رَّسُوْلُ الله صلى الله عليه وسلم د پاره ثابت دی چې الله تعالى اول د صلاة نسبت خپل ځان طرفته وكړو، بيا يې ملائكو طرفته وكړو او ددې نه روستو يې بيا عامو مؤمنانو ته دا حكم وكړو چې: اې مؤمنانو تاسو هم په نبي عليه السلام باندې درود وسلام وايئ. (۲)

## د علامه اسماعيل حقي رحمه الله تحقيق:

صاحب د روح البيان (علامه اسماعيل حقي رحمه الله) دلته ليكلي دي چې دغه شرافت او اعزاز كوم چې الله تعالى زمونږ پيغمبر عليه السلام ته وركړې، دا د هغه شرافت او اِعزاز نه زيات دی كوم چې الله ﷻ حضرت آدم ﷺ ته وركړې ؤ ''چې فرښتو ته يې حكم كړې ؤ چې تاسو حضرت آدم ﷺ ته سجده د تعظيم وكړئ''.

ځكه په هغه سجده كولو كې الله تعالى په خپله شريک نه ؤ، او په نبي عليه السلام باندې ''صلاة'' ليږلو كې الله تعالى او د هغه فرښتې هم شريكې دي.

(۱) معارف القرآن سورة احزاب آيت ۵۶.

(۲) قَالَ سَهْلُ بْنُ عَبدِالله التستري قدس سرّه: اَلصَّلاةُ على محمّدٍ اَفضَلُ العِبَادَاتِ. لِاَنَّ اللهَ تعالى تولاها هو وملائِكتَه ثُمَّ اَمَرَ بِهَا المؤمنينَ. وسائرُ العباداتِ ليس كذالك. يعنى انّ اللهَ تعالى اَمَرَ بسائرِ العِبَاداتِ ولم يَفْعَلْهُ بِنَفْسِه. (روح البيان ج۵ ص ۲۶۶ الاحزاب آيت ۵۶).

(c) ketabton.com: The Digital Library



لهذا دا شرافت او عزت زيات شو . (۱)

## د علامه آلوسي رحمه الله تحقيق :

صاحب د رُوْحُ المعاني علامه آلوسي رحمه الله ليکلي چې په دې آيت کې د نبي کريم صلى الله عليه وسلم داسې تعظيم او شرافت بيان شوې دی چې ددې هيڅ نظير نشته .

او بيا ددې نه تعبير په داسې انداز سره شوې چې که د آيت سَر ( إِنَّ اللهَ وَمَلَائِكَتَهُ ) ته اوګورو نو دا جمله اسميه ده ، دلالت کوي په " دَوَامُ او اِسْتِمْرَارْ " باندې .

او که روستو (يُصَلُّوْنَ عَلَى النَّبِيِّ ) ته اوګورو نو دا جمله فعليه ده چې دلالت کوي په " حُدُوْث او تَجَدُّدْ " باندې .

نو اوس يې مطلب دا شو چې : الله ﷻ او د هغه فرښتې هميشه د پاره وَقْتًا فَوَقْتًا په نبي کريم صلى الله عليه وسلم باندې درود ليږي نو اې مؤمنانو ! تاسو هم پرې هر وخت درود ليږئ . (۲)

---

(۱) وَهذا التَّشْرِيفُ الَّذِيْ شَرَّفَ اللهُ به نَبِيَّنَا عليه السلام أَتَمُّ مِن تَشْرِيْفِ آدمَ عليه السلام بِأمرِ الملائكةِ بِالسُّجُوْدِ له. لِأَنَّهُ لَايَجُوْزُ أَنْ يَكونَ اللهُ تعالى مع الملائكةِ فِي هذا التَّشْرِيفِ ، وَقَدْ أَخْبَرَ تعالى عن نَفْسِهِ بِالصَّلَاةِ عَلَى النَّبِيِّ ثُمَّ عَنِ الملائكةِ . ( تفسير روح البيان ج۵ ص ۲۶۵ الاحزاب آيت ۵۶ ).

(۲) وَالتَّعْبِيْرُ بِالْجُمْلَةِ الْاِسْمِيَّةِ لِلدَّلَالَةِ عَلَى الدَّوَامِ وَالْاِسْتِمْرَارِ . وَذكرَ اَنَّ الْجُملةَ تُفِيْدُ الدَّوَامَ نَظَرًا الى صَدْرِهَا مِن حيثُ اَنَّهَا جُملةٌ اِسمِيَّةٌ ، وَتُفِيْدُ التَّجَدُّدَ نَظَرًا اِلى عَجُزِهَا مِنْ حيثُ اَنَّهَا جُملةٌ فِعْلِيَّةٌ ، فَيَكونُ مَفَادُهَا اِسْتِمْرَار الصَّلَاةِ وَتَجَدُّدهَا وَقْتًا فَوَقْتًا . وَتَاكِيدُهَا بِإِنَّ لِلْاِعْتِنَاءِ بِشَانِ الْخَبَرِ . ( روح المعاني ج ص ۳۴۲ الاحزاب آيت ۶۵ ).

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د درود شريف فضائل

محترمو ! لکه څرنګ چې د قرآن کريم تلاوت کول عبادت دی او انسان ته پرې د دواړو جهانو سعادت حاصليږي ، نو دغه شان په نبي کريم صلی الله عليه وسلم باندې درود شريف ويل هم عظيم عبادت دی ، په دې سره هم انسان ته د دواړو جهانونو سعادت او نيک بَختيا حاصليږي

دغه وجه ده چې په احاديثو مبارکه ؤ کې د درود شريف ډير زيات فضايل ، فوائد ، خصوصيات او برکات ذکر شوي دي ، او علماء کرامو په دې باندې مستقل کتابونه هم ليکلي دي (۱)، خو زه به درته صرف يو څو عمده فضايل بيان کړم .

## ۱ . د الله ﷻ د رحمت ذريعه ده :

د درود شريف يو فضيلت دادې چې په يو ځل درود ويلو سره الله ﷻ په انسان باندې لس (۱۰) رحمتونه راوَرَوِي .

۱ . نبي کريم صلی الله عليه وسلم فرمايي :

مَنْ صَلَّى عَلَيَّ صَلَاةً وَاحِدَةً صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ عَشْرًا . (رواه مسلم وابوداو والنسائي والترمذي وابن حبان في صحيحه) . (۲)

څوک چې په ما باندې يو ځل درود ووايي نو الله تعالی په هغه باندې لس ( ۱۰ ) رحمتونه نازلوي .

ځکه الله تعالی فرمايي : ﴿ جَاءَ بِالْحَسَنَةِ فَلَهُ عَشْرُ أَمْثَالِهَا ﴾ . (۳)

څوک چې ( د الله ﷻ دربار ته ) يوه نيکي راوړي نو د هغه د پاره لس چنده بَدله ده .

---

(۱) **نوټ** : د درود شريف په موضوع باندې زما والد صاحب ( حضرت مولانا اول شاه صاحب ) يوه جامع رساله ليکلې چې نوم يې دې " قُرَّةُ الْعَيْنَيْنِ بِفَضِيلَةِ الصَّلَاةِ عَلَى سَيِّدِ الْكَوْنَيْنِ " . دې رسالې ته ما بيا نبه ترتيب ورکړو او د رود شريف متعلق فضايل ، مسايل او احکامات ټول په کې جمع دي ، ( په مکتبو کې پيدا کيږي ) .

(۲) اخرجه ابوداود في الوتر باب ۶۲ ، والنسائي في الاذان باب ۳۷ والسهو باب ۵۵ ، ومسلم في الصلاة ، الترغيب والترهيب ج۲ ص ۳۲۳ الترغيب في اکثار الصلوة على النبي ﷺ ط . مکتبة الحرمين الشرفين کوئته .

(۳) الأنعام آيت ۱۶۰ .

(c) ketabton.com: The Digital Library



نو کوم کس چې په نبي کريم صلى الله عليه وسلم باندې يوه پيره درود ووايي نو الله تعالى ددې په عوض کې په ده باندې لس رحمتونه راوروي . (۱)

۲ . په يو بل حديث کې په يو ځل درود ويونکي باندې د اويا (۷۰) رحمتونو ذکر شوې ، حضرت عبدالله بن عمرو بن العاص ﷺ فرمايي :

مَنْ صَلَّى عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَاحِدَةً صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَمَلٰئِكَتُهُ سَبْعِيْنَ صَلَاةً . (۲)

کوم کس په نبي کريم ﷺ باندې يو ځل درود ووايي نو الله تعالى او د هغه فرښتې په هغه باندې اويا (۷۰) ځله درود ( رحمت او دعا ) ليږي .

۳ . حضرت عبدالله بن طلحه د خپل پلار نه دا روايت نقل کوي چې يوه ورځ نبي کريم صلى الله عليه وسلم تشريف راوړو نو د دوی په مخ مبارک باندې خوشحالي ښکاريده ، صحابه کرامو عرض وکړو :

يَارَسُوْلَ اللهِ ! إِنَّا نَرَىٰ فِيْ وَجْهِكَ بِشْرًا لَمْ نَكُنْ نَرَاهُ .

اې دالله رسوله ! مونږ ستاسو په مخ مبارک کې داسې خوشحالي ګورو چې د دينه مخکې مو چيرته نه وه ليدلې ، نو حضور اکرم ﷺ وفرمايل :

أَجَلْ أَنَّهُ أَتَانِيْ مَلَكٌ فَقَالَ : يَا مُحَمَّدُ ! إِنَّ رَبَّكَ يَقُوْلُ : أَمَا يُرْضِيْكَ أَلَّا يُصَلِّيْ عَلَيْكَ أَحَدٌ مِنْ أُمَّتِكَ إِلَّا صَلَّيْتُ عَلَيْهِ عَشْرًا ، وَلَا يُسَلِّمُ عَلَيْكَ إِلَّا سَلَّمْتُ عَلَيْهِ عَشْرًا . (۳)

---

(۱) مظاهر حق شرح مشکوة باب فضل الصلاة على النبي ﷺ وفضلها .

(۲) رواه احمد باسناد حسن ، المسند ۴ / ۱۰۸ ، ورواه الهيثمي في المجمع ۱۰ / ۱۶۰ ، مشکوة ص ۷۸ ، الترغيب والترهيب ج۴ ص ۳۲۵ الترغيب في اكثار الصلوة على النبي ﷺ القول البديع ص ۱۰۳.

نوټ : دا حديث موقوف دې ( يعنى د حضرت عبدالله بن عمر ﷺ قول دې ) خو حکمًا مرفوع دې ، ځکه يو صحابي هم د اعمالو ثواب د ځان نه نشي بيانولې ترڅو چې يې دا مضمون د نبي عليه السلام نه نوي اوريدلې .مظاهر حق شرح مشکوة باب فضل الصلاة على النبي وفضلها .

(۳) رواه الدارمي في سننه ج۲ ص۷۷۲ رقم : ۲۶۷۱ ، والإمام احمد في المسند ج۴ ص ۶۱۱ رقم : ۱۵۹۲۶ ، والنسائي في السنن الكبير ج۱ ص۳۸۰ رقم : ۱۲۰۵ ، والحاكم في المستدرک ج۲ ص ۴۲۰ رقم : ۳۵۷۵ ، وقال صحيح الاسناد ولم يخرجاه و وافقه الذهبي ، هكذا في المشکوة باب فضل الصلاة على النبي صلى الله عليه وسلم وفضلها .

آو، ماته اوس حضرت جبريل عليه السلام راغلې ؤ او راته وې ويل: چې اې محمده (ﷺ)! ستا رب فرمايي: چې آيا ته خوشحاله نه يې؟ (يعنې خوشحاله اوسه) په دې خبره چې ستا يو امتي په تاسو باندې يو ځل درود ووايي نو زه په هغه باندې لس (۱۰) رحمتونه نازلوم، او چې ستا يو امتي په تاسو باندې يو ځل سلام ووايي نو زه په هغه باندې لس (۱۰) ځله سلام وايم.

## حضرت موسى عليه السلام ته وحي

الله جل جلاله حضرت موسى عليه السلام ته وحې وکړه، او ورته وې فرمايل چې: اې زما خوږه کليمه! که چيرته په دُنيا کې زما څوک حمد ويونکې نه وې نو ما به د باران يو څاڅکې هم د آسمان نه نه وې نازل کړې او نه به مې د ځمکې نه يوه دانه پيدا کړې وې او نور يې هم ډير شيان ذکر کړه، تر دې چې الله تعالى او فرمايل:

يَا مُوسى أَتُرِيْدُ أَنْ أَكُوْنَ أَقْرَبَ إِلَيْكَ مِنْ كَلَامِكَ إِلى لِسَانِكَ . وَمِنْ وَسَاوِسِ قَلْبِكَ إِلَى قَلْبِكَ ، وَمِنْ رُوْحِكَ إِلى بَدَنِكَ . وَمِنْ نُوْرِ بَصَرِكَ إِلى عَيْنِكَ ؟

اې موسىٰ! آيا ته دا غواړې چې زه تاته ډير درنزدې شم؟ څنګه چې ستا خبرې ستا د ژبې سره، ستا د زړه وسوسې ستا د زړه سره، ستا روح ستا د بدن سره او ستا د سترګو رڼا ستا د سترګو سره نزدې ده، نو آيا زه تاته ددې نه هم ډير درنزدې شم؟

حضرت موسى عليه السلام ورته عرض وکړو چې آو. يا الله زما دا خوښه ده چې تاسو ماته ډير رانزدې شئ. نو الله تعالى ورته او فرمايل:

فَأَكْثِرِ الصَّلَاةَ عَلى رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ .

نو په رسول الله صلى الله عليه وسلم باندې ډير درود وايه (ددې په عوض کې به تاته زما قُرب او نزديکت نصيبه شي). (۱)

## ۲. د نبي عليه السلام د شفاعت ذريعه ده:

د درود شريف دويم فضيلت دا دې چې درود ويونکي ته به د قيامت په ورځ د نبي کريم صلى الله عليه وسلم شفاعت نصيب کيږي.

(۱) ذكره ابونعيم الحافظ فى الحلية عن كعب القول البديع ص۱۳۲، سعادة الدارين ص۸۷، معارج النبوة ص۳۰۸، مقاصد السالكين ص۵۴.

(c) ketabton.com: The Digital Library



رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي :

مَنْ صَلَّى عَلَيَّ حِيْنَ يُصْبِحُ عَشْرًا وَ حِيْنَ يُمْسِيْ عَشْرًا أَدْرَكَتْهُ شَفَاعَتِيْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ . (۱)

څوک چې په ما باندې صبا او بيګاه لس (۱۰)، لس (۱۰) کرَته درود شريف لولي، نو هغه ته به د قيامت په ورځ زما شفاعت نصيبه کيږي .

## د فقيه ابوالليث ثمرقندي رحمه الله وينا

فقيه ابو الليث ثمرقندي رحمه الله وايي چې که چيرته په درود شريف کې د نبي کريم صلى الله عليه وسلم د شفاعت نه علاوه څه بله فائده نه وې نو بيا هم په عقل مند باندې دا واجب وه چې دې د دې درود شريف نه غافل نه شي، ځکه د نبي کريم صلى الله عليه وسلم شفاعت خو يو عظيم سعادت دی . حالانکه په درود شريف کې خو نورې ډيرې فائدې هم شته چې د الله ﷻ د رحمت او د انسان د ګناهونو د بخشش ذريعه ګرځي ( نو په انسان باندې درود شريف ويل لازمي دي ) . (۲)

## ۳. د نيکيو د زياتوالي، د ګناهونو د مغفرت او د مرتبې د اوچتوالي ذريعه ده :

د درودِشريف دريم فضيلت دادې چې د دی په وجه د انسان په عَملنامه کې نيکۍ ليکلې کيږي، ګناهونه يې ختميږي او مرتبې يې اوچتيږي . نبي کريم صلى الله عليه وسلم فرمايي :

مَنْ صَلَّى عَلَيَّ مَرَّةً وَاحِدَةً كَتَبَ اللهُ لَهُ عَشْرَ حَسَنَاتٍ . (۳)

څوک چې په ما باندې يو ځل درود ووايي نو الله تعالى به د دې په عوض کې د ده په عَملنانه کې لس (۱۰) نيکۍ وليکي .

(۱) رواه الطبراني، الجامع الصغير رقم الحديث ۶۲۳۳، القول البديع .

(۲) تنبيه الغافلين ص۱۶۱ .

(۳) رواه الإمام الأحمد في المسند ج۲ ص۵۱۵ رقم : ۷۵۰۸، والبيهقي في مجمع الزوائد ج۱۰ ص۸۶۰، وكنز العمال ج۱ ص ۲۴۹، القول البديع ص ۱۱۸ .

(c) ketabton.com: The Digital Library



همدارنګې نبي عليه السلام فرمايي :

مَنْ صَلَّى عَلَيَّ صَلَاةً صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ عَشْرَ صَلَوَاتٍ ، وَ يَحُطُّ عَنْهُ بِهَا عَشْرَ سَيِّآتٍ ، وَرَفَعَهُ بِهَا عَشْرَ دَرَجَاتٍ . (۱)

څوک چې په ما باندې يو ځل درود ووايي نو الله تعالى به ددې په عوض کې په ده باندې لس (۱۰) رحمتونه نازل کړي ، د ده لس (۱۰) ګناهونه به معاف کړي ، او لس (۱۰) درجې به يې اوچتې کړي .

## د درود شريف په وجه د امام شافعي رحمه الله مغفرت

په روضة الأحباب کې دامام اسماعيل ابراهيم مزني رحمه الله نه نقل دي (کوم چې د امام شافعي رحمه الله په لوي شاګردانو کې ؤ ) چې ما امام شافعي رحمه الله د وفات نه روستو په خوب کې وليده ، نو پوښتنه مې ترې وکړه : چې الله تعالى درسره څه معامله وکړه ؟

هغوی وفرمايل : چې الله تعالى زما مغفرت وکړو ، اوفرښتو ته يې حکم وکړو چې ما په تعظيم او احترام سره جنت ته بوځي ، او داټول برکت د يو درود شريف دی کوم چې به ما لوستلو.

(اسماعيل ابراهيم مزني رحمه الله وايي چې) ما ترې پوښتنه وکړه چې هغه کوم درود دی ؟

نو وې ويل هغه دادې :

((اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلَى مُحَمَّدٍ كُلَّمَا ذَكَرَهُ الذَّاكِرُوْنَ وَكُلَّمَا غَفَلَ عَنْ ذِكْرِهِ الْغَافِلُوْن)) (۲)

## د درود شريف په وجه د يو کاتب مغفرت

دعبيد الله بن عمرقواريري رحمه الله نه نقل دي چې يو کاتِب زماکاونډي ؤ ، هغه مړشو ، ماهغه په خوب کې وليد ، اوپوښتنه مې ترې وکړه چې الله تعالى درسره څه معامله وکړه ؟

هغه راته وويل : زه يې اُوبخلم . ماترې پوښتنه وکړه چې په څه وجه يې اوبخلې ؟

نو راته وی ويل زمادا عادت ؤ چه کله به مې درسول الله ﷺ نوم مبارک په کتاب کې ليکلو نو صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّم به مې هم ورسره ليکل ، نو الله تعالى ماته ددې په عوض کې داسې

---

(۱) اخرجه النسائي في الاذان باب ۷۳ والسهو باب ۵۵ ، واحمد في المسند ۲ / ۱۶۸ ، ۳۷۲ ، ۳۷۵ ، ۴۸۵ ، الترغيب والترهيب ج۴ ص۳۲۳ .

(۲) حاشيه حصن ازفتح القدير بحواله زادالسعيد لمولانا اشرف علي التهانوي رحمه الله ، وسعادة الدارين ص۱۱۸ .

(c) ketabton.com: The Digital Library



نعمتونه راکړه چې نه خو د چاسترګو لیدلي دي، نه د چا غوږونو اوریدلي دي او نه د چا په زړه کې تیر شوي دي . (۱)

## د درود شریف په وجه د یو ګناهګار مغفرت

علامه سخاوي رحمه الله په خپل کتاب (القول البدیع) کې یوه واقعه رانقل کړې چې په بني اسرائیلو کې یو کس ؤ، ډیر سخت ګناهګار او مجرم ؤ، ټول عُمر یې په فِسق وفجور کې تیر کړې ؤ، د مرګ نه روستو خلکو دې (په ډیران) او غورځول.

نو الله ﷻ حضرت موسی علیه السلام ته وحي وکړه چې: ای زما خوږه کلیمه! زما یو بنده مړ دی، او بني اسرائیلو غورځولې دی. نو ته خپل قوم ته ووایه چې هغه د هاغه ځاي نه راپورته کړي، جنازه ورباندې وکړي، او دفن یې کړي. ځکه ما دده مغفرت کړې دی.

کله چې حضرت موسی علیه السلام هلته ورغې نو هغه سړې یې وپیژندو. د حکم د تعمیل نه پس یې عرض وکړو: چې ای ربه! داسړې خو مشهور مجرم ؤ، نو د سزا په ځاې د دې دومره لوي عزت حقدار څنګه شو؟ الله تعالی ورته او فرمایل:

إِنَّهُ فَتَحَ التَّوْرَاةَ يَوْمًا فَوَجَدَ فِيهَا إِسْمَ مُحَمَّدٍ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَصَلَّى عَلَيْهِ وَقَدْ غَفَرْتُ لَهُ بِذَلِكَ.

بیشکه (دې د ډیرې سزا مستحق ؤ خو) ده یوه ورځ توراة خلاص کړې ؤ، او په هغې کې یې د مُحَمَّدٌ رَسولُ الله صلی الله علیه وسلم نوم ولیده نو ده په هغه باندې درود وویل. نو د همدې په وجه ما دده ټول ګناهونه معاف کړه او مغفرت مې ورته وکړو . (۲)

## ۴ . د نبي کریم ﷺ سره د نزدیکت ذریعه ده

د درود شریف څلورم فضیلت دا دې چې درود ویونکي به د قیامت په ورځ د نبي کریم صلی الله علیه وسلم سره نزدې وي.

۱. نبي علیه السلام فرمایي:

---

(۱) زاد السعید لمولانا اشرف علي التهانوي رحمه الله.

(۲) القول البدیع ص ۱۱۸، مقاصد السالکین ص ۵۰.

(c) ketabton.com: The Digital Library



إِنَّ أَوْلَى النَّاسِ بِي يَوْمَ الْقِيَامَةِ أَكْثَرُهُمْ عَلَيَّ صَلَاةً . (۱)

بيشکه د قيامت په ورځ به ماته په ټولو خلکو کې هغه کسان ډير نزدې وي چاچې په ما باندې ډير درود ويلي وي .

۲ . إِنَّ أَقْرَبَكُمْ مِنِّي يَوْمَ الْقِيَامَةِ فِي كُلِّ مَوْطِنٍ أَكْثَرُكُمْ عَلَيَّ صَلَاةً فِي الدُّنْيَا . (۲)

بيشکه د قيامت په ورځ به په هرمقام او هرځاې کې په تاسو ټولو کې ماته هغه څوک ډير زيات نزدې وي چاچې په دُنيا کې په ما باندې ډير درود شريف ويلي وي .

## ۵ . د مصيبتونو او غمونو د ازالې ذريعه ده

د درود شريف پنځم فضيلت او فائده داده چې ددې په وجه الله جل جلاله انسان ته د مصيبتونو نه نجات ورکوي او ګناهونه يې معاف کوي .

حضرت ابي بن کعب ﷺ فرمايې: چې زه يوه ورځ دربارِ نبوت ته حاضر شوم او عرض مې وکړ:

يَا رَسُوْلَ اللهِ ! إِنِّي أُكْثِرُ الصَّلَاةَ عَلَيْكَ فَكَمْ أَجْعَلُ لَكَ مِنْ صَلَاتِي ؟ (۳) فَقَالَ : مَاشِئْتَ ، قُلْتُ الرُّبُعُ . قَالَ مَاشِئْتَ ، فَإِنْ زِدْتَ فَهُوَ خَيْرٌ لَكَ . قُلْتُ : فَالنِّصْفُ . قَالَ : مَاشِئْتَ فَإِنْ زِدْتَ فَهُوَ خَيْرٌ لَكَ . قُلْتُ : فَالثُّلُثَيْنِ . قَالَ : مَاشِئْتَ فَإِنْ زِدْتَ فَهُوَ خَيْرٌ لَكَ . قُلْتُ : أَجْعَلُ صَلَاتِي كُلَّهَا . قَالَ : إِذًا يُكْفَىٰ هَمُّكَ ، وَيُغْفَرُ لَكَ ذَنْبُكَ . رواه احمد والترمذي في القيامة باب ۲۲ والحاكم وصححه ، قال الترمذي حديث حسن صحيح . (۴)

---

(۱) رواه الترمذي وابن حبان في صحيحه كلاهما من رواية موسى بن يعقوب ، كذا في الترغيب ج۲ ص۷۳۲ ، وبسط السخاوي في القول البديع الكلام على تخريجه .

(۲) كنز العمال ج۱ ص۲۵۵ ، سعادة الدارين ص۶۰ .

(۳) قوله " أُكْثِرُ الصَّلَاةَ عَلَيْكَ فَكَمْ أَجْعَلُ لَكَ مِنْ صَلَاتِي ؟ " معناه : أكثر الدعاء فكم أجعل لك من دعائي صلاةً عليك . الترغيب والترهيب ج۴ ص۳۲۷ الترغيب في اكثار الصلوة على النبي ﷺ .

(۴) رواه الترمذي ، مشكوة شريف ۸۶ ، الزواهر ص۱۱۷ وبسط السخاوي في تخريجه .

په يو روايت کې داسې الفاظ دي : إِذًا يَكْفِيكَ اللهُ تَبَارَكَ وَتَعَالَى مَا أَهَمَّكَ مِنْ دُنْيَاكَ وَآخِرَتِكَ . مشكوة ص۸۶ ، و رواه الطبراني باسناد حسن ، مسند احمد ۵ / ۱۳۶ الترغيب والترهيب ج۲ ص۳۲۶ ، وبسط السخاوي في تخريجه .

که چيرې ته داسې وکړې نو الله تعالى به ستا د دنيا او آخرت د ټولو معاملو دپاره کافي شي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



اې د الله رسوله ! زه غواړم چې په تاسو باندې زيات درود ووايم ، نو آيا څومره يې ووايم ؟ نبي كريم ﷺ عرض وكړ : څومره چې ستا خوښه وي (همغومره مقدار كې وايه) . مابيا عرض وكړو چې څلورمه حصه ولولم ؟ نونبي كريم ﷺ وفرمايل : څومره چې ته غواړې . كه چيرې د دې نه يې هم زيات كړې نو دا ستا دپاره ډيره بهتره ده . مابيا عرض وكړو چې اې زما آقا زه به (د نفلي اذكارو او د خپلې دُعا په وخت كې ) نيم وخت درودشريف وايم ؟ نبي كريم ﷺ وفرمايل: چې ستا خوښه ده ، كه د دينه يې هم زيات كړې نو ستادپاره ډيره غوره ده . ماعرض وكړو چې په درې حصو كې دوه حصې وخت كې به درودشريف وايم ؟ نبي كريم ﷺ وفرمايل: چې ستامرضى ده، كه د دينه يې هم زيات كړې نوداستادپاره ډيره غوره ده .

ما عرض وكړ چې اې زما آقا زه به (د نفلي اذكارواو دُعاؤ ) په ټول وخت كې درود شريف وايم ، نو رسول الله ﷺ اوفرمايل :

چې كه چيرته ته داسې وكړې نو دا به ستا دپاره د ټولو غمونو د پاره كافي وي او ستا ټول ګناهونه به تاته اُوبخلې شي .

**فايده** : د دې نه معلومه شوه چې د درود شريف دا بركت او فضيلت دى چې كوم سړې دا وايي او د خپل ژوند يو ضروري جزءيې اوګرځوي ، نو د ده د دُنيا او آخرت ټول مقاصد پرې پوره كيږي ځكه مَنْ كَانَ لِلّٰهِ كَانَ اللّٰهُ لَهٗ . څوك چې د الله شو، نو الله د هغه شو . (۱)

## د درود شريف په بركت د مصيبت نه د نجات واقعه :

علامه اسماعيل حقي رحمه الله په خپل تفسير ( روح البيان ) او امام غزالي رحمه الله په خپل كتاب (احياء العلوم) كې يوه واقعه رانقل كړې : چې سفيان ثوري رحمه الله وايي چې زه يو كرت حج ته لاړم ، نو هلته مې يو سړې وليده چې په هرځاى كې يې قدم په قدم په كثرت سره درود شريف ويل ( په حرم شريف كې، طواف كې، منىٰ كې، عرفات كې يعنى هرځاى كې چې قدم اوچتوي او يږدي ، نو درود شريف وايي ) ، آخرماپوښتنه ورنه وكړه :

اى د الله ﷻ بنده ! دلته خود هرمقام ځانله ځانله دعاګانې دي، نوافل دي ، مګرته په هرځاې كې درود شريف وايې ، نودا ولې ؟ هغه راته خپله واقعه بيان كړه چې زه د پلا رسره د خراسان نه

(۱) مشكوة باب فضل الصلاة على النبي صلى الله عليه وسلم وفضلها .

(c) ketabton.com: The Digital Library



حج ته راروان ووم، كله چې كوفې ته راورسيدلو نو زما پلار بيمار شو، او بيماري يې ورځ په ورځ زياتيده، تردې چې وفات شو، خو د وفات كيدونه روستو د هغه مخ تک تور شو، خيټه يې اوپړسيده او په ډير بَد حالت شو، ما چې دا اوليده نو سخت خفه شوم، په ژړا شوم او إِنَّا لِلّٰهِ وَإِنَّا إِلَيْهِ رَاجِعُوْن مې وويل، او د خپل پلار په مخ مې كپړه واچوله.

زه د پلار د لاش سره غمجن اوپريشانه سَر په زنگون ناست وم، د ډير خفگان د لاسه مې سترگې پټې شوې، نو ماوليده چې داسې يو حسين و جميل، پاكيزه صورت والا كس تشريف راوړو چې ددې نه مخكې ما چيرته دومره ښكلي مخ واله كس نه ؤ ليدلې، دې نزدې راغې اوزما د پلار د مخ نه يې كپړه لرې كړه، او په مخ يې ورله لاس راښكود، چې ددې په وجه د هغه مخ د شُودو (پيو) غوندې تک سپين شو، بيا يې ورله په خيټه لاس راښكود، نو خيټه يې هم ښه شوه.

كله چې دې كس د تللو اراده وكړه، نو زه ورپاڅيدم، پوښتنه مې ورنه وكړه چې اې زما سرداره! ماته دا ووايه چې تاسوڅوک يئ؟ چې ستاسوتشريف آوري زماد پاره درحمت اوبركت باعث شوه، او تاسو د ماسره ډير احسان وكړو؟ داچې يې واوريدل نووې فرمايل:

أَمَا تَعْرِفُنِيْ؟ أَنَا مُحَمَّدٌ رَسُوْلُ اللهِ كَانَ أَبُوْكَ هٰذَا كَثِيْرَ الْمَعَاصِيْ غَيْرَ أَنَّهُ كَانَ يُكْثِرُ الصَّلَاةَ عَلَيَّ.

آيا ته ما نه پيژنې؟ زه خو محمد رسول الله (ﷺ) يم، ستا دا پلار ډير گناهگار ؤ، خو ليكن ده به په ما باندې ډير درود شريف ويل.

كله چې زه د خوب نه راپاڅيدم نو ما اوكته چې زما د پلار مَخ (د څوارلسمې شپې سپوږمۍ غوندې) تک سپين شوې ؤ، او د خيټې پړسوب يې هم ختم شوې ؤ.

سفيان ثوري رحمه الله وايي چې دې كس ماته وويل چې د هغې وخت نه راپه ديخوا زه هم مسلسل په نبي كريم صلى الله عليه وسلم باندې درود شريف وايم. (۱)

دا واقعه چې قاضي شيخ يوسف رحمه الله په خپل كتاب " سعادة الدارين في الصلاة على سيدالكونين " كې ذكر كړې نو په هغې كې دا هم ذكر دي چې دې كس وويل چې زما د پلار د

(۱) تفسير روح البيان ج۷ ص ۲۶۷ سورة احزاب آيت ۵۶، سعادة الدارين ص۱۲۵، احياء العلوم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



وفات نه روستود هغه سَر د خره او گرځيده ، او رنګ يې تک تور شو ، کله چې زما سترګې د خفګان نه پټې شوې او د نبي کريم صلى الله عليه وسلم سره مې په خوب کې ملاقات اوشو، هغوی دده په مخ لاس رانبکود ، نو مخ يې د ځوارلسمې شپې د سپوږمۍ غوندې شو ، نو ما د نبي کريم صلى الله عليه وسلم نه پوښتنه وکړه چې د ده مخ ولې د خره په شان ګرځيدلې ؤ ؟ نوراته وی فرمايل :

إِنَّ وَالِدَكَ أَكَلَ الرِّبَا وَإِنَّ مِنْ حُكْمِ اللهِ عَزَّ وَجَلَّ أَنَّ مَنْ أَكَلَ الرِّبَا أَنْ يُحَوِّلَ اللهُ صُوْرَتَهُ عِنْدَ الْمَوْتِ كَصُوْرَةِ حِمَارٍ إِمَّا فِي الدُّنْيَا وَإِمَّا فِي الْآخِرَةِ . وَلٰكِنْ كَانَ مِنْ عَادَةِ وَالِدِكَ أَنْ يُصَلِّيَ عَلَيَّ فِي كُلِّ لَيْلَةٍ قَبْلَ أَنْ يَضْطَجِعَ عَلَى فِرَاشِهِ مِائَةَ مَرَّةٍ . فَلَمَّا عَرَضَتْ لَهُ هٰذِهِ الْمِحْنَةُ مِنْ أَكْلِ الرِّبَا جَاءَنِي الْمَلَكُ الَّذِيْ يُعْرِضُ عَلَيَّ أَعْمَالَ أُمَّتِيْ فَأَخْبَرَنِيْ بِحَالَةِ وَالِدِكَ فَسَأَلْتُ اللهَ فَشَفَّعَنِيْ فِيْهِ .(۱)

بيشکه ستا پلار سُود خورؤ ، اودا د الله تعالى قانون دی چې د سُود خورسړي شکل په دُنيا يا آخرت کې ضرور د خره په شان مَسخه کوي (اوستاد پلار رمخ په دُنيا کې بَدل شو) . خو ليکن ستاد پلار دا عادت ؤ چې هغه به دشپې د څملاستو نه مخکې سل (۱۰۰) پيرې په ما باندې درود شريف ويل ، بياچې کله په ده باندې د سُود خورۍ په وجه دا مصيبت راغې نو کومې فرښتې چې ماته د امت اعمال پيش کول ، هغې ماته د دې کس په باره کې خبر راکړو ، نو ما د الله ﷻ نه د ده د پاره د مغفرت سوال وکړو ، الله ﷻ دده په حق کې زما شفاعت قبول کړو .

**فايده** : معلومه شوه چې د درود شريف په وجه انسان ته د هر مصيبت او آفت نه نجات حاصليږي .

## ۲ . د دُعا قبليدو ذريعه ده :

د درود شريف شپږم فضيلت دادې چې ددې په وجه سره د انسان دُعا قبليږي ، يعنی د کومې دُعا نه مخکې چې درود شريف وويل شي نو الله تعالى دا دُعا قبلوي .

۱ . حضرت فضالة بن عبيد رضي الله عنه وايي : چې يوه ورځ رسول الله ﷺ تشريف فرما ؤ ، يو سړې راغې او لمونځ يې وکړو ، کله چې دلمانځه نه فارغ شونو دُعايې شروع کړه چې :

---

(۱) سعادة الدارين في الصلاة على سيدالكونين ص۱۴۱ ط دار الكتب العلمية بيروت ، تنبيه الغافلين ص ۱۶۱ .

(c) ketabton.com: The Digital Library



اَللّٰهُمَّ اغْفِرْ لِيْ وَارْحَمْنِيْ. ياالله! ما اوبخې، او په ما رحم وکړې.

نبي كريم صلى الله عليه وسلم ورته اوفرمايل: عَجِلْتَ اَيُّهَا الْمُصَلِّيْ، إِذَا صَلَّيْتَ فَقَعَدْتَ فَاحْمِدِ اللهَ بِمَا هُوَ أَهْلُهُ، وَصَلِّ عَلَيَّ، ثُمَّ ادْعُهُ.

اې لمونځ ګزاره! تا ډيره جلدبازي وکړه، کله چې ته لمونځ وکړې نو کينه، او دالله تعالى حمد وثنا بيان کړه، بيا په ما بابندې درود ووايه، بيا دُعا وغواړه.

راوي وايي چې بيا يو بل کس راغې، لمونځ يې وکړو، او دالله تعالى حمد وثنا يې بيان کړه، بيا يې په نبي كريم ﷺ درود ولوستو، نونبي عليه السلام ورته اوفرمايل:

اَيُّهَا الْمُصَلِّيْ! اُدْعُ تُجَبْ. (۱)

اې لمونځ ګزاره! ته دعاکوه، ستا دعا به قبليږي.

۲. حضرت عبدالله بن مسعود رضي الله عنه فرمايې چې (يوه ورځ) ما لمونځ کولو، نبي كريم صلى الله عليه وسلم هم تشريف فرما ؤ، حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه او حضرت عمر رضي الله عنه هم ورسره وو.

د لمانځه نه پس چې زه کيناستم نو د الله تعالى ثناء مې شروع کړه او بيا مې په نبي عليه السلام درود وويل، د هغې نه پس مې خپل (ديني او دُنيوي مقاصدو دپاره) خپل ځان له دُعا اوغوښته (دې ليدلو سره) رسول الله ﷺ راته اوفرمايل:

سَلْ تُعْطَهْ، سَلْ تُعْطَهْ. (۲)

سوال کوه، تاته به درکولې شي، سوال کوه، تاته به درکولې شي (يعنى دُعا غواړه ضرور به قبلولې شي).

---

(۱) رواه الترمذي وابوداود ونسائي، مشكوة شريف ص۸۴.

(۲) عَنْ عَبْدِاللهِ بْنِ مَسْعُوْدٍ قَالَ كُنْتُ أُصَلِّيْ وَالنَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَاضِرٌ وَاَبُوْبَكْرٍ وَعُمَرُ مَعَهُ. فَلَمَّا جَلَسْتُ بَدَأْتُ بِالثَّنَاءِ عَلَى اللهِ تَعَالٰى ثُمَّ الصَّلَاةَ عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثُمَّ دَعَوْتُ لِنَفْسِيْ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: سَلْ تُعْطَهْ. سَلْ تُعْطَهْ. رواه الترمذي، مشكوة شريف ص۸۷ حديث نمبر ۱۳ باب فضل الصلاة على النبي صلى الله عليه وسلم وفضلها.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**اهمه نُکته** : په حصن حصين کې د شيخ ابوسليمان داراني رحمه الله نه نقل دي چې کله تاسو د الله ﷻ نه دُعا غواړئ نو په اول او آخر کې ورنه درود شريف وايئ، او په مينځ کې خپل حاجت غواړئ. ځکه الله ﷻ خو دواړه درُدونه قبلوي نو د هغه د فضل وکرم او احسان نه دا لرې ده چې هغه مخکې او روستو درود شريف خو قبول کړي، او دا مينځ کې دُعا قبوله نه کړي (بلکه دا دُعا په هم په خپل فضل وکرم سره قبلوي). (۱)

۳. دغه وجه ده چې نبي کريم صلى الله عليه وسلم فرمايي:

إِذَا صَلَّى أَحَدُكُمْ فَلْيَبْدَأْ بِتَمْجِيدِ اللهِ وَالثَّنَاءِ عَلَيْهِ. ثُمَّ يُصَلِّيْ عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثُمَّ يَدْعُوْا بِمَاشَاءَ. (۲)

کله چې په تاسو کې يوتن لمونځ وکړي نو پکار ده چه په الله تعالى باندې په حمدوثناء ويلوسره شروع وکړي، بيا په نبي کريم صلى الله عليه وسلم باندې درود شريف ولولي، بيا دې دُعا او غواړي څه يې چې خوښه وي.

## د درود شريف نه بغير دُعا نه قبليږي:

لهذا انسان ته په کار دي چې د دُعا نه مخکې درود شريف او لولي، ځکه که چيرته د دُعا نه مخکې درود شريف اونه ويل شي نو دا دُعا نه قبليږي.

حضرت عمر رضى الله عنه فرمايي:

إِنَّ الدُّعَاءَ مَوْقُوْفٌ بَيْنَ السَّمَاءِ وَالْأَرْضِ لَا يَصْعَدُ مِنْهُ شَيْءٌ حَتّٰى تُصَلِّيَ عَلٰى نَبِيِّكَ. (۳)

---

(۱) مظاهرِ حق شرح مشکوة باب فضل الصلاة على النبي صلى الله عليه وسلم وفضلها.

(۲) رواه ابوداود في السنن ج۲ ص۱۶۲ رقم: ۱۴۸۱، والترمذي في جامعه ج۵ ص۴۸۲ رقم: ۳۴۷۷، وقال عقبه هذا حديث حسن صحيح، وابن خزيمة في صحيحه ج۱ ص۳۵۱ رقم: ۷۱۰، وابن حبان في صحيحه الإحسان ج۵ ص۲۹۰ رقم: ۱۹۶۰.

(۳) رواه الترمذي، مشکوة باب فضل الصلاة على النبي ﷺ وفضلها، رواه الطبراني ج۱ ص ۲۲۰ رقم ۷۲۱، کنزالعمال ۳۹۸۴.

**نوټ** : علامه طيبي رحمه الله دې حديث په باره کې فرمايي چې دا حديث موقوف دې خو محققين علماء ليکي چې داسې قسمه خبرې هيڅ راوي د ځان نه نشي کولي بلکه ده به خامخا دا مضمون د نبي عليه السلام نه اوريدلې وي. لهذا دا د حديث مرفوع په حکم کې دې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بېشکه دُعا د آسمان او ځمکې په مېنځ کې موقوفه (مُعَلّق او بنده) وي او پورته د قبلېدو دپاره نه خيژي ترڅو پورې چې تاسو په نبي کريم صلى الله عليه وسلم باندې درود او نه وايئ[1]

## ۷. د درود شريف په وجه اعزاز

د درود شريف اووم فضيلت دادی چې د دې په وجه انسان په دُنيا او آخرت دواړو کې د عزت او اکرام مستحق کرځي.

## نبي کريم ﷺ د درود ويونکي خُله چَپ (ښُکل) کړې

علامه سخاوي رحمه الله په خپل کتاب " القول البديع في الصّلاة على الحبيب الشّفيع "، کې، علامه ابن حجر رحمه الله او نورو معتمدو علماؤ د محمد بن سعيد بن مطرق رحمه الله يوه واقعه رانقل کړې، کوم چې ډېر نيک او بزرګ سړې تير شوې.

محمد بن سعيد بن مطرق وايي: چې ما په خپل ځان باندې د اُوده کيدو په وخت يو مخصوص انداز کې درود ويل لازم کړي وو، چې کله به مې هغه مقدار درود وويل نو بيا به اُوده کيدم. يوه شپه زه په خپله بالا خانه کې ناست وم، درود شريف مې وويل او بيا کيناستم، د دې دوران کې زما سترګې ورغلې اُوده شوم، په خُوب کې مې د نبي کريم صلى الله عليه وسلم سره ملاقات اوشو، پيغمبر عليه السلام د بالا خانې په دروازه د ننه تشريف راوړو، د نبي کريم ﷺ د نُور مبارک نه ټوله بالا خانه روښانه شوه، بيا رسول کريم ﷺ زما خوا ته تشريف راوړو او وې فرمايل:

هَاتِ هَذَا الْفَمَ الَّذِيْ تُكْثِرُ بِهِ الصَّلَاةَ عَلَيَّ أُقَبِلْهُ.

په کومه خُله باندې چې ته په ما باندې ډېر درود وايې هغه راديخوا کړه چې زه يې چَپ (ښُکل) کړم.

محمد بن سعيد بن مطرق وايي چې ما ته حَيا راغله (چې څنګه نبي عليه السلام زما خُله ښُکل کوي؟ دا خو بې ادبي ده) نو ما خپل مخ ديخوا راواړول، نو نبي کريم ﷺ زه په رخسار

(۱) په يو بل حديث کې دا سې الفاظ دي: حضرت علي رضي الله عنه فرمايي: كُلُّ دُعَاءٍ مَحْجُوْبٌ حَتَّى يُصَلِّيَ عَلَى مُحَمَّدٍ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. رواه القاضي عياض في الشفاء ۲ / ۱۵۲، والهيثمي في المجمع ۱۰ / ۱۰

(c) ketabton.com: The Digital Library



باندې ښکل کړم، دغه وخت په دې کور کې داسې خوشبوي خوره شوه چې د هغې په مخکې د دنیا ټولې خوشبویانې هیڅ نه وې، د دې خوشبوي په وجه زما بې هم راویخه شوه.

محمد بن سعید بن مطرق وایي چې د راویخیدو نه روستو هم په دې کور کې څو ورځې خوشبویي موجوده وه او زما د رخسارنه اته (۸) ورځې مسلسل خوشبویي تلله. (۱)

## د یو درود شریف د ثواب په وجه د غونډې مقبرې واله نه عذاب پورته کیدل:

حسن بصري رحمه الله ته یوه ښځه راغله او ورته وې ویل چې زما لور وفات شوې ده، او زما دا آرزو ده چې زه هغه په خوب کې ووینم، نو حضرت حسن بصري رحمه الله ورته وویل: د ماسخوتن د لمانځه نه پس څلور رکعاته نفل لمونځ وکړه، او په هر رکعت کې د "اَلْحَمْدُ" نه پس سورة تکاثر ﴿اَلْهٰكُمُ التَّكَاثُرُ﴾ ولوله، او د هغې نه پس اوده شه، خو د اوده کیدو پورې په نبي کریم صلی الله علیه وسلم باندې درود وایه.

هغې ښځې دغسې وکړه، دې هغه خپله لور په خوب کې ولیده چې په ډیر سخت عذاب کې مبتلاء وه، د تارکولو لباس وراغوستې شوې ؤ، دواړه لاسونه یې تړلي شوي وو او د اور په زنځیرونو کې بندې وه.

دا ښځه چې سحر راپاسیده، نو د حسن بصري رحمه الله په خدمت کې حاضره شوه، او ټوله واقعه یې ورته بیان کړه.

حسن بصري رحمه الله ورته وویل چې صدقه وکړه او ثواب یې د هغې پسې اوبخه، شاید چې الله تعالی د دې په وجه ستا لور معاف کړي، هغه ښځه لاړه.

په هم دغه شپه حسن بصري رحمه الله خوب ولیده چې د جنت یو باغ دی، په هغې کې یو ډیر اوچت تخت دی او هغې باندې یوه ډیره خوبصورته حسینه جمیله جینۍ ناسته ده، او د هغې په سر باندې د نور یو تاج دی. دې جینۍ د حسن بصري رحمه الله نه پوښتنه وکړه:

یَا حَسَنُ! اَتَعْرِفُنِيْ؟ اې حسن بصري! ته ما پیژنې؟

(۱) القول البدیع ص۱۳۵، سعادة الدارین ص۱۲۳، جذب القلوب ص۲۶۵، فضائل درود وسلام، زادالسعید ص۱۰.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ده ورته وويل چې نه. ته څوک يې؟ هغې ورته وويل: زه خو د هغې ښځې لور يم کومې ته چې تا د درود شريف ويلو حکم کړې ؤ (چې د ماسخوتن نه پس اُوده کيدو پورې درود وايه).

حسن بصري رحمه الله ورته وويل: ستا مور خو ستا حال دې برعکس ښودلې ؤ (چې په ډير عذاب کې گرفتاره ده). هغې جينۍ ورته وويل: څما حالت هم هغه ؤ کوم چې زما مور درته بيان کړې ؤ.

نو ده ورته پوښتنه وکړه چې بيا دا دومره غټه مرتبه درته څنګه حاصله شوه؟ هغې ورته وويل:

كُنَّا سَبْعِيْنَ اَلْفَ نَفْسٍ فِي الْعُقُوْبَةِ وَالْعَذَابِ كَمَا وَصَفَتْ لَكَ وَالِدَتِيْ. فَعَبَرَ رَجُلٌ مِنَ الصَّالِحِيْنَ عَلَى قُبُوْرِنَا وَصَلَّى عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَرَّةً وَجَعَلَ ثَوَابَهَا لَنَا. فَقَبِلَهَا اللهُ عَزَّ وَجَلَّ مِنْهُ وَاَعْتَقَنَا كُلَّنَا مِنْ تِلْكَ الْعُقُوْبَةِ.

مونږ اويا زره (۷۰۰۰۰) کسان دې عذاب کې مبتلاء وو کوم چې څما مور تا ته بيان کړې ؤ، خو د صلحاو او نيکانو نه يو بزرګ څمونږ په مقبره باندې تيرشو، هغه يو ځل په نبي عليه السلام درود شريف ولوست، او د هغې ثواب يې مونږ ټولو مقبرې واله ته را اُوبخل، نو الله تعالى هغه درود داسې قبول کړو چې د هغې په برکت يې مونږ ټول د هغې عذاب نه آزاد کړو.

او ما ته د هغې يو درود د ثواب په نتيجه کې دا اعزاز او اکرام را کړې شو. او ټول صرف د يو درود شريف د برکت په وجه وو. (۱)

(۱) القول البديع ص۱۳٦ ط دارالكتاب العربي بيروت، سعادة الدارين ص۱۲۸، شرح الصدور.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د درود شريف نه ويلو نقصانات :

کله چې يو انسان د نبي کريم صلی الله عليه وسلم نوم مبارک واوري نو په کار ده چې دې په هغه باندې درود شريف ووايي ، ځکه که دې بغير د څه شرعي عذر نه درود ونه وايي نو دداسې کس باره کې ډير وعيدونه راغلي دي . زه به درته يو څو غټ وعيدونه ذکر کړم .

## ۱. د نبي کريم ﷺ د خيرو سبب دې

دنبي کريم ﷺ د نوم مبارک اوريدو نه روستو بلاعذره درود نه ويونکي ته پيغمبر عليه السلام خيرې کړي دي .

د حضرت ابو هريرة رضي الله عنه نه روايت دې چې نبي کريم ﷺ فرمايلي دي :

رَغِمَ أَنْفُ رَجُلٍ ذُكِرْتُ عِنْدَهُ فَلَمْ يُصَلِّ عَلَيَّ . الحديث (۱)

دهغه سړي پوزه دې په خاورو ککړه شي (يعنی ذليل دې شي ) د چا د وړاندې چې زما ذکر وشي او دې په ما باندې درود اونه وايې .

## ۲. د حضرت جبرائيل عليه السلام د بد دُعايې ذريعه ده

کله چې يو کس په يو مجلس کې په اول ځل د پيغمبر عليه السلام نوم مبارک واوري او دې بغير د څه عذر نه درود شريف ونه وايي نو داسې کس ته حضرت جبريل عليه السلام خيرې کړي او نبي عليه السلام ورباندې آمين ويلې دی . چې داد انسان د پاره د هلاکت او بدبختۍ ذريعه ده .

(۱) رواه الإمام احمد في المسند ج ۲ ص ۵۰۱ رقم: ۷۴۰۲، والترمذي في جامعه ج ۵ ص ۵۱۴ رقم: ۳۹۴۵ وقال هذا حديث حسن غريب من هذا الوجه ، وابن حبان في صحيحه الإحسان ج ۳ ص ۱۸۹ رقم : ۹۰۸، مشكوة باب فضل الصلاة على النبي صلى الله عليه وسلم وفضلها .

(c) ketabton.com: The Digital Library



دحضرت كعب بن عجرة ﷺ نه روايت دى چې يوځل نبي كريم ﷺ وفرمايل :

أُحْضُرُوا الْمِنْبَرَ . تاسو ممبر ته رانژدې شئ .

نو مونږ ممبر ته رانژدې شو ، كله چې نبي كريم صلى الله عليه وسلم د ممبر په ړومبۍ پوړۍ باندې قدم مبارك كيښود ، نو وې فرمايل "آمِيْن" بيا يې په دويمه پوړۍ قدم مبارك كيښود نو وې فرمايل "آمِيْن" بيا يې په دريمه پوړۍ قدم مبارك كيښود نو وې فرمايل : "آمِيْن"

كله چې نبي كريم ﷺ د خطبې نه فارغ شو ، او ښكته راكوز شو ، نو مونږ ورته عرض وكړو :

يَارَسُوْلَ اللهِ ! لَقَدْ سَمِعْنَا مِنْكَ الْيَوْمَ شَيْئًا مَا كُنَّا نَسْمَعُهُ ؟

اې د الله تعالى رسوله ! تاسونه مونن ( ممبر ته دختلو په وخت ) داسې خبره واوريده چې مخكې مو چيرته نه وه اوريدلې ؟

نو حضور ﷺ اوفرمايل چې (كوم وخت ما د ممبر په ړومبۍ پوړۍ باندې قدم كيښود نو دغه وخت ) حضرت جبرائيل ﷺ زما مخې ته راغې ، او وې فرمايل :

بَعُدَ مَنْ أَدْرَكَ رَمَضَانَ فَلَمْ يُغْفَرْ لَهُ .

هلاک دې شي هغه سړې چې په چا باندې د رمضان مياشت راشي ، اوبيا هم دهغه مغفرت ونشي .

نو ما وويل : " آمِيْن " . بيا چې كله دويمې پوړۍ ته وختم نو هغه وويل :

بَعُدَ مَنْ ذُكِرْتَ عِنْدَهُ فَلَمْ يُصَلِّ عَلَيْكَ .

هلاک دې شي هغه سړې چه د هغه مخكې ستاسو ذكر وشي او هغه په تاسو درود اونه وايې .

نوما وويل : " آمِيْن " . بيا چې كله دريمې پوړۍ ته وختم نو هغه وويل :

بَعُدَ مَنْ أَدْرَكَ أَبَوَيْهِ الْكِبَرَ أَوْ أَحَدُهُمَا فَلَمْ يُدْخِلَاهُ الْجَنَّةَ .

هلاک دې شي هغه سړې چې چا خپل مور او پلا ردواړه يا يو دبوډا والي په حالت كې وموندل او هغوي دې جنت ته داخل نكړي (يعنې د هغوي خدمت اونكړي چې جنت ته پرې

(c) ketabton.com: The Digital Library



داخل شي ) نو ما وويل : " آمِيْن " . (۱)

**فايده** : څنګه چې حضرت جبريل عليه السلام خيرې کړې او پيغمبر عليه السلام ورباندې آمين ويلې نو يقيني چې دا کس به ډير بخته وي . لهذا که په يو مجلس کې د رسول الله صلی الله عليه وسلم نوم مبارک په اول ځل ذکر شي نو خامخا درود شريف ويل په کار دي .

## ۳. د رسول الله ﷺ نوم مبارک اوريدو نه روستو درود نه ويل بُخل دي

۱. حضرت علي رضی الله عنه فرمايي :

اَلْبَخِيْلُ الَّذِيْ مَنْ ذُكِرْتُ عِنْدَهُ فَلَمْ يُصَلِّ عَلَيَّ . (۲)

بخيل هغه کس دی چې د چا ورانديې زما ذکر وشي او دې په ما باندې دورد ونه وايي .

(۱) عَنْ كَعْبِ بْنِ عُجْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : " اُحْضُرُوا الْمِنْبَرَ " فَحَضَرْنَا . فَلَمَّا ارْتَقٰى دَرَجَةً قَالَ : " آمِيْن " فَلَمَّا ارْتَقٰى الدَّرَجَةَ الثَّانِيَةَ قَالَ : " آمِيْن " فَلَمَّا ارْتَقٰى الدَّرَجَةَ الثَّالِثَةَ قَالَ : " آمِيْن " فَلَمَّا نَزَلَ عَنِ الْمِنْبَرِ قُلْنَا : يَارَسُوْلَ اللهِ ! لَقَدْ سَمِعْنَا مِنْكَ الْيَوْمَ شَيْئًا مَا كُنَّا نَسْمَعُهُ ؟ قَالَ : إِنَّ جِبْرِيْلَ عَرَضَ لِيْ فَقَالَ : بَعُدَ مَنْ أَدْرَكَ رَمَضَانَ فَلَمْ يُغْفَرْ لَهُ . فَقُلْتُ : " آمِيْن " فَلَمَّا رَقِيْتُ الثَّانِيَةَ قَالَ : بَعُدَ مَنْ ذُكِرْتَ عِنْدَهُ فَلَمْ يُصَلِّ عَلَيْكَ . فَقُلْتُ " آمِيْن " فَلَمَّا رَقِيْتُ الثَّالِثَةَ قَالَ : بَعُدَ مَنْ أَدْرَكَ أَبَوَيْهِ الْكِبَرَ عِنْدَهُ أَوْ أَحَدَهُمَا فَلَمْ يُدْخِلَاهُ الْجَنَّةَ فَقُلْتُ : " آمِيْن " .

الترغيب والترهيب ج۴ ص ۳۳۰ الترغيب في اكثار الصلاة على النبي ﷺ ، حديث نمبر ۳۴ ، و رواه الحاكم في المستدرک ج ۴ ص ۱۷۰ رقم : ۷۲۵۶ ، وقال هذا حديث صحيح الأسناد ولم يخرجاه ووافقه الذهبي والبخاري في بر الوالدين ، وابن حبان في صحيحه ، ورواه الهيثمي في مجمع الزوائد ج ۱۰ ص ۱۶۶ وعزاه للطبراني .

(۲) مشكوة باب الصلاة على النبي ﷺ وفضلها حديث نمبر ۱۵ ، و رواه الترمذي في جامعه ج ۵ ص ۵۱۵ رقم : ۳۵۴۶ وقال عقبه هذا حديث حسن صحيح غريب ، وابن حبان في صحيحه الإحسان ج ۳ ص ۱۸۹ رقم : ۹۰۹ ، والنسائي في السنن الكبرى ج ۶ ص ۲۰ رقم : ۹۸۸۵ ، والأصبهاني في الترغيب والترهيب ج ۲ ص ۳۳۱ .

وفي رواية : إِنَّ الْبَخِيْلَ : مَنْ ذُكِرْتُ عِنْدَهُ فَلَمْ يُصَلِّ . رواه الأصبهاني في الترغيب والترهيب ج ۱ ص ۲۴۰ رقم : ۵۱۸ ، ج ۲ ص ۶۹۱ رقم : ۱۶۶۶ ، وابن ابي عاصم في كتاب الصلاة على النبي ﷺ ص ۳۱ حديث رقم : ۳۰ ، ورواه البيهقي في الشعب ج ۲ ص ۲۱۴ رقم : ۱۵۶۷ .

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲ . حضرت ابوذر رضي الله عنه فرمايي چه زه يوه ورځ را اووتم اونبي کريم ﷺ ته راغلم نو هغوي ﷺ اوفرمايل :

أَلَا أُخْبِرُكُمْ بِأَبْخَلِ النَّاسِ ؟ آيا زه تاسو ته د ټولو خلکو نه ډير بخيل ونه ښايم ؟

صحابه کرامو عرض وکړو : اې د الله رسوله ! راته وې ښايې، نو رسول الله صلى الله عليه وسلم اوفرمايل :

مَنْ ذُكِرْتُ عِنْدَهُ فَلَمْ يُصَلِّ عَلَيَّ فَذٰلِكَ أَبْخَلُ النَّاسِ . (۱)

د چا دوړاندې چې زما ذکر وشي اودې په ما باندې درود اونه وايي نو دا کس د ټولو نه ډير بخيل دی .

يعنی يو هغه بخيل دی چې چا ته مال نه ورکوي خو د ټولو نه ډير لوي بخيل هغه کس دی چې د خپل غفلت او سستۍ په وجه د نبي کريم صلى الله عليه وسلم په نوم اوريدو سره د دې د ژبې او زړه نه درود اونه ووځي .

حالانکه د نبي کريم صلى الله عليه وسلم په خپل امت باندې بې شماره احسانات دي ، نو که اُمتيان د رسول الله ﷺ په نوم باندې خپل ځانونه قربان کړي نو دا هم کمه ده . اوس چې يو سړې دومره سست او غافله وي چې د پيغمبر عليه السلام د نوم اوريدو په وجه د دې د ژبې او زړه نه د درود څه کلمات نه اوځي نو دا يقيني غټ بخيل دی . (۲)

## د نبي ﷺ نوم مبارک سره درود نه ليکونکي ته وعيد

ابوالحسن بن علي عطار رحمه الله وايي چې ما ته ابو طاهر رحمه الله څه کاغذونه راکړه چې ده په هغې کې د پيغمبر عليه السلام څه احاديث ليکلي وو ، ما هغې کې اوليده چې په هر ځای کې يې د پيغمبر عليه السلام د نوم نه روستو " صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَسْلِيْمًا كَثِيْرًا " ليکلي ؤ ، ما ترې پوښتنه وکړه چې دا سې دې ولې کړي ؟ نو هغه راته وويل :

چې ددې نه مخکې به ما احاديث ليکل خو د نبي کريم ﷺ نوم سره به مې درود نه ليکل ، ما يو ځل په خوب کې د پيغمبر عليه السلام زيارت وکړ ، نو زه د نبي کريم ﷺ خدمت کې حاضر

(۱) الترغيب والترهيب ج۲ ص۳۳۲ الترغيب في اكثار الصلاة على النبي صلى الله عليه وسلم حديث نمبر ۴۳ .

(۲) مظاهر حق شرح مشکوة لمولانا قطب الدين دهلوي رحمه الله باب الصلوة على النبي ﷺ وفضلها .

(c) ketabton.com: The Digital Library



شوم او سلام مې عرض کړو ، نبي عليه السلام رانه مخ مبارک واړول ، زه د بل طرف نه حاضر شوم ، سلام مې وکړو خو پيغمبر عليه السلام د هغې اړخ نه هم مخ مبارک واړول ، زه په دريم ځل دوی ته رامخې ته شوم نو ما عرض وکړو : يارسول الله ﷺ ! تاسو د مانه مخ مبارک ولې اړوئ ؟ پيغمبر عليه السلام راته اوفرمايل :

ځکه چې کله ته خپل کتاب کې زما نوم ليکې نو د هغې سره درود نه ليکې .

ابو طاهر رحمه الله وويل چې د هغې نه پس دا زما عادت شو چې کله هم زه د نبي کريم ﷺ نوم مبارک ليکم نو ورسره ''صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَسْلِيْمًا كَثِيْرًا كَثِيْرًا'' هم ليکم . (۱)

## ٤ . د جنت نه د محروميتيا سبب دی

۱ . پيغمبر عليه السلام فرمايي :

مَنْ نَسِيَ الصَّلَاةَ عَلَيَّ خَطِئَ طَرِيْقَ الْجَنَّةِ . (۲)

څوک چې په ما باندې درود ويل هير کړي نو هغه د جنت لاره خطاء کړه .

۲ . په يو بل حديث کې دا شان الفاظ دي :

مَنْ ذُكِرْتُ عِنْدَهُ فَلَمْ يُصَلِّ عَلَيَّ خَطِئَ طَرِيْقَ الْجَنَّةِ . (۳)

دچا د وړاندې چې زما ذکر وشي او هغه په ما باندې درود ونه وايي نو دهٔ د جنت لاره خطاء کړه .

## ۵ . په قيامت کې د پښيمانتيا سبب دی

۱ . د حضرت ابو هريرة رضي الله عنه نه روايت دی چې نبي کريم ﷺ فرمايلي دي :

---

(۱) القول البديع ص ۲۵۳ ، سعدة الدراين ص ۱۳۰ .

(۲) رواه ابن ابي شيبة في المصنف ج٦ ص۳۳۰ رقم :۳۱۷۸۴، طبراني ج۱۲ ص ۱۳۹ رقم :۱۲۸۱۹، وابن ماجه في السنن ج۱ ص۲۹۴ رقم :۹۰۸، الأصبهاني. الترغيب والترهيب ج۲ ص۶۸۹ رقم :۱۶۵۸، والبيهقي في الشعب ج۲ ص ۲۱۵ رقم : ۱۵۷۳.

(۳) الطبراني في الكبير ج۳ ص ۱۲۸ رقم : ۲۸۸۷ متصلا ، وراه الفيروزآبادي في الصلاة والبشر ص۶۵ حديث: ۸۷

(c) ketabton.com: The Digital Library



مَا قَعَدَ قَوْمٌ مَقْعَدًا لَمْ يَذْكُرُوا فِيهِ عَزَّوَجَلَّ وَيُصَلُّوا عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَّا كَانَ عَلَيْهِمْ حَسْرَةً يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَإِنْ دَخَلُوا الْجَنَّةَ لِلثَّوَابِ . (۱)

په کوم مجلس کې چې خلک د الله تعالی ذکر ونکړي او په نبي کريم ﷺ باندې درود ونه وايي نو همدغه مجلس به د قيامت په ورځ د دغه خلکو د پاره د پښيمانتيا او حَسرت سبب وي اګرچې دوی د نيکو اعمالو په وجه جنت ته هم داخل شي .

(ځکه چې دوی هلته د درود شريف ثواب او ګوري نو بيا به په همدغه مجلس باندې پښيمانه وي په کوم کې چې يې درود نه وي ويلې) .

۲ . حضرت ابو سعيد خدري رضي الله عنه فرمايلي دي :

مَامِنْ قَوْمٍ يَقْعُدُوْنَ ثُمَّ يَقُوْمُوْنَ وَلَا يُصَلُّوْنَ عَلَى النَّبِيِّ ﷺ إِلَّا كَانَ عَلَيْهِمْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ حَسْرَةً وَإِنْ دَخَلُوا الْجَنَّةَ لِمَا يَرَوْنَ مِنَ الثَّوَابِ . (۲)

کوم خلک چه په يو مجلس کې کيني ، بيا د مجلس نه پاځي او په نبي کريم صلی الله عليه وسلم باندې درود او نه وايي نو دغه مجلس به د دوي دپاره د قيامت په ورځ د پښيمانتيا او افسوس سبب وي اګرچې دوی جنت ته هم داخل شي ، ددې دوجې نه چې دوی به د درود شريف ثواب اوګوري (نو دوی به په هغه مجلس پښيمانه وي په کوم کې چې يې په نبي کريم ﷺ درود نه وي ويلې) .

لهذا انسان ته په کار دي چې دې کله هم د نبي عليه السلام نوم مبارک واوري نو دې په هغه باندې درود شريف ووايي ، ځکه د پيغمبر عليه السلام په خپل امت باندې ډير زيات احسانات دي ، نو انسان له هم ضروري ده چې دې لکه څرنګ چې نورو نفلي آذکارو له وخت ورکوي دغه شان درود شريف ته هم وخت ورکړي او په هغې کې په نبي کريم صلی الله عليه وسلم باندې درود شريف ووايي . الله جل جلاله دې مونږ ټولو ته د درود شريف ويلو توفيق رانصيبه کړي .

آمين يارب العالمين

---

(۱) رواه احمد وابن حبان والحاكم والخطيب، سلسلة الأحاديث الصحيحة للألباني الجزء الأول رقم الحديث: ۷٦ .

(۲) رواه النسائي في السنن الكبرى ج٦ص ۱۰۸ رقم: ۱۰۲۴۲\۱۰۲۴۳، والأصبهاني في الترغيب والترهيب ج۲ ص ٦۹۱ رقم: ۱٦٦٦، وروي عن طريق أبي هريرة ، وابن حبان في صحيحه الإحسان ج۲ ص۳۵۲ رقم: ۵۹۱، والبيهقي في الشعب ج۱ ص۴۰۳ رقم: ۵۴۲، والسخاوي في القول البديع ص۲۲۱ وقال هو حديث حسن صحيح.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د درود شريف متعلق فقهي مسائل :

**مسئله ۱ :** په ټول عمر کې يو ځل درود شريف ويل فرض دي ځکه الله تعالى په قرآن مجيد کې حکم کړې دى : ﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا صَلُّوا عَلَيْهِ وَسَلِّمُوا تَسْلِيمًا﴾ .
او أمر د تکرار تقاضا نکوي، نو په ټول عمر کې يو ځل د کلمه توحيد په شان ويل فرض دي (۱)

(۱) سعاية ص۳۸ ، القول البديع . علامه ابن کثير رحمه الله فرمايي : والاية تدلّ على وجوب الصلوة والسلام فى الجملة ولو فى العمرة مرّةً وبه قال ابوحنيفة ومالک رحمهما الله واختاره الطحاوي . قال ابن همام موجب الامر القاطع الافتراض فى العمر مرّة لانه لايقتضي التّکرار وقلنا به .(تفسير ابن کثير ج۷ الاحزاب آيت ۳۳).

**درود شريف د حکم باره کې د علماو اختلاف دې** : بعضې علماء وايي چې کله هم انسان د نبي کريم ﷺ نوم مبارک ذکر کړي او يا يې واوري نو په ده باندې درود ويل مطلقا فرض دي بغير د څه شمار او عدد نه .
او بعضې وايي چې چاته په درود ويلو قدرت وي نو په هغه باندې په عُمر کې صرف يو ځل درود شريف ويل فرض دي
د حافظ ابن عبد البر رحمه الله دا قول دې چې درود شريف د کلمه توحيد په شان په ټول عمر کې صرف يو ځل ويل فرض دي که دا په لمانځه کې وي يا بهر د لمانځه نه وي . او همدا مذهب د امام ابوحنيفه رحمه الله هم دې. لکه چې د دې تصريح ابوبکر رازي رحمه الله کړيده .
او همدغه شان مسلک د امام مالک ، امام ثوري ، امام اوزاعي رحمهم الله او د جمهور امت هم دې . ځکه چې په قرآن کريم کې د دورد شريف په باره کې چې کوم أمر راغلې دې :﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا صَلُّوا عَلَيْهِ وَسَلِّمُوا تَسْلِيمًا﴾.
نو دا امر تقاضا د تکرار نه کوي او نفسِ ماهيت او په أمر باندې عمل کول صرف په يو ځل درود ويلو سره پوره کيږي نو بار بار ويل فرض نه دي (لکه د دې خبرې پوره وضاحت امام سخاوي رحمه الله په "القول البديع" کې کړې)
امام قرطبي او ابن عطيه رحمه الله فرمايي چې په نبي کريم ﷺ باندې درود ويل داسې واجب او لازم دي لکه څرنګې چې سنت مؤکده لازم او ثابت دي ، او بې عذره پرېښودونکې به غافله او بې خبره وي .
د امام طحاوي رحمه الله او د احنافو او شوافعو نه د يو ټولي دا قول دې چه کله هم انسان د نبي کريم ﷺ نوم مبارک واوري يا يې پخپله ولولي نو په ده باندې په هر ځل درود ويل واجب دي .
امام طبري رحمه الله فرمايي : چې درود شريف مطلقاً مستحب دې او په دې خبره د علماؤ د اجماع دعوى هم نقل کړې ده .
ليکن د ټولونه بهترين او متوسط قول دا دې : چې که په يو مجلس کې د نبي کريم ﷺ نوم مبارک په اول ځل ذکر شي نو درود شريف ويل واجب دي ، او که بار بار ذکر کولې شي نو بيا درود شريف ويل مستحب دي .
دا خبره د هدايې بعضې شارحينو هم ذکر کړې او ملا علي قاري رحمه الله په دې تصريح هم کړې ده .(د دې مسئلې څه تفصيل په تفسير روح المعاني پاره ۲۲ الاحزاب آيت ۵۶ کې هم ذکر دى ).

(c) ketabton.com: The Digital Library



**مسئله ۲**: که چيرته په يو مجلس کې څو ځلې دنبي کريم ﷺ نوم مبارک ذکرشي نو د امام طحاوي رحمه الله مسلک دادی چې په هرځل په ويونکي او اوريدونکي باندې درود ويل واجب دي . اودې خبرې ته صاحب د " بحرالرائق " علامه ابن نجيم مصري رحمه الله هم ميلان کړي دی .

خو فتوىٰ پدې ده چې په اول ځل په ويونکي او اوريدونکي باندې درود شريف واجب دی او بيا مستحب دي . (۱)

ليکن بهتره او اَحوطه داده چه په هره پيره درود شريف ولوستلې شي . (۲)

**مسئله ۳**: کله چې د جُمعې د خُطبې يا د اخترونو خُطبو يا په نورو خطبو کې د نبي کريم ﷺ نوم مبارک راشي او خطيب دا آيت ولولي : ﴿يَا أَيُّهَا الَّذِيْنَ آمَنُوْا صَلُّوْا عَلَيْهِ وَسَلِّمُوْا تَسْلِيْمًا﴾ نو اوريدونکي به په ژبه درود نه وايي بلکه خطبه به اوري ، البته په خپل زړه کې بغير د ژبې د حرکت نه " صلى الله عليه وسلم " ويل پکار دي. (۳)

**مسئله ٤** : د انبياء کرامو نه علاوه په بل چا باندې مستقلا درود ويل د جمهورو علماؤ په نزد جائز نه دي ، چنانچه امام بيهقي رحمه الله په خپل " سنن " کې د حضرت ابن عباس رضی الله عنه دا فتوىٰ نقل کړې :

لَا يُصَلِّ عَلَى أَحَدٍ إِلَّا عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَلٰكِنْ يُدْعَى لِلْمُسْلِمِيْنَ وَالْمُسْلِمَاتِ بِالْإِسْتِغْفَارِ .(۱)

البته تبعًا په نورو ويل څه پرواه نکوي . ( مثلاً رسول الله صلى الله عليه وسلم باندې په صلوة وسلام ليږلو کې ورسره آل ، صحابه کرام يا ټول مؤمنان شريک کړي .

لهذا " اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلَى آلِ مُحَمَّدٍ " ويل صحيح نه دي بلکه " اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلَى مُحَمَّدٍ وَعَلَى

(۱) بحر الرائق ج۱ ص۳۴۶ ، سعاية ، ومعارف القرآن الاعراف آيت ٥٦ .

(۲) بحرالرائق ج۱ ص۳۴۷.

(۳) شامي ج۱ ص۵۱۹.

(۴) معارف القرآن الاعراف آيت ٥٦ .

(c) ketabton.com: The Digital Library


آلِ مُحَمَّدٍ'' ويل پکار دي . (۱)

(۱) درمختار ج۱ ص ۵۱۹ ، و معارف القرآن الاعراف آيت ۵۶ .

**دانبياء کرامو نه علاوه په بل چا باندې درود ويل په دوه (۲) قسمه دي :**

۱: اول داچې مستقل اوبالذّات ورباندې درو وويل شي لکه :

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰی آلِ مُحَمَّدٍ . يا : قَالَ اَبُوْبَکْرٍ صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ . يا : قَالَ عَلِيٌّ صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ .

۲: دويم داچې مستقل درود ورباندې ونه ويل شي بلکه تبعًا ورباندې وويل شي لکه :

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰی مُحَمَّدٍ وَّعَلٰی آلِ مُحَمَّدٍ .

دويم قسم خوبالاتفاق جائز دي ، اوپه اول قسم کې اختلاف دې : بعضې علماء يې جائز ګڼري ، خو جمهور علماء يې ناجائز ګڼري ځکه چې دادرود خاصه اوشِعار د انبياء کرامو دې نوپه دې کې ورسره بل څوک نشي شريک کيدې نو حضرت ابوبکرصديق صلى الله عليه وسلم ويل جائز نه دي اګرچې معنى يې صحيح ده ، لکه څرنګې چې ''عزوجل'' داخاصه اوشِعار د الله تعالى دى اوپه دې کې ورسره بل څوک نه شي شريک کيدې ، نو مُحَمَّدٌ عزوجل ويل جائز نه دي اګر چې ددې معنى هم صحيح ده ، نودغه شان درود شريف هم خاصه اوشِعاردانبياء کرامو دې نو مستقلا په بل چاباندې ويل يې جايز نه دي . د جمهورو علماو دپاره لاندينې دلائل دي :

حضرت ابن عباس ﷺ فرمايي : لا تصلى صلاة على أحد إلا على النبي ﷺ ولكن يدعى للمسلمين والمسلمات بالاستغفار . ( رواه الطبراني في الكبير ۲۴۲ : ۱۱ . (۱۱۱۸۱۳) . والهيثمي في مجمع الزوائد ۱۶۷ : ۱۰ ، والبيهقي في الشعب ۲۱۸ : ۲(۱۸۸۵) والسيوطي في الدرر المنثور ۴۱۲ : ۵ .

چې دنبي نه علاوه په بل چاباندې درودنه شي ليږلې ، ليکن دمسلمانانو سړو او مسلمانانو ښځو دپاره به د استغفار دعاء کولې شي .

عن جعفر بن برقان رحمه الله قال كتب عمر بن عبدالعزيز رحمه الله : أما بعد ! فإنّ اناسا من النّاس قد التمسوا الدنيا بعمل الاخرة وانّ النّاس من القصّاص قد احدثوا في الصلاة على خلفائهم وامرائهم عدل صلاتهم على النبي صلى الله عليه وسلم فإذا جاءك كتابي هذا فمرهم أن تكون صلاتهم على النبيّين ودعاؤهم للمسلمين عامّة ويدعوا ماسوى ذلك . ( رواه ابن ابي شيبة في المصنف ۷ : ۱۸۸۳( ۳۵۰۸۳ ) وابن كثير في تفسيره ۳ : ۶۷۷ ، والحافظ في الفتح ۸ : ۳۹۵).

اوبعضې علماء وايي چه د انبياء کرامونه علاوه په بل چاباندې مستقلا اوبالذات درود شريف ويل ځکه جائز نه دي چې دا د اهل الهواء اوبدعتيانو طريقه ده چې په چاباندې يې لږه غوندې عقيده برابره وي نو په هغه باندې مستقلا اوبالذات درود وايي . نو په دې سره د هغوې تابعداري راځي . اودجوازقايلينو ته يې داجواب ورکړې چې په کوموآيتونو او احاديثو کې دنورو د پاره درود راغلې نوهغه په معنى د دُعا سره دې .

يا جمهورعلماء په خپل مينځ کې مختلف دي چې آيا داپه بل چاباندې مستقلا درودشريف ويل حرام دي که مکروه تنزيهي دي اوکه خلافِ اولى دي . نوامام نووي رحمه الله فرمايي : چې صحيح داده چې دامکروه تنزيهي دي اودا داکثرو علماؤ قول هم دي ، ځکه چې په بل چاباندې مستقلا درود ويل داهل بِدعو ( بدعتيانو ) شِعار دې اومونږ ددينه منع شوي يو .

(c) ketabton.com: The Digital Library



همدا خبره قاضي ثناء الله پاني پتي رحمه الله هم په خپل تفسير (تفسير مظهري) کې کړې:

وَالصَّحِيْحُ اَنَّ الصَّلَاةَ وَالسَّلَامَ عَلٰى غَيْرِ الْاَنْبِيَاءِ يَجُوْزُ تَبَعًا وَيَكْرَهُ اِسْتِقْلَالًا كَمَا يَكْرَهُ اَنْ يُقَالَ مُحَمَّدٌ عَزَّ وَجَلَّ مَعَ كَوْنِهٖ عَزِيْزًا جَلِيْلًا لِاخْتِصَاصِهٖ بِالْاَنْبِيَاءِ عُرْفًا كَاخْتِصَاصِ ذٰلِكَ بِاللّٰهِ تَعَالٰى. (١)

صحيح خبره داده چې د انبياء کرامو نه علاوه په بل چاباندې تبعًا خو درود ويل جائز دي خو مستقلا ويل مکروهه دي. لکه څرنګې چې مُحَمَّدٌ عَزَّ وَجَلَّ ويل مکروهه دي اګر چې معنى يې صحيح ده ځکه چې دا "عزوجل" د الله ﷻ سره خاص دى. نو دغه رنګې درود وسلام هم عرفًا د انبياء کرامو سره خاص دى نو استقلالاً يې په بل چا نه شې ويلې.

**مسئله ٥**: که يو کس د قرآن کريم تلاوت کولو او په دې کې داسې آيت راغې چې په هغې کې د نبي کريم ﷺ نوم مبارک وُ نو د تلاوت په منيځ کې به درود نه لولي. (٢)

**مسئله ٦**: که يو کس د قرآن کريم تلاوت کولو او ده د بل چانه د قرآن کريم داسې آيت واوريده چې په هغې کې د رسول الله ﷺ نوم مبارک وُ نو په ده باندې په دې دوران کې درود شريف ويل واجب نه دي، البته د تلاوت نه د فارغيدونه وروستو درود شريف ويل بهتر دي. (٣)

**مسئله ٧**: کله چې د نبي کريم ﷺ نوم مبارک ليکلې شي نو د نوم نه وروستو د درود شريف پوره صيغې ليکل په کار دي، بعضې خلک د صلى الله عليه وسلم په ځاې صرف (ص) يا: (صلعم) ليکي نو دا صحيح نه دي، ځکه په دې سره نه خو د درود حکم اداء کيږي، نه ثواب حاصليږي او نه واجب ساقطيږي. (۴)

---

(١) تفسير مظهري ج٧ الاعراف آيت ٣٣.

(٢) شامي ج١ ص٥١٩.

(٣) شامي ج١ ص٥١٩.

(۴) زاد السعيد لمولانا اشرف على تهانوي رحمه الله ص ٢٣.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د درودِ شريف متعلق نور بهترين واقعات:

د درود شريف متعلق مې نور داسې بهترين او زړه راښکونکي واقعات ذکر کړي دي چې د هغې په اوريدو سره د انسان په زړه کې د نبي کريم صلى الله عليه وسلم سره محبت پيدا کيږي، او په هغه باندې د زيات درود ويلو توفيق ورته نصيبه کيږي.

## د درود ويونکي د قبر او کور نه د مُشکو خوشبوي تلل:

۱. حکيم الامت حضرت مولانا اشرف علي تهانوي رحمه الله په خپل کتاب " زاد السعيد فی الصّلاة علی النّبيّ الوحيد ﷺ " کې ليکلي دي چې د دلايل الخيرات مصنِّف (محمد بن سليمان جزولي رحمه الله) په باره کې شيخ زروق رحمه الله ليکلي دي چې د دوي د قبر نه به د مشکو او عنبرو په شان خوشبويي تلله. دا ټول برکت د درود شريف وُ (۱)

۲. مولانا اشرف علي تهانوي رحمه الله دا هم ليکلي دي چې د مولانا فيض الحسن سهارنپوري رحمه الله ځوم ماته دا خبره وکړه چې کوم کورکې د مولانا صاحب انتقال وشو، د هغې کور نه د يوې مياشتې پورې د عطرو خوشبويي تلله. حضرت مولانا محمد قاسم رحمه الله ته مې دا خبره وکړه نو راته وې ويل چې دا برکت د درود شريف دی. ځکه د مولانا صاحب دا معمول وُ چې د هرې جُمعې په شپه به بيدار او سيدو او درود شريف به يې ويل. (۲)

## حضرت موسی عليه السلام ته وحي

الله جل جلاله حضرت موسی عليه السلام ته وحي وکړه:

يَا مُوْسَىٰ! اَتُحِبُّ اَنْ لَا يَنَالَکَ مِنْ عَطَشِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ؟

ای موسی! آيا ستا دا خوښه ده چې ته د قيامت په ورځ تږې نه شې؟

حضرت موسی عليه السلام ورته او فرمايل: نَعَمْ. آو (زما دا خوښه ده)

نو الله تعالی ورته او فرمايل:

---

(۱) زاد السعيد فی الصلاة علی النبي الوحيد ﷺ لاشرف علي تهانوي رحمه الله ص۱۸، و مطالع المسرات ص۴.

(۲) زاد السعيد فی الصلاة علی النبي الوحيد ﷺ ص۱۹.

(c) ketabton.com: The Digital Library



فَأَكْثِرْ مِنَ الصَّلَاةِ عَلَى مُحَمَّدٍ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ . (۱)

نو په محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم باندې ډير درود وايه . (نو ددې په عوض کې به د قيامت په ورځ د تندې نه محفوظ شې) .

## د درود شريف په وجه حاجتونه پوره کيږي :

د " دلايل الخيرات " مصنّف " محمد بن سليمان جزولي رحمه الله " يو ځاى ته لاړ ، د لمانځه وخت شو ، ده د اُودس اراده وکړه خو اُوبه يې پيدا نه کړې . ده په يو ځاى کې کوهي وليده چې اُوبه پکې شته ، خو داُوبو راويستلو انتظام يې نشته (يعنی نه پړې شته ، او نه بُوقه) .

دې وايي چې زه لا په دې سوچ او فکر کې وم چې يوې ماشومې دکور په ديوال سَر رابنکاره کړ ، اووې ويل : څه دی ؟ ماورته وويل چې اَودس له مې اُوبه په کار دي خو دکوهي نه د راويستلو څه ذريعه نشته .

هغې ماشومې پوښتنه وکړه : ستا نوم څه دی؟ ماورته وويل چې ماته خو خلک " محمد بن سليمان جزولي " وايي . هغې ماشومې وويل : ښه نو هغه تاسويې؟ د چاد مَدحې اوثناء چې دومره ډَنډورې غږيږي ؟ حالا نکې دکوهي نه اُوبه قدرې هم نه شئ راويستې ؟

ماشومې دومره وويل ، او د ژبې دسَرنه يې په کوهي کې يوځاڅکې اُوغورځاوه ، د غورځيدو سره اُوبه دکوهي سَرته را ورسيدې ، بلکه په زمکه خورې شوې .

ده پرې اودس وکړو ، اولمونځ يې وکړ ، بيا يې ماشومې له قسَم ورکړو چې دا راته ووايه چې تا داکمال څنګه پيدا کړې دی ؟

ماشومې وويل : داهرڅه چې تاوليدل داپه رسول الله صلى الله عليه وسلم باندې د درود شريف ويلو په برکت شوي دي .

نو علامه جزولي رحمه الله هم هلته قسَم وکړ چې د درود شريف په باره کې به خامخا کتاب ليکم . او بيا يې يوکتاب وليکه چې نوم يې " دلائل الخيرات " دی . (۲)

(۱) رواه ابوالقاسم التيمي في ترغيبه القول البديع ص۱۳۰ ط دارالکتاب العربي بيروت ، سعادة الدارين ص۸۷ .

(۲) سعادة الدارين ص۱۴۲ ، و زاد السعيد في الصلاة على النبي الوحيد ﷺ ص ۱۸ .

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د حضرت حواء رضی الله عنها په مهر کې درود شریف مقررول

شيخ عبدالحق محدث دهلوي رحمه الله په "مدارج النّبُوّة" کې ليکلي دي: چې کله حضرت حواء رضی الله عنها پيدا شوه نو حضرت آدم عليه السلام هغې ته لاس وَروړاندې کول اوغوښته، ملايکو ورته وويل:

ته تر هغې وخته پورې صبر وکړه چې ستا نکاح ورسره وشي او مهر اداء کړې.

حضرت آدم عليه السلام ورنه پوښتنه وکړه: مَهريې څه شې دی؟ فرشتو وويل: چې په رسول الله صلی الله عليه وسلم باندې درې (۳) ځله درود ويل (ددې مهر دی).

او په يو روايت کې شل (۲۰) ځله درود ويل راغلي دي. (۱)

## د درود شريف په برکت د يوې فرښتې معاف کيدل

شيخ عبدالحق محدث دهلوي رحمه الله د "زهرة الرياض" په حواله يوه واقعه ذکر کړې چې يوه ورځ حضرت جبريل عليه السلام د رسول الله صلی الله عليه وسلم دربار ته حاضر شو او عرض يې وکړو: يارسول الله (ﷺ)! مانن يوه عجيبه واقعه وليده.

نبي کريم ﷺ ورنه پوښتنه وکړه چې څه واقعه دې وليده؟ نو حضرت جبرائيل عليه السلام ورته اوفرمايل: يارسول الله (ﷺ)! زه "کوهِ قاف" غَر ته لاړم، نو هلته مې څه آه وفرياد واوريده، زه هم په دغه آواز پسې وراُوګرځيدم (چې معلومات وکړم، دا فرياد د څه شي دی؟)، نو هلته مې يوه فرښته وليده چې دا ما مخکې په آسمان کې هم ليدلې وه، خو هغه وخت يې ډير عزت ؤ: ځکه دا هغه وخت په يو نُوراني تخت ناسته وه، او اويازره (۷۰۰۰۰) نورې فرښتې يې په خدمت کې چاپيره وې.

ليکن نن مې هغه فرښته د "کوهِ قاف" په غرونو کې ډيره د تکليف او پريشانۍ په حالت کې وليده چې ډيرې زارۍ يې کولې.

ماترې د حال پوښتنه وکړه، نو راته يې وويل: دمعراج په شپه چې کله زه په خپل نُوراني تخت ناسته وم نو زما په خوا کې د حبيبِ کِبريا محمّدٌ رسول الله صلی الله عليه وسلم سورلۍ تيره شوه، خو ما د هغوی د تعظيم او آدابو خيال ونه ساتلو.

---

(۱) مدارج النبوّة، زادالسعيد للتهانوي ص ۲۰.

(c) ketabton.com: The Digital Library



نو الله تعالى ته زما دا لويي خوښه نه شوه او د ذلالت سره يې په دې قيد کې واچولم.

بيا راته دې فرښتې دا هم وويل چې د الله تعالى په دربار کې ته زما سفارش وکړه چې زما دا غلطي معاف کړي او ما بيا په خپل مقام باندې بحال کړي.

اې د الله رسوله! ما د پروردګار عالم په دربار کې ډير په عاجزۍ سره د دې فرښتې سفارش وکړو، نو ما ته د الله ﷻ د طرفه دا اوفرمايلې شو چې اى جبريل! ته دې فرښتې ته ووايه چې که معافي غواړې نو زما په حبيب (محمد رسول الله ﷺ) باندې درود شريف ووايه.

يارسول الله (ﷺ)! کله چې مې دې فرښتې ته د الله ﷻ دا حکم واورول، نو هغه په هم هغه وخت د درود په ويلو کې مشغوله شوه، نو ما کتل چې وينښته او وزر (يعنې بڼکې) راختل پرې شروع شو، اوبيا د هغه ذلت اوپستۍ نه په بره والوتله. (١)

(١) معارج النبوة ج١ ص٣١٧.

(c) ketabton.com: The Digital Library

٧٨٣

# خوشخبري

په آخر کې زه دا خبره واضح کول غواړم چې ددې کتاب د تالیف په وخت مې حتّی الوسع پوره خواري او محنت کړی ، او کوشش مې دا کړی چې هره موضوع په هر اعتبار سره جامع ، عِلمي او مُدلّله وي ، دغه وجه ده چې د هر تقریر په لیکلو کې څو څو میاشتې تیرې شوي .

څکه که یو طرفته دَرسي مصروفیات وو نو بل طرفته ما په خپل ځان باندې دا لازمه کړې وه چې داسې جامعهٔ ذخیره تیاره کړم چې په هر تقریر کې عِلمي رنګ وي ، په معتمدو حوالو مُزَیّنه وي او د خلقو د اِصلاح سبب اوګرځي .

اګرچې بعضې تقریرونه څه اندازه اوږده شوې دي ، خو لیکن بیا هم هر تقریر ته په داسې انداز کې ترتیب ورکړې شوې چې که مقرِر او غواړي نو هره موضوع ځانته په دوه یا درې حصو کې په آسانه تقسیمولې شي .

لهذا فی الحال مې دا یو څو موضوع ګانې ولیکلې او د کتاب اول جلد مې تیار کړو ، اِن شاء الله په همدغه انداز باندې به نورې موضوع ګانې هم لیکم چې په نزدې وخت کې به هغه هم ترتیب وار چاپ شي .

الله تعالی دې واقعي دا کتاب د معاشرې د اصلاح او د خلقو د کامیابۍ ذریعه وګرځوي . آمین یارب العالمین .

**نورالهدیٰ عفی عنه**

**نوټ** : که د کتاب متعلق یا بله څه مفیده مشوره وي نو په دې لاندې نمبر رابطه کولې شئ .

موبائل نمبر : ۰۳۰٦ ۵۴۴۷۱۷۴

(c) ketabton.com: The Digital Library




مکتبه عزازیه
جاده میوند پخته فروشی کابل: 0764857797

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**